د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

## په دې ګڼه کې:

- له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې تحول
- آلمانی ګوېته او له شرقي ادب سره یې لېوالتیا
- د عربي ژبپوهنې تاریخچه
- غازي امان الله خان او د ښځو په ټولنیز او فرهنګي...
- د ژبې د زده کړې حساسه دوره
- دېګاني یا وته پوري ژبه
- د پښتو او دري ژبو د فعلونو د ریښې پرتلنه

او نور ...



۲

- دري میاشتنی
- درېیمه دوره
- کال: ۱۳۹۸ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل- افغانستان

علمي، ادبي او فولکلوري څېړنیزه مجله
کابل
۱۳۹۸ لمریز کال، ۲ مه ګڼه

# KABUL
## Quarterly Journal

Establishment 1931
Academic Publication
Academy of Sciences of Afghanistan

Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279 - 0799861299

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

۲مه ګڼه

**یادونه:**

✓ مقاله دې له یوې رسمي پتې څخه چې پـه هغـې کـې د لیکـوال نـوم، تخلـص، علمـي رتبـه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کـړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیـت، مبرمیـت، مـوخې، د څېړنـې پوښـتنې، د څېړنـې روش، پـایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونـه وي، د فونـټ سـایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقـالې د تائیـد او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړنوال محمد نبي صلاحي

**مهتمم:** څېړنیار حضرت آغا همدرد

**کتنپلاوی:**

څېړنوال دکتور عبدالظاهر شکېب

څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصر الله ناصر

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**چاپ ځای:** د چهاردهي صنعتي مطبعه

**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شاه بوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۷۰۸۴۸۰۸٦ -۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

د مجلې برېښنالیک: magazinekabul@gmial.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې تحول | څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ | ۱ |
| ۲ | آلمانی ګوېټه او له شرقي ادب سره یې لېوالتیا | څېړنوال محمد آصف احمدزی | ۱۰ |
| ۳ | د عربي ژبپوهنې تاریخچه | څېړنوال رفیع الله نیازی | ۲۵ |
| ۴ | غازي امان الله خان او د ښځو په ټولنیز او فرهنګي ژوندانه کې غوره بدلونونه | څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ | ۴۶ |
| ۵ | د استاد لېوال د کک او زرینې منظومه حماسه ده او که نه؟ | پوهنیار محب الله ترابي | ۵۹ |
| ۶ | د ژبې د زده کړې حساسه دوره | څېړندوی رحیم الله حریفال | ۷۷ |
| ۷ | په افغانستان کې د قبیلې او دولت په جوړښت کې د خان کردار | پوهنیار فیض محمد ځلاند | ۸۷ |
| ۸ | دېګاني یا وټه پوري ژبه | څېړنوال عبدالقیوم مشوانی | ۹۷ |
| ۹ | د خوشحال خټک په اشعارو کې پښتني ګانې | څېړندویه راضیه نوري | ۱۲۰ |
| ۱۰ | شاعر د الفت له نظره | څېړندویه سونیا صمیم هوتک | ۱۴۲ |
| ۱۱ | د پښتو او دري ژبو د فعلونو د ریښې پرتلنه | څېړندویه بي بي فضیله | ۱۵۸ |
| ۱۲ | پښتو منظوم حماسي ادبیات او د هغو د خوندي کولو اړتیا | څېړنیار فضل الرحمن علیزی | ۱۷۸ |
| ۱۳ | ژبه او د مورنۍ ژبې اهمیت او ارزښت | څېړنیار شریف الله سانېن | ۲۰۲ |
| ۱۴ | غازي امان الله خان د دورې سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو ته لنډه کتنه | څېړنیار حضرت آغا همدرد | ۲۲۱ |

څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ

# له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې تحول

# Evolution of Pashto language with ancient languages

Senior Research Fellow Ph.D. Khalilullah Ormar

## Abstract

This article discusses topics, wich are discusses that have changed the language over that long distance, and linguists have conducted their scientific and historical research, we will show this topic in the examples in the components of the Pashto language.

The distance that existed from Osta and Veda to the Pashtu language books, namely, the date of the acquisition of the Pashtu language from the Vasta and Veda books, which, fortunately for most contemporary linguists, is the subject of much controversy. Reconstruction is facilitated by the practice of reconstruction, which is a good example of Bartholomew, Grasim, Werner and Graeme's laws that are applied and applied in the Pashto language.

## لنډیز

دا لیکنه د هغو موضوعاتو پر تحول بحث کوي چې په دغه اوږد واټن کې ژبه بدله شوې ده او ژبپوهانو خپلې علمي او تاریخي څېړنې تر سره کړې دي، دغه موضوع به د بېلګې په توګه د پښتو ژبې د کلام په اجزاوو کې وښودل شي.

هغه زماني واټن چې له اوستا او ویدا څخه د پښتو ژبې تر کتیبو پورې موجود دی، یعنې د اوستا او ویدا له کتیبو څخه د پښتو ژبې د کتیبو تر لاس ته راغلو نېټو پورې چې له نېکه مرغه د معاصرې ژبپوهنې پوهانو دا موضوع تر ډېره د ریکانستېکرشن reconstruction (بیارغونې) د عملیې له لارې هواره کړې، چې ښه بېلګه یې د برتولومې، ګراسیم، ویرنر او ګریم د تحول قوانین دي چې په پښتو ژبه کې تطبیق شوي او تطبیقېږي.

## سریزه

آریاني فقه اللغه د منځنۍ آسیا - آن تر میلاد د مخه د دویمې او درېیمې زریزې پورې د خلکو د پخوانۍ ژبې په اړه هېڅ ډول اطلاع نه لري، تر دې چې په هغه وخت کې (له میلاد څخه تر کابو دوه زره کاله وړاندې پورې) د آریایي قبایلو موجودیت په هغه ځای کې معلوم شو، هغه قبایل چې د هندي ژبو لرغوني آثار، یعنې ویدي او لرغوني ژبني آریاني آثار، یعنې د اوستا سرودونه یې تخلیق کړل او په دې توګه یې په خپله خپل ځانونه آریایي ګڼل.

ویدا او اوستا دواړه څو اړخیز آثار دي، په دې معنا دا دواړه د اساطیري افسانو او سرودونو ټولګې دي چې د بېلابېلو پېړیو په پوړیو کې د مختلفو قبایلو د ویناوالو او کیسه والو په ګډون چې په سیمه ییزه او قبیله یي لهجه یې خبرې کولې، دا ټولګې را ټولې کړې دي.

د هند پېژندنې متخصصین د ویدا، یعنې ریګویدا د ټولګې تدوین د هندوستان په هېواد کې د تر میلاد دمخه دویمې زریزې په اواسطو پورې اړوند ګڼي، په داسې حال کې چې اوستا د لومړی ځل تدوین او ترتیب له ریګویدا سره هممهالی دی، خو وروستی تدوین یې لږ څه وروسته، یعنې د میلاد په لومړنیو پېړیو کې د ساسانیانو په وخت کې ترسره شوی دی.

د اوستا او ریگویدا د لرغونو برخو له تحلیل او تجزیې څخه داسې معلومېږي، چې د آریاني ژبو د قبایلو نیکونه چې د اوستا ژبه یې رامنځ ته کړې او د هندي ژبو د قبایلو نیکونه چې ویدا یې پنځولې، په ډېرو پخوا زمانو کې یو ځای وو او په یو واحد هېواد کې یې ژوند کاوه او په آریایي لهجو یې چې له هره پلوه یو بل ته ډېرې نږدې او سره خپلوانې دي، خبرې اترې کولې.

حماسي گډ موضوعات چې د لرغونې اوستا او ریگویدا د سرودونو بنسټ او تومنه تشکیلوي او د یادو سرودونو او آریا گډ نوم ویونکو دیني عقیدې (په اوستا کې- i airya په ویدا کې ārya) هغه شواهد دي چې په اسانۍ سره د پورته نظر رښتینواله زباتوي.

ریگویدا د ژبې او سرودونو د ویلو د طرز له مخې له لرغونې اوستا (گاتها) سره ډېره اړیکه لري او دواړه په یوې سیمې، یعنې تر باختره آریانا دقیقه ده، ویل شوې دي او په دې توگه دا دواړه سره نږدې اړیکې او خپلوۍ لري او آن کولای شو دواړه د یوې ژبې دوې لهجې یا گړدودونه وبولو. (۱)

امریکایي پوه ویلیامز جکسن د اوستایي او ویدایي ژبو د گرامر او د صرفي او نحوي قواعدو ترمنځ د پرتلنې په اړه داسې کښلي: "د سانسکریت ژبې له برکته یا په رڼا کې د اوستا ژبې لغوي ستونزې حل کېږي. [۱]

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع مبرمیت په دې کې دی، د اوستا او ویدا د ډېرلیکونو (کتیبو) کومه نښه چې په لاس راغلې هغه له میلاد نه د مخه اوولسمه پېړۍ اټکل کېږي، په داسې حال کې چې د پښتو ژبې لاس ته راغلې کتیبه شپاړسمه میلادي پېړۍ گڼل کېږي او د دې دواړو نښو ترمنځ په کافي اندازه واټن معلومېږي.

## د څېړنې موخه

د دې موضوع هدف په دې کې دی چې موږ د پښتو ژبې پر تحول او له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې پرتلیز او تطبیقي گرامر پر ارزښت او اهمیت باندې پوهوي.

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې له تاریخي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

---

[۱] Jackson A.V.W. Avesta Grammar and Reader, Stuttgard1892,p XXXl

# له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې تحول

د اوستا او سانسکریت ژبو تـرمنځ ډېـر ورتـه والي د هغـه وخـت د افغانسـتان او شبه قارې ډېرې پخوانۍ نښې نښانې او تړښتونه موږ ته ښيي چـې پـه لانـدې بېلگـو کې ښوول کېږي:

۱. د غږ پوهنې په برخه کې

د غږونو منظم تطابق هم په اوستايي او ويدايي سانسکريت کې مشهود دی:

د کانسونانټونو په برخه کې د مثال په ډول : د اوستا b || bh سانسکريت، پښتو w

| اوستا | سانسکریت | |
|---|---|---|
| brātar- | bhrātar- | ورور |
| būmī- | bhūmi- | ځمکه |
| bar- | bhar- | وړل |

که چېرې غږيز مطابقتونه په نظر کې ونيسو، نو کـولای شـو پـه اکثريتـو مـواردو کې ويدايي متون کلمه پر کلمه په اوستايي او يا يې هم پر عکس وژباړو.

| اوستا | ویدا | ژباړه |
|---|---|---|
| tə amavantəm yazatəm sūrəm dāmōhu səvištəm miθrəm yazāi zaoθrābyō | tam ámavantam yajatám ṣūram dhámasu śáviṣṭham mitrám yajāi hō-rābhyah | هغـه ځـواکمن او پيـــاوړی ايـــزد او د موجوداتـو پـه مـنځ کـې خـورا مضـبوط او هغـه ميترا لرونکی مينه نـاک په زور ستايو..... له هوم او شودو سره ګډ. |

۲. د صرف په برخه کې:

د دغو دوو ژبو په ګرامري قواعدو کې هم خپلوي مشهوده ده:

د مضارع فعل صرف (اوستايي -bar / ويدايي -bhar (وړل))

| جمع | | مفرد | | |
|---|---|---|---|---|
| ویدا | اوستا | ویدا | اوستا | شخص |
| bhar-a-masi | bar-a-mahi | bhar-a-mi | bar-a-mi | متکلم |
| bhar-a-tha | bar-a-θa | bhar-a-si | bar-a-hi | مخاطب |
| bhar-a-nti | bar-ə-nti | bhar-a-ti | bau-a-ti | غایب |

۳. د ضمایرو په برخه کې:

د اوستایي متکلم azəm / ویدایي ahám (زه) شخصي ضمیر صرف:

| | | |
|---|---|---|
| ویدا | اوستا | حالت |
| ahám | azəm | فاعلي |
| mām ' mā | mām ' ma | مفعولي |
| mē | Mē | مفعول الیه |
| mát | Mat | تعویقي |
| máma' mē | mana'mē | اضافي |

٤. د اعدادو په برخه کې:

په پښتو، اوستا او سانسکریت کې اعداد

| سانسکریت ویدا | اوستا | پښتو |
|---|---|---|
| dvá | dva(۲) | dwaدوه |
| tri | θri-(۳) | dreدرې، درے |
| čatvár | čaθvar-(۴) | calorڅلور |
| páñča | panča-(۵) | pinĵəپنځه |
| ṣ́áṣ́ | xšavaš-(٦) | špəgشپږ |
| saptá | hapta-(۷) | owəاوه |
| aṣṭaā | ašta-(۸) | atəاته |
| náva | nava-(۹) | nə نه، nəhaنهه |

| | | |
|---|---|---|
| dáśa | dasa-(۱۰) | lasلس |
| vīśatí | vīsa^i ti-(۲۰) | ویشت wišt |
| trīśát | θrisat-(۳۰) | دېرش derš |
| śatá | sata-(۱۰۰) | سل səl |

د مرکبو اعدادو د جوړولو طریقه :

| | سانسکریت | اوستا |
|---|---|---|
| dwo-lasدوولس | dvá-daśa | dva-dasa(۱۲) |
| diyar-las دیرلس<br>diyār-lasدیارلس | tri-daśa | θri-dasa(۱۳) |
| cwar-las څورلس<br>cwār-lasڅوارلس | čatvár-daśa | čaθvar-dasa(۱۴) |

په پښتو ژبه کې ترتیبي اعداد، له اصلي اعدادو څخه د نرینه لپاره د -[(y)əm] او د ښځینه لپاره د [(y)əma-] د لاحقو په مرسته جوړېږي، او د ضعیفو صفتونو په څېر بدلیږي،لکه:

څلور calor (٤) ← څلورم calorəm (نرینه) څلورمه calorəma (ښځینه).

<آریانيčatuār* ، وګورئ اوستا čaθvar, čatur ،سانسکریت čatāras .

هغه اصلي اعداد چې په a, ā او ī (ي) ختم شوي وي ترتیبي اعداد یې د - y – په زیاتولو سره جوړیږي:

اویا awyā (۷۰)← اویایم awyāyəm (نرینه) اویایمه awyāyəma (ښځینه)،» آریاني *awāi< *awδādi < *haptāti وګورئ اوستا haptāiti ،سانسکریت saptati .

اتیا atyā (۸۰)← اتیا یم atyāyəm (نرینه) اتیایمه atyāyəma (ښځینه)، آریاني *aštādi ، وګورئ اوستا -aštāiti، سانسکریت aśīti .اورمړی aṣtāy.

نوي nəwī (۹۰) ← نوییم nəwīyəm (نرینه) نوییمه nəwīyəma (ښځینه)، آریاني *nəvay < *naṷati وګورئ اوستا navaitī ،سانسکریت navati.

ترتيبي اعداد (۷ ، ۸ او ٦۰) د نرينه لپاره m- او ښځينه لپاره ma- پايلې لري:

اوه owə (۷)⟵ اوم (نرينه) اومه atəma (ښځينه) آرياني -hapta *، وگورئ اوستا-hapta ، سانسکريتsaptá

اته atə (۸)⟵ اتم atəm(نرينه) اتمه atəma (ښځينه) ،< آرياني *ašta ، وگورئ اوستا ašta ،سانسکريت aṣṭa, aṣṭau .

شپېته špetə «٦۰» ⟵ شپېتم špetəm (نرينه) شپېتمه špetəma (ښځينه)، آرياني *xšṷašt وگورئ اوستا xšvašti ، سانسکريت ṣaṣti

ترتيبي اعداد [يو] او [يوه]مستقل شکلونه لري: لومړی lumṛay( نرينه)، لومړۍlumṛəy.(ښځينه)

د دوو او درېيو ترتيبی اعداد په لاندې ډول دی:

دوه dwa "۲ " ⟵ دويم dwayəm (نرينه) دويمهdwayma (ښځينه) <آرياني *dwa، *duṷa ، وگورئ اوستا dva ، سانسکريتdvau.

درې dre«۳» ⟵ درېيمdreyəm (نرينه) درېيمهdreyəma (ښځينه) < آرياني *trai، وگورئ اوستا θri, θrāy، سانسکريتtri,tray ،ساکی drai,draya.

۵- د لغوی زېرمې (لکسيکون) په برخه کې. لاندې بېلگې دې وکتل شي.

| اوستا | سانسکرت | پښتو |
|---|---|---|
| āp | āp | اوبه |
| tanū | tanū | تن |
| nar- | nár | نر |
| gairi | giri- | غر |
| vastra | vástra- | لباس |
| vāta | vāta- | باد |
| nāman- | nāman- | نوم |
| pitar | pitár- | پلار |
| brātar- | bhrātar- | ورور |

| | | |
|---|---|---|
| bū̄mi- | bhū̄mi | ځمکه |
| dvar- | dvār- | ور |
| hindu | sindhu | سند |
| bar- | bhar- | وړل |
| azəm | aham | زه |
| dva | dvá | دوه |

**پایله**

د پښتو ژبې د تاریخي غړپوهنې او صرف له مخې دې پایلې ته رسېږو چې پښتو په حقه د آریاني شمال- ختیځ ژبو له ډلې څخه یوه ژبه ده چې د تاریخ په اوږدو کې په خپلو غړیزو او صرفي بدلونونو کې له دوو بېلابېلو لارو سره مخامخ شوې ده، یوه داسې لاره ده چې په مختلفو او خورا لرو دورانونو کې یې ډېرې اړیکې د هندي ژبو له ډلې سره درلودلې چې د دې خبرې شاهد د پښتو ژبې د راکړې ورکړې لکسیکون دی چې په ډېرو پخوا زمانو کې یې صورت موندلی دی او بله لاره هم نېغ په نېغه د آریاني ژبو مستقیمه لاره ده چې په هغې کې په خپله پښتو ژبې هم په خپلې لومړنۍ بڼې ځان ساتلی دی.

پوهاند عبدالحی حبیبي دغه دوې لارې د آریاني او اندو آریایي ژبو ترمنځ د اتصال کړۍ ګڼلې ده او پښتو ژبه یې د اوستا او سانسکریت ژبو خور ګڼلې ده.

د ځینو افغاني پوهانو په نظر پښتو ژبې له ریګویدا څخه ریښه اخیستې چې دا خبره له حقیقته لرې ده.

له اوستا ژبې سره د ریګویدا ژبې اصلي اختلاف د ژبپوهنې د ځانګړنو په ځینو برخو کې دی چې دا دواړه له یوې بلې جلا کوي، خو په ټوله کې سانسکریت ژبه، یعنې ریګویدا او اوستا په حقیقت کې له یوې مورینې ژبې (آریک) څخه منشعب شوې دوې لهجې دي، چې ښه بېلګه یې داده چې په اوستا کې ځینې داسې قطعې پیدا کېږي چې کولای شو یواځې د تلفظ په بدلون سره په سانسکریت کې هم پرې پوه شو، نو همدا لامل دی چې د اوستایي یا ویدایي محصلین د نړۍ په معتبرو

پوهنتونونو کې له دغو دوو ژبو نه د یوې ژبې د زده کړې لپاره یو واحد انتخابوي، چې د هغوی د ورته والي له امله په دغو دوو ژبو هم پوه کېږي.

**مأخذونه**

۱. حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، کابل، ۱۳۵۴ لمریز کال.

۲. اورمړ، خلیل الله. مقدمه بر زبان باختری، کابل، ۱۳۹۵ لمریز کال.

۳. Bartholomae, Christian. *Altiranisches Wörterbuch*. 2. Unveränderte Auflage. Walter de Gruyter & Co.: B erlin 1961.

۴. Jackson.A.V.W. Avesta Grammar and Reader, Stuttgard,1892,p. XXXl.

۵. Monior-Williams M.A, Sanskrit-English Dictionary. Oxford, 1956.

۶. Оранский И.М. Введение в иранскую филологию. М., 1960; 2 изд., М., 1988.

څېړنوال محمد آصف احمدزی

# آلمانی ګوېته او له شرقي ادب سره يې لېوالتيا

# German Goethe and his interest in Eastern literature

**Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai**

## Abstract

Goethe was not limited to Germany, but was renowned scholar, poet and writer on the level of Europe. In his time, he was one of the magnificent teachers of poetry and literature in Europe.

However, he turned to politics in a phase of his life, but he devoted most of his life to writing and painting.

He had a certain way of thinking and style, who in addition to poetry and literature in various fields and sciences has written many unparalleled books and to this effect, he has gained worldwide fame.

## لنډيز

الماني ګوېته نه يواځې د همدې هېواد، بلکې د ټولې اروپا يو له سترو شاعرانو، ليکوالو، څېړونکو او نقاشانو څخه دی. هغه په اروپا کې د خپل وخت د شعر او ادب له مهمو استادانو څخه ګڼل کېده. سره له دې چې نوموړي د ژوند په يوه پړاو کې سياست ته هم مخه کړه، خو د عمر ډېر وخت يې ليکوالۍ او نقاشۍ ته وقف کړی و. د يوه ځانګړي طرز تفکر او سبک خاوند و چې پر شعر او ادبياتو

سربېره يې په بېلا بېلو برخو او علومو کې ګڼ شمېر بې جوړې آثار وليکل او له همدې امله يې اوس نړيوال شهرت موندلی دی.

## سريزه

د هر هېواد او ټولنې د علمي او فرهنګي شتمنۍ د لا بډاينې په موخه يو شمېر پوهان پيدا شوي چې د همدې هېواد او ټولنې لپاره يې ستري علمي، ادبي او فرهنګي چارې او آثار پنځولي دي. همدا آثار او خدمتونه کله کله دومره لوړ، باارزښته او په زړه پورې وي چې نه يوازې د همدې هېواد وګړو ته، بلکې ټولو نړيوالو ته هم د منلو وړ وي او په همدې سبب د نړۍ ادبياتو يوه برخه ګرځېدلې وي. يو له همدغو نړيوالو شخصيتونو څخه آلمانی پوه ګوېته دی چې په دې ليکنه کې يې په اړه بحث کوو.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې موږ پردې سربېره چې د پښتو ادب له مخکښانو څخه خبر شو، ترڅنګ يې اړينه ده په نړيواله کچه د مهمو ادبي او فرهنګي اشخاصو له ژوند، کړو وړو، فکر او آثارو څخه هم خبر شو، نو د دې ليکنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د همدغسې يوه شخص چې يوهان ولفګانګ فون ګوېته نومېږي، په اړه بحث وکړو.

## د څېړنې موخه

د دې مقالې هدف دا دی چې له نړيوال ادب سره يو څه بلدتيا پيدا شي او هم پوه شوه، هغه ادبي څېرې چې نړيوال شهرت يې موندلی، د کومو عواملو او انګېزو له مخې يې دغه ډول مقام خپل کړی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د ګوېته د ژوند بېلا بېلې خواوې څه دي؟
۲ـ د ده علمي، څېړنيز او ادبي آثار کوم دي؟
۳ـ نوموړي د کومو عواملو له مخې نړيوال شهرت وموند؟

## د څېړنې میتود

د دې ليکنې ميتود تشريحي ـ تحليلي دی.

## له شرقي ادبیاتو سره د ګویټه لېوالتیا

د ادب د اسمان لمر خوشحال خټکه    د رحمت باران په خاوره دې رب وکه
د پښتون په ننګ ترلې توره تا وه    ننګیالی یې بې ننګي دې کړله ورکه
په یورپ کې ګویټه که شکسپیر شته    موږ په تا کړو سر لویې صاحب کماله

(سید شمس الدین مجروح)



شاعر، لیکوال، نقاش، څېړونکی، انسان پېژندونکی، فیلسوف او الماني سیاستوال جوهان ولفګانګ فون ګوېټه (Johann Wolfgang von Goethe) د ۱۷٤۹م کال په اګست میاشت کې د فرانکفورټ ام ماین (Frankfut-am-main) کې په یوه شتمنه کورنۍ کې زېږېدلی دی. د ده پلار یوهان کاسپار ګوېټه (۱۷۱۰-۱۷۸۲م) او مور یې کاترینا الیزابت ګوېټه نومېدل. مور یې د فرانکفورټ له پېژندل شوو کورنیو څخه وه(۱). پلار یې چې حقوقپوه او مدافع وکیل و، د ګوېټه د پرمختګ ډېر لېوال و، نو ډېرې هلې ځلې یې وکړې او هغه یې تر منظمې او بشپړې ښوونې او روزنې لاندې ونیو(۲).

ولفګانګ ګوېټه زیاتره معلومات، کورنۍ زده کړې او څو ژبې، لکه: لاتیني، یوناني، فرانسوي، انګلیسي او عبري له خپل پلار او خصوصي ښوونکي څخه زده کړې دي(۳).

نوموړی په ۱۷٦۵م کال کې د حقوقو د زده کړو لپاره لایپزیګ (Leipzig) ته لاړ، خو تر درې کاله وېرې او ناخوښۍ وروسته یې هغه ځای ناڅاپه پرېښود او فرانکفورټ ته راوګرځېد(۴). دی چې کله په ۱٦ کلنۍ کې لایپزیګ ته لاړ، هلته یې د کریستیېن فورشتګوت ګلرت له شعرونو سره مینه پیدا شوه. له یو څه مودې وروسته په ۱۷٦۸م کال کې خپل پلرني ټاټوبي ته راستون شو، وروسته یې بیا د ادبیاتو او فلسفې مطالعې ته مخه کړه(۵). په پوهنتون کې د زده کړو پرمهال، ګوېټه د

[1] د جرمني مشهور او لوی ښار دی چې ګوېټه، کوچنی پاریس بللی دی.

«درانگ اوند شتورم»(توپان او یرغل) په نامه په یوه ادبي ډله کې ادبي کار پیل کړ (٦).

په ۱۷۷۰م کال کې د حقوقو د زده کړو د دوام لپاره ستراسبورگ[1] (Strasbourg) ته لاړ او په ۱۷۷۱م کال کې په بریالیتوب د زده کړو تر پای ته رسولو وروسته، ببرته خپل زېږنځي ته راستون شو، خو په ستراسبورگ کې استوگنې د هغه په افکارو او خیالاتو ژوره اغېزه وښندله او هلته له یوې ډلې شاعرانو او هنرمندانو، له هغې جملې له هردر (Herder) سره اشنا شوی و چې هردر، هغه د شکسپیر له آثارو او د شعر له طبیعي اصولو سره اشنا کړ چې دې اشنایي یو ډول نوی افق د گوېته پرمخ وغوړاوه(۷).

وروسته له دې چې گوېته د خو لویو آثارو له لیکلو خلاص شو، د سیاست ډگر ته دننه شو او په ۱۷۷۵م کال کې وایمار[2](Weimar) ته ولاړ او هملته د ۱۷۷٦- ۱۷۸٦م کلونو ترمنځ د حکومت وزیر شو. په وایمار کې د نوموړي کور په یوه ځانگړي ادبي مرکز بدل شوی و چې د ډېرو هېوادونو لوی لیکوال او د هنر خاوندان ورته راتلل(۸).

نوموړي په حکومت کې په دې خاطر کار پیل کړ چې اصلاحات په کې راولي، سره له دې چې د هغه وړاندې شویو ریفورمونه تخیلي او غیر عملي خواوې درلودې، خو بیا هم هغه په وایمار کې څه دپاسه لس کاله ژوند وکړ، په دې هیله چې د ټولنې په ژوند کې به کوم بدلون راولي، خو د ۱۷۸٦م کال د جون په میاشت کې یې له خپلې څوکۍ سره خدای پاماني وکړه او ایټالیا ته لاړ(۹).

په همدې هېواد کې تر ۱۷۸۸م کال پورې و او هلته یې د هنر او لرغونې مجسمه جوړونې زده کړو ته مخه کړه(۱۰). گوېته په ۱۷۸۸م کال وایمار ته ببرته راستون شو او کابو پاتې ټول عمر یې همدلته تېر کړ. ده هملته د مصنوعي گلانو د جوړولو د هټۍ له کارکوونکې «کریستینا وولپیوس» سره واده وکړ چې له شاعر څخه یې ډېره ټیټه ټولنیزه درجه درلوده(۱۱).

[1] د فرانسې په ختیځ کې یو ښار دی.

[2] د المان په مرکز او د تورینگن ایالت کې واقع مهم او مشهور فرهنگي ښار دی. په دې ښار کې د المان مشهور ادبي او فرهنگي شخصیتونه، لکه گوېته، شیلر، هردر، یوهان او.... اوسېدل.

کله چې د ګوېټه مېرمن، ګوېټه کریستینا په ۱۸۱٦م کال کې مړه شوه، د هغې له مرګ څخه شپاړس کاله وروسته ګوېټه هم په ۸۳ کلنۍ کې د وریښښې ناروغي له امله په ۱۸۳۲م کال د مارچ په میاشت کې مړ شو او همملته خاورو ته وسپارل شو(۱۲).

نوموړی په یوې پېغلې «شارلوتو بوف» مین و، خو د شاعر دا مینه په غمیزه بدله شوه، ځکه چې هغه د ګوېټه په ملګري کوژده شوې وه(۱۳).

دی د دې ترڅنګ چې د ادیب او شاعر په نامه پېژندل کېږي، عالم شخص، د تیاتر لوبغاړی، په وایمار کې اجرایوي مدیر او یو هنرمند هم و، د کانونو له را ایستنې، معماری، اقتصاد، مالیاری او داسې نورو سره یې هم ډېره علاقه درلوده، د پوهې د ترلاسه کولو، لیکلو او شعر په لاره کې یې دمه ونه کړه(۱۴).

د زیاترو اروپایي پوهانو او تکړه لیکوالانو په اند، ګوېټه چې د المان د ادبیاتو مخکښ او د کلاسیک او رومانتیسیزم د مکتب پیروان و، په اروپا کې له هومر وروسته، ستر ادبي نابغه تېر شوی دی. یوه فرانسوي لیکوال د ګوېټه په ستاینه کې ویلي: «د یونانیانو له مهاله تردې دمه، ټول بشریت د ګوېټه په پرتله د بل چا مدیون نه دی»(۱۵).

نو ویلی شو چې المانی ګوېټه، نه یواځې د همدې هېواد، بلکې د ټولې اروپا یو له سترو شاعرانو، لیکوالو، څېړونکو او نقاشانو څخه دی. دی په اروپا کې د خپل وخت د شعر او ادب له مهمو استادانو څخه ګڼل کېده.

### فکر او آثار یې

ګوېټه هیله درلوده چې د هر ډول ژوند خوند وڅکي. کومه تنده یې چې د ژوند لپاره لرله، په اسانۍ سره نه ماتېده او دا هم ورته ګرانه وه چې د اوږدې مودې لپاره په یوه دنده کې پاتې شي. په طب، سوداګری، وکالت، معلمی، ادبیاتو او انځورګری پورې یې زړه وتاړه، خو په پای کې په دوو وروستیو څانګو کې تم شو. د دې لپاره چې وتوانېږي خپل عقاید په سمه او روانه توګه بیان او انځور کړي، یا باید لیکوال وي او یا هم انځورګر. نوموړی تر ډېر فکر او تجربې کولو وروسته، دې پایلې ته ورسېد چې هم به انځورګري کوي او هم لیکوالي(۱٦).

د گوېټه چې څومره عمر لوړېده، هومره د ارامۍ څپې پرې خپرېدلې، عصيان يې ټيټېده او لږ لږ يې دا زده کول چې څنګه له نړۍ سره جوړجاړی وکړي او څنګه له شتمنو او زورواکو سره د ملګرتيا او نږدېوالي تار وغځوي، ځکه يې نو د ويمار ستر مشر کارل اوګوست (Charles Augustus) د منشي توب دنده غوره وګڼله. نوموړی د وايمار ماڼۍ ته نږدې په يوه بڼ کې مېشت شو او خپل يوه برخه وخت يې ادبياتو او بله برخه يې پاچا ته ځانګړی کړ. په همدې ځای کې ګوېټه له خپل ژوند څخه خوښ او راضي برېښېده.

په وايمار کې د ګوېټه فکر د بې پايه عالم لوري ته ور واوښت او په دې هڅه کې شو چې د ژوند په رمز ځان وپوهوي، نو ځکه يې د خپل پېر د دودونو او مقرراتو په څېړنو پيل وکړ او د خپلو څېړنو نتيجه يې په ليکنو، شعرونو او ډرامو کې وليکله.د لوستونکو په اند، د ګوېټه قلمي آثار په ادبياتو کې يو شاهکار ګڼل کېدل، خو په خپل نظر يې د سمې لارې د موندلو لپاره له مايوسانه حرکاتو پرته بل څه نه و. ګوېټه د علم په ډګر کې پر څو نورو اکتشافاتو هم بريالی شو. د بوټو پېژندنې او فيزيولوژۍ په اړه يې څو ليکنې او د رنګونو په اړه يې نظريه بشپړه کړه(۱۷).

ګوېټه په اصطلاحي معنا فيلسوف نه و، په هېڅ يوه پوهنتون کې يې په دې اړه زده کړې نه وې کړې، خو افکار يې فلسفې ته ګټور تمام شول. د هغه ليکنې په تېره بيا د فاوسټ (Faust) په کتاب کې د نوموړي ډراماتيك شعرونه د ژوند د فلسفې په نوم پېژندل کېږي. له همدې امله، ګوېټه د بشر په فکر او معنوي پېښو کې ارزښتمن ځای لري(۱۸).

ګوېټه سوله غوښتونکې عاطفه درلوده. کله چې کارل اوګوست له فرانسويانوسره په جګړه کې له ګوېټه څخه وغوښتل چې د الماني سرتېرو د تحريك لپاره حماسي شعرونه ووايي، ګوېټه ونه منله او ويې ويل: «څنګه کولای شم د جنګ او کرکې لپاره شعر وليکم، حال دا چې په خپله له وينو توبولو څخه کرکه لرم»(۱۹).

دغه الماني اديب هغه څوک و چې په خپلو آثارو کې يې نړيوالو ادبياتو ته توجه کړې او ويل کېږي چې دی لومړی شخص بلل شوی چې د نړيوالو ادبياتو مفهوم يې مطرح او پراخه کړ(۲۰).

د گویته فکر او سوچ عالي او لوړ و، یوه خبره او موضوع یې چې مطرح کړې، ډېره پخه او کره ده چې ډېرې داسې خبرې یې اوس هم د شاهد او استدلال په توګه راوړل کېږي، لکه چې وایي: نبوغ د اجتماعي پېښو ښه سپړل دي، نابغه نه یواځې د خپل وخت، بلکې د وختونو خبره کوي.

تر یادو څرګندولو وروسته، اوس د ګوېته آثارو ته کتنه کوو:

ګوېته ته د ښکلې پېغلې مینه د شعرونو جوړولو الهام بخښونکی لامل وګرځېد چې وروسته په ۱۷٦۷م کال کې د آنته (Annette) په دېوان کې راغونډ شول چې په غزلیزو او عاشقانه شعرونو کې د ګوېته لومړنۍ تجربه په ګوته کوي. ده په ۱۷٦۹م کال کې د جرم شریکان (Die Mitschuldigen) منظومه کومیډي او د لایپزیګ د نغمو دېوان (Leipziger Leiderbuch) خپور کړ چې په لایپزیګ کې د هغه د خاطراتو یادښتونه وو.

ولفګانګ ګوېته د خپل پېر له خورا با استعدادو او ډېرو ناآرامو عاشقانو څخه و چې په ستراسبورګ کې یې په «فردریکه بریون» نومې پېغلې پورې زړه وتاړه چې هغه مینه د هغو شعرونو الهام بخښونکې شوه چې وروسته د «شعر او حقیقت» په نامه ټولګه کې راغونډ شول.

نوموړي په ۱۷۷۳م کال کې «د المان د معمارۍ» په اړه کتاب خپور کړ چې دې کتاب ته ډېر پام را واوښت او په همدې کال یې د ګوتس فون برلیشینګن (Gotzvon Berlichingen) ډرامه د شکسپیر له آثارو څخه په الهام اخیستنې سره ولیکله او په ۱۷۷۴م کال کې د ځوان ورتر کړاوونه (The sorrows of young werther) په نامه کتاب په خپرولو سره د سانتیمانتالیزم (احساسات ګرایی) د نوي خوځښت د مخکښ په توګه یې شهرت وموند(۲۱).

وایمار کې یې پر اداري کارونو سربېره د ایفي ژني په تاوریس کې (Iphigenia inttouris) ډرامه او په ۱۷۹۰م کال کې یې تورګواتوتاسو (Toroguato tasso) آثار خپاره کړل.

ګوېته ایټالیا او فرانسې ته سفرونه وکړل او د ایټالیا له سفره تر راګرځېدو وروسته یې په وایمار کې د ایټالیا سفر (Goethe's travel in Italy) وکېښ چې په ۱۸۱۷م کال کې خپور شو. لوی څلور ټوکیز رومان د استاد ویلهلم د شاګردۍ

کلونه (Wilhlm meiste's apprentice ship) چې شل کاله يې پرې کار کړی و، په ۱۷۹٦م کال کې خپور کړ، چې ورپسې يې عاشقانه منظومه «هرمان او دوروته» (Hermann and Dorothea) چې گوېته ورته په خپله ډېره پاملرنه کوله، په ۱۷۹۷م کال کې چاپ کړه. د «اختياري وصلت» د رومان تر خپرېدو وروسته يې په ۱۸۰۹م کال کې د ختيځو ادبياتو مطالعې ته مخه کړه چې د شمس الدين محمد حافظ شېرازي له غزلو په اغېزمنېدو سره يې د ۱۸۱۴م او ۱۸۱۵م کلونو په منځ کې داسې شعرونه وويل چې غربي – شرقي ديوان (West-östlicher Divan) يې په ۱۸۱۹م کال خپور شو. د گوېته تر ټولو مهم او مشهور اثر « فاوست» (Faust) دی چې د هغه د شپېته کلن زيار حاصل دی. د دې اثر دويمه برخه د گوېته تر مړينې وروسته په ۱۸۳۲م کال کې خپره شوې ده. پر دې سربېره ځينې نور آثار يې دا دي:

کلاويگو(۱۷۷۴م)، استلا(۱۷۷۵م)، د بوټو د بڼې د تغيير په اړه مقاله(۱۷۹۰م)، د اپټيک په اړه بحث(۱۷۹۲م)، پاندورا(۱۸۰۸م)، د رنگونو د فرضيې په اړه(۱۸۱۰م) او د حيواناتو د بڼې تغيير (۱۸۱۰م)(۲۲). دغه راز اگمونټ، رومي نغمې، د مارټين باد شکايتونه(۲۳) او پرو (فلسفي منظومه)(۲۴) يې نور آثار دي.

د نوموړي ادبي آثارو د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې خورا نوم پيدا کړ، مگر کله چې دويمه نړيواله جگړه (۱۹۳۹ – ۱۹٤٥ز) پيل شوه، په آلمان کې دغې جگړې ټول ادبي آثار له منځه يوړل او د هغه وخت ټوله پاملرنه جگړې ته واوښته، آن د جگړې له پای ته رسېدو وروسته هم، په لسگونو کلونو د گوېته نوم چا په ژبه وانه خيست، ځکه په خلکو کې داسې اوازې وې چې د گوېته ادبي آثار زاړه او لوستل يې خلکو ته اړين نه دي، خو دې خبرو ډېر دوام ونه کړ او د ده ادبي آثار نه يوازې په آلمان، بلکې په ټوله نړۍ کې يو ځل بيا ځلانده شول. په دې وخت کې خلک له جگړې ستړي او پرضد يې راپاڅېدلي وو، خو گوېته د دې جگړې له پيل نه مخکې جگړه او جگړه ماران غندلي وو(۲۵).

گوېته ۱٦۰۰ قطعې شعرونه، څو ډرامې، رومانونه او نمايشنامې ليکلې دي. دی د يوه ځانگړي سبک خاوند و. هغه په خپلو آثارو کې د خلکو د ژوند هيلې او غوښتنې په هنري توگه انځور کړې دي.

د ده د اشعارو، ډرامو او رومانونو قهرمانان عادي خلک دي او د آثارو زياتره برخه يې د خلکو عنعنوي ژوند او د خپل هېواد په هکله د موضوعاتو مضامين جوړوي. د ادبياتو په نړۍ کې د ګوېټه آثار په ډېر ښکلي فورم او محتوا ليکل شوي دي. همدا لامل دی چې د ده ليکنې د نړۍ په ادبياتو کې خاص ځای لري او د ادب د مينه والو ځانګړې پاملرنه جلبوي.

ګوېټه په خپل (پرو) مشهوره فلسفي منظومه ډرامه کې سترې ټولنيزې او سياسي ستونزې راپورته کړي، د ظلم او بې عدالتۍ په اړه يې خبرې کړي او ظالم او جاهل انسان يې په کې غندلی دی(٢٦ ).

د شاعر او ليکوال ګوېټه د «ويلهم ميستير د زده کړې کلونه» رومان ډېر په زړه پورې اثر دی. په دې کتاب کې د ده د نظرياتو له امله د فاشيستانو غوسه راوپارېدله او له امله يې د هغه آثار د منع شوو کتابونو په ليست کې ثبت شول(٢٧).

د ګوېټه د (فاوسټ) ډرامه چې د الماني پوه ډاکټر فاستوس د ژوند په اړه يې ليکلې، داسې يو اثر دی چې په اروپايي ادبياتو کې يې ساری نه ليدل کېږي. همدارنګه ډېری اروپايي ليکوالان وايي چې د ګوېټه تر ټولو مشهور (د مارتين باد شکايتونه) په قوي احتمال د بشريت په منځ کې تر ټولو زيات ښکلی شاعرانه اثر دی(٢٨).

سره له دې چې نوموړي د ژوند په يوه پړاو کې سياست ته هم مخه کړه، خو د عمر ډېر وخت يې ليکوالۍ او نقاشۍ ته وقف کړی و.د يوه ځانګړي طرز تفکر او سبک خاوند و چې پر شعر او ادبياتو سربېره يې په بېلا بېلو برخو او علومو کې ګڼ شمېر بې جوړې آثار وليکل او له همدې امله يې اوس نړيوال شهرت موندلی دی.

## د شعر او نثر بېلګې يې

ګوېټه په خپلو اشعارو کې پر کليسا باندې انتقاد کوي او هغه څوک چې هلته اوسي، ګناهګار يې بولي، لکه د ګناه په نوم لاندې شعر کې:

هغه
په صومعه کې نه اوسي
ځکه
په اوږو نه وړي
که وختي وي

یا ناوخته

بویه

د ژوندانه له خوږو څخه بې برخې نه شي(۲۹)

همدارنګه نوموړی د شعر او شاعرۍ په اړه وايي:

که څوک غواړي د شاعرۍ فنون زده کړي

باید د شعر نړۍ کې خپل ځان ورک کړي

او که څوک غواړي شاعر درک کړي

ښايي د شاعر ملک ته عزم د سفر وکړي

ګوېته له سعدي څخه په پیروۍ چې ویلي یې دي: (هرکه آمد عمارت نو ساخت) او (خر عیسی ګرش به مکه برند) شعر ویلی او په بشپړه توګه یې دا بیتونه ژباړلي دي. همدارنګه نوموړي د حافظ د دې بیت (اګر آن ترك شیرازی به دست آرد دل مارا، به خال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را) په لیدلو سره، داسې ویلي دي: «تا خپل ځان زما د زړه پاچا جوړ کړ او زه دې د خپلې دروازې سوالګر؛ که مې واک په لاس کې وای، بلخ، سمرقند، بخارا به مې درته ډالۍ کړي وای..»(۳۰).

ګوېته یوه ورځ په باغ کې یو ګل ولید، ورته ودرېد، ننداره یې کوله او ویې ویل:

اې ښکلیه ګله! که زه ستا په راز وپوهېږم، نو د ټول جهان په راز به پوه شم!

بیا یې خپلې معشوقې ته وویل: ګرانې! که ته زما په سترګو کې اوښکې وای، نو ما به هرګز نه ژړل، نه چې له ما نه روانه شې او پر خاورو کښېنې...!؟

د ژمي په نامه ټوټه چې ګوېته د ۱۸۱٤م په ډیسمبر میاشت کې لیکلې، اصلي موضوع یې د تیمور د ژمي برید او یرغل و، کله چې هغه پر چین د پسرلني برید لپاره چمتووالی نیوه، نو عذاب یې پر لښکرو نازل شو او له پښو وغورځېد. ګوېته د خپل اثر شرقي دیوان «تیمور نامه» کې په دې اړه داسې لیکلي دي: «ژمي په ټول قهر او غضب سره راګیر کړل او له ساړه اسوېلي وروسته یې له قهره ډك توفانونه ورپسې واستول. هغو سړو بادونو چې د کنګل یخې چړې هم ورسره وې، واك یې ورته ورکړ چې څه یې زړه غواړي، ویې کړي، بیا د تیمور حرم ته را کوز شول او په قهر او غضب یې ورته وویل:

ای د بخت راستون شوی ظالمه! لږ رانږدې شه او خبره مې واوره، ترڅو باید زړونه د نفرت په اور کې وسوځي او ایره شي؟ که د خدای د قهر په څېر یې، نو زه د دې قهر یو بل پیغام یم؛ که ته زوړ او بوډا یې، نو زه هم بوډا یم؛ که ته د وینو سېلاب بهوې، زه هم له سرو او یخنیو سره په هرڅه یرغالم؛ ته مریخ یې او زه زحل او دا په کراتو ویل شوي چې د مریخ او زحل له نږدېوالي بلاګانې پاڅېږي.

که ته په زړونو لړزه راولې، نو زه په ساړه اسوېلي نړۍ لړزوم، ته که په وحشي لښکرو خدای پرستان وحشتناکو کړاوونو ته سپارې، خو فکر مه کوه چې ګوندې له ما نه پیاوړی یې، ځکه چې زما د حکمرانۍ دوران پای ته رسېږي، داسې مرګ او نیستي به درته راولم چې ستا لښکرې د بېوزلو د وینو له تویولو لاس واخلي او زموږ د کړاو نه په خوند اخیستلو به د ظلم لاره له یاده وباسې، په خدای سوګند، که چېرې زما سوړ اسوېلی ووځي، نو ته اې زوړ وینې څښونکیه! په هېڅ اور لمبو به زما له قهره ځان ونه ژغورې»(۳۱).

## ګوېټه او شرقي ادب

ګوېټه له شرقي ادبیاتو سره ځانګړې علاقمندي او خاصتاً د فارسي ژبې له شاعر حافظ سره ځانګړې مینه درلوده، چې لاندې ورته ځغلنده کتنه کوو.

د ګوېټه په آثارو کې راغلي چې په ختیځ کې خونړۍ جګړې پېښې شوې، په دغو جګړو کې په زرګونو انسانان وژل شوي او ختیځ تمدن یې له منځه وړی دی. نوموړی د جګړې او جګړه مارانو په اړه وايي: «پوه انسانان هېڅکله جنګ ته میلان نه لري، جنګ تل د انسان په زیان دی او یو داسې مهلک مرض دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې په زرګونو انسانان له منځه وړي دي»(۳۲). همدا لامل دی چې ګوېټه له تیمور کورګان (۷۷۱ – ۸۰۷ هـ) څخه کرکه لري، دا ځکه چې د ده په وینا، د نوموړي په لاس د آریانا او چین لرغونی تمدن له منځه لاړ.

ګوېټه په ۱۷۷۳م کال کې د حضرت محمد «صلی الله علیه وسلم» د ژوند په اړه اثر چې د (تورپن) په نامه لیکوال لیکلی و، مطالعه کړ، چې بنایي دا به د ختیځ له فرهنګ سره د نوموړي د پېژندلو لومړنی پیل وي. ده په داسې حال کې چې هغه مهال د ملي تعصباتو د دورې شروع وه، ویل: «ختیځ او لوېدیځ یو له بله جلا نه دي او باید د بشري تمدن د پرمختګ لپاره یو له بل سره د همکارۍ لاس ورکړي.»(۳۳)

نوموړي په وايمار کې د فارسي او عربي ژبو او د قرآن کريم په اړه زده کړې وکړې. د هغه په ختيځو او لوېديځو ديوانونو کې د ختيځ د شاعرانو ستاينه شوې ده، په ځانګړې توګه د ګوېته په اند، خواجه شمس الدين محمد حافظ شېرازي تلپاتی شاعر دی چې په ختيځ او لوېديځ کې لا ترديې دمه داسې شاعر نه دی پيداشوی. کله چې ګوېته د فارسي ژبې د شاعرانو او ليکوالانو آثار ولوستل، نو د دوی استعدادونو ته حيران شو او د تسليمۍ سر يې ورته ټيټ کړ، ده به ويل: «په خراسان کې د پنځو پېړيو په اوږدو کې يواځې اوه تنه په زړه پورې شاعران پيدا شوي چې عبارت دي له: فردوسي، نظامي، انوري، سعدي، جامي، مولانا جلال الدين بلخي او حافظ». ده پر دې اعتراف کړی چې دا شاعران له ده څخه ښه شاعران دي چې دا په خپله د نوموړي د مېړانې او کمينۍ ښه ده(۳۴).

ګوېته په ختيځ کې له حافظ شېرازي څخه زيات اغېزمن شوی او له هغه څخه په الهام او د ختيځ فرهنګ او ادبياتو له څېړلو وروسته يې (د غربي - شرقي ديوان) اثر وليکه(۳۵).

کله چې نامتو ختيځپوه اتريشي- شاعر ژورف فون هامر د ۱۸۱۲- ۱۸۱۴م کلونو په حدودو کې د حافظ شېرازي ديوان په الماني ژبه وژباړه، دغه ژباړل شوی ديوان د ګوېته لاسته ورغی، وروسته له هغه چې ګوېته څو ځله د حافظ د ديوان ژباړه ولوستله او د آثارو او اشعارو په اسرارو يې ځان پوه کړ، هماغه و چې له ګوېته سره د ختيځ ادب په هکله يوه ځانګړې مينه پيدا شوه او په دې لټه کې شو چې د ختيځ د نورو شاعرانو او ليکوالو په باره کې معلومات پيداکړي او اشعار يې ولولي(۳٦).

ګوېته په خپلو ديوانونو کې د حافظ اشعارو ته ځانګړې پاملرنه او درناوی لري، هغه خپل ځان د حافظ مخلص بولي او هغه يې د خپل معنوي استاد په توګه ياد کړی دی.له همدې امله به ګوېته تل ويل: «زما هيله ده چې د حافظ شېرازي يو کوچنی مريد شم». ګوېته د حافظ د اشعارو له مطالعې وروسته وويل: «اګرچه د دغه ستر شاعر په اړه مې هلته او دلته يو شمېر مطالب لوستي وو، خو د دغو اشعارو ژباړې داسې متأثره کړم، چې د خپلې بقا لپاره مجبوره يم، چې په خالقانه ډول قلم ته لاس واچوم». د حافظ د همدې ديوان مطالعې ګوېته دې ته وهڅاوه چې آن په ۷۵ کلنۍ کې فارسي ژبه او خط يې زده کړي.

د یادولو وړ ده چې حافظ په ۱۳۲۵م کال په شیراز او ګوېته په ۱۷٤۹م کال په فرانکفورټ کې پیدا شوی چې د دواړو ترمنځ تقریباً ٤۲۰ کاله واټن دی(۳۷).

که له یوې خوا ګوېته د حافظ او ځو نورو ختیځوالو او ادیبانو آثار لوستي او په درنه سترګه یې ورته کتلي، له بلې خوا د ختیځ نابغه علامه اقبال د هغو کسانو له ډلې څخه دی چې له ګوېته څخه متأثر شوی دی. نوموړی په ختیځ کې د مولانا رومي او په لوېدیځ کې د ګوېته له آثارو او شخصیتونو څخه اغېزمن شوی دی. علامه اقبال د ګوېته د (ختیځ دیوان) په ځواب کې د (ختیځ پیغام) اثر لیکلی دی. یاده دې وي چې ګوېته د علامه اقبال له پیدایښت څخه ٤٥ کاله وړاندې مړ شوی دی.

**پایله**

ګوېته په خپل ژوند کې رنګارنګ کارونو ته مخه کړه، خو بیا یې ټول پرېښودل او یواځې لیکوالي او انځورګري یې تر پایه وپاللـه، د دې لامل به دا وي چې نوموړي په لیکوالي او انځورګري کې د خپل ځان او ټولنې نېکمرغي لیدله او له همدې لارې یې غوښتل خپل پیغام انسانانو ته ورسوي. هماغه و چې له لارې یې نړیوال شهرت هم وموند او آثار یې د نړۍ د ادبیاتو یوه برخه وګرځېدله.

بله دا چې، که یو ولس غواړي خپل فرهنګ او ادبیات نورو ټولنو ته ور وپېژني، نو د خپلو نامتو فرهنګیانو او ادیبانو آثار دې نړیوالو ژبو ته وژباړي، ترڅو نړیوال شهرت ومومي. که د حافظ شیرازي دیوان په الماني ژبه نه وای ژباړل شوی، نو ګوېته به څنګه د حافظ پر اشعارو پوه شوی وای؟

د پښتو ادب په ډګر کې هم نامتو کسان شته چې آثار یې نړیوال ادبي ارزښت لري، هیله ده د دغو مخکښانو، لکه خوشحال خان خټک، رحمان بابا، غني خان، ګل پاچا الفت او داسې نورو لیکوالو او شاعرانو آثار نړیوالو ژبو ته وژباړل شي، ترڅو یې پیغام ټولو نړیوالو ته ورسېږي او په دې سره به بیا یو مهال د نړیوال ادب برخه وګرځي.

## مأخذونه

١- ډاکټر حشمت حسیني، دانشنامه آریانا، -http://database-aryana
encyclopaedia.blogspot.com/2009/04/blog-post_15.html

٢- آریانا دایرة المعارف (پښتو)، دوهمه دوره، شپږم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي د دایرة المعارف مرکز، احمد مطبعه، کابل، ١٣٩٦هـ ش کال، ١٢٣ مخ.

٣- دانشنامه آریانا .

۴- آریانا دایرة المعارف (پښتو)، ١٢٣ مخ.

۵- دانشنامه آریانا .

٦- بهرني لیکوال، محمد طاهر کاڼی، د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، همایون مطبعه، ١٣٩۴هـ ش کال، ١٢٢مخ.

٧- آریانا دایرة المعارف (پښتو)، ١٢٣ مخ.

٨- دانشنامه آریانا .

٩- بهرني لیکوال، ١٢٣مخ.

١٠- دانشنامه آریانا .

١١- بهرني لیکوال، ١٢٣مخ.

١٢- دانشنامه آریانا .

١٣- بهرني لیکوال، ١٢٣مخ.

١۴- آریانا دایرة المعارف (پښتو)، ١٢٣ مخ.

١۵- دانشنامه آریانا .

١٦- هنري ټوماس او ډانالي ټوماس، په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ژباړن: نصیراحمد احمدي، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ١٣٨۴هـ ش کال، ٢٢٦، ٢٢٧مخونه.

١٧- په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ٢٢٨، ٢٢٩مخونه.

١٨- پورتنی مأخذ، ٢٢۵ مخ.

١٩-مخکینی اثر، ٢٣٦ مخ.

٢٠- گل رحمن رحماني، نړیوال ادبیات (مقاله)، تاند وېبپاڼه (http://www.taand.com/archives/54389)، د اگست ٢٦مه، ٢٠١۵م کال.

۲۱- آریانا دایرة المعارف (پښتو)، ۱۲۳ مخ.

۲۲- پورتنی مأخذ، ۱۲۴ مخ.

۲۳- دانشنامه آریانا .

۲۴- غوربندی، پوهندوی میراجان (پوهندوی)، نړۍ ادبیات، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۲هـ ش کال، ۱۰۳مخ.

۲۵- نړۍ ادبیات، ۱۰۰مخ.

۲٦- نړۍ ادبیات، ۱۰۱- ۱۰۲، ۱۰۳ مخونه.

۲۷- بهرني لیکوال، ۱۲۴مخ.

۲۸- دانشنامه آریانا.

۲۹- نړۍ ادبیات، ۱۰۳مخ.

۳۰- حشمت حسیني، تأ ثیر ادبیات واندیشه های شرقی بر اندیشمندان غربی به ویژه تأثیر حافظ بر گویته،
http://www.khosha.org/Pages_/tabsira3.html.

۳۱- کېږدۍ وېپباڼه
(http://www.keegday.com/blog/story.php?no=318).

۳۲- نړۍ ادبیات، ۱۰۰مخ.

۳۳- دانشنامه آریانا.

۳۴- نړۍ ادبیات، ۱۰۲ مخ.

۳۵- دانش نامه آریانا.

۳٦- نړۍ ادبیات، ۱۰۲مخ.

۳۷- دانش نامه آریانا.

څېړنوال رفیع الله نیازی

# د عربي ژبپوهنې تاریخچه

# History of Arabic Linguistics

**Research Fellow Rafiullah Niazi**


## Abstract

Research studies about their origins have been conducted in all of the developed language of the world. With the passage of time other aspects of languages have been studied and analyzed. Like other advanced languages, Arabic Language also has its Separate history for every field of study.

According to available evidences, it is confirmed that there are good research studies in various aspects of language before the formal birth of linguistics as a field of scientific study of language. Arabic linguistics also has its different phases of its development.

This article tries to assess and answer the question that how and when phi logical and linguistic studies have been originated in Arabic language and how these studies reached to the present developed and scientific studies of Arabic language.

**لنډیز**

د نړۍ نږدې په ډېرو پرمختللو ژبو کې لومړنۍ څېړنې د ژبې د پیدایښت او پـه ژبـې پورې په اړوندو مسایلو پیل شوې او بیا د مهال په تېرېدو سره په نـورو بېلابېلـو برخـو کـې هم څېړنې شوې دي. په عربي ژبه کې هم د علومو د هـرې څـانگې پیـل خپـل ځـانگړی تاریخي شالید او پرمختیایي بهیر لري. د شته لاسوندونو پـر بنسـټ د نـړۍ پـه ځینـو ژبـو کې سلگونه کلونه د ژبپوهنې له پیدایښت مخکې هم ژبنۍ څېړنې شـوې او خپـل خپـل پړاوونه لري، عربي ژبپوهنه هم خپل ځانگړی تاریخ، دورې او پړاوونه لـري. ددې لیکنـې د څېړنې موضوع دا ده چې په عربي ژبه کې ژبنۍ او ژبپوهنیزې څېړنې کلـه او څـه ډول پیل شوې او څه ډول اوسني حالت ته رارسېدلې دي؟

**سریزه**

د هند، روم او یونان په څېر په عربو کې هم ژبنۍ څېړنې لرغـونې مخینـه لـري او لکه د هند په څېر په عربو کې هم ژبني مطالعات د مذهبي دلایلو پر بنسـټ پیـل شوي دي. د عربي ژبې آر ټاټوبی د سره سمندرگي، د هند سمندر او د عربي خلـیج ترمنځ د عقبه له خلیج څخه تر فرات پـورې سیمه وه، چـې د جزیـرة العـرب پـه نـوم یادېده او مشهورې سیمې یې یمن، حجاز، یثرب، تهامه، نجـد او نـورې وې. عـربي د حامي- سامي ژبکورنۍ یـوه داسـې ژبـه وه، چـې ډېـر گړدودونـه یـې درلـودل، خـو د

جزیرة العرب په ادبي بهیرونو کـې د شـعر، خطـابې او وینـا یـوه نسـبتاً معیـاري عربي ژبه هم کارېدله، چې په جوړښت کې یـې د عـربي ژبـې ټولـو لهجـو څـه ناڅـه ونډه درلوده، یعنې د عربو د ټولو لهجو د ښکلو، روانو، فصـیحو او بلغیـو کلمـو ټولگـه وه. د شعر، یعنې ادبي پنځونو لپاره د یـوې معیـاري ژبـې رامنځتـه کېـدل یـوه سـتره ژبپوهنیزه هڅه او لاس ته راوړنـه گڼـل کېـږي، خـو پـه عـربي ژبـه کـې علمـي ژبنـۍ څېړنې هغه مهال پیل شوې، چې کله مسلمانان د قرانکریم په قرائت، معنا او تفسیر کې تېروتنو او تحریف ته ځیر شول. قرانکریم د جزیرة العرب د حجاز سـیمې د مکـې په قریش قبیله کې پر حضرت محمد ρ د هغه په ژبه نازل شوی، یعنې د عـربي ژبـې د صرف او نحوې د ژبپوهنیز بحث بنسټ د قرآن ژبه (دقریشو گړدود) دی.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په پښتو ژبه کې د عربي ژبې د ژبپوهنې په اړه ډېر څه نه موندل کېږي. په ډېرو لږو آثارو  او ليکنو کې يې څه ناڅه يادونه شوې، خو دا موضوع په بشپړ ډول نه ده څېړل شوې، نو ددې موضوع همدغه ارزښت ته په کتو دا څېړنه شوې ده.

### د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د عربي ادب په ځانګړي ډول د عربي ژبپوهنې پښتانه مينه وال وپوهېږي چې په عربي ژبه کې ژبنۍ او ژبپوهنيزې څېړنې او پلټنې کله او څه ډول پيل شوې او د کومو پړاوونو په سرته رسولو سره اوسني حالت ته رارسېدلې ده.

### د څېړنې په اړه پوښتنې

۱ـ عربي ژبپوهنه څه ډول پيل شوه؟

۲ـ عربي ژبپوهنې کوم پرمختيايي پړاوونه وهلي دي؟

۳ـ د بصرې او کوفې ژبپوهنيزو ښوونځيو د عربي ژبپوهنې په پرمختګ کې څه رول درلود؟

۴ـ کومو پوهانو د عربي ژبپوهنې په برخه کې څه ډول کارونه کړي دي؟

### د څېړنې ميتود

له دې امله چې په دې موضوع کې د تاريخ په اوږدو کې د عربي ژبې ژبپوهنيز بهيرڅېړل شوی، نو اړوند موضوعات يې د تاريخي او تشريحي مېتود په رڼا کې څېړل شوي دي.

## د عربي ژبپوهنې تاريخچه

دا چې د عربي ژبې د صرف او نحوې د ژبپوهنيز بحث بنسټ د قرآن ژبه (دقريشو ګړدود) ګڼل شوی، نو په دې کې شک نشته، چې د قرآن له نزول سره د قريشو ګړدود په ټولې عربي نړۍ کې ارزښتمن ځای وموند، خو دې خبرې نور لاملونه هم درلودل، ځکه له اسلام وړاندې هم د قريشو د سياسي، اقتصادي او ديني نفوذ له امله د هغوی ګړدود د عربي ژبې له نورو ګړدودونو څخه امتياز درلود.

په سیاسي لحاظ د جزیرة العرب قبایلو له خپلو گاونډیو ولسونو، لکه له رومیانو، حبشیانو، مصر- یانو او ایرانیانو سره سوداگریزه راکړه ورکړه درلوده او د ولسونو ترمنځ دغه ډول اړیکې یو پر بل متاقبلې اغېزې ښندې، هغه عرب قبایل چې له ایران او روم سره په چم گاونډ کې نږدې مېشت وو، د گاونډیو هېوادونو د سیاسي نفوذ تر اغېز لاندې وو، خو قریش له دغه ډول آغېزو څخه ځه ناڅه آزاد وو، ځکه چې له عجمو څخه په ډېر لرې جغرافیوي واټن کې مېشت وو، له همدغه امله د قریشو گړدود د نورو سیمه ییزو ژبو له اغېز څخه تر ډېره بریده خوندي او نړه پاتې شوی و، یعنې د عربي ژبې آرې، فصیحې او سوچه کلمې د قریشو په لهجه کې خوندي وې.

په اقتصادي لحاظ هم د قریشو مېشتځایونه د هغه مهال مهم اقتصادي مرکزونه وو، مکې ته نږدې په طایف کې د عُکاظ بازار موجودیت او دغه بازار ته د عرب قبایلو تگ راتگ په ټوله کې د حجاز او په حجاز کې د طایف او مکې اقتصادي او فرهنگي ارزښت په گوته کوي. په دغو بازارونو کې به پر اقتصادي راکړې ورکړې سربېره د سیل تفریح پروگرامونه هم وو، مشاعرې به پکې کېدې او غورو شعرونو ته به جایزې هم ورکول کېدې، شاعرانو به کوښښ کاوه داسې فصیح او بلیغ شعرونه وپنځوي، چې ټول عربان پرې وپوهېږي، نو د قریشو لهجه یوازینۍ لهجه وه، چې ټولو عربو ته د فهم وړ وه او د عربي ژبې د نورو لهجو ویونکو ته د ژبنې وحدت یوه ښه وسیله هم وه.

په دیني لحاظ، مکې له اسلام وړاندې هم عربو ته د مذهبي حیثیت له امله ډېر ارزښت درلود، ځکه چې کعبه په دغه ښارکې وه او په کعبه کې د عربو د هرې قبیلې د عبادت بوتان ایښودل شوي وو. د کال په ځانگړو موسمونو کې به چې د جزیرة العرب له بېلابېلو سیمو څخه عربان عُکاظ بازار، حج او یا د نورو مذهبي امورو لپاره حجاز ته راتلل، نو د مکې زیارت به یې هم کاوه. د حجاز او مکې قریشو به د نورو سیمو د عربانو خبرې په ډېرغور سره اورېدې، د هغوی له خبرو څخه به یې ښکلي الفاظ، کلمې او عبارات انتخابول او بیا به یې هغه کلمې، الفاظ او عبارات په ورځنیو خبرو اترو کې کارول، د دې کار پایله دا شوه چې د عربي ژبې په ټولو لهجو کې د قریشو لهجه فصیحه، بلیغه، صفا او نړه شوه او ټول عرب قبایل پرې پوهېدل.

د قران کريم نزول پر ټولـو بشري ټولنـو، پـه ځـانګړې ډول پـر عـربي ټـولنې او عربي ژبې ډېرې اغېزې درلودې. په قرآن کې د عربي ژبـې د نـورو لهجـو کلمـې هـم شته، خو د قريشو لهجه پرې غالبه ده، ځکه چې حضرت محمد ρ قريش و او قرآن د هغه په لهجه نازل شو. د قران کريم : وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ(۱)

آيت حکم هم دا دی، چې خدای تعالی هـر قـوم تـه د هغـوی پـه ژبـه اسـتازی (پيغمبر) استولی دی.

نن سبا نږدې ټول عرب اديبان او ژبپوهـان پـر دې اجـماع لـري، چـې د عربـې ژبې په ټولو لهجو کې د قريشو لهجه په فصاحت او بلاغت کې غوره ده.

د عربي ژبې د علومو په تاريخ کې داسې نښې نشته، چې تر اسلام مخکې دې د عربي ژبې په صرف، نحو، لغت او بلاغت کې کوم اثر ليکل شـوی وي، خـو د قـرآن له نزول وروسته د دې ژبې بېلابېلې برخې تر څېړنې او مطالعې لاندې ونيول شـوې. د قـرآن پـه اړه د مسـلمانانو دغـو هڅـو هـم د قرآنکـريم لـه دې آيتونـو څخـه منشـأ اخيستې، چې وايي:

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ(۲)

ايا د قرآن په اړه فکر نه کوئ

او يا : إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۳)

موږ قرآن په عربي ژبه نازل کړی دی، تر څو تاسو وپوهېږئ

د حضرت محمدρ په ډېرو احـاديثو کـې هـم پـر قـرآن بانـدې د پوهېـدو امـر او سپارښتنه شوې ده. د همدغو سپارښتونو له املـه مسـلمانانو قـرآن تـه يـوازې پـه دې سترګه نه کتل، چې لوستل يې ثواب لري، بلکې هڅه يې کوله ځانونه پرې پوه او پـه عملي ژوند کې يې پلی کړي. له همدغه امله په قرآن کې تفسيري بحثونـه همـاغـه د رسالت له لومړيو ورځو څخه پيل شول او د قرآن لومړنی مفسر هـم حضـرت محمـدρ و، چې ټولې اسماني وحيې يې خپلو اصحابو ته بيانولې، هغوی به حفظ کولې او بيا به يې نورو مسلمانانو ته رسولې.

د قرآن کريم جوړښت، الفاظ، کلمات او عبارات دومره حيرانـوونکي وو، چـې ان فصيح عربان هم ورته ګوته په غاښ وو. د قرآن نا اشنا او بې جوړې جوړښت لـومړنی

او مهم لامل و، چې عربي ژبې ته يې د عربو او ناعربو لغت پوهانو، اديبانو او ژبپوهانو پام ور واړوه. له بله اړخه د اسلام د مقدس دين له خپرېدو او د اسلامي دولت له جوړېدو سره عربي د اسلامي دولت سياسي او حکومتي ژبه شوه او د مسلمانانو په لاس د نړۍ د بېلابېلو ملکونو او امپراتوريو له فتحې وروسته ترې يوه بين المللي ژبه جوړه شوه، چې د عرب مسلمانانو او د نويو مسلمان شويو ناعرب قامونو تر منځ يې د يوې منځګړې ژبې دنده ترسره کوله. مسلمانانو د ايماني مسووليت له امله د اسلام پر احکامو او د قرآن په مفهوم د پوهېدو لپاره د عربي ژبې زده کړه پيل کړه، د زده کړې په بهير کې ناعربو مسلمانانو د عربي ژبې ځينې کلمې د عربو په څېر نه شواى تلفظولاى او دا طبيعي خبره ده، چې د دويمې ژبې په زده کړه کې لفظي او ژبنۍ تېروتنې رامنځته کېږي. دې کار د عربي ژبې پوهانو ته انديښنه پيداکړه، چې هسې نه دا مسايل په عربي ژبه کې د انحرافاتو او بدلونونو لامل شي او په نتيجه کې يې د قرآنکريم، يعنې الهي کلام په قرائت، معنا او مفهوم کې بدلون رامنځته شي. مسلمانو پوهانو له انحرافاتو او بدلونونو څخه د قرآنکريم د خوندي کېدو لپاره د عربي ژبې د قواعدو تدوين ته ملا وتړله؛ چې په پايله کې يې لومړى مسلمانانو د قرآنکريم تفسيرونه وليکل، بيا يې د عربي ژبې لغات راجمع کړل او ورپسې يې د عربي ژبې نحو تدوين کړه. دغه پوهان د عربي ادبياتو په تاريخ کې د مفسرينو، لغويانو او نحويانو په نامه يادېږي.

## ژبه، ژبپوهنه او فقه اللغه

په عربي ژبه کې ژبپوهنيزې څېړنې د (اللغه) او بيا د (فقه اللغه) تر سرليک لاندې پيل شوې او د وخت په تېرېدو سره په بېلابېلو نومونو يادې شوې دي. د قرآنکريم د تفسير او د قرآن د لغاتو له تشرېح او تفسير وروسته د عربو ليکوالو لومړنۍ ژبپوهنيزه هڅه د عربي ژبې د کلماتو راټولول او تأليف و، عربو پوهانو د عربي ژبې کلمې د ډېرو اصطلاحاتو تر سرليک لاندې راټولې او تأليف کړې، خو د لغاتو د تأليف تر ټولو لرغونى نوم (اللغه) اصطلاح وه. په علمي مرکزونو او د کلمو د څېړنې په موضوعي کتابونو کې د(اللغه) کلمه څو پېړۍ په همدغه معنا کارول کېده

او (لغوي) هغه څوک و، چې لغات به يې راټولول او بيا به يې د تصنيف او تـأليف لـه حيثه پرې څېړنه کوله.

"پـه څلورمـه هجـري پېـړۍ کـې عـرب لغـوي ابـن فـارس( م ۳۹۵ هــ) يـوه بلـه اصطلاح رامنځته کړه ... ابن فارس د خپل يوه کتـاب نـوم الصـاحبی فـی فقـه اللغـه کېښود، چې له دغه کتاب سره د فقه اللغـه اصـطلاح د لـومړي ځـل لپـاره پـه عـربي فرهنګ کې د يوه کتاب د نوم په توګه معروفه شوه"(۴)

له ابن فارس څخه وروسته اوځار شخص چې دا اصطلاح يـې وکارولـه اديـب او لغوي ثعالبي و، چې خپل کتاب يې فقه اللغـه و سرالعربيـه ونومـوه. د ابـن فـارس او ثعالبي کتابونه د عربي ژبې د کلمو د څېړلو په مسـايلو کـې سره ورتـه دي او د دواړو په نزد د فقه اللغـه موضـوع د عـربي ژبـې د کلمـو پېژندنـه، معنـا او د کلمـو د وېـش موضوعات دي. د ابن فارس کتاب د ژبې په اړه ځينې نظري مسايل هـم لـري، چـې ډېره مهمه يې د ژبې د پيدايښت مسله ده، چې پوهانو يې په اړه اختلاف درلود.

د (علم اللغه) اصطلاح ځينو ورستنيو لغويانو هم کـارولې ده، رضي اسـترابادي د (علم اللغه) او (تصريف) ترمنځ توپيرکوي، لومړی موضوع د کلماتو څېړل او دويمه د کلمو د جوړښت ځانګړي قـوانين بـولي، خـو ابوحيـان د (علـم اللغـه) اصـطلاح پـه خپلو څو کتـابونو کـې ذکـر کـړې، د هغـه پـه نـزد د (علـم اللغـه) موضـوع (دکـلام د مفرداتو د معنـا) څېـړل دي. د ابـن خلـدون پـه نـزد د علـم اللغـه اصـطلاح (د ژبنيـو موضوعاتو څرګندول) دي، يعنې د رضي استرابادي، ابوحيان، ابن خلدون او نورو پـه نزد د (علم اللغه) اصطلاح د کلماتو څېړل او په قاموسونو او کتابونو کـې يـې تـدوين ته وايي.

د عربي ژبې يوه بله اصطلاح (علم متن اللغه) هم ځينو ليکوالـو د ژبنيـو کلمـو څېړلو او معنا ته کارولې، نو پخوانيـو عـرب ليکوالـو او د هغـوی پـه پليـونې د شـلمې پېړۍ دوديزو ليکوالو د خپلو څېړنو په سرليکونو کې د (اللغه، فقه اللغه، علم اللغه او متن اللغه) کلمې د ژبنيو قاموسونو او کتابونو لپاره کارولې دي.

د عربي نړۍ ځينې پوهان د اسلامي دولت په حوزه کې د علمي نهضـت پيـل د ژبنيو علومو پيل ګڼي، چې د ګړونو، دکلمې د جوړښـت، د جملـې د جوړښـت او د

کلمو په برخه کې يې هڅې کړې دي. دا پوهان په دوو ډلو وېشل کېږي، يوې ډلې د ژبې کلمو ته پاملرنه کړې او بلې ډلې د ژبې د جملې جوړښت ته، نو د لومړۍ ډلې د څېړنې حوزه (اللغة، علم اللغة يا متن اللغه) ده او د دويمې ډلې د څېړنې حوزه (نحو يا علم العربيه) ده.

د شته لاسوندونو پر بنسټ "په يوه واحد نظم کې د ژبنيو علومو د ترتيب لومړنۍ گټورې هڅې فارابي کړې، چې په ژبې پورې پر اړوندو علومو يې هر اړخيز نوم (علم اللسان) کېښود، د هغه په نزد (علم اللسان) له څو حوزو څخه جوړ دی... د فارابي په وېش کې معنا پېژندنه په نوي تقسيم کې ځای نيسي. د ابن انباري په نزد د(علوم الادب) اصطلاح ژبنيو علومو، يعنې نحوې، لغت، تصريف، نحوي بحثونو، د نحوې اصولو، عروضو، قافيې، د شعر صنعت او د عربو اخبار او انساب ته کارول کېده، يعنې د هغه په نظر ادبي علوم، د ژبنيو او ادبي علومو مجموعې ته وېل کېدل.(۵)

د دغواصطلاحاتو ترڅنگ د ژبنيو علومو د مجموعې لپاره د(علم اللسان، علوم اللسان العربی، علوم الادب يا علوم العربية) نومونې هم کارول شوې دي. د يوې بلې خبرې يادونه هم اړينه ده، چې عربي علوم يوازې د عربو لاس ته راوړنه نه، بلکې تر ډېره بريده د ځينو نورو قامونو، لکه د پارسيانو، روميانو، يهودانو، قبطيانو، بربريانو او مسيحي پوهانو د زيار او هڅو گډه پايله ده، چې د عربو د خلافت تر سيوري لاندې يې ژوند کاوه او عربي ژبه يې د يوې دولتې، فرهنگي او په چاپېريال کې د واکمنې کاروباري ژبې په توگه کاروله.

## لغويان

لغويان هغه پوهان وو، چې د عربي ژبې د لغاتو د راټولولو، تأليف او تدوين چارې به يې ترسره کولې. ددې ډلې ځينو مسلمانو پوهانو د عربي ژبې د کلماتو د معنا، تشريح او توضيح آثار وليکل، چې له مسلمانانو سره د قرآنکريم په زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي.

جرجي زيدان په خپل آثر کې ليکي:" چاچې له نورو ټولو وړاندې د ادب د علم د لغاتو د تدوين هڅه کړې او له هر چا يې ډېر روايات راجمع کړل ابو عمرو بن علاء تميمي و، چې په مکه کې زېږېدلی و او پر ۱۵۴ کال په کوفه کې وفات شو. هغه د

کتابونو یوه داسې خونه درلوده، چې تر چت پورې یې کتابونـه یـو پـر بـل انبـار وو او هغه ټول کتابونه د عربو د خبرو په اړه وو.هغه ویل هغه څه چې ماتـه لـه عربـو څخـه رارسېدلې له ډېرو څخه ډېر لږ دي او که ټول راته رارسېدلي وای نو پوهه او شعر بـه مې ډېر درلودل"(٦)

په دویمه هجري پېړۍ کـې پـه عـراق کـې د لغـاتو او د ادب پـه علـم کـې ډېـر پوهان پیداشول، چې مشهور یې ابوزید، ابو عبیده، اصمعي او خلیل وو او څلـور واړو په یوه زمانه کې ژوند کاوه.

په عربي ژبه کې د لغاتو لومړنی او هر اړخیـز سـیند (قـاموس) العـین نـومېږي، چې خلیل بن احمد (۷۹۱م وفـات) لیکلـی دی. دا سـیند د عـربي ژبـې د الفبـا پـه ترتیب چې له الـف څخـه پیلېـږي، نـه دی لیکـل شـوی، بلکـې د(ع) پـه تـوري پیـل شـوی، لکـه : ع-ح-هــ-خ-غ-ق-ک-ج – ش-ص –ض-س-ر-ط-د-ث-ت-ظ-ذ-ث-ز-ل-ن-ف-م-و-ا-ی.

لبنـانی لیکـوال جرجـي زیـدان لیکي:"لکـه خلیـل چـې دا ترتیـب او د توریـو ډلبندي له هنـدیانو څخـه زده کـړې وي، ځکـه هغـوی هـم د سنسـکرېت کلمـې لـه حلقي توریو څخه پیل کـړي او پـه هغـو توریـو یـې پـای تـه رسـولي، چـې پـه شـونډو ختمېږي"(۷)

له نورو سیندونو سره د العین بنسټیز توپیر دادی، چې په پخوانیو سیندونوکې به یوازې په قرآن او د عربو په بدوي اشعارو کـې شـته کلـمات او اصـطلاحات وو، خـو خلیل د عربي ژبې ټولې کلمې توضیح کړې دي. د العین کتاب د لیکـوال پـه برخـه کې څه تردید هم شته، ځینې وایـي لیـث ابـن مظفـر ددې کتـاب لیکـوال دی، خـو ځینې وایي چې خلیل بن احمد د کتاب له پای ته رسېدو وړاندې وفات شـو او لیـث ابن مظفر بیا دا کتاب پای ته ورساوه، همدا کار ددې لامل شو، چې ځینـو څېړونکـو ابن مظفر ددې کتاب لیکوال ګڼلی دی.

له العین وروسته"د ابوالعباس المبرد الکامل، د ابن درید الجمهره، د الازهـري تهذیب، د صاحب بن عباد المحیط، د ابولحسین احمد بن فـارس رازي المجمـل، د جوهري الصحاح، د زمخشري اساس البلاغـه، د قـزاز الجـامع فـی اللغـه او د تیـاني الموعب نور هغه آثار دي، چې د عربي ژبې د لغاتو په اړه لیکل شوي دي"(۸)

له دې وروسته یوه افریقایي عالم ابن منظور(۱۳۱۱م) د لسان العرب په نامه سیند ولیکه، خو د دې سیند اصلي سرچینې د الازهري تهذیب اللغه، د جوهري الصحاح او ځینې نور سیندونه وو. بیا الفیروز ابادي (۱۴۱۴م) په یوه روایت په شپېتو او په بل روایت په سلو ټوکونو کې د القاموس المحیط په نامه یو ستر سیند ولیکه.

په عربي ژبه کې د لغاتو د سیند لپاره "د(قاموس) اصطلاح د لومړي ځل لپاره د الفېروز ابادي له خوا وضع شوه"(۹)

په دې برخه کې وروستنی ستر مؤلف مرتضی الزبید(۱۷۹۱م) دی، چې له یوسلو شلو زرو څخه ډېر مدخلونه یې په خپل سیند تاج العروس کې راجمع کړي وو. تاج العروس په کلي ډول دعربي ژبې تر ټولو ستر سیند شمېرل کېږي. دا لړۍ ورپسې نوره هم وغځېدله، خو په هر صورت خلیل بن احمد په عربي ژبه کې د سیند( قاموس) لیکنې سرلاری ګڼل کېږي.

## نحویان

د قرآن په زده کړه کې لومړنی کار د الفاظو تلفظ او یادول دي او بیا وروسته یې پر معنا پوهېدل. د قران کریم د معنا او محتوا پېژندنې لپاره غوره لار د اعرابو زده کړه ده او دا کار د نحوې د علم په مرسته کېږي، ځکه چې د نحوې په مرسته مبتدا او خبر، فاعل او مفعول، صفت او موصوف، تعحب او استفهام او نور پېژندل کېږي. د همدغې موخې لپاره ځینو عرب او ناعرب مسلمانو پوهانو د عربي ژبې صرف او نحو ولیکله، چې له مسلمانانو سره د قرآن کریم په لوست او پوهه کې مرسته وکړي او دغه پوهان بیا د عربي ژبې د ادبیاتو په تاریخ کې د نحویانو په نامه یاد شول.

ژان محمد عبدالجلیل وایي :"دعربي ژبې د ژبنیو مطالعاتو د پیدایښت مسئله د یوې افسانې په څېر ده. ځینې روایات وایي، چې د لومړنیو ګرامري مطالعاتو لپاره د نحوې کلمه حضرت علي τ وضع کړې، همداراز ویل کېږي، چې لومړنی نحوه پېژندونکی د حضرت علي τ شاګرد ابوالاسود دوئلي( ۴۸ هـ وفات) دی"(۱۰)

خو ډاکتر محمود فهمي حجازي وایي، چې "په عربي ژبه کې د نحوې اصطلاح په دویمه هجری پېړۍ کې دود شوې ده"(۱۱)

يوه بله نومونه، چې د جملې د جوړښت بحث پکې کېږي (العربيه) يا (علم العربيه) ده، دا دوه نومونې د څلورمې هجري پېړۍ په ليکنو کې موندل شوي، ابن نديم او ابن فارس د (العربيه) اصطلاح د نحوې په معنا کارولې ده.

ابوحيان نحوي لومړنی کس دی، چې د ( عربي ژبې علوم) اصطلاح يې ژبنيو علومو ته وکاروله او ابن خلدون ددې اصطلاح په کارولو کې د هغه پيروي وکړه. د ابوحيان په نزد د لغاتو علم، دتصريف علم او نحوه دعربي ژبې علوم دي. د لغاتو علم د کلام دکلمو معنا، د تصريف علم له جوړښت وړاندې د کلام دکلمو احکام څېړي، خو د نحوې علم له جوړښت څخه مخکې د کلام د کلمو احکامو ته وايي.

صرف او نحو نن سبا له دې امله چې مطالب يې سره توپير لري، دوه جلا علوم دي، خو د عربي ژبپوهنې په پيل کې صرفي مسايل له نحوې سره يوځای څېړل کېدل، يعنې دوه جلا علوم نه ګڼل کېدل ځکه چې صرفي مباحثو د نحوې په کتابونو کې دننه ځای درلود، خو د وخت په تېرېدو سره د صرف علم له نحوې څخه جلا شو. صرف او نحو يا د ژبې ګرامر، د ژبې په زده کړه کې ځانګړی ځای لري او له دې پرته په نورو ډېرو ژبو کې هم ژبني قواعد د ديني او مذهبي آثارو د خونديتوب لپاره رامنځته شوي، لکه په هندويزم کې د سنسکرېت د خوندي کېدو لپاره قواعد جوړشول، په عربي ژبه کې هم صرفي او نحوي قواعد د قرآنکريم په لوستلو او معنا کې د تحريف يا بدلون د راپيدا کېدو د مخنيوي لپاره رامنځته شول.

د لومړۍ هجري پېړۍ تر دويمې نيمايي پورې مسلمانانو قرانکريم پرته له حرکاتو او ټکو لوسته او ليکه، خو:" لومړنی کس چې په عربي ليکلو کې يې حرکات دود کړل ابوالاسود دوئلي و... نوموړي د ټکو (نقطو) په ايښودلو عربي کلماتو ته حرکات وټاکل. له همدغه امله ځينو تاريخپوهانو دا ګومان کړی، چې ابوالاسود ټکي اختراع کړي دي. په داسې حال کې چې هغه دا کار له يو بل څخه د اسم، فعل او حرف د تشخيص لپاره وکړ، نه ددې لپاه چې د ټکو په واسطه، بې، تې، جيم او حې له يو بل سره توپير کړي"(۱۲)

د ټکو په وسيله د حرکاتو ټاکلو بيا هم د قرآنکريم په قرائت کې ستونزې راولاړولې، ځکه ناعرب مسلمانانو نه شو کولای په ښه کې سره ورته توري، لکه (ج،

ح، س، ش، ب، ت) وپېژني، نو د دې ستونزې د حل لپاره يې توريو ته ټکي ورکړل، خو له دې کار سره د حرکاتو او اعراب ټکي د توريو له ټکو سره ګډېدل، نو بيا خليل بن احمد حرکات او اعراب په هغه ډول چې نن سبا معمول دي اختراع کړل، يعنې پېښ يې د واو په بڼه، فتحه يې د الف او کسره يې د يا او شد يې د ش په بڼه او دې ورته نور حرکات او اعراب يې وټاکل.

"تاريخپوهان ټول پر دې اتفاق لري، چې ابوالاسود دوئلي (٦٩ هـ مړ) د عربي ژبې د نحوې د علم بنسټ کېښود. له هغه وروسته د کوفې او بصرې خلکو د ابوالاسود کار تعقيب کړ، لومړنی سړی چې له ابوالاسود څخه يې د نحوې علم زده او د هغې د بشپړولو هڅه يې وکړه عنبسة بن معدان مهري و، بيا ميمون اقرن او عبدالله حضرمي، عيسی بن عمر، خليل بن احمد (دعروضو او لغاتو امام) او سيبويه (د نحوې د علم امام) په ترتيب د نحوې علم يو له بل څخه اقتباس او بشپړ کړ، چې ورسره د نحوې علم د طبيعي تکامل له قانون سره سم پرمختګ وکړ او په اړه يې مفصل کتابونه وليکل شول، خو سيبويه (١٨٠ مړ) هغه بشپړ کړ او خپل مشهور کتاب يې پکې وليکه"(١٣)

په نوې ژبپوهنه کې د کلمې او جملې جوړښت په نحو کې ترسره کېږي او په عربي نحو کې تر ټولو پخوانی اثر د سيبويه دی، چې الکتاب نومېده."ابوطيب لغوي (م ٣٥١ هـ.ق) دغه اثر (قران النحو) نومولی او له خليل بن احمد څخه وروسته يې سيبويه په نحو کې تر ټول پوه عالم ګڼلی و"(١۴)

"کله چې مازني( م ٢۴٩ هـ .ق) التصريف کتاب وليکه، د کلمې په جوړښت کې بحث د نحوې د يوې برخې په توګه د هغې په هر اړخيزه معنا و. سيبويه هم هغې پوهې ته چې د کلمې جوړښت پکې څېړل کېږي يوه مستقله اصطلاح وکاروله. مازني له لومړنيو کسانو څخه دی، چې مستقل کتابونه يې صرفي جوړښت ته ځانګړي کړي او د التصريف کتاب د هغه تر ټولو پخوانی بشپړ کتاب دی، چې د صرفي جوړښتونو په اړه مونږ ته رارسېدلی دی"(١۵)

الکتاب ۵٧۴ بابونه لري او د نحوې، صرف او کلمو په اړه پکې بحث شوی دی. سيبويه په خپل اثر کې دوو مهمو مسلو ته پام کړی، چې پخوا چا نه و کړی. لومړی

دا چې د کلمو د ډولونو بحث يې مطرح کړ او کلمه يې په اسم، فعل او حرف وويشله او اسم يې د صرفي او نحوي ځانګړنو پر بنسټ د معرفه او نکره،مفرد او جمع،مذکر او مونث په ډول ډلبندي کړ.

"پر دې سربېره سيبويه د عربي حروفو لپاره نوې غږپوهه مطرح کړن، چې په لوېديځ کې د غږ پوهې له علم څخه ډېر پرمختللی و"(١٦)

المبرد، چې د سيبويه شاګرد و، په پيل کې يې د سيبويه په رد کې کتاب وليکه او بيا وروسته يې له ثعلب سره د اختلافاتو د اړتيا پر بنسټ د سيبويه کتاب د المقتضب تر نامه لاندې په لنډ ډول برابر کړ، چې همدا لنډه شوې نسخه يې د مبتدي زده کوونکو لپاره ډېره د استفادې وړه وه.

## د عربي ژبې ژبپوهنيز ښوونځي

"عربو ته د نورو ملتونو کلتور په ځانګړي ډول د يونان له ځينو مرکزونو څخه، چې مهم يې سکندريه و، لار پيدا کړه. سکندريه د يوناني کلتور او فکر ځای و، دا کلتور د هغو پوهانو په واسطه، چې د ښارونو فاتحانو هلته ومونډل، عربو ته ولېږدېده. بل مرکز د فرات په ساحل کې د نصيبن ښوونځی و، دا ښار د افلاطونيانو د نوې فلسفې د غوړېدو مرکز و او درېيم د رها ښوونځی، چې سريانيانو اداره کاوه او له کلداني پوهې سره د يوناني پوهې د امتزاج مرکز و"(١٧)

خو عربو ته د نورو قامونو کلتورونه په څو لارو ننوتل، يو په ژوندۍ بڼه، يعنې د راشه درشه له لارې او دا راشه درشه د امويانو په واکمنۍ کې په شام کې د عربو او د يوناني او آرامي کلتور درلودونکو وګړيو ترمنځ ډېره وه، ان تر دې چې اموي اميرانو، يوناني او سرياني پوهان، فيلسوفان او طبيبان خپلو دفترونو ته هم ورغوښتل.

بل د ژباړې له لارې، په اموي دور کې دا کار محدود و، يوازې هغو خلکو کاوه چې ډېر سخت د علومو د زده کړې لېوال وو، خو دغو خلکو هم ډېره پاملرنه طبي، کيمياوي او تاريخي کتابونو ته کړې وه. د امويانو په دورکې په عربو کې ديني، تاريخي، ژبني او ادبي علوم، فلسفه، کيميا او نجوم دود شول.

ډاکټر ګوستاولوبون ليکي:"د ارسطو، تالس، آمپ دوکل، هرقل، سقراط او اپې کور او د سکندريې د ټولو فيلسوفانو کتابونه عربي ته وژباړل شول او مسلمانانو په

ټولو هغو علومو کې، چې مسایل یې د عمل او تجربې له مخې د تصدیق وړ وو، پرمختګ وکړ، ان تر دې چې پر خپلو استادانو یې هم غلبه حاصل کړه"(۱۸)

د عباسیانو دوره د عربو په تاریخ کې د علم، ادب او هنر یوه روښانه دوره ګڼل کېږي، ځکه چې په دغه دورکې په بېلابېلو علومو کې ډېر آثار ولیکل شول.

ډاکټر ګوستاولوبون وایي:"د عباسي خلفاوو د واکمنۍ په اوایلو کې مسلمانانو په تمدن کې څرګندپرمختګ وکړ، د یونان علوم یې راواخیستل او د یوه نوي او روښانه تمدن بنسټ یې کېښود، چې په ادبیاتو، علومو او فنونو کې د کمال پوړۍ ته ورسېدل"(۱۹)

بغداد د دغو علمي پنځونو تر ټولو مهم مرکز و، ځکه چې د خلافت پلازمېنه وه او له هر لوري به ورته د علم او ادب خاوندان راتلل. پر بغداد سربېره نور ښارونه هم مشهور و، لکه بصره،کوفه، دمشق، حلب، قاهره او نور.

د ابوالاسودالدوئلي له لوري د نحوې د قواعدو له برابرولوسره د عربي ژبې د نحویانو ترمنځ اختلافات هم رامنځته شول او دغه اختلاف بالاخره په عربي ژبه کې د دوو جلا ژبپوهنیزو ښوونځیو د رامنځته کېدو د بنسټ لامل وګرځېد.په عربي ژبه کې د فقه اللغه او ګرامر په اړه څېړنې د عراق په دوو مهمو ښارونو کوفې او بصرې کې پیل شوې. بصره او کوفه د اسلامي دورې د ښوونې او روزنې دوه مهم مرکزونه شمېرل کېږي. د بصرې په ښوونځي کې د ارسطو نفوذ محسوس و او دا پر عالم اسلام د یوناني علم او فلسفې د زده کړې اغېزې وې. د بصرې د ښوونځي پیروانو پر قیاس او عقل باندې باور درلود.

خو په مقابل کې"د کوفې د ښوونځي د پیروانو نظریې د تصادفي او اتفاقي نظریو مجموعه وه. هغوی په هغو رنګارنګیو او تنوع ټینګار کاوه، چې عملاً په ژبه کې پیدا کېدل، لکه د یوې ژبې په ګړدودونوکې چې ډولونه موجود وي او هغه اختلافونه چې په متونو کې پیداکېږي او د نظر د خاوندانو په نزد سم او د منلو وړ ګڼل کېږي"(۲۰)

د کوفې د ښوونځي تحلیلګرانو" فعل اصل او مصدر یې له هغه څخه مشتق ګاڼه، خو د بصرې په ښوونځي کې داسې استدلال کېده، چې د هر مصدر لپاره فعل شته، په داسې حال کې چې په عربي ژبه کې ډېر داسې مصادر شته، چې فعل نه لري لکه، عبودیت،نبوت او همدا راز داسې مصادر شته، چې له خپلو الفاظو څخه مشتق شوي نه دي، اسم مصدردي، لکه کرامه،عطا او نور"(۲۱)

د بصرې او کوفې پوهانو به د ژبې په ډېرو پېتو او ورو اړخونو باندې د سيالۍ په ډول بحثونه او تحليلونه کول، هڅه به يې دا وه چې ستونزه حل کړي او بيا هغه د خپل ژبپوهنيز ښوونځي برى وګڼي. دغه دوه ژبپوهنيز ښوونځي تر هغې پورې د سيالۍ په ډول پر ژبنيو بحثونو بوخت وو، چې د ژبنيو او نورو علومو مرکزونه بغداد (د خلافت مرکز) ته ولېږدول شول.

## د بصرې نحوي ښوونځی

بصرې د عباسيانو د واکمنۍ په پېر کې په سوداګرۍ او علومو کې ځانګړی ځای درلود، د مطالعې او تفکر مرکز وګرځېد او ډېر ستر ستر عالمان پکې وزېږېدل او بل دا چې په بصرې کې خالص فصيح عربان مېشت وو، له همدغه امله په فصاحت مشهور وو.

د عربي ژبې په نحو کې تر ټولو پخوانی اثر د سېبويه الکتاب ګڼل کېږي، خو تر سېبويه وړاندې هم د ځينو نحويانو يادونه شوې ده، له هغې ډلې "عبدالله بن اسحاق حضرمي (م ۱۱۷ هـ.ق)، عيسى بن عمر ثقفي (م۱۴۹ هـ.ق)، ابو عمر بن علاء(م ۱۵۴ هـ.ق)، خليل بن احمد(م ۱۷۴ هـ.ق) او يونس بن حبيب ( م ۱۸۳ هـ.ق) دي، چې عبدالله بن اسحاق حضرمي پکې تر ټولو پخوانی دی. د طبقات الشعراء ليکوال ابن سلام،حضرمي لومړنی کس ګڼي چې په نحويانو کې يې د قياس لار پرانيسته او د علتونو شرحې ته يې پاملرنه وکړه، خو ډېر مهم پکې د سيبويه استاد خليل بن احمد و، چې د سيبويه پر افکارو يې ډېره اغېزه درلوده"(۲۲)

عبدالرحمان خليل بن احمد الازدي (۱۰۰-۱۷۰ هـ) د عراق په بصره کې زېږېدلی و. په عربي ژبه کې د ادب او لغاتو د علم سرلارى او د عروضو د علم بنسټګر و. له موسيقۍ سره د اشنايۍ تر څنګ په يوناني ژبه هم پوهېده او ډېر آثار يې ليکلي، خو تر ټولو اوځار اثر يې د عربي ژبې په لغاتو کې و، چې العين نومېده او وړاندې يې يادونه وشوه.

سيبويه (۷۹۶م/ ۱۸۰ هـ)، چې بشپړ نوم يې عمرو بن عثمان دی په پارس کې زېږېدلی دی. په بصره کې يې له خليل بن احمد څخه زده کړه وکړه او بيايې په عربي نحو کې د الکتاب په نامه اثر وليکه. د عربي ادبياتو په تاريخ کې سيبويه ته د بصرې د نحويانو شيخ ويل کېږي. د سيبويه الکتاب اثر د پېړيو په اوږدو کې نورو نحويانو ته د

عربي ژبې د نحوي مسایلو د څېړنې اصول مشخص کړل او د دويمې هجري پېړۍ له نیمايي څخه یې په ټوله اسلامي نړۍ کې د نحوي څېړنو بنسټ کېښود.

او" الکتاب تر اتمې هجري پېړۍ پورې د نحوي څېړنو اساس و. د علومو طالبانو به د سیبویه کتاب له هغو نحویانو څخه لوسته، چې تخصص یې پکې درلود او په ښه توګه به یې تدریس کاوه"(۲۳)

کله چې سیبویه وفات شو، نو خلکو به الکتاب له ابوالحسن اخفش څخه لوسته، ابوعمروجرمي، صالح بن اسحاق، ابوعثمان مازني، بکر بن محمد او ځینې نور هغه کسان وو، چې الکتاب یې لوستی و او بیا ځیو دغو پوهانو د الکتاب په شرحه کې خپل کتابونه هم ولیکل.

د ابوعثمان مازني (م۲۴۸ هـ ق) التصریف اثر په عربي نحوکې د سیبویه له اثر وروسته دویم کتاب دی، چې تر لاسه شوی دی. ابوعثمان مازني الکتاب له اخفش څخه زده کړ او د خپل دوست جَرَمي په څېر یې صرفي جوړښتونو ته پاملرنه کوله. د مازني التصریف اثر ابوفتح عثمان بن جني( م ۳۹۲هـ.ق) شرحه کړی دی "د صرفي جوړښتونو د موضوع په اړه تر ټولو پخوانی اثر چې تر موږ رارسېدلی التصریف دی"(۲۴)

ابوالعباس محمد بن یزید مبرد(م ۲۸۵ هـ.ق) په درېیمه هجري پېړۍ کې د بصرې د ښوونځي له مهمو نحویانو څخه و. مبرد د لغاتو او په ژبنیو علومو پورې د اړوندو آثارو یوه ټولګه تالیف کړه، خو مهم اثر یې المقتضب و. دا داسې جامع کتاب و، چې د سیبویه د الکتاب ټولې نحوي، صرفي او غریز اړخونه یې پکې څېړلي وو. د سیبویه له الکتاب وروسته دا دویم اثر دی، چې په دغه برخه کې هر اړخیزې څېړنې لري، البته مبرد ډېر ژبني او نحوي مسایل په خپلو نورو کتابونو په ځانګړي ډول په الکامل کې هم څېړلي دي. داسې ویل کېږي مبرد یو بل اثر هم درلود، چې پر سیبویه یې پکې رد کړی، خو اوس نشته، یعنې په دې معنا، سره له دې چې د بصرې د ښوونځي پیرو دی، خو ددې ښوونځي له تر ټولو ستر نحوي سیبویه سره همغږی نه دی.

د بصرې مشهور علمأ ابوعمر و بن العلاء، ابوالخطاب الاخفش الاکبر، خلیل بن احمد، یونس بن حبیب او د الکتاب لیکوال سیبویه وو.

## د کوفې نحوي ښوونځی

کوفه له فارس سره نږدې اباد شوی ښار و او ډېر اوسېدونکي يې هم يمني عربان وو، چې د فصاحت له مخې کمزوري او عربي ژبې يې فصيحه نه وه، د عربو ليکوالو په اصطلاح عربي ژبه يې فاسده شوې وه. د کوفې په ټول نحوي ښوونځي کې د سيبويه د الکتاب او د مبرد د المقتضب په څېر اثر نشته، خو د ژبې او نحوي مسايلو په اړه د کوفې د نحوي ښوونځي د غړيو ژبپوهنيزې نظريې د هغوی په هغو آثارو کې داسې راغلي، چې د نورو مسايلو ترڅنګ پکې د جملې، نحوې او ژبنيو مسايلو بحثونه هم راغلي دي. په کتابونو کې د کوفې د ښوونځي د ډېرو ژبپوهانو او نحويانو نومونه راغلي، چې څو تنه سرلاري يې په دې ډول دي:

کسائي علي بن حمزة الاسدي ( م ۱۹۷ هـ .ق) دکوفې د ښوونځي يو اوڅار نحوي، چې د سيبويه معاصر و او په ژبنيو او نحوي مسايلو کې يې اختلافات هم سره درلول. کسائي په بصره کې د خليل بن احمدشاګرد هم پاتی شوی، د قرانکريم د اوو قراوو په ډله کې هم شامل و او د عربي ژبې د ادبياتو په تاريخ کې د کوفې د نحويانو د شيخ په نوم هم ياد شوی دی. کسائي ځينې آثار ليکلي، چې له هغې ډلې يې يوازې د لحن العامه په نامه يوه وړه رساله موجوده ده او نور آثار يې له منځه تللي دي.

الفراء (م ۲۰۷هـ .ق) د کوفې د ښوونځي بل مشهور نحوي دی. ابن نديم وايي، چې فراء د الحدود په نامه په نحو کې يو اثر درلود، خو دا کتاب له منځه تللی، يوازې د موضوعاتو فهرست يې پاتې دی، چې ابن نديم په الفهرست کې رانقل کړی دی. د فراء د ژبنيو او نحوي رايو د پېژندنې مهمه سرچينه د هغه مهم اثر معانی القران دی. د فراء درې نور کتابونه چې د ژبنيو مسايلو بحثونه لري او موجود دي، المذکر والمونث، المنقوص والممدود او الايام و الليالي و الشهور دي. د فراء په اړه ويل شوي، چې په نحو کې امير المومنين و.

ابوالعباس ثعلب (م ۲۹۱ هـ .ق) دکوفې د ښوونځي دريېم اوڅار نحوي دی. ابوالعباس ثعلب د خپلو همعصرو په منځ کې ډېر له ابوالعباس مبرد سره د پرتلې وړ دی. مبرد د بصرې د ښوونځي له مشرانو او ثعلب په هماغه زمانه کې د کوفې د ښوونځي تر ټول ستر نحوي و. ثعلب څو کتابونه لري، چې مهم يې د کلمو په اړه

الفصیح اثر دی، خو د ثعلب نحوي او ژبنی نظریې په مجالس ثعلب اثر کې موجودې دي. د کوفې په ښوونځي کې ځینو نورو هم داسې آثار لیکلي، چې د کلماتو د راټولونې، د کلمو د صرفي جوړښتونو ټاکل،وېش او تدوین په اړه دي. له هغې ډلې څخه د ابو عمروشیباني کتاب الجیم اثر چې یو قاموس دی، د ابوعبید قاسم بن سلام الغریب المصنف اثر چې د لغاتو په اړه دی او د ابن سکیت اصلاح المنطق اثر چې د ژبنی پوهې په اړه دی. له دې څخه دا څرګندېږي، چې د کوفې د ښوونځي د پوهانو هڅې د لغاتو د تألیف او څېړنو په اړه ډېرې وې او د ژبې د جوړښت مسلې ته یې پاملرنه په دویمه درجه کې وه،چې په دې برخه کې د بصرې د ښوونځي سطحې ته نه شي رسېدای، نو په وروستیو پېړیوکې په عربي نحو کې یوازې د بصرې د ښوونځي د پوهانو نظریې حاکمې وې او په نحوي طریقو او د نحوې په زده کړه کې د بصریانو نظریو ته لومړیتوب ورکول کېده.

د کوفې نور مشهور علما ابوجعفر الرواسي، د علم تصریف واضع مهاذالهراء او کسایي او شاګرد یې فراء د الحدود اثر مولف و.

د بصرې او کوفې علماوو عربي نحو په هر اړخیز ډول وڅېړله او هغه کسان چې له دوی ورسته راغلل، په ځانګړي ډول په بغداد کې هغوی ته نور څه د څېړلو لپاره نه وو پاتې، خو د بصریانو او کوفیانو تر منځ دا سخته نزاع د دې لامل شوه چې د نحویانو ترمنځ مختلفې رایې رامنځ ته شي، هر چا غوښتل د خپلې رایې لپاره دلیل وړاندې کړي او خپل تحلیل ولري، دې کار د نحوې علم پراخ کړ، خو زده کړه یې سخته شوه.د بصرې او کوفې د ژبپوهنیزو ښوونځیو د پوهانو ترمنځ اختلاف دومره پراخ و، چې په اړه یې کتابونه ولیکل شول، لکه دکمال الدین الانباري الانصاف فی مساءیل الخلاف، د ابوالبقاء البکري التبیین فی مساءیل الخلاف بین البصریین و الکوفیین او ځیني نور.

بصره او کوفه د څه وخت لپاره د علم او ادب مرکزونه وو، خو کله چې بغداد جوړ شو، نو د علومو مرکز هم بغداد شو. د کوفې علما له بغدادسره نږدې مېشت وو، نو بغداد ته ولاړل، عباسیانو هم د هغوی درناوی وکړ، ځکه د عباسي دولت به جوړېدو کې یې ورسره مرسته کړې وه او داسې هم ویل کېږي،چې خلفاوو د بصرې

پر علماوو د کوفې علماوو ته ترجیح ورکړه. ددې دور مشهور علما عبدالله بـن سـعید اموي، ابولحسن اخفش کوفی، ابوعکرمه ضبي، ابو عمروشیباني او نور وو.

له دې وروسته نو په عربي ژبه کې د ژبنیو او ژبپوهنیزو څېړنو لمن دومره پراخه شوه، چې په هره برخه یې کتابونه او رسالې لیکل کېدای شي او نـن سبا عـربي د گرامر او ژبپوهنې په برخه کې ډېره پرمختللې ژبه ده؟

**پایله**

په دې څېړنه کې روښانه شوه، چې په عربي ژبه کې د ژبنیو څېړنو پیـل د قرانکـریم له نزول وروسته د قران د کلمو د ناسم قرائت او پر قران باندې د مسلمانانو د ښـې پـوهې لپاره د قرانکریم د تفسیر او تشریح په برخه کې له شوي کار څخه وشو.

په پیل کې د قرانکریم د ښې پوهې لپاره د عربي ژبې د کلمو سـیندونه جـوړ شـول او بیا وروسته مسـلمانانو د ایمـاني مسـوولیت لـه املـه د اسـلام پـر احکـامو او د قـران پـر مفهوم د پوهېدو لپاره د عـربي ژبـې زده کـړه پیـل کـړه، د زده کـړې پـه بهـیر کـې نـاعربو مسلمانانو د عربي ژبې ځینـې کلمـې د عربـو پـه څېـر نـه شـوای تلفظولای، ځکـه چـې هغوی په داسې ژبو خبرې کولې، چې د عربي ژبې ځینې توري بې په ژبو کې نه وو.

دې کار د عربي ژبې پوهانو ته اندېښنه پیداکړه، چې هسې نه دا مسایل پـه عـربي ژبه کې د انحرافاتو او بدلونونو لامـل شي او پـه نتیجـه کـې یـې د قرانکـریم، یعنـې الهـي کلام په قرائت، معنا او مفهوم کې بـدلون رامنځتـه شي. مسـلمانو پوهـانو لـه انحرافـاتو او بدلونونو څخه د قرانکریم د خوندي کېدو لپاره د عربي ژبې د قواعدو تدوین تـه پیـل کـړ؛ چې په پایله کې یې لومړی مسلمانانو د قرانکریم تفسـیرونه ولیکـل، د عـربي ژبـې لغـات یې راجمع کړل او ورپسې یې د عربي ژبې نحو تدوین کړه. دغـه پوهـان د عـربي ادبیـاتو په تاریخ کې د مفسرینو، لغویانو او نحویانو په نامه یادېږي.

د همدغو څېړنو او پلټنو په پایله کې په عربي ژبپوهنه کې د بصرې او کوفې پـه نامه دوه ژبپوهنیز ښوونځي رامنځته شول، چې د سیالۍ لـه لارې یـې د عـربي ژبـې ژبني مسایل څېړل، ددغو ښوونځیو سیالیو په پایله کې عربي ژبې ته د لغاتو، نحـوې او په ټوله کې د ژبنیو مسایلو د څېړلو په برخه کې ډېر څه په میراث پرېښودل، چـې پر بنسټ یې عربي ژبه په ژبپوهنیز لحاظ اوسني حالت ته رارسېدلې ده.

## مأخذونه

١. قرانکریم.ابراهیم سورت، ۴ ایت.

٢. قرانکریم. نسأ سورت، ٨٢ ایت.

٣. قرانکریم. یوسف سورت، ٢ ایت.

۴. حجازي، محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ژباړه: ډاکټر سید حسین سیدي، آستان قدس رضوی و سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی، تهران، ١٣٧٩ل، ٦٨ مخ.

۵. حجازي، محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ٧١ مخ.

٦. جرجی زیدان. تاریخ تمدن اسلام، یوولسم چاپ، ژباړه: علی جواهر کلام،موسسه انتشارات امیر کبیر، چاپخانه سپهر تهران، ١٣٨۴ ل، ۴٨١ مخ.

٧. پورتنی اثر، ۴٨٢ مخ.

٨. حنا الفاخوري. تاریخ ادبیات زبان عربي، شپږم چاپ، ژباړه: عبدالحمید آیتي، انتشارات توس تهران، ١٣٨٣ل، ۵۵۵، ۵۵٦ مخونه.

٩. پولاد، سیدالشاه."د ژبپوهنې لنډه تاریخچه"، د زیري کالنی، د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو انستیټوټ، دولتي مطبعه،کال، ١٣۵٧ل،۵٠٧ مخ.

١٠. ژان محمد، عبدالجلیل. تاریخ ادبیات عرب، څلورم چاپ، ژباړه: آ. آذرنوش، موسسه انتشارات امیر کبیر، چاپخانه سپهر تهران، ١٣٨١ل، ١۴٠مخ.

١١. حجازي، محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ٦٢ مخونه.

١٢. جرجی زیدان. تاریخ تمدن اسلام، یوولسم چاپ، ۴۵۵ مخ.

١٣. پورتنی اثر، ۴٨٠ مخ.

١۴. حجازي،محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ٦٢-٦٣ مخونه.

١۵. پورتنی اثر، ٦٦-٦٧ مخونه.

١٦. ار. اچ. روبینز. تاریخ مختصر زباشناسی، ژباړه : ،٢١۴ مخ.

١٧. حنا الفاخوري. تاریخ ادبیات زبان عربي، شپږم چاپ، ٢٦٣ مخ.

١٨. گوستاولوبون. تاریخ تمدن اسلام و عرب، دویم چاپ، ژباړه: سید محمدتقي فخر داعي گیلاني،انتشارات افراسیاب، پیک ایران، ١٣٨٠ل، ۵۵٠ مخ.

١٩. پورتنی اثر، ١٦٧ مخ.

۲۰. ار. اچ. روبینز. تاریخ مختصر زباشناسی، ۲۱۳ مخ.

۲۱. خانجاني، ژیلا. سیبویه و سر اغاز دستور نویسی زبان عربي، زبان شناخت، پژوهشگاهی علوم انسانی و مطالعات فرهنگی،سال اول ، شماره دوم،۱۳۸۹، ۴۱ مخ.

۲۲. حجازي، محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ۵۸ مخ.

۲۳. پورتنی اثر، ٨٦ مخ

۲۴. هماغه اثر، ٨٦، ۸۷ مخونه.

څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدران

# غازي امان الله خان او د ښځو په ټولنيز او فرهنګي ژوندانه کې غوره بدلونونه

# Ghazi Amanullah Khan and His Remarkable Reforms Regarding Women Social and Cultural Life

**Professor Ph.D. Mohammad Sharif Zadran**

## Abstract

speech - not only declared the Afghanistan's political independence but he also committed ensuring to personal freedom, equality, justice and fraternity at his internal politics.

He earned the country independence with the shoulder power of nation. In 1301 hijri, He also ratified the first constitution in Jalalabad Loya Jirga (grand gathering) amid to secure the country's independence in which there were documented the women personal liberty, cultural and social rights alongside the men for the first time in history. It has been mentioned in 16 article of the constitution: "All citizens of Afghanistan have the equal right in all laws, legislations and affairs.".

The king of Afghanistan Ghazi Amanulla Khan proved positive changes in women cultural and social life; slave women were become free and all rules of

captivity and slavery were eliminated. According 68 article, it was also considered the education of men and women as compulsory as well as women had received the permission to work in governmental offices.

Furthermore, the employees of government were banned to get married more than one woman, widows were received the right to get married spontaneously with someone based Islam rules as well as a special tribunal made for women complaints to be heard.

## لنډيز

غازي امان الله خان په خپله لومړنۍ وینا کې نه یوازې د افغانستان بشپړه سیاسي خپلواکي اعلان کړه، بلکې په خپل کورني سیاست کې یې هم د فردي آزادۍ، برابرۍ، عدالت او وروري د تأمینولو ژمنه وکړه.

هغه د ملت په مټ آزادي وګټله او د آزادۍ د لا پیاوړتیا په موخه یې تر ټولو غوره اقدام په ۱۳۰۱ش. کال د جلال آباد په لویه جرګه کې د لومړني اساسي قانون تصویبول و چې په همدغه اساسي قانون کې د نارینه وو تر څنګ د ښځو فردي آزادي، ټولنیز او فرهنګي حقونه د لومړي ځل لپاره درج او تسجیل شول. د همدې قانون په (۱٦) ماده کې راغلي دي:((د افغانستان ټول اتباع شریعت او د دولت د نظامنامو په وړاندې د هېواد په حقوقو او دندو کې برابر حق لري.))

غازي امان الله خان د ښځو په ټولنیز او فرهنګي ژوندانه کې خورا مثبت بدلونونه راوستل، مینځې آزادې شوې او د تل لپاره د اسارت او غلامۍ اصول لغوه شول، د قانون د (٦٨) مادې له مخې د ښځو او نارینه وو لومړنۍ زده کړې حتمي او جبري شوې، ښځو ته په دولتي ادارو کې د کار اجازه ورکړل شوه، د دولت په مامورینو باندې د څلورو ښځو د کولو بندیز جاري شو، کونډو ته د اسلام له اصولو سره سم د مېړه د انتخاب حق ورکړل شو او حتی د ښځو د شکایتونو د اورېدلو لپاره ځانګړې محکمه جوړه شوه.

## سریزه

اعلیحضرت امان الله خان چې د دویم مشروطیت له مفکورې څخه اغېزمن و. د ۱۲۹۹ل کال د سرطان په ۳۱ نېټه یې د یوې وینا په ترڅ کې وویل: ((زما هست او بود او د افغانستان د مملکت ټوله پانګه به د ظلم او استبداد د ماتولو لپاره چې په هر ځای کې وي، ولګوم)).

بې له شکه غازي امان الله خان خپل هست او بود او د هېواد شته امکانات د برتانوي استعمار او استبداد د ماتولو په لاره کې و کار ول او د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ له ګټلو وروسته یې سملاسي د خپلواکۍ د لا پیاوړتیا په موخه سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اصلاحات پیل کړل.

ویل کیږي چې غازي امان الله خان خپلې مور، سرور سلطان (علیا حضرت) د پاچاهۍ لپاره روزلی و او دا یې ارمان و چې واک ته یې ورسوي، ملکه سرور سلطان نه یوازې په دې کار کې سهیمه وه، بلکې د امیر حبیب الله خان له وژلو وروسته له جلال آباد څخه کابل ته راغله او خپلې کورنۍ ته یې داسې وویل: ((د شهید امیر صاحب په وخت کې مې څو ځلې د اصلاحاتو غوښتنه وکړه، خو هغه وخت اجتماعي او قومي شرایط برابر نه وو او زما غوښتنه ونه منل شوه، خو اوس د اصلاحاتو د پلي کولو وخت را رسېدلی دی. تاسې د غونډې برخه وال چې په زړه کې ونه وایئ چې زه ښځه یم، زما یې د سلطنت پر سیاست څه کار؟ هو، زه ښځه یم، خو له سیاست سره سروکار لرم...))(۸: ۸۴ـ ۸۵مخونه)

لکه چې مخکې مې وویل، غازي امان الله خان د دویم مشروطیت د مشر ـ محمود طرزي، د خپلې مور، مېرمنې ملکې ثریا په مشوره او مرسته سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اصلاحات او په ځانګړې توګه د ښځو د ټولنیز او فرهنګي ژوندانه د مثبت بدلون لپاره ځینې مهم اصلاحات پیل کړل چې خورا زیات ګټور وو.

غازي امان الله خان د خپلو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اصلاحاتو په پلي کولو سره افغان مېرمنې له غلامۍ نه آزادې کړې، دوی ته یې د اساسي قانون او نورو قوانینو په رڼا کې د فردي آزادۍ، د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي حقونو او ملي وجایبو اعلان وکړ، له قانون سره سم ټول افغان نارینه او مېرمنې په حقوقو او دندو کې د برابرو حقوقو لرونکي اعلان شول.

په دې علمي او څېړنيزه مقاله کې ټول هغه غوره او ټولنيز فرهنګي بدلونونه چې د غازي امان الله د واکمنۍ پر مهال د ښځو په ژوندانه کې رامنځ ته شوي دي، په ګوته او تحليل شوي دي. حتی نن هم متمدن مشران او دولتي چارواکي د ښځو د سياسي، اقتصادي او فرهنګي حقونو غوښتونکي دي او په دې عقيده دي چې پرته له ښځو په ټولنه کې هر ډول بدلونونه نيمګړي دي او افغانستان پرته د ښځو له هڅو او کار څخه د پرمختيا لوړو مدارجو ته رسېدلی نه شي. خو ډېر افسوس چې انګرېزانو له غازي امان الله خان څخه د افغانستان د خپلواکۍ ګټلو غچ واخيست او د افغانستان له ناپوهو خلکو، روحانيونو او سياسي مشرانو څخه يې د خپلو جاسوسانو له لارې ناوړه ګټه واخيسته او انګرېزانو خپل دغه شعار: ((راځئ چې د امان الله له شر څخه ځان خلاص کړو)) عملي کړ او د امان الله خان د راپرځولو کنټرول يې په خپل لاس کې واخيست او په پای کې يې له هېواده تبعيد کړ. دې هيواد پال او مترقي پاچا په ايټاليا کې د ترکاڼۍ له لارې د کور خرڅ برابراوه او حتی په يوه تنګسه کې يې د خپلې مېرمنې جواهرات خرڅ کړل. په ۱۹۶۰م. کال کې له هېواده لرې د وطن د ترقۍ او آبادۍ په ارمان وفات شو.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې د غازي امان الله خان د واکمنۍ د حالاتو په اړه ډېرې څېړنې شوې دي؛ خو په دې دوره کې د ښځو د ژوند ټولنيز او فرهنګي حالاتو تحليلي څېړنه ډېره کمه وه؛ نو دا اړتيا لېدل کېده چې په دې برخه کې کار وشي.

## د څېړنې موخه

د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د ښځو په ټولنيز او فرهنګي ژوندانه کې د غوره بدلونونو څېړل، روښانول او د هغوی تاريخي اهميت په ګوته کول دي.

## د څېړنې ميتود

د دې مقالې په ليکنه کې د تاريخ له علمي، تحليلي او توصيفي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې او د اکاډميکو اصولو پر بنسټ دغه څېړنه بشپړه شوې ده.

# اماني دوره او د ښځو ټولنيز او فرهنګي حالات

غازي امان الله خان د ۱۹۱۹م. کال په خپله لومړنۍ او تاريخي وينا کې چې د کابل د خلکو او د پایتخت د پوځيانو په وړاندې يې د مرادخانۍ په ډګر کې وکړه، ده د افغانستان خپلواکي او فردي آزادي د هېواد په داخل کې اعلان کړه، د مساوات، ورورۍ، برابرۍ، د ملت د آزادۍ، د عدالت د تامينولو او د نوي دولت د صداقت په اړه يې خبرې وکړې او د خلکو د خوشحالۍ او درنښت وړ وګرځېدې. نوی دولت جوړ شو او په لسو ورځو کې د ټولو ولايتونو له خوا په رسميت وپېژندل شو. (۱: ۷۵۳مخ)

ځوان واکمن چې د خپل خسر محمود طرزي او د مېرمن ثريا تر ژورې اغېزې لاندې و او د دويم مشروطيت غوښتنې يې د خپل حکومت لومړيتوبونه ګڼل، نو ځکه يې خپلو لومړنيو خبرو ته د عمل جامه ور واغوسته او په ۱۳۰۱ش. کال يې لومړنی اساسي قانون د جلال آباد په لويه جرګه کې تدوين او تصويب کړ. د همدې قانون په (۱٦) ماده کې راغلي دي: د افغانستان ټول اتباع د غرا شريعت او د دولت د نظامنامو په وړاندې د هېواد په حقوقو او دندو کې برابر حق لري. يا دا چې په (۸) ماده کې. هغه وګړي چې په افغانستان کې اوسېږي له ديني او مذهبي توپيره پرته د افغانستان اتباع ګڼل کېږي او د افغان د تابعيت صفت (تذکره) د ځانګړې نظامنامې له مخې تر لاسه کوي. د دې مادې معنا دا ده چې په افغانستان کې مېشت قومونه او ولسونه ټول افغانان دي او افغان د ټولو ګډ هويت دی. د دې قانون په ۱۰، ۱۱، ۱۲ مادو کې د شخصي آزادۍ مصؤنيت، د اسارت د اصولو لغو او هېڅوک نه شي کولای چې ښځې او يا نارينه په اسارت کې راولي. د مطبوعاتو آزادي او دغه راز په (۷) ماده کې د افغانستان ښځو او نارينه وو ته حق ورکړل شوی چې له خپلې وړتيا او اهليت سره سم د دولت په ټولو ماموريتونو او دندو کې د دولت له اړتيا سره سم استخدام او په کار وګومارل شي. دغه راز د قانون په (۱۴) او (۱۵) مادو کې د افغانستان د وګړو لپاره د تدريس او زده کړې آزادي ورکړل شوه، خو د دولت تر نظارت او مشرۍ لاندې ځو په هماهنګ ډول د معارف پاليسي عملي شي. همدارنګه د قانون (٦۸) ماده حکم کوي، چې د افغانستان د اتباعو لپاره (که ښځه وي او يا نارينه) لومړنۍ زده کړې حتمي او جبري شوې. (۲: ٦۰۳- ٦۱۰ مخونه)

د ۱۳۰۱ش. کال د لومړني اساسي قانون په رڼا کې افغان مېرمنو د ټولنيز او فرهنګي ژوندانه په برخه کې ټول لازم حقونه تر لاسه کړي وو او په حقوقي لحاظ هېڅ ډول موانع موجودې نه وې. حتی د اساسي قانون تر څنګ يو شمېر فرعي قوانين او نظامنامې هم تصويب شوې، د بېلګې په توګه په ۱۳۰۳ش. کې د تعزيه دارۍ نظامنامه وروسته د همدغه کال د سنبلې په لومړۍ نېټه د واده، نکاح او د ختنه کولو نظامنامې تدوين او خپرې شوې. د همدغو نظامنامو له مخې د ښځو مهر او ولور په نه ويشت نيمو کابلۍ روپيو محدود شو او د واده، نکاح، تعزيه دارۍ، ختنې او د نورو رواجونو پر لوړو لګښتونو باندې قيودات وضع شول. ښځو حق درلود چې د مېړه په ټاکلو کې نظر ورکړي او د لزوم په صورت کې خپله نارضايتي ښکاره کړي. دغه راز کونډو ته حق ورکړ شو چې خپله راتلونکې په خپله وټاکي. په همدې ډول د ډېرو ښځو کول منع شول (که څه هم د اړتيا او د دوی ترمنځ د مساوات د تامينولو په صورت کې اسلام څلور ښځې رواګڼلې دي). (۳: ۱۸۸مخ)

بې له شکه د غازي امان الله خان پورتني اصلاحات د اسلام پر بنسټ ولاړ اصلاحات وو او د ښځو په ټولنيز ژوندانه کې يې ګټور رول سرته رسولی شو. مسلمانانو ته لازمه ده چې لومړيتوب اسلامي اصولو ته ورکړي، نه دا چې بې معنا رواجونه وپالي. دغه ستونزه په اوس وخت کې هم اوج ته رسېدلې ده. زياتره والدين او کورنۍ پر خپلو لوڼو او خويندو په لکونو ولور، بې ځايه لګښتونه او نور داسې رواجونه پالي چې له اسلام سره په ټکر کې دي او د ځوانانو د اخلاقي او ښه ژوند مخه يې ډب کړې ده او په کلونو د ولور او د واده د لګښتونو په خاطر په هېواد کې او له هېواد څخه بهر مزدورۍ کوي او خپلې ځوانۍ اوبه کوي.

امان الله خان او د هغه حکومت افغان مېرمنو ته تر ټولو ستره آزادي چې ورکړه، هغه د چادرۍ او برقع ايسته کول و او دا د افغان مېرمنو اسلامي حق و. په اسلام کې د مخ پټول او د چادرۍ اغوستل نشته، يوازې د ټيکري پرسرکول او د سينې پټول لازم دي. د حج په مراسمو کې پر مسلمانو مېرمنو باندې د مخ پټول او يا د چادري اغوستل فرض شوي نه دي. (۴: ۱۱۷-۱۱۸ مخونه)

امان الله خان ته د مور او ماشوم ژوند ډېر حياتي بلل کېده. په همدې دليل يې په ۱۹۲۳م. کال د المانيانو په مرسته ښځينه روغتون جوړ کړ. (۵: ۳۰٦ مخ)

دغه راز افغان مېرمنو مطبوعاتو ته لاره پیدا کړه او په ۱۹۲۱م. کال لومړنۍ ښځینه جریده د ملکې ثریا او د هغې د مور (اسما) په مشرۍ خپره شوه او د ښځو د ذهنیتونو په تنویر کې یې ستره ونډه ادا کړه. (۵: ۳۰۳ مخ) ښځو نه یواځې په داخل کې، بلکې له هېواد څخه بهر یې د زده کړو امکانات تر لاسه کړل، ترکیې، فرانسې او سویس ته واستول شوې (فکر کوم یوازې ترکیې ته واستول شوې) او لوړې زده کړې یې وکړې. (۵: ۳۰۲مخ)

شاه امان الله د ټولنیزو بدلونونو په بهیر کې د ښځو ونډې ته ځانګړې پاملرنه وکړه او حتی د ښځو د ژغورنې پروسه یې د برابرو حقونو لرونکو اتباعو په توګه پیل کړه او د ښځو د حمایت ټولنه او ښځینه ښوونځي یې په هېواد کې جوړ کړل. یو ځو افغان نجونې یې د لوړو زده کړو لپاره د طبابت او نرسنګ او په نورو برخو کې ترکیې ته واستولې. له کم عمره نجونو سره نکاح او له څلورو ښځو سره واده کول یې منع کړل. (٦: ۱۰۲مخ)

غازي امان الله خان د واده او ولور په اړه قیودات وضع کړل تر څو د زوم پر کورنۍ باندې فشار را کم شي او هم یې د هلکانو لپاره د واده کولو سن (۲۲) او د نجونو لپاره (۱۸) کلنې وټاکه. خو د ۱۳۰۳ش. کال (۱۹۲۴م.) په لویه جرګه کې چې زیاتره غړي یې ملاکین، خانان او ځینې روحانیون وو، یو شمېر بدلونونه یې د ریفورمونو په برنامه کې راوستل او پرېکړه لیک یې صادر کړ چې د هغه له مخې د کوچني عمر له جلۍ سره نکاح روا وګڼل شوه او د ښځو زده کړې د کور په څلورو دېوالونو کې محدودې شوې او یوه سړي ته څلور ښځې روا وګڼل شوې. یوه نوې ماده یې ورباندې زیاته کړه او هغه داوه چې د عقیدې له آزادۍ سره سره هندوان، یهودیان چې کافر دي د جز یې په ورکړه او د ځانګړې لباس په اغوستلو ملکف شول. کله چې سني مذهبو له حنفي مذهب څخه د ملاتړ وړاندیز وکړ، شاه اعتراض وکړ او ویې ویل چې دغه موضوع د ملي یووالي د تخریب لامل ګرځي او د شیعه ټولنې د ځنګ ته کولو په معنا دي، خو سره له دې اعتراض کوونکي روحانیون بریالي شول. دغه بدلونونه د فشار په نتیجه کې رامنځ ته شول چې د اساسي قانون، د شاه او محمود طرزي د هدفونو پرخلاف وو، د خوست د قیام پر مهال د اسلامي متعصبو ځواکونو له خو اتعمیل شول. (٦: ۱۰۲-۱۰۳مخونه)

د دغو ټولو خنډونو باوجود چې د شاه امان الله په وړاندې موجود وو، د دولت په اصلاحي برنامو کې د ښځو د حقونو لپاره یو ځانګړی فصل پیل شو. د ۱۹۲۸م. کال په اوړي کې د (ښځو د حمایت ټولنه) جوړه شوه او (۱۲) پوهو ښځو په کابل کې د انجمن د ادارې مشري پرغاړه واخیسته او د لومړي ځل لپاره د دولت په اداري چارو کې ښځې له نارینه وو سره شریکې شوې، د بېلګې په توګه د مستورات ښوونځي اداره ملکې ثریا او یو شمېر نورو روښنفکرو ښځو پرغاړه واخیسته او د ((ارشاد النسوان)) مجلې (جریدې) د خپرولو مسوولیت د ملکې ثریا مور (اسما رسمیه) او روح افزاطرزي چې د ملکې د کاکا لور وه، په غاړه واخیست. همدارنګه د ښځو لپاره یو د تدبیر منزل ښوونځی د کابل په باغ علي مردان کې د جرمني او ترکي ښځو په لارښوونه جوړ شو. (٦: ۱۰۳ مخ)

ملکې ثریا چې د اروپا او اسیا له سفر څخه بېرته هېواد ته راستنه شوه، د دلکشا په ماڼۍ کې یې له یو شمېر ښځو سره وکتل او هغوی ته یې په ګوته کړه چې له سړیو سره په کار کې برابره ونډه واخلي او په تېره بیا د هېواد په انکشاف کې د کور په څلورو دېوالونو کې د بندیانو په څېر ونه اوسي. اروپا یي ښځې په فابریکو کې کار کوي، لاکن افغان مېرمنې چې په جسمي لحاظ هم قوي دي، خو سره له دې د هېواد په انکشاف کې برخه نه اخلي، ځکه چې علت یې پرده او چادري ده...(٦: ۱۰۴مخ)

غازي امان الله په مصر کې خلکو ته په خطاب کې وویل: زه حیران یم چې ولې مصریان د ښځو په مخ پټولو باندې د یوې عقیدې په توګه چې دا د مذهب غوښتنه ده ټینګار نه کوي. د مخ پټول د ستمګرانو له خوا د دې لپاره ترغیب شوي چې مسلمانان د دې عمل په سرته رسولو سره ځانونه تر ټولو ښه مسلمانان احساس کړي، که څه هم د دوی هېڅ عمل اسلامي هم نه وي. موږ هم دغه ملي رواجونه لرو، خو موږ هغه لغو کړل، ځکه دغه روحیه اسلامي بنیاد نه لري. اسلام آزادي، برابري او ټول هغه څه چې د ملت د ترقۍ وړ ګرځي، مسلمانانو ته ور زده کوي. زموږ دین د تقوا او وطن پرستۍ دعوت پرمخ بیایي.... او بالاخره مسلمان آزاد دی هر ډول جامې او لباس چې وغواړي د ځان لپاره یې ټاکلی شي.... (۳: ۱۸۴ مخ)

دغه راز امان الله خان د ۱۹۲۸م. کال په جولای کې یو شمېر کابلۍ مېرمنې چې حجاب یې اغوستی و د دلکشا په ماڼۍ کې ځان ته ومنلې او هغوی ته یې د

خپل سفر کیسه په دې ډول وکړه: له نیکه مرغه چې ځو اسلامي هېوادونو ته مې سفر وکړ او دې پایلې ته ورسېدم چې د هغوی په هېڅ یوه هېواد، نه په ترکیه او نه په ایران کې ښځې ژوندۍ په ګور نه وې... تاسو چې د پوهې له نعمت څخه محرومې کړې یاست او د دې خندې ګرځېدلې چې د لویدیځ د خویندو په نسبت له کار او کسب څخه پاتې شئ. په واقعیت کې دغه موضوع تاسې اړ باسي چې د مېړونو محتاجې وګرځئ. هیله مندیم هغه ورځ را ورسېږي چې له دې قید څخه تاسې آزادې ووینم.... (۳: ۱۸۴- ۱۸۵ مخونه)

محمود طرزي چې د غازي امان الله خان د حکومت د بهرنیو چارو وزیر و، په ۱۹۲۵م. کال کې د خوست د شورش یو له عواملو څخه د خوستیانو نا پوهي ګڼي او داسې وایي: ((افغانانو له خپلو میندو څخه د ناپوهۍ شودې رودلي، تر څو چې ښځې زده کړه ونه کړي، پرمختګ امکان نه لري)). (۷: ۳۸۲مخ)

غازي امان الله خان که څه هم د ښځو د ښوونې او روزنې د رواجولو په برخه کې د ناپوهو ملایانو، روحانیونو او خلکو له زورور مقاومت سره مخامخ شو، خو په خدای (ج) یې توکل وکړ او د اسلام دغه زرین اصول چې د علم زده کړه په نارینه او ښځو فرض ده، رعایت کړل او د ښځو زده کړې یې په اساسي قانون کې تسجیل، رسمي او جبري کړې. حتی هغه په خوست کې یې د ښځو د ښوونځي د جوړولو وړاندیز وکړ، په داسې حال کې چې هغه مهال خوست د شورش مرکز و، ځکه دا یو ضرورت و او د پرمختګ یوازینۍ لار وه. دغه راز امان الله خان د ۱۹۲۶م. کال د جون په میاشت کې د کابل د نجونو په ښوونځي کې هغوی ته داسې وویل: ((که تجویز وشي تاسو باید د اروپایي ښځو په شان دا چانس ترلاسه کړئ چې په الوتکه کې سفر وکړئ. زه فکر کوم چې چادري په افغانستان کې د یو بې معنا شي په څېر رواج موندلی دی... واقعي حجاب او پرده د روح پرده ده، پردې او چادرۍ ته باید په دې ډول اجازه ورنه کړای شي چې د یوه هېواد د پرمختیا په لاره کې خنډ وګرځي.)) (۷: ۳۸۲مخ)

ملکې ثریا او علیاحضرت په ۱۹۲۷م. کال له شاه امان الله خان سره خوست ته سفر وکړ. د خوست د نارینه وو لپاره د شاهي کورنۍ د ښځو لیدنه یوه نوې منظره وه او یو نامتو ځمکه وال د دغو دوو ملکو په احترام ځو پسونه امان الله ته وړاندې کړل. که څه هم امان الله خان د خوست د شورشیانو جزاګانې لا دمخه فسخ کړې

وې، خو اوس هغه د عمومي بخښنې ژمنه ورکړه او د سړکونو له ترمیمولو پرته نور ټول اجباري او د بیگار کارونه یې له منځه یوړل. هغه وویل: لومړني ښوونځي به پرانیستل شي او هم یې وویل: که څوک غواړي خپل زامن د زده کړې لپاره کابل ته واستوي، د دوی زامن به په دولتي لگښت زده کړې وکړي. (۷: ۳۸٦- ۳۸۷ مخونه) حتی د کابل مېرمنو په ۱۹۲۴م. کال د پکتیا د اغتشاش د غلي کولو په موخه خپل زیورات دولت ته د مرستې په توگه ورکړل. (۸: ۸۰۹مخ)

امان الله خان د ورځې لس ساعته کار کاوه، حتی د جلال آباد په گرمه هوا کې یې همدې کار ته دوام ورکاوه. د جلال آباد د اداري چارو د کتنې او ارزونې په کار کې له امان الله سره د ده مور علیا حضرت مرسته کوله. (۷: ۳۸۸ مخ)

د امان الله خان له بهرنیو او کورنیو سفرونو څخه په ډاگه ښکاري چې هغه په سیاست او حکومتدارۍ کې ښځو ته غوره ونډه ورکړې او د دوی له سلا او مشورو څخه یې گټه اخیسته. امان الله خان بې له شکه غوښتل چې نه یوازې د افغانستان په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې ښځې ورگډې کړي، بلکې په رښتني معنا یې د دوی په ژوند کې د بدلونونو هیله او پروگرامونه درلودل.

ریه تالي لیکي چې امان الله خان په اوونۍ کې یو ځلې دیني چارې پرمخ بیولې، د جمعې په ورځو کې به یې په جومات کې امامت او وعظ کاوه او په یوه خطابه کې یې وویل: کونډو ښځو ته دې اجازه ورکړل شي چې په خپله خوښه او په آزاد ډول دوباره واده وکړي. (۷: ۳۸۹مخ) واقعیت دا دی چې د اسلام مبارک دین کټ مټ دغه صلاحیت کونډې ته ورکړی دی، خو له بده مرغه چې موږ افغانان د اسلام د اصولو پر ځای عنعنې او رواجونه پالو او په نتیجه کې د انسان د بدمرغۍ لامل گرځو.

امان الله خان نه یوازې د ښځو د تعلیم او حقه حقوقو د تامین په برخه کې ... له مقاومت سره مخامخ و، بلکې د اقتصادي بدلونونو په برخه کې هم له مقاومت سره مخامخ و، د بېلگې په توگه د خپل سفر په بهیر کې یې له جرمني څخه د صابون فابریکه واخیسته، خو کله چې ملایان ترې خبر شول، د ده د دغه نیک اقدام په اړه یې داسې و ویل: (( امان الله خیال لري چې د مسلمانانو جسدونه ویلې کړي او ورڅخه خپل صابون لاس ته راوړي.)) (۷: ۴۴۴مخ)

امان الله خان او د ده د کورنۍ مېرمنو په ډېره زیاته اندازه د خلکو بچیان عصري زده کړو ته هڅول او په دې برخه کې یې د سر او مال په بیه خدمتونه کړي دي. د بېلګې په توګه په کابل کې د انګرېزي، روسي، فرانسوي او جرمني ژبو ښوونځي جوړ شوي وو او دغو ښوونځیو ته د مومندو د عثمانخېلو د قبیلې ځینې هلکان د شاملېدو په خاطر په بې علاقه ګۍ سره راغلي وو، په رخصتیو کې بېرته خپلو کورونو ته لاړل.

د امان الله خان خور، بنات د هغوی هر یوه ته څه پیسې او د سرو زرو بنګړي ورکړل او ورته ویې ویل: پیسې دې په خپله په رخصتیو کې مصرف کړي او بنګړي دې خپلو میندو ته ورکړي. دې کار مومند وهڅول چې نور هلکان هم د کابل په ښوونځیو کې شامل کړي. حتی کوچیانو دا ومنله چې ښوونکي دې ورته مقرر شي او هرې خوا ته چې دوی کوچ کوي، ښوونکي دې هم ورسره ولاړ شي. (۷: ۴۸٦مخ)

امان الله د افغانستان د خپلواکۍ ګټلو د لسم تلین په جشن کې وویل: (( د هېواد راتلونکې او د راتلونکي نسل روزل په ښځو پورې اړه لري)) په دغه جشن کې ښځو هم برخه درلوده او ملکې ثریا او نورالسراج چې مخ لوڅې وې د ملت له استازو سره یې روغبړ وکړ او استازو هم له دوی سره ډېر دوستانه روغبړ وکړ او هېڅ وارخطا نه معلومېدل چې له مخ لوڅو مېرمنو سره خبرې کوي. (۱: ۴۹۲مخ)

غازي امان الله خان د ۱۹۲۸م. کال په لویه جرګه کې اعلان وکړ چې د دولت هېڅ مامور له یوې ښځې زیاتې نه شي کولای. د نجونو ګډې زده کړې له شپږکلنې څخه تر لس کلنۍ پورې د اضافي بودجې د لګښت د مخنیوي په موخه ومنل شوې. په همدغه لویه جرګه کې ښځو ګډون درلود، کبراجان د شاه امان الله خور د افغانستان د ښځو په استازیتوب وینا وکړه، ملکې ثریا د کندهار د روښنفکرو ښځو هر کلی وکړ، څو هغوی کندهار ته په بېرته ستنیدو سره په هېواد کې د نوي ژوند په اړه نورو ښځو ته معلومات ورکړي. د همدې لویې جرګې په دریمه ورځ یوه ډېره با اهمیته موضوع مطرح شوه او هغه افغان مېرمنو ته د آزادۍ ورکول و. وروسته له هغې چې د ښځو حقوق له نارینه وو سره یو شان اعلان شول، ملکه ثریا له خپل ځایه پورته شوه او خپل نازک ټیکری یې له مخ نه لرې کړ او هماغلته یې څیرې کړ.

حاضرینو په چک چکو سره دغه عمل تایید کړ او نورو ښځو له ملکې ثریا څخه پیروي وکړه او سړیو د ښځو مخونه ولیدل، په داسې حال کې چې د ښځو له شرف او ښکلا څخه هېڅ څه شی کم نه شول او نه د سړیو له شرف او غیرت نه څه شی کم شول. (٦: ١٠٥-١٠٦ مخونه)

د ((اور په افغانستان کې)) کتاب لیکوال لیکي، چې د اکتوبر ۱۴مه ورځ د افغانستان د ښځو په تاریخ کې یوه تاریخي ورځ ګڼل کېږي، ځکه چې د لومړي ځل لپاره افغان مېرمنې لوڅ مخ په ټولنه کې ومنل شوې، له هغې ورځې وروسته منورو ښځو چادرۍ او برقعې پر سر نه کړې او په عوض کې یې مناسب کالي اختیار کړل. خو دغه موضوعات په شخص پورې اړه لري او عنعنه نه باید پر خلکو تحمل شي.

د شاه د سفر فلمونه د بهرنیو چارو په وزارت کې وروښودل چې ملکه مخ لوڅې وه. ځکه ملکې لاپخوا چادري ځېرلي وه، نور د چادرۍ لرلو موضوع خپل اهمیت له لاسه ورکړی و، په کابل کې زیاتره ښځې پرته له چادرۍ لیدل کېدې. ملکې ثریا یوه محکمه جوړه کړې وه چې د مېړو په اړه یې د ښځو شکایتونه څېړل، لکه د نفقې نه ورکول، وهل ټکول او یا بې موجبه د طلاق ورکول. د ښځو د څارلو لپاره یو مخفي هیات هم جوړ شو چې د سړیو عکس العمل کنټرول کړي او له سپین سرو ښځو څخه وغوښتل شول چې کورونو ته ورشي او وګوري چې د سړیو رویه له خپلو ښځو سره څرنګه ده؟ دغه ټول د امان الله خان په اصلاحي پلان کې شامل وو. (٦: ١٠٦-١٠٨ مخونه)

**پایله**

په پایله کې ویلای شو چې غازي امان الله خان په کورنۍ او ټولنه کې د میندو، خویندو او ښځو په اهمیت ژور پوهېده او عقیده یې لرله چې پرته د ښځو له ګډون څخه په ټولنه کې ژور سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اصلاحات او بدلونونه رامنځ ته کېدای نه شي او د ملت د راتلونکي نسل روزل په ښځو پورې اړه لري، له دې امله اړینه ده چې ښځو ته د اسلام او د هېواد د قوانینو په رڼا کې فردي آزادي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي حقونه ورکړل شي او د ټولنې د ودې او پرمختیا په کار کې ګټوره برخه واخلي. امان الله خان د خپل لومړني اساسي قانون په تصویبولو او عملي کولو سره ډېر څه ورکړي وو او په دولت کې یې د کار زمینه ورته برابره کړې وه.

## مأخذونه

۱ـ غبار، میرغلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ،مرکز نشر انقلاب باهمکاري جمهوري، ١٣٦٦.

۲ـ زماني، داکتر عبدالرحمن. بازنگری دوره امانی و توطیه های انگلیس، مؤسسه انتشارات مسکا، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱.

۳ـ سید رسول. نگاهي به عهد سلطنت اماني، کمیته فرهنگي اتحاد اسلامي مجاهدین افغانستان، پشاور: ١٣٦٣.

۴ـ حکمتیار، گلبدین. ښځه او حقوق یې، دویم چاپ، د میثاق ایثار نشراتي اداره، پېښور: ۱۳۹۵.

۵ـ گریگوریان، وارتان. ظهور افغانستان نوین، مترجم، علي عالمي کرماني، تهران: محمد ابراهیم شریعتي افغانستاني، ۱۳۸۸.

٦ـ سیستاني، محمد اعظم. علامه محمود طرزي، شاه امان الله و روحانیت متنفذ، پشاور: کتابخانه دانش، ۱۳۸۳.

۷ـ سټوارټ، ریه تالي. اور په افغانستان کې ۱۹۱۴- ۱۹۲۹م. ، د عبدالحسیب حکیمي پښتو ژباړه، کابل: میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳.

۸ ـ وکیلي پوپلزایي، عزیزالدین. سلطنت امان الله شاه، بخش اول، کندهار: د علامه رشاد اکاډمي، ١٣٩٦.

پوهنيار محب الله ترابي

# د استاد لېوال د کک او زرينې منظومه حماسه ده او که نه؟

# Teacher Liwal's "Kak & Zarina" is Epic poem?

**Teaching assistant: Muhibullah Torabi**


## Abstract

What is an Epic? What are the differences between an epic, epic poem, and glory? Is "Kak & Zarina" an epic poem or not? Are those questions which made me to write and research on this topic. These questions have been answered by library research. Epic is a thematic genre in literature which narratively describes the bravery, pride, and victories of a tribe, nation or a special hero. You will learn the differences among the mentioned units in this essay. Besides that, you will learn that the "Kak & Zarina" is an epic genre and poem as well. We implement all roles and characteristics of an epic genre on "Kak & Zarina". As a conclusion to say that we proved that "Kak & Zarina" is completely an epic poem and genre of Pashto literature.


Key words: Epic, Epic poem, Roles and characteristics of an epic, epic style, and "Kak & Zarina".

**لنډیز**

حماسه څه شی ده؟ د ویاړنې او حماسي شعر سره یې توپیر په څه کې دی؟ ایا کک او زرینه حماسي اثر دی که نه؟ هغه پوښتنې دي، چې د دې مقالې یا موضوع د څېړنې باعث شوې. دې ټولو پوښتنو ته مو د کتابتوني څېړنې پر مټ ځواب ویلی.حماسه د ادبیاتو په موضوعي ژانرونو یا فورمونو کې راځي، چې د یوکس، قوم یا ملت د افتخاراتو، مېړانې او جنګي کارنامو او سوبو داستاني بیان دی. په دې مقاله کې تاسې د پورته یادوشویو توکو پر توپیرونو پوهېږئ، ورسره ورسره په کک او زرینه پوهېږئ ،چې دا هم یوه حماسي منظومه ده. د حماسې ټولې ځانګړنې مو په همدې منظومې تطبیق کړې دي. پایله دا چې د کک او زرینې منظومه مو د حماسي اصولو پر بنسټ څېړلې او دا مو ثابته کړې چې دا د پښتو ادب له غوره حماسو څخه شمېرل کېږي.

**سریزه**

په دې څېړنه کې پر حماسه او حماسي شعر او ویاړنه بحث شوی دی، پر دې سربېره د کک او زرینې حماسه سپړل شوې او ثابته شوې، چې دا په ټول پوره حماسه ده. د ادب زده کړیالان او ډېری فرهنګي ملګري اوس هم د حماسي شعر او حماسې توپیر نه شي کولای او ټول د رزم او جنګ خبرې په حماسو کې شمېرې ، حال دا چې د جنګ او رزم هر ډول شعر حماسه نه ده. حماسه د مېړانې او زړورتیا او کارنامو داستاني روایت دی. دلته په دې برخه هم ښکلی بحث شوی دی. بیا مو د کک او زرینې منظومه څېړلې ده، دا اوس حماسه ده او که نه؟ دې پوښتنې ته هم ځواب ویل شوی. د حماسې ټولې ځانګړنې مو پرې تطبیق کړې دي او د حماسي سبک د غوښتنو سره سم مو هم څېړلې ده او ثابته شوې ده، چې کک او زرینه یوه بشپړه حماسه ده، چې د ساکي پښتنو د مېړانې، د خپلې خاورې او د هیرمند سیند څخه د دفاع کیسه راته کوي،یعنې دې داستان د یو حماسي اثر بشپړې ځانګړنې خپلې کړې دي. پر حماسه او حماسي ادبیاتو زموږ په ادب کې سرمحقق زلمي هېواد مل بحث کړی، پوهاند جمشید رشیدي یو اثر د حماسي ادبیاتو کښلی،خو داسې څه چې پرکک او

زرینه د حماسې په چوکاټ کې څه ولري نه دي شوي. دا مقاله به لوستونکي د خپلو نورو پښتوحماسو تشخیص ته وهڅوي.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا چې په کک او زرینه کې په هنري ژبه د هېواد تاریخ بیان شوی دی او له هېواد سره د مینې، ساتنې او پالنې درسونه شته دی؛ په اړه یې څېړنه په کار وه چې تر څو یې په اړه لوستونکي خبر وي؛ نو په دې مقاله کې همدغه آثار څېړل شوي دي.

### د څېړنې موخه

په دې مقاله به دا جوته شي چې د کک او زرینې منظومه حماسه ده او کنه؟ او ترڅنګ به یې په اړه لوستونکو ته په زړه پورې معلومات هم وړاندې شي.

### د څېړنې پوښتنې

۱ـ د کک او زرینې منظومې منځپانګه څه ډول ده؟

۲ـ آیا د کک او زرینې منظومه حماسه ده او که نه؟

۳ـ حماسه څه ده او له ویاړنې سره حماسي شعر څه توپیر لري؟

### د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې نه یوازې له پښتو کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې ده؛ بلکې له ډېرو فارسي کتابونو هم ګټه اخیستل شوې ده. د حماسې په باب د فارسي ژبې ډېری کتابونه ورپسې کتل شوي او بیا مو کار تر سره کړی دی.د لیکنې په لیکلو کې له کتابتوني څېړنې څخه ګټه اخیستل شوې ده. دا کتابتوني څېړنه د کمپوزیټ مېتود پر مټ ترسره شوې ده.

## د کک او زرینې منظومه

کک او زرینه منظوم داستان دی، په هنري ژبه د هېواد د تاریخ بیان دی او ورسره ورسره د هېوادنی مینې، هېواد ساتنې او د نه ورور وژنې لوست هم راکوي. دا داستان د شعر او هنر په ژبه د ملي نوامیسو او ارزښتونو د ژغورنې او له هغو څخه د

دفاع کولو هنري بیان دی، چې درانه استاد څېړنوال عبدالغفور لېوال صیب په افغان انسان باندې په پښتو ژبه لورولی دی.

کک د ساکي کځوالو اتل دی او زرینه د ساکي ټبر او لښکر مشره ملکه ده. داسې یوه ملکه، چې د ساکانو اوه دښمنې قبیلې سره متحدوي او د یوه لوی ارمان او هدف د ژغورنې او ترسراوي لوست ورکوي او دا اوه قبیلې په ګډه د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره متې رانغاړي. دا ارمان او هدف څه شی دی؟ او دې قابلیت ته کوم نوم ورکړو، چې اوه دښمنې قبیلې د یوه ارمان د ژغورنې په پار په یوه تغر کېنوي؟ او بالاخره څوک دی،چې دا سوبه او دې موخې ته د بریالیتوب تاج ورپرسروي؟

د دې منظومې له لوستلو وروسته پوهېږئ، چې دا د هېوادنۍ مینې زور وو چې اوه دښمنې قبیلې یې د هیرمند(هلمند) د سیند ژغورنې او ساتنې لپاره وهڅول؛ خو د دې ترڅنګ د زرینې مدبرانه او هوښیارانه سیاست او پوهه هغه قابلیت دی،چې د دې سیند آب یې وساته او کک هغه پهلوان او اتل دی،چې د دې موخې په ترلاسه کې یې اهم نقش لوبولی دی.

دا داستان د دوو مینو د مینې کیسه نه کوي بلکې د دوو مینو د لوړو اهدافو کیسه کوي،چې د خپل هېواد او وطن سره څومره مینه لري او د هېواد د ښېرازۍ لپاره جګړه کوي. جګړه د اشکانیانو او پارتیانو په وړاندې ده، چې هغوی غواړي د هیرمند سیند ونړوي او په اوبو یې خپله سیمه ښېرازه کړي، اردوان د اشکاني پاچا زوی د هیرمند د نړولو په پلان لګیا دی او د زرینې څارګر ساکانو ته د هغوی بشپړ حال راوړي، زرینه د ساکي ټبر د اوو واړو قبیلو مشران راغواړي او د پارتیانو د پلان څخه یې خبروي، د هرې قبیلې مشران خپل خپل نظرونه وړاندې کوي او د دې جګړې لاملونه بیانوي، په هر حال ټول د دوی په وړاندې مبارزې ته چمتو والی ښیي؛ خو خبره د سلو پیلان ده، په زغرو سمبال دي او دوی یې له مقابلې عاجز دي او دا ترس و بیم د جنګ تر صحنې له ټولو سره مل دی. په دوی کې یو سردار د کک یادونه کوي او وایي، چې د ساکي کځوالو یو نامتو پهلوان (کک) د پارتیانو د پاچا فرهاد کلک ملګری وو او فرهاد رومیان هم د هغه پر مټ مات کړل؛ خو اوس

ترې خپه دی او حال یې یوازې مور ته معلوم دی. زرینـه د کـک مـور (روښـانې)) تـه ورځي او د کک حال ترې پوښتي. روښانه ورتـه د کـک د زړورتیـا، پهلوانی،لـه خپلـو سره په نه جګړه کولو او له فرهاد پاچا سره د ده په خپګان،له ګلبویې ( د فرهاد لـور) سره د مینې او د هغې د بې وفایې، په فعلي انزوایي حالـت او د ښـځو پـر ورانـدې د ده له عقدې او کرکې د ډک چلند ټوله کیسه کـوي. زرینـه دا ټولـه کیسـه د سـاکو مشرانو ته کوي او ژمنه کوي، چې زه به د کک د کلک هوډ ملا ورماتومه او د هیرمنـد د آب او عزت د ساتنې په پار به یې راولم، په چم د کک کلا ته ورځي او کک په ډېـره هوښیارانه انداز د ساکستان د آب ساتنې ته رابـولي. جګـړه کېـږي او پارتیـان مـاتې خوري، پیلان یې درې ورې کېږي، ساکان د خوښۍ جشن لمانځي، کک او زرینـه د بري پر سمند سپاره او د بري بیرغ رپاند ساتي او د هیرمند څپو ته ځان رسوي.

اوس نو دا منظومه د حماسي اصولو په رڼا کې څېړو چې ایا دا رښـتیا هـم یـوه حماسه ده او که نه؟

اړ یو چې لومړی حماسه وپېژنو، ډېری لیکوال او څېړونکي هـر ډول جنګـي او رزمي اشعار حماسه بولي او موږ چې د حماسي اشعارو یادونه کوو نو پیل یې د امـیر کروړ د شعر څخه کوو حـال دا چـې حماسـه، حـماسي شـعر او ویاړنـه درې واړه بېـل دي. دلته پر دغو دریو اصطلاحاتو هم لنډکی بحث لرو او بیا به پـر کـک او زرینـې د حماسې په چوکاټ کې بحث ولرو.

**حماسه**

حماسې ته په غرب کې د Epic اصطلاح کارېږي، چې دا د یوناني له Epikos څخه، چې د لغت، کلام یا کیسې، اواز او د مېړانې شعر ته ویل کېږي. (۵: ۲مخ)

حماسه د ادبیاتو په موضوعي ژانرونو یا فورمونو کې راځي، چې د یـوکس، قـوم یا ملت د افتخاراتو، مېړانې او جنګي کارنامو او سوبو داستاني بیـان دی .(( حماسـه د ح په زور د شجاعت او زړورتوب معنـا لـري او لـه ډېـرو زړو ادبي انواعـو څخـه ګڼـل کېږي،چې د یو ملت، قوم، قبیلـې او یـا شـخص د مېړانـې، تـورې کیسـې او جنګـي کارنـامې پـه حکـایتي او داسـتاني ډول بیـانوي. هـر ډول جنګـي او حـماسي اشـعار حماسه نه شي جوړولی، که څه هم حماسه له حـماسي او جنګـي اشـعارو جـوړېږي خو هر حماسي یا جنګي شعر یا ویاړنه حماسه نه ده.)) (۸: ۲۸ مخ)

د حماسې په اړه د لارمارتین نظر په دې ډول لولو چې : (( حماسه د ټولنې د وړکتوب د مهال شعر دی چې تاریخ، اساطیر او حقیقت پکې ګډ شوي دي، د هغه مهال محصول دی چې شاعر په ټولنه کې د مؤرخ په توګه کار کاوه.)) (۲:۳۱مخ )

(... د وصفي شعرونو هغه ډول دی، چې د یوه قوم یا وګړي د پهلوانیو، مېړانې او ویاړنو کیسه په کې تمثیل شوې وي. حماسه د وګړیو(فردي یا جمعي) پهلوانیو او مېړانې داستاني روایت دی. (٦: ۴۵مخ)

## حماسي شعر

په حماسه کې په دې وپوهېدو چې دا یو داستاني بیان دی، نو اوس په حماسي شعر هم پوهېدلی شو، حماسي شعر داستاني یا حکایتي بیان نه دی، بس یوازې د جنګ او مبارزو خبرې وي. (حماسي اشعار د رزم و جنګ، ویاړ و افتخار، مبارزې او یا جنګ ته د جنګیالیو د هڅونې خبرې دي. په بله وینا دا ډول اشعار په خلکو کې د مبارزې د ارزښتونو، د ولس د عامو اعتراضاتو او د خلکو جنګي روحیه منعکسوي. لکه د خوشحال بابا ځیني شعرونه یا د بابا هوتک او ملکیار غرشین او د تایمني سندرې چې رزمي او جنګي شعرونه دي او بشپړ حماسي اشعار یې بللای شو، خو حماسې نه دي.)(۸: ۳۱ مخ)

## ویاړنه

داکترسیروس شمیسا د مفاخرې تر سرلیک لاندې لیکي: ( مفاخره یا ویاړنه، چې موږ یې بولو، د حماسې په فروعاتو کې راځي او هغه ډول اشعارو ته ویل کېږي، چې شاعر له پیله تر پایه پکې د ځان ستاینه وکړي، خپل کمالات او صفات بیان کړي او د حماسې په فروعاتو کې ځکه راځي، چې شاعر غواړي په مبالغه آمیز شکل خپل نېک اعمال او صفات بیان او ځان مافوق طبیعي وښيي) (۳:۲۷۷مخ)

((ویاړنه یا مفاخره په لغت کې فخر کولو، د لویي اظهارول، په ځان ویاړل او ناز ته وایي او په ادبي مباحثو کې مفاخره هغه شعر ته ویل کېږي، چې شاعر پکې د خپلې کورنۍ او قبیلې افتخارات، سخاوت، شجاعت او عزت النفس د کمال تر حده په عالي قریحه ویلې وي.))(۸: ۳۱ مخ)

په پښتو ادب کې د امیر کروړ سوري شعر د ویاړنې ښه بېلګه ده. د دې بحث په پایله کې داسې ویلای شو،چې حماسي شعر د جنګ او مبارزو ته د جنګیالیو د هڅونې او یا یوازې پکې د جنګ او ویاړ خبرې راغلي وي، مفاخره یا ویاړنه کې یوازې د ځان یا د خپل قوم ستاینه وي؛ خو په دې دواړو کې دا خبرې په داستاني شکل نه وي مګر په حماسه کې د مېړانې، اتلولیو او کارنامو داستاني بیان حتمي دی که دا پکې نه وي په حماسه کې نه حسابېږي. یوه بله خبره چې د حماسو په باب باید وشي دا ده، چې ممکن حماسه په نثر کې هم وي، خو دا نور دوه په منظوم شکل وي. یعنې حماسه کېدای شي چې منظومه یا منثوره وي.

## کک او زرینه او د حماسې ځانګړنې

د کک او زرینې منظومه د حماسې په چوکاټ کې څېړو او د حماسې ځانګړنې پرې تطبیقوو، د حماسي اثر لپاره ادبپوهانو په عمومي ډول لاندې ځانګړنې ټاکلي دي:

۱) ((په هره حماسه کې جنګ جګړه، زړورتوب، مېړانه او شهسواري حتمي وي.مثلا رستم په خپل ژوند کې تل له جګړو سره مخېږي او په هره جګړه کې مېړانه او زړورتوب ښیي)).(۴: ر مخ)

د کک او زرینې په حماسه کې هم موږ وینو، چې کک تل په جنګونو کې برى وړی،کله چې د پارتیانو په وړاندې جنګېږي خپله مېړانه او زړورتوب ثابتوي. د منظومې په یوویشتم سرود کې لولو:

د پیلانو وحشي شوی لښکر راغی
پوښ د وسپنې د زغرو په ترنګړو
لومړنی پیل مخامخ په کک راتاو شو
لکه تندر یې پر سر د ګورز ګوزار شو
پر تندي د ګورز ګوزار سره ایسار شو
پیل پر ځان لکه زخمي ښامار راتاو شو
په یوه ګوزار راپرېوته پر زمکه
نېزه والو د پیلوان سینه کړه ښه
(۷: ۹٦مخ)

د حماسو جنگونه ممکن د لوړو موخو لپاره وي، لکه له پارتیانو سره د کک او ساکانو جنګ چې د هېواد، خاورې او هېرمند د ژغورنې په پار تر سره شوی او ممکن عالي موخې ونه لري لکه د ایلیاد د حماسې ځینې جنګونه چې د ښځو پر سر وو.

۲) په حماسو کې ځینې حیوانات ډېر ستر نقش لري او نه شو کولای چې هغه د عادي حیواناتو په څېر فرض کړو (۸: ۴۳ مخ)، لکه په کک او زرینه حماسه کې پیلان دي. په زغرو پوښل شوي او د هیرمند د نړولو په پار تیار شوي.

ورسره دي ډېر اسونه او اس ګاډي
په زنځیر تړلي سل وحشي پیلان هم
زموږ ښارګرو یې شمارلي دي پوځونه
اردوان دی را روان د زرنګ بند ته
چې د پیل په زور یې وران کړي یو ناڅاپه
زموږ ښار په لوی سېلاو باندې لاهو کړي
او بیا واړوي هیرمند و خپل وطن ته
(۷: ۱٦مخ)

۳) په حماسو کې له چل، فرېب او غولونې هم استفاده کېږي، دا استفاده ممکن د جنګ په ابزارو کې وي یا هم د یو هدف د ترلاسه لپاره له جنګه بغیر وي.

د کک او زرینې په حماسه کې وینو، کله چې فرهاد پاچا د یونانیانو او ساکي کڅوالو له لاسه مري او ګلبویه د فرهاد پاچا لور، چې د کک مینه او معشوقه ده، کک ته په غوسه ده، کله چې کک دښپې هغې ته ورځي او هغه ورته سپکې سپورې وایي او کک حیرانېږي او هغه تر لاس رانیسي، ګلبویې د هغه څخه د خلاصون په پار خنجر پټ له ځان سره راوړی وي او کک پر زړه پرې وهي. په منظومه کې لولو:

ګلبویې د کک قامت تیاره کې ولید
کک له ګورز سره راغلی و په پټه
ورو ورو راغی محبوبې ته ورنږدې شو
ګلبویه په ډېره کرکه شوه ترې لرې
په څېره کې یې د مینې نښه نه وه

کک حیران و ،چې په مینه یې څه شوي؟
داسې ولې نابلده ورته ګوري؟ ...
***
د ګلبویي په خبرو کک حیران شو
تر پښو لاندې یې زمکه شوه روانه
هسک اسمان یې پر سر تاو شو او راتاو شو
په وجود کې یې د اور بټۍ شوه بله
رانږدې شو، ګلبویه یې ونیوله
زه په تا باندې مین یم، ته زما یې
ستا له خولې نه دا خبرې د بل چا دي
یا خو بله یې زما ګلبویه نه یې؟
ګلبویې له ملا خنجر غلی راویوست
ځان یې خلاص کړ په ډېر زور د کک له مټو
یو ناڅاپه یې خنجر پر زړه ور خښ کړ
کک ټپي شو، خو په زخم خبر نه و
ته وا جوړ د کک ټټر و له پولادو
(۷: ۳۸مخ)

۴) په حماسه کې اتـل یـا یـو پهلـوان داسـې څـوک وي، چـې ډېـر لـوی او ډارونکـي ځناور، حیوانات یا بلاوې وژني. بله دا چې په یوه ځان له ډېرو جنګیالیو سره مقابله کوي.

د کک او زرینې په حماسه کې هم کک په یـوازې ځـان لـه سـلو خـوني پیلانـو سره مقابله کوي او ټول وژني او د فراه دښته د دوی په وینو سره کوي،کک څـو ځلـه د پارتیانو له ډلو ډلو سرتېرو سره مخ شوی هغـوی یـې وژلي او ماتـه یـې ورکـړې. پـه منظومه کې لولو:

چې ناڅاپه شورماشور شو د ساتونکیو
د ګلبویې د پلار څو سرتېري راغلل
وتې تورې یې له تېکو تاوولې

پر کک یو ناڅاپه راغلل گوزارونه

خو غوسې د کک وجود کړ لکه تیږه

یو ناڅاپه هسک راپاڅېده، ولاړ شو

زرځي سترگې یې د وینو ډنډ کاسې شوې

خپل لوی گورز یې په خپل موټې کې بیا ټینگ کړ

څو گوزاره یې د گورز ورباندې وکړل

د ساتونکیو مړي ټول سره امبار شول

(۷: ۳۹مخ)

۵) د حماسو اتلان ملي او قومي رنگ لري او زیاتره داسې کارونه ترسره کوي چې ملي او معنوي ارزښتونه لري.((د پښتو د زیاتره شفاهي او تاریخي حماسو اتلان دغه خاصیت لري او زموږ د هرې حماسې د قهرمان کړه وړه په یوه مثبته کارنامه منتج کېږي.)) (۸: ۳۹ مخ)

د کک او زرینې په حماسه کې هم اتلان ( کک او زرینه) دواړه ملي رنگ لري کړنې او مبارزې یې هم ملي او معنوي ارزښت لري ،هغه دا چې دوی د هیرمند د سیند څخه دفاع او د ساکستان د آب او عزت د ساتنې په فکر کې دي او بریالي کېږي هم.

٦) (ادبپوهانو پر اتلانو باندې د ښځینه الهو مینېدل او د اتل بې پروایي هم د حماسو په ځانگړنو کې راوړې ده ) (۵: ۱۵مخ)

خو په پښتو حماسو کې د الهو ذکر ممکن په اساطیري شکل راشي؛ خو د حماسې پر قهرمان د الهو مینېدل نه ترسترگو کېږي، مگر نورې نجونې وي، چې پر اتل زړه بایلي او دی ترې مخ اړوي. د کک او زرینې په شپږم سرود کې لولو:

کک سرکش و، کک مغرور و، کک عاصي و

کک د غره په څېر سرلوړی او یاغي و

د دربار له ډېرو نجونو یې زړه وړی

ډېر زړگي یې د بریتو په کنجک بندول

پېغلو مینه په سیالۍ د کک کوله

خو یاغي کک د سپین آس په څېر سرکشه
بې پروا و د هر چا له ناز مکیزه
( ۷:۳۱مخ)

۷) په اوږدو او خطرناکو سفرونو د اتلانو وتل، د بېلابېلو جنګي ابزارو څخه استفاده هم د حماسې په ځانګړنو کې راځي. د کک او زرینې په حماسه کې هم د بېلابېلو ابزارو څخه استفاده کېږي لکه: ګورز، غشي، نیزه، توره ... او هم د کک د کلا پر لوري د زرینې یوازې تګ او خپله ژمنه پوره کول، چې خپه او له روښانې دنیا مایوس کک به بېرته د هیرمند په ننګ او دساکستان د شرف د ساتنې په پار د پارتیانو مقابلې ته راولي. په نهم سرود کې د زرینې له خولې اورو:

زه ورځمه او له کک سره غږېږم
برخلیک یې په کلک هوډ وربدلومه
کک به بیا له خپل لوی ګورز سره راپاخي
پیل افګن کک به په ننګ د هیرمند ولاړ شي
زه یې باسمه د کرکې له دنیا نه
زه یې بېرته انساني دنیا ته بیایم
تر دې وروسته پر همدغه ژمنه پایم
(۷:۴۴مخ)

۸) په ټوله کې ویلای شو چې دا حماسه له پیله تر پایه د ساکي ټبر او په خاص ډول د دوو ساکو مینو اتلانو د سپېڅلیو اهدافو بیان راته په کیسه ییز او داستاني شکل کوي، چې دا په خپل ذات کې د حماسو له اساسي ځانګړنو څخه ده.

د کک او زرینې په حماسه کې مو د حماسې عمومي ځانګړنې په نښه کړې دا ځانګړنې د نړۍ د نورو ژبو په حماسو کې هم وي؛ خو زموږ ادبپوهانو د حماسو ځانګړنې په خاصو هغو هم وېشلي دي او دا ځانګړنې ورته د خپل کلتور څخه ورپاتې دي. سرمحقق زلمی هېواد مل په دې اړه لیکي: (پښتو حماسې ځینې خاصې ځانګړنې هم لري، دا ځانګړنې ورته د پښتنو له عامې فرهنګي ورثې ور په

برخه شوي دي... زموږ حماسې که فوکلوري دي یا لیکل شوې منثورې او یا هم منظومې ، د ننواتو، ننګې، پور، شرم، پرې او ... کوډونه د حماسي واقعاتو د بیان په ترځ کې په خپل خپل ځای په داسې ډول پکې استعمالېږي، چې زموږ د ټولنې د عنعني نظام ځېره پکې له ورایه ښکاري.) (۸: ۴۰ مخ)

د کک او زرینې په حماسه کې هم د پښتنو د کلتور ډېرې برخې لیدای شو، لکه: د ننګ او غیرت، د پخواني دود او دستور سره سم د هومایي شرابو ذکر،د خپل هډ او تن سره نه جګړه، پور او خپله برخه غوښتل، چې په دې حماسه کې د خپلې برخې د ترلاسې په پار جګړه هم شوې او د فرهاد پاچا په وژنه منتج شوې او ... .

## د کک او زرینې حماسي سبک

کله چې موږ د حماسې د ځانګړنو په باب خبرې کوو، موخه مو هغه پرنسیپونه وي، چې په عمومي ډول د حماسو لپاره ټاکل شوي وي، لکه پورته چې یې یادونه وشوه؛ خو کله چې د حماسي سبک او د هغه د خصوصیاتو خبره کوو نو مراد مو د حماسې د افادې طرز او سټایل وي، معنا دا چې د شاعر د حماسي مطلب د اظهار لپاره د حماسي سبک د غوښتنو مطابق سبک څخه استفاده کړې او که نه. دا بحث پر همدغه موضوع راڅرخي او د کک و زرینې حماسه پرې تَلو.

دا چې حماسه د اتلولیو ، مېړانې او کارنامو خبرې دي؛ نو د حماسي منظومو د سبک یو خصوصیت همدا دی چې الفاظ به یې هم ډېر پیاوړي او درانه وي، د لفظ او معنا دواړو له اړخه. د کک او زرینې حماسي شاعر هم د حماسي سبک له دې خصوصیت سره سم له ډېرو باعظمتو او درنو کلماتو استفاده کړې، که تاسې دا منظومه له پیلیزې پیل او په درویشتم سرود پای ته ورسوئ نو پوی به شئ، چې په دې حماسه کې له سره تر پایه له همداسې الفاظو استفاده شوې، چې د حماسي سبک غوښتنه ده. زه یې له بېلګو تېرېږم.

اغراق او غلو په حماسي سبک کې په پرېمانه کچه لیدل کېږي او د کک او زرینې حماسه دا خصوصیت هم په ښکلي شکل پالي.

داکتر شمیسا د حماسي سبک په خصوصیاتو کې لیکي چې: (حماسي سبک مادي او محسوسه جنبه لري، د دې پر ځای چې د زړورتیا ستاینه وکړي، د زړور

ستاينه کوي او يا هم انتزاعي مفاهيم په عيني او محسوس شکل توضيح او تشريح کوي.) (۳: ۱۱۰مخ)

د کک او زرينې حماسه له دغه خصوصيته مالامال ده. په منظومه کې لولو:

... خو بل خوا ښامار د ضد کرکې ولاړ دی
خپل زندان کې يې د بند لوري ته بولي
اضطراب د کپچه مار په ځېر ترې تاو دی
نيم تياره جهان ته ولاړ شي، که رڼا ته
پټ شي، ورک شي؟ که راووځي دنيا ته؟
(۷:۷۲مخ)

(د حماسي تشبېه يا epic simile په نامه په هومري حماسو کې د تشبه يو ډول دی چې مشبه به يې اوږد او له يوه بيته تجاوز وکړي او کله کله خو د مشبه او مشبه به پر جزياتو دومره تم شي، چې له اصلي موضوع څخه لېري شي، شاعر ځو ځلې مشبه له ګڼو مشبه به ګانو سره ورته کوي.)( ۳: ۱۱۵مخ)

که د ډاکټر شميسا خبرې رالنډې کړو، نو ويلای شو چې په حماسي سبک کې له جمع تشبېه څخه استفاده کېږي او د حماسې په برخه کې دې ته epic simile يا هم Homeric simile هم وايي.

د کک او زرينې حماسه د دې خصوصيت څخه هم ښه برخمنه ده.

اوس ورتلل د کک کلا ته، مرګ غوښتل دي
د پړانګ کومې ته د لاس ننه ايستل دي
له زمري سره په غېږه جنګېدل دي
له نهنګ سره توپان کې اوښتل دي
د اورتون په سرو لنبو کې تاوېدل دي
په سکروټو باندې يبلې پښې تلل دي
اژدها پهلوانی ته رابلل دي
سر د غره له لويو تيږو جنګول دي
لېونتوب دی، لوی ګړنګ ته ور ترپل دي

کک غوسه دی، کک له ډېره جوشه ډک دی
د زخمي افعي په څېر په ځان تاوېږي
( ۷: ۴۵مخ)

((په حماسو کې د جنګ د ابزارو او آلاتو د تورو، نیزو، زغرو، سپرونو، ډالونو او نورو توصیفي یادونه کېږي او له دې سربېره د جنګونو د میدانونو او د جنګیالیو د صف آرایی، د تورو د خرپ، د زغرو د شرنګا او د غشو د شغا وصفونه په کې کېږي.)) (۸: ۴۳ مخ)

د کک او زرینې حماسه هم له دغسې بیانونو لبرېزه ده. راځئ د منظومې د یوویشتم سرود ځینې برخې ولولو: دا هغه صحنه ده، چې د ساکانو لښکر په فراه کې خپل تیاری نیولی او د پارتیانو لښکر هم ویني چې را روان دی؛ خو کک لا نه دی راغلی.

... اوګزریاخ په ادب کوز شه ملکې ته
عمر اوږد شه د ملکې تر ابده
زموږ لښکر پر لوړو سیمو ځای پر ځای دی
د غشمنو مورچې ټینګې دي په غرو کې
سپین لوګی چې د کېږدۍ تر څنګه پاڅي
نو تورom به د جګړې د پیل پو کړو...
( ۷: ۸۷مخ)

د پارتیانو لښکر نابېره تم شو
تر لښکر وړاندې څارګرو خبر ورکړ
مخامخ یې د ساکانو لښکر ولید
د جګړې کېږدۍ یې ولیده له ورایه
ناڅاپي یې د فراه دښته کې پام شو
چې ساکانو ورته لاره ده نیولې
یو منزل دی دوه لښکره سره لرې
اشکاني لښکر د تللو خیال بدل کړ
د سپرو یو لوی لښکر یې کړ راوړاندې
ناڅاپي یې د وړو غرو خواته مخ کړ

په دې نیت چې له دې لوړو پرې ورتاو شي
د سپرو لښکر چې راغی د غرو برید ته
ملکې اشاره وکړله اورتون ته
سپاهیانو کاغذي واښه لنبه کړل
تک سپین دود شو د کېږدۍ له اړخه پورته
د توروم لوړې نارې انګازې وکړې
او غشمنو غشي وټومبل لیندۍ کې
په یوه شېبه کې پورته شغهار شو
د اسمان خواته زرګونه غشي ولاړل
د پاتیانو د سپرو لښکر په ځغاسته
دساکي لښکر په لوري را روان و
د سهار لمر پرکولې سپینې تورې
چې ناڅاپه له اسمانه باران راغی
د برېښنا په څېر د غشیو توپان راغی
په سلګونو سپاره پرې ابستل اسونو
غشیو وویشتل پارتیان په ځیګرونو
بل ځل بیا غشمنو غشي په لیندۍ کړې
بیا یې جوړ کړ پر سپرو باران د غشیو
یو څو پاتې ټپي شویو سپرو هی کړل
بېرته شاته د پارتي لښکرو خواته
اردوان په ننداره و د دې ټولو ...
(۷: ۸۸ مخ)

((د حماسي سبک بله عمده خاصه دا ده چې سوال او ځواب او یو له بـل سره خبرې پکې ډېرې راځي. مثلا که موږ د آدم خان او درخانۍ، فتح خان او رابیا او نور حماسي داستانونه وګورو د حماسي داسـتان د اتلانـو او ضـد اتلانـو تـرمنځ سـوال او ځواب او پوښتنې ډېرې لیدل کېږي)) (۸: ۴۴ مخ)

دا خبرې تر ډېره د ویاړ او مفاخرو په بڼه وي او دواړه خـواوې غـواړي، چـې لـه دې لارې هم یو بل کمزوری کړي او د یوې وسلې په شکل استفاده ترې وکـړي؛ خـو په کک او زرینه داستان کې د کک او زرینې خبرې او مباحثه بیا د کـک د راملـو او په هېواد او هیرمند د ننگ لپاره د استولو په پار کېږي. که په لنډ ډول ووایو د زرینې په خبرو کې د کک د مورال د تقویې او د یو مثبت اقدام لپـاره د هغـه د هڅـونې پـه خاطر دي نه د روحیې د تضعیف لپاره. د کک او زرینې حماسې له دولسم سرود نـه تر شپاړسم (بشپړ څلور سرودونه) د دې خاصې ښکلې بېلگې دي.

داکتر شمیسا لیکي: (چې په حماسو کې بدیعي صنایع ډېرې نه کـارول کېـږي ځکه چې د حماسي مطلب د بیان او افادې عظمت ته تاوان رسـوي خـو زیـاتوي، چـې د استعارو ، محسوسو تشـبهاتو او کنـایو څخـه پکـې اسـتفاده کېـږي)(۳: ۱۰۹مـخ) زلمـی هېوادمل هم ده ته ورته خبرې لـري : پـه حماسـو کـې د کـلام ارایـش تـه ډېـره توجـه نـه کېږي او زیاتوي چې د کلام ښکلي کول او په صنایعو پسولل د حماسي مطلب د افـادې دروندوالی او عظمت ته صدمه رسوي او د ایجاز څخه استفاده کېږي او لـه اطنـاب څخـه پرهېز کېږي. (۸: ۴۲ مخ)

د کک او زرینې په حماسه کې هـم ځـای ځـای لـه ښـکلو اسـتعارو ، مرسـل مجاز او کنایو استفاده کېږي او بدیعي صنایعو نه تر ډېره کار نه دی اخیستل شـوی. راځئ د کک او زرینې په حماسه کې د ښکلو استعارو او کنایو یو څو بېلگې وگورو:

د روښانې سترگې ډکې شوې له اوښکو
خو په سترگو د زرینې کې پټ شور و
شین توتي زرین قفس کې کریغه وکړه
د زرینې خیالات یې پریشان کړل
( ۷:۴۰مخ)

خم نه ووته وړمه د جنتونو
لکه راشي مېلمنه له جنتونو
( ۷: ۵۷مخ)

دا لاندې بېلگه یې د مرسل مجاز او استعارې ښکلې بېلگه ده.

گورز په لاس او خښمېدلی کک ولاړ دی

له غوسې نه رېږدېدلی کک ولاړدی
خو زرینه، څه ارامه څه بېغمه
په ښایسته شونډو نری موسکا ولاړه
واه! پتنگ ته د لنبې نڅا ولاړه
د غنچې په شان یې ښکلې خولگۍ واکړه
له خوږو شونډو یې شات او گلاب توی کړل
( ۷:٦۲ مخ)
ویل یې زه خپله ورځمه پهلوان ته
د هیرمند په ننگه ملا د کک تړمه
( ۷:،۴۸مخ)

که په لنډ ډول ووېل شي، چې د کک او زرینې حماسې سبک ډېر عالي سبک دی. د تصویر سازۍ او منظرکشي برخه یې دومره پیاوړې ده چې سړی ورته گوته پـه غاښ پاتېږي. که یې هغه بېلگې هم راوړم ؛نـو بویـه چـې ټولـه منظومـه د بېلگـې پـه شکل راوړم. د کلام تناسب ډېر ښکلی دی، د حماسـې شـاعر پـه دې منظومـه کـې ځینو لرغونو کلمو، نومونو ( ځای او شخاصو) او اسطورو یادونې هم کړې دي؛ خو پـر دې سربېره یې د دغو کلماتو او اسطورو سپړنه او تشریح د منظومې په پای کې کړې ده، د شاعر دا کار د سـتاینې دی. د دې حماسـې یـوه ډېـره ښـکلې ځانگړنـه دا ده، چې اتلان یې نه مري او په خوشحالۍ د بري په سمند سپاره دهیرمند د څپو پر لـور یون کوي. ښکلی او زړه راښکونکی پای د دې حماسې ښکلا لا زیاته کړې ده.

**پایله**

حماسه د یو کس، قوم او ملت د مېړانې ،کارنامو او اتلولیو داستاني بیـان دی. د کک او زرینې حماسه هم د پښـتني سـاکانو د مېړانــې او غـیرت، د ننـگ او هېـواد ژغورنې کیسه راته کـوي. دا یـوه بشـپړه حماسـه ده او د حماسـې هغـه اصـول، چـې ادبپوهانو د یوې حماسې لپاره ټاکلي په دې حماسه پوره تطبیق کېـدای شي. کـه د حماسي سبک په اړه خـبره کـوو؛ نـو دا حماسـه هغـه خصوصـیات هـم لري،چـې یـو حماسي سبک یې باید ولري که د هرې برخې وړه بېلگه هم وړانـدې کـوو؛ نـو تکـرار کوو او تکرار د لوستونکو د ستومانۍ سبب کېږي.

په پای کې وایو چې د کک او زرینې منظومه د لېوال په هنرمندو گوتو لیکل شوې او افغان انسان ته دا ور تزریقوي، چې څنګه د خپلو ملي ارزښتونو ننګه او ساتنه وکړي. د کک او زرینې حماسه دا راته په ډاګه وایي، چې زموږ هېوادوالو د مېلاد څخه مخکې د ملي ارزښتونو د ساتنې او ژغورنې شعور لاره او اوس یې ولې نه لرو!؟ په لنډ ډول وایو چې دا منظومه یوه بشپړه حماسه ده او د هېواد د آب او وقار ژغورنې لوست راکوي. لېوال ته د نورو داسې آثارو د پنځولو دعا کوو.

**مأخذونه**


۱- خوشنوا، عبدالعظیم. تاملي برحماسه های عرفانی. کابل: امیري خپرندوی ټولنه، ۱۳۸۸ل کال.

۲- رشیدي، جمشید. حماسي ادبیات. کابل: نویسا خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵ل کال.

۳- شمیسا، ډاکتر سیروس. انواع ادبی،څلورم چاپ. ایران: میترا خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ل کال.

۴- صاحب ارغند،ذبیح الله. د ګلګمیش افسانه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ل کال.

۵- طغیان ساکایي،محمد یونس. نظم در دری،متون نظم حماسي. کابل: سعید خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ل کال.

٦- لېوال،عبدالغفور. په ادبیاتو کې د اسطورو څېړنه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست. ۱۳۹٦ل کال.

۷- لېوال،عبدالغفور. کک او زرینه. کابل: سروش کتابپلورنځی، ۱۳۹٦ل کال.

۸- هېواد مل، زلمی. حماسه، د ماسترۍ دورې درسي لکچرنوټ. کابل: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه.۲۸- ۴۴ مخونه.

څېړندوی رحیم الله حریفال

# د ژبې د زده کړې حساسه دوره

# The Crucial Stage for Learning a Language

Researcher Rahimullah Hrifaal

## Abstract

Learning a new language has several advantages. These advantages are not limited to social and cultural ones. New studies have proven that the one who understand more than one language, his/her mind process both language simultaneously. Previously, however, it was thought that learning more than one language weakens the mind and it was accounted to be a dangerous. Because, at that time, it was thought that the brain may experience internal conflict while processing two languages at the same time and it would need more energy than usual.

This misunderstanding about multiple language learning made the professionals to advise the family not to allow their children in a multilingual environment.

The reason behind this misunderstanding rooted from the idea where they thought that the mind and brain of children have not developed well and it does not

have the ability to process the information in two or more language, simultaneously.

Fortunately, nowadays it has been proven that learning multiple languages not only does not harm the mind of children and elders but also it accelerates the process for the improvement of the mind.

The crucial stage for learning a language refers to the period where the children completely learn a language without acquiring knowledge from the class or instructors.

**لنډیز**

د یوې نوې ژبې زده کول ګنې ګټې لري. دا ګټې له ټولنیزو او فرهنګي ګټو ور هغې خوا ته قدم ږدي. نوي علمي دلایل د دې خبرې ګواهي ورکوي چې د هغه انسان مغز چې له یوې ژبې څخه پر زیاتو ژبو پوهېږي، په داسې یو حالت کې واقع کېږي چې په هغه کې د دواړو ژبو سیستمونه په ګډه فعالېږي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې نوموړی کس له نورو سره د اړیکو ټینګولو او خبرو کولو اراده وکړي، دغه د دواړو سیستمونو یو ځای فعالېدل پخوا کمزوري، د ضعف او خطر ټکي ګڼل کېدل او داسې تصور کېده چې مغز له یوه داخلي کړکېچ او جنګ سره لاس او ګرېوان دی او د دې لپاره چې تشخیص کړي له کوم سیستم څخه ګټه واخلي، ډېره انرژي مصرفوي.

د دواړو سیستمونو یو ځای فعاله کېدل او خطر د دې لامل شوی و چې متخصصین والدینو ته داسې توصیه وکړي چې تر یو څه مودې پورې ماشومان له هغې فضا او چاپېریال څخه لرې وساتي، چېرته چې څو ژبې ویل کېږي او یا هم د څو مختلفو ژبو ویونکي ژوند کوي.

له دغو کورنیو سره داسې تصور وو چې د ماشوم مغز تر اوسه پورې په کافي اندازه وده نه ده کړې، د دوو ژبو د بوج توانایي نه لري او د دواړو ژبو د سیستمونو تر منځ کړکېچ او نزاع د دې لامل ګرځي چې دواړه ژبې کمزورې او ماشوم خپله مورنۍ ژبه نه شي زده کولای، خو اوس دا خبره برعکس ده. د دواړو سیستمونو یو ځای فعاله

کېدل نه يواځې دا چې د غټانو او ماشومان په زيان نه دي، بلکې د هغـوی لـه ودې سره مرسته کوي.

د ژبې د زده کړې حساسه دوره، هغـې دورې تـه ويـل کېـږي چـې ماشـوم کـولای شي په ډېر سرعت او بشپړه توگه او حتی پرته له ښوونې او زده کړې څخه ژبه زده کړي.

**سريزه**

که څه هم ژبپوهنه يو نوی علم دی، خو بيا هم په نړېواله کچـه د ژبپـوهنې پـه بېلابېلو څانگو کې ډېر علمي کار تر سره شوی دی، خو په پښتو ژبه کې څومره چـې اړتيا ده، هغومره کار نه دی ترسره شوی. د عمومي ژبپوهنې مسايل نومي کتاب کـې راغلي دي: « د نورو ټولنيزو علومو په پرتله پـه معـاصر مفهـوم ژبپوهنـه، پـه ژبپـوهنې پورې تړلي مسايل او د ژبپوهنې د بېلابېلو څانگو په اړه علمي بحثونه او څېړنې ډېره مخينه نه لري؛ خو دا چـې د ژبپـوهنې د علـم موضـوع او تـړاو لـه انسـاني ژبـې او د ټـولنيز ژوندانـه لـه بېلابېلـو اړخونـو سره ډېـرې نـږدې او تلپـاتې اړيکـې لـري، نـو لـه همدغه املـه د نـړۍ د ډېـرو پوهـانو پـام ور واوښـت او پـه اړه يـې خـورا د ارزښـت وړ څېړنې وشوې.(۱: ۱) د ژبې اروا پوهنه او همدارنگه د ژبې د زده کړې حساسه دوره او دې ته ورته د نورو موضوعگانو په اړه په نړيوالـه کچـه ډېـر کـار شـوی دی، خـو پـه پښتو ژبه کې تر اوسه دا او دې ته ورته موضـوعات د ژبپـوهنې پـه برخـه کـې څـومره چې اړتيا ده نه دي څېړل شوي.

که موږ خپلې ټولنې او هېواد ته ځېر شو، موږ دوه رسمي ژبې لرو چې پښـتو او دري دي او د دغو رسمي ژبو د زده کړې لپاره په ښوونځيو کې ټاکلي مضمونونه لرو، خو کله چې پايلو ته گورو متأسفانه په ښوونځيو کې د ژبې زده کړه نه تر سره کېـږي. همدا ښوونځي دي چې زده کوونکي دې ته تياروي، تر څو د لوړو زده کړو په مرحلـه کې د دواړو رسمي ژبو له مخې له ملي فرهنگ سره بلـد شي او همدارنگـه کلـه چـې له پوهنتون څخه فارغېږي په کاري ډگر کې د هېواد له رسمي ژبو څخه گټه واخلي. د رسمي ژبو تر څنگ نه يواځې زموږ په هېواد کې بلکې د نړۍ په نورو هېوادونو کـې هـم د نړيـوالې ژبـې پـه توگـه د انگليسي- ژبـې زده کـړه لازمـي او ضروري ده، خـو د رسمي ژبو په ځېر د انگليسي ژبې زده کړه هم منفي ده. د دې سـتونزې پـه عواملـو بـه د مقالې په نورو برخو کې وغږېږو، په دې او دې ته ورته نورو ژبنيو موضوعاتو بانـدې لـږ کـار

شوی دی، یا هم که په ټولیزه توګه ووایو (د ژبې ارواپوهنه ) لږ څېړل شوې ده او اړوندو موضوعاتو ته یې پوهانو او څېړونکو کمه توجه کړې چې یوه موضوع به یې «د ژبې د زده کړې حساسه مرحله» ده چې په تفصیل سره بحث پرې وشي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

زموږ په ټولنه کې د دې موضوع په اړه تحقیقات او څېړنې لږې شوې دي او داسې تصور هم موجود دی چې په کم عمر کې باید ماشومان له خپلې مورنۍ ژبې پرته نورې ژبې زده نه کړي، ځکه چې د ماشوم مغز لا پوره وده نه ده کړې، نو کله چې زلمی شي، بیا دې د نورو ژبو زده کولو ته پرېښودل شي، خو په دې څېړنه کې به دا په ډاګه شي چې د ژبو د زده کړې د استعداد ځواکمنه مرحله له دوه کلنۍ بیا تر بلوغ پورې ده او په ماشومتوب کې به د ژبو د زده کړې ارزښت او اهمیت لا ښه جوت شي.

## د څېړنې موخه

پر خپلې مورنۍ ژبې سربېره د نورو ژبو زده کړه، په ټوله نړۍ کې ځانګړی ځای او ارزښت لري او د چا چې ډېرې ژبې زده وي، هغومره یې معلومات هم ډېر وي، نو موخه دا ده چې دغه مهمه چاره په خپل وخت کې تر سره شي. که موږ او تاسو دې ته پام وکړو چې د ژبو د زده کړې حساسه مرحله له دوه کلنۍ بیا تر زلمیتوب پورې ده، نو دولت او کورنۍ دې ته ځانګړې پاملرنه وکړي، تر څو له زلمیتوب سره یو ځای زموږ زلمیان د نورو ژبو په زده کړې سره د علم او پوهې نوې نړۍ ته قدم کېږدي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- د ژبې د زده کړې حساسه دوره د عمر کوم وخت دی؟

۲- ماشوم ته د ژبې د زده کړې کوم وخت مناسب او وړ دی؟

۳- په کم عمر کې سربېره په مورنۍ ژبې د نورو ژبو زده کړه ماشوم ته زیان رسوي او که ګټه؟

۴- د ژبې د زده کړې د پیل لپاره باید یوه ځانګړي عمر ته انتظار وکړو؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي ، توضیحي او تحلیلي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د ژبې د زده کړې حساسه دوره

یوه له هغو موضوعگانو څخه چې تر اوسه پورې یې په اړه اختلاف موجود دی، هغه د ژبې د زده کړې حساسه دوره ده چې (critical period) ورته ویل کېږي. د دغې نظریې پر بنسټ د ماشوم لپاره د ژبې د زده کړې دوره له دوه کلنۍ څخه نیولې بیا تر دولس کلنۍ پورې رسېږي، که ماشوم په دغه موده کې ژبه زده نه کړي، وروسته یې نه شي زده کولای.(۲) کله چې موږ د خپل هېواد ښوونیز نظام ته وگورو دغې موضوع ته په سمه توگه پام نه دی شوی. د ژبې زده کړه، د ښوونځي په لومړنیو کلونو کې نه پلې کېږي. دلته که وگورو ماشوم له دوه کلنۍ څخه په کور کې مورنۍ ژبه زده کوي، خو کله چې ښوونځي ته داخلېږي، هلته هم تر شپږو نورو کلونو پورې د دوهمې ژبې د زده کولو استعداد او وړتیا لري، دلته لکه زموږ د هېواد په څېر چې دوې رسمې ژبې لري چې پښتو او دری دي او همدارنگه انگلیسي هم چې د نړیوالې ژبې په توگه د مشترکې ژبې بڼه غوره کړې ده. د یادو ژبو د ښوونې او زده کړې لپاره په نصاب او همدارنگه په ښوونځیو کې توجه شوې نه ده. که له یوه لوري په مورنۍ ژبو زده کړو ته پام نه کېږي، له بلې خوا د دوهمې ژبې چې د هېواد دوه رسمي ژبې پښتو او دري دي هم د زده کولو لپاره یې ستراتېژي او برنامه نشته. ډېر محصلین او ځوانان گورو چې له پوهنتون څخه تر فارغېدو وروسته په پښتو ژبه هېڅ نه پوهېږي او داسې کسان هم شته چې د انگلیسي ژبې زده کړه یې هم په نشت حساب ده. په اوسنۍ نړۍ کې چې د ساینس او ټکنالوژۍ پرمختیا ورځ تر بلې په ډېر سرعت سره پرمخ روانه ده، نو له نورې نړۍ سره د نږدې کېدو او د ادب، سیاست، هنر او په لسگونو نورو برخو کې که غواړو چې پرېمانه زېرمو ته لاسرسی ولرو، د یوې نړیوالې ژبې په توگه د انگلیسي ژبې زده کول مهمه اړتیا ده. « د ماشوم مغز د زېږېدو په وخت کې ډېر ناقص وي، خو په دوو لومړنیو کلونو کې په چټکۍ سره وده کوي. په دغو دوو کلونو کې تقریباً ۳۵۰ ٪ سلنه یې وزن زیاتېږي؛ یعنې څلور نیم برابره کېږي.

په داسې حال کې چې په لسو نورو کلونو کې د دغه وزن زیاتوالی یواځې ۳۵ ٪ سلنه دی. کله چې په دوه کلنۍ کې په ماشوم کې ژبه څرګندېږي. د مغز ٦۰ ٪ سلنه وده او رشد بشپړېږي او کله چې د ژبې د زده کړې دوره پای ته رسېږي یعنې بلوغ ته رسېږي، د مغز وده هم پای ته رسېږي.»( ۳ )

د ژبې د زده کړې د دورې محدودیت کېدای شي د مغز له نورو ځانګړتیاوو سره هم اړیکه ولري. انسان د تې لرونکو حیواناتو په ډله کې یواځې هغه حیوان دی کله چې د مغز په دوو نیمو کرو باندې کارونه تقسیمېږي، په دې معنا چې د هدایت ورکوونکي مرکز ځینې فعالیتونه دکرې په دوه نیمو برخو کې واقع دي.

« ژبه یوه له هغو فعالیتونو څخه ده چې د مغز د کیڼې نیمې کرې له خوا هدایت کېږي او لاربښوونه یې په غاړه ده. په کیڼه نیمه کره کې د ژبې ځای پر ځای کېدل، داسې شی نه دی چې د ماشوم د ژبې د زده کړې له پیل څخه دې موجود وي، بلکې دا تخصصي چاره په تدریجي بڼه وروسته حاصلېږي. » ( ۴ )

په ماشومتوب کې دا جوړښتونه ډېر انعطاف منونکي وي، داسې چې کولای شي ببلابېلې دندې تر سره کړي. له همدې امله کله چې د مغز نیمې کیڼې کرې ته زیان رسېږي او ژبه له اختلال سره مخامخ کېږي، ښۍ نیمه کره مرستې ته راځي او د زیانمنو جوړښتونو کار پرمخ بیایي او جبرانوي یې، تر یو څه وخت وروسته بېرته عادي حالت ته ګرځي. خو دا انعطاف په تدریجي بڼه له منځه ځي او د ژبې د لاربښوونې مرکز بېرته کیڼې نیمې کرې ته پرېښودل کېږي، تر څو چې د بلوغ تر مرحلې پورې وروستي حد ته رسېږي. د لنه برګ او ځینې نورو څېړونکو په نظر د مغز انعطاف کول او په یو لوري کې د ژبې د کنټرول بشپړېدل، یو بل هغه لامل دی چې د ژبې د زده کړې برېدونه تر بلوغ پورې محدودوي.

دلته کولای شو چې یوه مهمه پوښتنه مطرح کړو: آیا تر اوسه پورې داسې کومه پېښه لیدل شوې چې یوه انسان د ژبې د زده کړې د دورې تر پوره کېدلو وروسته د ژبې د زده کولو امکان له لاسه ورکړی وي؟ دا خو څرګنده ده چې په قصدي توګه نه شو کولای چې دا ډول ازمایښتونه په انسان وشي او که د دغې پوښتنې لپاره ځواب موجود وي، نو هغه باید د هغو ماشومانو په برخه کې مطالعه

کړو چې له ټولنې څخه لرې پاتې شوي دي، نو بیا ځواب مونډلی شو، دلته یوې پېښې ته اشاره کوو چې د هغې راپورونه مستند او حقیقي دي.

« په ۱۹۷۰ ز کال کې ټولنیزو مرسته کوونکو د لاس اینجلس په ښار کې یوه ځوانه نجلۍ وموندله چې اوس د «جیني» په نامه مشهوره ده. په هماغه وخت کې دا نجلۍ دیارلس کلنه وه. مور او پلار یې تر دغه مهاله پورې نوموړې په انزوا او ګوښې ځای کې لویه کړې وه، یعنې پرته له دې چې له دوی او یا له نورو سره تماس او اړیکې ولرې. یواځې دومره خواړه یې ورکول چې مړه نه شي او ژوندۍ پاتې شي.

اروا پوهانو او ژبپوهانو په ډېرې علاقې سره هغه تر مراقبت او پالنې لاندې ونیوله او د هغې د ژبې وده یې تر دقیق نظر لاندې وه. جیني د ژبې د زده کړې په پیل کې په ډېرې چټکۍ سره پرمختګ وکړ او له هماغه پړاو څخه تېره شوه چې یو ماشوم په عادي عمر کې د ژبې په زده کړه کې له هغه څخه تېرېږي.» ( ۵ )

د جیني د ژبې د زده کړې پرمختګ په پیل کې داسې ښکارېده چې د ژبې د زده کړې د حساسې دورې فرضیه یې باطله کړه، خو ډېر ژر حالاتو بدلون وکړ او د ژبې د زده کړې په برخه کې د جیني پرمختګ ودرېده.

که څه هم د ژبې د کلمو په حفظ او یادولو کې  د جیني حافظه ښه وه او عقلي وده یې د رضایت وړ وه، خو د ژبې د نحوې د زده کړې په برخه کې چې په واقعیت کې د ژبې خلاقیت ور څخه منشأ اخلي، ډېره لږ وه، تر دې حده پورې چې له ساده ترکیبونو پرته یې د ژبې د جملو د جوړولو توان او ځواک  نه درلود. د ژبې د زده کړې د حساسې دورې پلویان په دې عقیده دي چې د جیني پېښه له شک پرته د هغوی فرضیه تاییدوي. د هغوی په نظر د ټولې ژبې د زده کړې په ډګر کې د جیني ماتې، د جدي مراقبت او پالنې تر څنګ له دې امله وه چې په حساسه دوره کې یې ژبه نه وه زده کړې.

وروستنۍ څېړنې ښیي چې د دوو ژبو فعاله کېدل په مغز کې د ژبني تحلیل اړونده برخه لکه د بدن د نورو غړو په څېر چې  ورځ تر بلې د زیات وزن د پورته کولو په حال کې ده، ځواکمنه کېږي، کوم کسان چې د څو ژبو په ویلو حاکم دي او د ورځې په جریان کې اړ کېږي چې څو ځله ژبه بدله کړي او د چټک بدلون په پایله کې سیستمونه خپله چټکتیا او تیزوالی ښکاره کوي.

داسې امکان لري چې نوموړی کس څو شېبې له خپل ورور سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي او څه وخت وروسته له خپل همکار سره په بله ژبه وغږېږي. د یوې بلې څېړنې پر اساس کوم کسان چې په ژبو حاکم دي، کولای شي په ډېره چټکۍ سره له یوه فعالیت څخه بل فعالیت ته خپل تمرکز ته تغییر وکړي.

ماشومان له زېږېدو څخه بیا د بلوغ تر عمره پورې له یوه نه تکرارېدونکي امتیاز څخه برخمن دي. نو د دې پر اساس والدینو ته په کار ده چې خپل ماشومان د ژبو زده کړې ته و هڅوي، د هغوی ملاتړ وکړي او هېڅکله یې هم مخه ونه نیسي، ځکه چې دا کار د دوی او د دوی د ماشومانو په ګټه نه دی.

**پایله**

په حقیقت کې د زلمیتوب او نوې ځوانۍ په دوران کې د ژبې د زده کولو وخت نور تېر شوی دی. څوک چې له بلوغ څخه وروسته د ژبې زده کولو ته مخه کوي، تل د ژبو له یو ځای کېدو او ګډېدو سره مخامخ وي، ځکه چې دوه ژبې د یادولو په نا مناسب وخت کې زده شوې دي. دا تداخل زیاتره له لومړۍ ژبې څخه د دوهمې ژبې لوري ته وي. ډېر کله موږ او تاسو وینو کله چې یو چا تر ماشومتوب وروسته په لوی عمر کې دوه نورې ژبې زده کړې وي، کومه ژبه چې یې لومړۍ زده کړې وي او بیا یې ورپسې بله دوهمه ژبه زده کړې وي، کوم وخت چې غواړي په دوهمه ژبه خبرې وکړي، د لومړۍ ژبې لغتونو او کلمې په کې داخلوي او یا هم که چا له مورنۍ ژبې پرته له نوې ځوانۍ وروسته دویمه ژبه زده کړې وي، بیا نو ډېر ځله د خپلې مورنۍ ژبې کلمې په کې ګډوي او ترینه ویل کېږي. د ساري په توګه زما یو ملګری و چې د مورنۍ ژبې تر څنګ یې دري هم زده وه، خو د انګلیسي ژبې له څه نا څه زده کړې وروسته یې د روسي ژبې د زده کړې هڅه وکړه، کله چې د ماسترۍ په دوره کې د انګلیسي ژبې تقریري آزموینې ته وغوښتل شو، د ده له ارادې پرته د نوموړي په انګلیسي- خبرو کې څو روسي کلمې ور داخلې شوې چې دا کار د انګلیسي د استاد خوښ نه شو او حتی د نوموړي نومرې یې هم کمې کړې، له دې څخه دې پایلې ته رسېږو چې په نا مناسب وخت کې د څو ژبو زده کول همدا او دې ته ورته ستونزې زېږوي.

اوس که د دغې فرضيې په اساس د ښوونې او روزنې په رسمي سيستم کې د بهرنۍ ژبې زده کړې او تدريس ته پام وکړو، متوجه کېږو چې په هېواد کې د عمر د کچې عامل د ژبې د زده کړې په برخه کې په پام کې نه دی نيول شوی. د بهرنۍ ژبې زده کړه بلوغ ته په نږدې وخت کې پيل کېږي چې په دې وخت کې د ژبې د زده کولو توانايي او ځواک مخ په کمېدو دی. البته په زياترو خصوصي ښوونځيو کې بيا دې خبرې ته پام اوښتی دی او له لومړي ټولگي څخه يې بهرنۍ ژبه په نصابونو کې شامله کړې ده. دلته د بهرنۍ ژبې تر څنگ په پښتون مېشتو سيمو کې که د هېواد دويمې رسمي ژبې دري ته په سمه توگه پام وشي او په تاجک مېشتو يا هغو سيمو کې چې وگړي يې په دري ژبه خبرې کوي او همدارنگه د نورو قومونو په سيمو کې بلې رسمي او ملي ژبې پښتو ته پام وشي، نو د ستونزو کچه به راټيټه شي او پر وخت به مو خپل مسؤوليت تر سره کړی وي.

موږ چې اوس مهال له کوم مشکل سره هم مخامخ يوو هغه دا چې په لومړنۍ دوره کې نه د بهرنۍ ژبې زده کړې او ښوونې ته پام کېږي او نه هم په ځانگړې توگه د رسمي ژبې په توگه پښتو ژبې ته سم پام شوی دی. همدا لامل دی چې يو کس له ښوونځي څه، کله چې له پوهنتون څخه فارغېږي، د پښتو ژبې زده کړه خو څه چې له ډېرو مشهورو او عامو کلمو سره يې هم آشنايي نه لري. کله چې په پوهنتون کې محصل وم، د يوه بل پوهنځي محصل د پښتو ژبې د زده کړې غوښتنه وکړه او ما هم ورسره د پښتو ژبې تدريس پيل کړ، حتی د سپرلي او منې يا خزان په معنا نه پوهېده. په داسې حال کې چې له ښوونځي څخه فارغ شوی و او اوسمهال د پوهنتون محصل و، نو د ژبې حساسې دورې ته بايد د پوهنې وزارت، مور و پلار او مشران پام وکړي او هڅه وکړي چې په هماغه حساس وخت کې خپلو ماشومانو ته د خپلو رسمي ژبو تر څنگ يوه بهرنۍ او نړيواله ژبه چې انگليسي ده او يا د يونسکو له ژبو څخه يوه بله مهمه ژبه هم ور زده کړي او په دې توگه يې د علم او پوهې له سترې نړۍ سره آشنا کړي.

## مأخذونه

١ ــ لـودين، دولـت محمـد. د عمـومي ژبپـوهنې مسـايل: جـلال آبـاد، ختـيځ خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۵ ل کال.

۲ ــ دوره حسـاس زبـان آمـوزی، د خپرېـدو نېټـه: غـويی/۲/۱۳۹۰ ل کـال، لاسرســـــــــــــی: [مراجعـــــــــــــه: ۲۰/ چنگـــــــــــــاښ/ ۱۳۹۸ ل کال].https://sychology.persianblog.ir

۳ ـ پورتنی مأخذ.

۴ ـ پورتنی مأخذ.

۵ ــ روان شناسـی ــ زبـان آمـوزی، د خپرېـدو نېټـه: میـزان/۲۳/۱۳۸۴ ل کـال، لاسرسـی: [ مراجعـه: ۲۹/ زمـری/ ۱۳۹۸ ل کـال] http://zabanamozi.blogfa.com

پوهنیار فیض محمد ځلاند

# په افغانستان کې د قبیلې او دولت
# په جوړښت کې د خان کردار

# The Role of Khan in The Development of State and Tribe in Afghanistan

**Faiz Muhammad Zaland**

## Abstract

During the last half of the century, numerous qualitative changes have taken place in the socio-economic structure of the Pashtun Tribes living in the Southeast Afghanistan due to forced or labor influenced migration, civil war, urbanization and modernity. The present study analyzes certain underlying principles, such as modernizations, and the role these principles play in the complex relationship among tribes, states and Khan ship in southeast Afghanistan. In exploring this interaction, this study further attempt to find out whether the modern day khan feel a sense of obligation to the tribe, or is he acting as an agent for the state. Moreover, the study will further examine the role of the Khan; specifically, the Khan 's ever changing relationship with both the state and the tribe.

## لنډيز

په تېره نيمه پيړۍ کې د پښتنو، په ځانګړي توګه د افغانستان په سويل ختيځ کې په پښتنو قبيلو کې، په ټولنيز ـ اقتصادي جوړښت کې ګڼ د پام وړ ( کيفي) بدلونونه رامنځته شوي دي؛ تر ډېره بريده دا بدلونونه د کار په پار د کډوالۍ له امله، د کورنيو جګړو، د ټولنيزو پرمختګونو او د مدرنيزه کېدو د پروسې له امله رامنځته شوي دي.

دا څېړنه د ځانګړو لاملونو د شننې، لکه د مدرنيزم کيدو د پروسې د اغېزو او ددې لاملونو د کردارونو چې د قبيلې، دولت او خان په جوړښتونو کې کوم اغېز درلود، وړاندې کوي. ددې تر څنګ په دې څېړنه کې په دې هم خبرې شوي چې ايا اوس هم خان د قبيلې په وړاندې ځان مسئول ګڼي او يا دا چې خان اوس د دولت د يو ايجنټ (استازي) په توګه دنده ترسره کوي. له دې ور هاخوا، دا څېړنه به د خان په کردار نورې څېړنې هم را غبرګې کړي، لکه د قبيلې او دولت ترمنځ د بدلون منوونکی کردار.

## سريزه

خان هغه کس ته ويل کېږي کوم چې د قبيلې او دولت ترمنځ اړيکې غوټه کوي. خان د قبيلې د غړو خدمت کوي او کله چې ورته اړتيا وليدلی شي، د دولت يا نورو قبيلو په وړاندې د قبيلې استازيتوب کوي،( Anderson,1983)، له دې امله، په جرګو کې د قبيلې تر ټولو فعال غړی، خان وي. خان د پښتونولۍ د جوړښت اساسي لوبغاړی دی، کوم چې د جرګې په پرېکړو په رامنځته کېدو کې مهم کردار لوبوي. جرګه د استازيتوب، سنتي قانون جوړونې، د شخړو د منځګړتوب او حل تر څنګ د قبيلو د بېروني اړيکو د تأمين جوړښت دی.

په دې څېړنه کې د خان کردار د افغانستان په سويل ختيځو ولايتونو او قبيلو کې تر مطالعې لاندې نيولی شوی دی، خان په سنتي سياسي معاملو کې تر ټولو مهم کردار بللی کېږي. د هغه کردار د جرګې تر څنګ د پښتونولۍ د اصلي توکو د عملي کېدا په برخه کې ډېر غوښن او پياوړی دی. له دې امله، په دې څېړنه کې د خان د همدې کردار تر څنګ د هغه د کردار د مشروعيت په اړه بحث شوی دی. دا

رنګه د وروستیو پرمختګونو او بدلونونو په اړه کې د خان د بدلېدونکي کردار په اړه هم بحث شوی چې څنګه د قبیلې او دولت ترمنځ د منځګړي کردار لوبوي.

د افغانستان په سویل ختیځ کې قبیلې تر ډېره په ځانګړې جغرافیه کې پرتې دي، یواځې مسود او وزیر قبیبې د ډیورند کرښې په واسطه وېشل شوي، نورې ګڼې قبیلې د افغانستان د مرکزي حکومت تر چتر لاندې خپل ژوند په مخ وړي. د پښتنو قبایلو ترمنځ مشترکات زیات دي، ټول یې د ځانګړې پاملرنې له مخې رامنځته شوي، دوی په خیلونو وېشلي شوي دي، کوم چې د دوی ټولنیزو جوړښتونو په رامنځته کولو کې مرسته کوي.( Tapper,1983)

خان قبیلې او دولت دواړو ته دندې ترسره کوي، دواړو ته د مسئول کس په توګه یادېږي. په تاریخي لحاظ، خان به د دولت له پاره له قبیلو مالیات را ټولول او د قبیلو داخلي نظم به یې ساته (Tapper, 1983)، هغه په اصل کې د دولت او قبیلې تر منځ غوټه ترلې ساتي، لکه څنګه چې جان اندرسن (۱۹۷۸) کې ترې یادونه کړې ده. خان کېدای شي د قبیلې په وړاندې منفي کردار ولوبوي او د دولت همکار پاتې شي او یا هم کېدای شي د خادم په توګه له دولت سره د واک په غځولو کې مرسته وکړي او یا د رقیب یا سیال په توګه د دولت په وړاندې ودرېږي. (Robin, 2002)

## د څېړنې میتود

د دې مقالې په لیکلو کې د کتابخانې تحقیق د میتود له مخې معلومات را ټول شوي، تر ډېره برېده کوښښ شوی چې ټول اړوند اسناد، کتابونه، لیکنې چې د اړوندې موضوع په اړه لیکل شوي دي، را ټول شوي، تحلیل شوي او بیا یې تحلیل او ارزونه وړاندې شوې ده. د معلوماتو له را ټولېدو وروسته د تحلیلي میتود (Analytical Research) څخه په ګټې اخیستنې، د اړونده معلوماتو څېړنه وړاندې شوې ده. د تحلیلي موادو په را ټولېدو کې له لاندې درېیو لارو څخه ګټه پورته شوې ده:

د مرکو په بنه د اړونده موادو د را ټولېدا کوښښ چې په دې برخه کې په کور دننه له قبیلوي مشرانو، د قبایلو د وزارت له اړونده جوړښتونو او ورو کارکوونکو څخه په منظمه توګه د معلوماتو د را ټولولو کوښښ شوی دی. دا رنګه د علومو اکاډمۍ له پیاوړو محققینو څخه پوښتنې شوي، د قبیلې، رهبرۍ او دولت جوړونې له څېړونکو او پوهانو سره مرکې ترسره شوي دي.

په دویمه برخه کې د شته معلوماتو ارزونه شوې چې پخوا د ګڼو پوهانو په واسطه د مقالو، کتابونو او تحلیلي لیکنو په توګه خپرې شوې دي.

دریېمه برخه یې د هغو کاري تجربو نچوړ دی چې ما خپله د تېرو کلنو په اوږدو کې د قبیلوي جوړښتونو سره د ګډ کار یا تماس په برخه کې ترلاسه کړي دي. دا چې د ګران وطن په ګڼو سیمو، لکه سویل ختیځ کې لا هم قبیلوي جوړښتونو موجود دي او خپل اغېز د حکومتونو په ادلون او بدلون کې پالي، د همدې جوړښتونو په مطالعه پورې مختصر شوي دي.

په اخر کې باید یادونه وکړم چې دا تحقیقاتي مقاله ما د کونریډ شیټر چې د بون، المان پوهنتون کې استاذ او ستر څېړونکی دی، د هغه په لارښوونه ترسره کړې ده، د هغوی نظریات او لارښوونه هم د دې تحقیقاتي مقالې په رامنځته کولو کې مرسته کړې ده.

اساسي اصطلاحات: خان، فبیلوي مشرتوب، قبیلوي جوړښت، پرمختګ، انکشاف، دولت، افغانستان

## د څېړنې مخینه

تر ډېره په دې برخه کې تحقیق او څېړنې د لویدیځ میشتو پوهانو لخوا ترسره شوې دي، چې ریچارډ ټپر(۱۹۸۳)، هیګر روګر(۱۹۸۳)، ډیوډ هارت (۲۰۰۱)، خور او کوسیټیر (۱۹۹۰)، برنټ روبین (۲۰۰۱)، بارفیلډ (۱۹۹۰) او جان اندرسن (۱۹۷۳) کتابونه او مقالې لیکلي دي، دوی ټول په یوه خوله د خان د کردار او د قبیلوي جوړښتونو او دولت ترمنځ په توپیرونو تحقیقات کړي دي. دا رنګه د دوی له څېړنو داسې ثابتېږي چې خان د قبیلوي جوړښتونو تر څنګ په دولتي جوړښتونو کې هم له ډېره پخوا اغیزناک کردار لوبولی دی او لا هم په ګڼو سیمو کې ډېر اغېزناک پاتې دي چې په نورو کې د مدرنو اصلاحاتو او پرمختګونو تر اغېز لاندې یې د خان په کردار کې بدلون راغلی دی. که کوم دولت وغواړي چې ورته بدلونونو ته لاره هواره کړي، نو دا بدلونونه ډېر وخت او منظمو اصلاحاتو ته اړتیا لري تر څو د سنتي رهبرۍ ځای مدرنه انتخابي مشرتابه ونیسي. د سنتي اداري جوړښتونو، قوانینو او دودونو ځای منظم پرمختللي قوانین یې ځایناستی شي. د همدې اړتیا له مخې، په پښتو ژبه

کې دا لومړنۍ مقاله ده چې د پورته ذکر شویو پوهانو د څېړنو، کتابونو او مقالو په مطالعې او تحلیل سره دا مقاله قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

## دولت د قبیلې په وړاندې

لکه څنګه چې له سریزې معلومېږي چې قبیلې ټولنیز جوړښتونه دي، کوم چې ګډې سیاسي موخې او اقتصادي ګټې پالي، حال دا چې دولت د قدرت انحصار رامنځته کوي، دولت په ټاکلې جغرافیه کې، په ځانګړي نفوس (ټولنې یا ملت) د واک د چلولو جوړښت ته ویل کېږي، خو قبیله بیا په ځانګړې ټولنې، د هغوی په افرادو د ځانګړو دودونو او قوانینو د عملي کولو له لارې دوام پیدا کوي.

دولت مشروع صلاحیتونو لرونکی وي، چېرته چې د واک استعمال او ساتنه دواړه په منظمه توګه ترسره کېږي، له همدې لارې دولت خپل مشروعیت ساتي او په هېوادونو کې خپل دوام ته لاره هواروي.(Banuazizi & Weiner, 1986)

دولتونه په ځانګړې جغرافیه کې شتون پیدا کوي، چېرته چې په انحصاري توګه خپل واک عملي کوي. (Banuazizi & Weiner, 1986) دولت، لکه څنګه چې د ریچرډ کوهن له لوري تعریف شوی چې یو سیاسي صلاحیت دی، کوم چې په منظمه توګه د ځانګړې سلسله مراتبو په اساس د کورني وېش مخه نیسي، شخړې حلوي تر څو له دې لارې د نسلونو، نسلونو لپاره خپل شتون وساتي. (Newell, 1986)

دولت د ټولنې مترادف نه دی، ځکه ټولنه کېدای شي د نورو هېوادونو لخوا د سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره ګمارل کېدای شي، د سیاسي رهبرانو لخوا کېدای شي د نورو د ګټو لپاره ترې استفاده وشي؛ دا ټول د دولت تشکیلاتي جوړښتونه نه لري، نه یې هم صلاحیتونه خپلولی شي(Newell, 1986) . بلاخره بلنټ شیلي وایي چې  د خلکو شمېر په کې را ټول شوی وي، اوسیدونکي یې ټول یوې خاورې ته منسوب وي، د خلکو ترمنځ د ملتوالي تومنه موجوده وي؛ دا رنګه دولت د طبیعت زیږنده نه ده او نه هم کوم طبعي موجود دی.(Bluntschli, 2000)

دا روښانه ده چې د دولت او قبیلې ترمنځ توپیر د واک په وېش کې ښه رابرسیره کېږي، دا رنګه د دوی په حقوقي جوړښت کې ښه مطالعه کېدای شي، لکه څنګه چې هیګر (۱۹۸۳) ورته اشاره کوي، په دولت کې واک د حکومت تر انحصار لاندې وي، خو په قبیلو کې، په ځانګړې توګه په پښتنې قبیلو کې واک د قبیلې د

مشرانو ترمنځ وېشلی وي او د قبیلې د خپلونو ترمنځ په مختلفو پوړونو کې وېشلی پاتې کېږي.(Rogar, 1983) ؛ دویم دا چې په دولت کې د مراتبو سلسله عمودي وي، د واک قانوني وېش په کې په عمودي توګه خور شوی وي، کوم چې په ځانګړې، ټاکلې جغرافیه کې محدودېږي؛ ولې د قبیلو د واک دوېش جوړښت افقي وي، په حقوقي لحاظ د قبیلې ټول غړي برابر واکونه لري او یو ډول پېژندګلو سره شریکوي. له دې ور هاخوا، په دولت کې د قانون د پلي کولو واک امرانه وي، صلاحیتونه په کې په عمودي توګه وېشل شوي وي، په مشروع ډول په کې تشکیلات رامنځته شوي وي چې دواک ځانګړی وېش، د اداري جوړښتونو رسمي پېژندګلو او د واکونو محدودیتونه په کې روښانه وي؛ د محکمو واکونه په کې پراخ او ځانګړې وي، قضایي او اداري وېش په کې ټاکوونکی وي، ولې په قبیله کې د واک وېش د هر کس په وړتیا پورې تړلی وي او د قبیلې ارزښتونه کېدای شي د هر شخص تر قدرت او توان پورې پراخ یا محدود وي.

په حقیقت کې، دولت او قبیله کېدای شي، د دوه مختلفو یا مخالفو جوړښتونو په توګه وپېژنو، کوم چې یو سیستم رامنځته کوي. د واک د وېش، د توان د لرلو وړتیا په قبیله کې د یو کس د نسب او پلرني وړتیا او توان پورې اړه لري، ولې په دولت کې حکم دا دی چې هر کس باید دولت نورمونو، قوانینو ته پابند پاتې شي، دولت شخصي نه دی، بلکې په صلاحیتونو، مسئولیتونو او لاسته راوړنو اتکا کوي. قبیله په ټولنیزه توګه برابره وي، واکونو او پېژندګلو په کې برابره وېشل کېږي، دولت غیري متجانس وي، د مراتبو د سلسلې له مخې په کې وېش رامنځته کېږي، واکونه په کې په عمودي بڼه ټاکل کېږي. قبیله په د قبیلې په هر غړي پورې مربوط وي، ولې دولت د انسان له وجوده بېرون جوړښت دی.(Rubin, 2002)

قبیلې دولت ته د مخالف سیاسي جوړښت په سترګه ګوري، ځکه دولتونه د قبیلو د واک انحصار له منځه وړي. په حقیقت کې دولتونه له داسې خلکو سره چې واکدار وي او مشروع واک ورسره نه وي، ستونزه لري؛ له اوږد مهاله جوړښتونو سره هم دولتونه ستونزه لري چې د واک اختیار ځان سره ساتي. (Whitehead, 1992) & Ferguson)

له دې امله، دولتونه له قبیلو سره د ځمکې، خلکو او د ټولنیزو سرحدونو په واکدارۍ کې رقابت کوي، دوی یو د بل د نفي کولو کوښښ کوي. د دې لپاره چې

دولت د قبیلې د واکدارۍ ستونزه حل کړي، دولت په قبیلو کې خپل استازي، ملګري مشران پیدا کوي، هغوی ګماري، هغوی ته منصبونه ورکوي، همدا رنګه د اړتیا په وخت کې ورته وسلې او پیسې ورکوي. (Whitehead, 1992) & Ferguson)

قبیلې د دولتي ادرسونو سره په توپیري توګه چلند کوي، دوی کېدای شي د دې ادرسونو خلاف مقاومت وکړي، کېدای شي مرسته او همکاري ورسره وکړي، امکان لري جګړه ورسره وکړي، دا درې واړه اختیارونه د ځانګړو حالاتو پایله بللی شو، کوم چې کېدای شي د قبیلې د مشرتابه د بدلون یا هم د موجوده مشرتابه د پیاوړتیا سبب شي، کوم چې کېدای شي مقاومت وکړي یا د دولت د پراخۍ له پروسې سره مرسته وکړي.

له دې امله، هغه جګړې چې دولتونه یې د خپل واک د غځېدا او پراخۍ لپاره ترسره کوي، درې بېلې ځانته اختیار کړي: هغه جګړې چې د کورنیو کسانو په واسطه په مخ وړل کېږي؛ دویمه جګړه کومه چې د دولت په خلاف د بغاوت د خاموشه کولو لپاره ترسره کېږي، دا جګړه چې د کورنیو کسانو په واسطه په مخ وړل کېږي مګر مشري یې د دولتي ( نظامي) جوړښتونو په غاړه وي؛ درېیمه جګړه، کېدای شي دا جګړه د کورنیو کسانو ترمنځ، په خپل منځ کې واقع شي. په حقیقت کې، د پورته جګړو مثالونه په تاریخ کې ډېر تر سترګو کېږي، په اروپا کې ورته جګړې شوې دي، کوم چې د میشتو قبیلو خلاف د وخت د دولتونو لخوا ترسره شوې دي یا هم د برازیل د ځنګلونو جګړې هم ورته تاریخ لري. (Ferguson & Whitehead, 1992 )

قبیلې یواځې هغه وخت خپل ژوند خوندي کولی شي چې له دولت سره خپل سرحد او توپیر وساتي، دوی د واک په سر له حکومت سره ځکه رقابت ته کېوزي، یا دا چې دوی باید د کنفیدریشونو په جوړولو سره د دولتونو په خوا کې ژوند وکړي.(Barfield, 1990)

قبیلې عموماً د ناروغیو په خوربدو، اقلیمي بدلونونو او د تکنالوژۍ په پرمختګ سره بدلون مومي او له دولت سره په مستقیم تماس هم ځان کې بدلون راولي، چې دا تماس په امریکا کې د قبیلې او حکومت ترمنځ په لومړي ځل محسوس شو. دا بدلونونه قبیلې مجبوروي چې له دولت سره تماس کې شي، همدا تماس دوی د دولت غوښتنو منلو ته اړ کولی هم شي. (Whitehead, 1992) & Ferguson)

ټېپر (۱۹۸۳) وايي چې قبيلې واحد جوړښتونه دي چې هر کس په کې غړيتوب د پلرني ارثيت پر اساس تر لاسه کوي، د دې جوړښتونو ټولنيز توليد د قبيلې له داخلي اړيکو څخه را منځته کېږي. دولتونه په قبيلوي، توکميزو جوړښتونو د بر لاسي له لارې رامنځته کېږي، له دې لارې د دوی ولسونه او ځمکې تر خپلې ولکې لاندې راولي.

د پايلې په توګه، د قبيلو اړيکې د هرې قبيلې په ډول او شتون پورې اړه لري، لکه څنګه چې ((Barfield, 1990)) د ترکانو، مغلو ترمنځ قبيلوي اړيکې څېړلي دي، کومو چې له خپلو ګاونډيانو سره سمه اړيکه نه ساتله، بلکې د هغوی د نيولو او زبېښلو پلانونه يې په مخ وړل. عربي قبايلو له خپلو ګاونډيو سره ښې اړيکې پاللې دي، ځکه دوی پخپل ګاونډ کې ورته کلتور او فرهنګ لري.

## پايله

په تاريخي لحاظ د قبيلو شتون د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې محسوس دی؛ قبيلو ګڼې پراخې سيمې لاندې کړې او په ګڼو سيمو کې يې دولتونه رامنځته کړي دي. قبيلوي رهبري ( خان، ملک، قومي مشران) او جوړښتونه د دولتونو په پرمختللي شتون باور نه لري، ځکه قبيلوي جوړښتونو کې د مشرتابه شتون د ارثيت، کورنۍ، د نرواکۍ پر بنسټ رامنځته کېږي، (Brath, 1959) چې دا په خپله د ځوانانو د پياوړتيا، د جنسيتي برابرۍ، د ټولنې د ګډون او مشارکت په وړاندې خنډ ګڼلی کېږي، ځکه خو د خان او د قبيلوي جوړښتونو شتون د نړۍ په پرمختللي هېوادونو کې له نيشت سره برابر دي.

دولتونه هم لکه قبيلې د انساني تاريخ د لس زره کلن شاليد ترشا جوړښتونه دي چې په لومړيو سر کې د کرنيزو پرمختګونو لپاره زراعتي ټولنې رامنځته شوې، تر څو له دې لارې انسانان خپله هوساينه او بقاء خوندي کړي. ( Fukuyama, ۲۰۰٤) له دې امله د دولت او قبيلې پرتليزه مطالعه د سياسي علومو او ټولنيزو علومو لپاره اساسي موضوعات ګڼلی کېږي چې له مخې يې د مدرنو پرمختګونو شاليد ته په کې رجوع کېږي او د راتلونکو اړينو بدلونو رامنځته کېدو ته په کې لار هوارېږي. په افغانستان کې هم، لکه په نوره نړۍ کې د قبيلوي جوړښتونو او رهبرۍ شتون د حکومتولۍ د اوږدې مخينې په وړاندې وخت، ناوخته خنډونه او ستونزې را پارولې دي. د يويشتمې پېړۍ د چټک پرمختګ او يون سره، په افغانستان کې ګڼو

اصلاحاتي ستراتیژیو ته اړتیا لیدلی کېږي، تر څو یې له مخې د قبیلوي جوړښتونو پر ځای د ولسواکو پرمختللو ټولنیزو جوړښتونو، لکه د سیاسي گوندونو، مدني ټولنو، اصنافو په رامنځته کولو سره د افغانستان ستونزو حل ته لار هواره شي.

د افغانستان په گڼو سیمو کې د خان، ملک، قومي مشر کردار لا هم محسوس او غوښن دی، لکه په سویل، سویل ختیځ ولایتونو کې د قبیلوي جوړښتونو شتون، په تېرو دوه لسیزو کې سره له دې چې د انارشۍ، بدې حکومتولۍ، جگړې په شتون کې د ولسي گټو د خوندیتوب، د افغاني ارزښتونو د پالنې اصلي بنسټونه گڼلی کېږي، خو د دې تر څنگ کله چې موږ د پرمختللي افغانستان بحث کوو، په افغانستان کې د پراخ بنسټیز دولت او مشارکت تابیا نیسو، نو لازمه ده چې د دې میراثي رهبرۍ، قومي جوړښتونو پر ځای باید منتخبه رهبري، دولتي مشروع جوړښتونه پیاوړي شي، تر څو موږ وکولی شو، په ټول هېواد کې د پیاوړي دولت لرونکي شو. د خان کردار کېدای شي په دې سیمه کې د راتلونکو گڼو کلنو پورې پیاوړی پاتې شي، خو کله د افغانستان مرکزي حکومت په اداري اصلاحاتو کې بریالی شو، لرې نه ده چې د قومي رهبرۍ او جوړښتونو ځای منتخب جوړښتونه (د ولسوالۍ شوراگانې، ولایتي شورا گانې، ملي شورا) یې ځایناستي شي چې په دې توگه به موږ په ځینو حالاتو کې د خان شتون د دولت د سیال جوړښت په توگه له مخې لرې کړی وی، خو دا لاسته راوړنه به کلنو ونیسي.

## مأخذونه


١. Anderson, J. (1973). Tribe and Community among the Ghilzai Pashtun. North Carolina: University of North Carolina.

٢. Anderson, J. (1978). There are no Khans anymore. Middle East Journal, 167-183.

٣. Anderson, J. (1983). Khan and Khel: Dialectics of Pakhtun Tribalism. St.Martin's Press, 119-149.

۴. Banuazizi, & Weiner. (1986). The State, Religion and Ethnic Politics. New York: Syracuse University Press.

۵. Barfield. (1990). Tribe and State Relations: The Inner Asian Perspective. The Middle East, 153-182.

٦. Bluntschli. (2000). The Theory of The State. Kitchener: Batoche Books.

۷. Brath, F. (1959). Political Leadership Among Swat Pathans. London: The Athlone Press.

۸. Ferguson, & Whitehead. (1992). The Violent Edge of Empire. New Mexico: School of American Research Press.

۹. Fukuyama, F. (2004). State Building: Governance and World Order in The Tweenty First Century. London: Profile Book.

۱۰. Hart, D. (2001). Qabila: Tribal Profiles and Tribe-State Relations in Mororoco and On The Afghanistan -Pakistan Frontier. Amsterdam: Het Spinhuis.

۱۱. Newell. (1986). The Prospects for State Building in Afghanistan. Syracuse University Press (pp. 104-124). New York: Syracuse University Press.

۱۲. P, K., & J, K. (1990). Tribes and State Formation In The Middle East. California: University of California.

۱۳. Rogar, H. (1983). Political Organization of Pashtun Nomads and the State. St Martin's Press (pp. 83-118). New York: St Martin's Press.

۱۴. Rubin, B. (2002). The Fragmentation of Afghanistan. New Haven: Yale University Press.

۱۵. Schetter, C. (2007). …… But There Are Khans: Tribal Structures and Social Networking in Paktia. Bonn.

د څېړنوال عبدالقیوم مشوانی دا لیکنه د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفیع لپاره د مکلفیت کنفرانس دی چې په ۱۳۹۷ لمریز کال وړاندې شوی دی.

څېړنوال عبدالقیوم مشوانی

# دېګاني یا وټه پوري ژبه

# Degani or Wata-Puri language

**Research Fellow Abdul Qayum mashwani**


## Abstract

The Degani or Wata-Puri language is the central Dardic languages which is related to this language. This language had been spoken in the Pech Dara (Pech Valley), Watapor District of Kunar Province of Afghanistan, but now only few people among all resident of Kattar and Gamber Valley of Wata-Por District of Kunar province understand this language, it is now at the state of being expunged.

Since in the classification of languages the name of this language has also been listed and there is not enough information about it. Therefore, this paper attempts to shed light about the structure and nature of this language.

**لنډیز**

دېګاني یا وټه پوري ژبه د مرکزي داردي ژبو په سویلي څانګې پورې اړه لري. دا ژبه د کونړ ولایت د پېچ درې په وټه پور ولسوالۍ کې ویل کېده، له همدې امله د وټه پوري په سیمه ییز نامه هم نومول شوې ده.

په دې ژبې اوسمهال د وټه پور ولسوالۍ د کټار- ګمبیر درې د کټار کلا په کلي کې د ګوتو په شمېر کسان څه ناڅه پوهېږي؛ خو د ولسوالۍ په نورو سیمو کې متروکه شوې ده. په دې مقاله کې د دېګاني ژبې د جوړښت او څرنګوالي په اړه لنډ معلومات وړاندې شوي دي.

**سریزه**

د دېګانو یا دېګانانو په نامه په بېلابېلو پښتني سیمو کې یو اتنیک ژوند کوي. په بېلابېلو سیمو کې د دې وګړو ژبه توپیر لري. په زیاترو سیمو کې پښتو، په ځینو سیمو کې دري او په ځینو نورو سیمو کې یې کوچنۍ سیمه ییزې ژبې خپلې کړې دي؛ خو د کونړ ولایت د پېچ درې په وټه پور ولسوالۍ کې پخوا د دېګاني په نامه ژبه او د دېګانو په نامه خلک اوسېدل. د وټه پور ولسوالۍ دېګانو اوس دېګاني ژبه هېره کړې او ځای یې پښتو نیولی دی؛ خو په کټار کلا کې اوس هم ډېر لږ کسان په دې ژبه څه ناڅه پوهېږي.

د ژبو په وېش کې د داردي ژبو په کتار کې د وټه پوري او دېګاني نومونه تر سترګو کېږي؛ خو تر دېګاني په کې د سیمه ییز نامه (وټه پوري) څرک زیات دی. د دې ژبې په اړه که ژبپوهانو څه کار کړی هم وي؛ خو موږ ته نه دی رامعلوم او په علمي کړیو کې د دې ژبې په اړه څه نشته، نو دا مقاله د دغې ژبې په نسبي پېژندنې کې مرسته کولای شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

دېګاني یوه ډېره محدوده ژبه ده او تقریباً د له منځه تللو په حال کې ده، له څو کسو پرته نور ویونکي نه لري؛ نو لږ تر لږه یوه دېټا خو یې باید خوندي شي، چې د ننګلامي په برخلیک اخته نه شي؛ له دې امله یې د معرفۍ او ثبتونې په برخه کې د لومړیتوب حق درلود.

د دېگاني ژبې په اړه تر اوسه ژبنۍ څېړنې نه دي شوي او يا مور ته نه دي معلومې؛ خو دومره ويلای شو چې علمي کړيو ته د دېگاني ژبې په اړه څه نه دي وړاندې شوي؛ نو کلکه اړتيا محسوسېده چې په دې اړه ممکن کار وشي او په دې ډول د دې ژبې ډېټا خوندي او حق يې ادا شي.

## د څېړنې موخه

د کنفرانس ځانګړې موخه دا ده چې د دارديک ګروپ يوه کوچنۍ او مرږوانده ژبه څه ناڅه علمي کړيو ته معرفي او يوه نسبي ډېټا يې خوندي شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ دېگاني يا وټه پوري ژبې کومې ځانګړنې لري؟

۲ـ د ژبې جوړښت څه ډول جوړښت دی؟

۳ـ په ديگاني يا وټه پورې ژبه کې کلمې او فعلونه په څه ډول راځي؟

## د څېړنې ميتود

د دې ډېټا په برابرولو کې ما دېگاني ژبه له پښتو سره تر څه بريده پرتله او تشرېح کړې ده؛ نو طبيعي ده چې د څېړنې مېتود مې پرتليز او تشرېحي دي.

# دېگاني يا وټه پوري ژبه

د يوې ژبې تر ټولو مهم، ارزښتناک او بنسټيز توکي غږونه دي. د هرې ژبې د غږونو شمېر بېل وي او که کله د دوو يا څو ژبو غږونه د شمېر له مخې سره برابر وي؛ نو دا يواځې يو تصادف ګڼلای شو. د دې پر عکس بيا د يوې کورنۍ د ژبو د غږونو او تورو ترمنځ زياتره د شمېر ورته والی ليدل کېږي؛ خو دا هم د کليې په توګه نه شو منلای، ځکه کله کله نور عوامل د يوې کورنۍ د ژبو پر غږونو هم اغېزه کولای شي، چې په پايله کې ځينې غږونه له لاسه ورکوي او يا ځينې نور خپلوي. د ساري په ډول پښتو او دري له يوې سټې را جلا شوې ژبې دي چې اوس د واړو تر منځ څرګند غږيز توپير ليدل کېږي. دا د زماني واټن په اوږدو کې له نورو ژبو او ولسونو سره د دوی د اړيکو پايله ده.

په مقابل کې داردي ژبې چې پـه لویـه کـې لـه پښـتو او دري سره ګـډه منشـاء لري، زما په اند تر اوسه د غږونو په برخه کې له پښتو سره د پام وړ توپیر نه لـري او د ټولو غږیز سیستم سره تقریباً ورته دی.

هغه علم چې د یوې ژبې غږونه، د هغو اړیکي او ځانګړنې او په ټولیز ډول غږیز سیستم تر څېړنې لاندې نیسي فونولوژي یا غږپوهنه نومېږي.

هره ژبه د نورو مخلوقاتو په څېر په خپل جوړښـت کـې لـه بلـې سره څـه ناڅـه توپیرونه لري او هیڅکله سره کټ مټ ورته نه وي؛ خـو ټـولې ژبـې لـه انسـاني غږونـو څخه تشکیلېږي. هغه غږیز واحد د فونیم په نامه یادېږي چې ژبه ترې رغېږي. فونیم په یواځې توګه بې معنا وي، خو په خپلو کې یې له یوځای کېدو څخـه معنـا لرونکـې کلمې جوړېږي.(۷: ۱۰) فونولوژي یواځې ارزښتناک غږونه تر څېړنې لاندې نیسي.

فونولوژي یوه نسبتاً نوې موضوع ده، د شلمې زېږدې پېړۍ په پیل کې په دې برخه کې څېړنې او مطالعات پیل شوي دي. پخوا فکر کېده چې توري د ژبې بنسټ دی؛ خو اوس دا مسلمه او ثابته ده چې ژبه له انساني غږونو څخه رغېږي.

راګرځو خپلې موخې ته چې د وټـه پـوري(wəṭapūri) یـا دېګـاني(degāni) ژبې نسبي پېژندنه ده. دې ته وټه پوري ژبه ځکـه وایـي، چـې د کـونړ ولایـت د پېـچ درې په لومړۍ ولسوالۍ یعنې وټه پور کې ویل کېده او لا تر اوسـه پـه ځـانګړي ډول په کټار کلا کې ځینې کسان په دې ژبه پوهېږي او څه ناڅه پرې ګړېږي.له همـدې امله ځینو کسانو د کټارکلایي په نامه هـم نومـولې ده؛ خـو اصـل دا دی چـې ژبـه د اتنیک په نامه یاده شي؛ نو زه یې په خپله لیکنه کې د "دېګاني" په نامه یادوم.

کټار کلا یو لوی کلی دی، چې د پېچ درې لومړۍ کینې خواته بېله شـوې دره کـې پروت دی. پخوا تر کټار کلا چاپېره یو دېوال راتاو و. د کلي لـه منځـه لویـه ویالـه تېرېـږي اوس یې په منځ کې یو جومات هـم دی. دا پخـوا د کافرسـتان یـو کلـی و. د کټـار کـافر اصطلاح لا تر اوسه هم په کونړ کې پاتې ده، چې په سخت زړي اطلاق کېږي.

د یادولو وړ ده، چې دېګاني ژبه پخوا د وټه پور ولسوالۍ په نـورو کلـو کـې هـم ویل کېده. دېګانان د دې ولسوالۍ په زیاترو کلو کې اوس هم مېشـت دي؛ خـو ژبـه یې پخوا له لاسه ورکړې او یواځینې څرکونه یې په کټارکلا کـې شـته دي. د نومـوړې

سیمې دېګانان اوس په پښتو ژبه ګړېږي. د دې ژبې ویونکي د هېواد په نورو برخو کې نشته او یا موږ ته معلوم نه دي. د ژبو د وېش له مخې دا ژبه له پښتو څخه جلا او په بېلې کورنۍ پورې اړه لري؛ خو تر هر څه زیات د لغتونو په برخه کې له پښتو سره ځینې مشترکات لري او ګومان کېدای شي چې دا لغتونه به یې د زماني واټن په اوږدو کې له پښتو څخه اخیستي وي.

د دېګانانو په اړه په حیات افغاني کې لیکل شوي دي:

(( دغه قوم په پیل کې په زیات شمېر سره په شمالي او ختیځ افغانستان کې مېشت و، اوس یواځې په کونړ، پورتني باجوړ او لږ شمېر نور یې په لغمان کې استوګنه لري. دېګان په کونړ کې یو بېل قوم شمېرل کېږي، ځانته بېل سردار لري چې د سیدانو له قوم څخه دی او پادشاه (پاچا) هم ورته وایي.

اوس سید بابوجان پاچا د کونړ رئیس دی او د کابل د امیر له خوا هم یو استازی د مالیې د راټولولو لپاره هلته ټاکل شوی دی.

دېګانان په هغه ژبه خبرې کوي، چې د بابر په تاریخ او طبقات اکبري کې لغماني ژبه بلل شوې ده. داسې ښکاري چې په دېګاني ژبه کې زیاتره سنسکرېټ، فارسي او ځینې پښتو کلمې هم موجودې دي او ډېرې کلمې یې له سنسکرېټ سره ورته والی لري. له دې نه معلومېږي چې دېګانان له هندي نژاد څخه وو، خو د هندکیو سره هیڅ اړیکې نه لري. د افغانستان خلک په غلطۍ سره دهقانان، دېګانان بولي او تاجک د دېګانانو سره یو شی ګڼي، خو دا بېخي غلطه ده. وړاندې لیکل شوي دي چې تاجک د اسلام تر ظهور وروسته دغو سیمو ته راغلي دي او هندي مذهبه دېګانان له دوی نه وړاندې په دغه ملک کې مېشته وو.)) (٦: ۴۷۸)

حیات افغاني "د کافرو ژبه" تر سرلیک لاندې بل ځای کښلي دي:

لغماني یا دېګاني ژبه هم یو څه د دوی له ژبې سره ورته ده او پشه یې ژبه د زیاترو کافرو له ژبې سره مطابقت لري. د دوی په ژبو کې د عربي ژبې کلمات بېخي نه شته. د هندي کلماتو د زیاتوالي له امله داسې معلومېږي، چې د ګریک او استکهتین د حکمرانۍ تر زوال وروسته یوناني تاتاري او هندي سره یوځای او د پنجاب د راجه ګانو د تابعیت له کبله د سنسکرېټ او بهاشه ژبو کلمې د دوی په ژبه کې ډېرې لیدل کېږي چې هغه وخت تر کندهار پورې ویل کېدلې.(٦: ٤٨٦)

دېگاني ژبه د مرکزي داردیک ژبو له ډلې څخه په سویلي څانګې پورې اړه لري. تر اوسه د دې ژبې په اړه څه کار نه دی شوی او یا به یې هم د افغانستان علمي کړیو ته پوره څرګ نه وي معلوم.

ناروېژي ژبپوه مارګنستېرن د دېګاني په اړه په ۱۳۴۵ل. کې کښلي دي:

(( در وته پر(و مضموم- ت مفتوح- پ مضموم) بر کنار دریای پیچ چیزې بالاتر از چغه سرای و در قریه همجوار، لهجه با زبانهای هندو آریایی که در مناطق مشرقی گفته میشود ارتباط قریب تر دارد، مثلاً کلمات مانند" پیاڼي" به معنا آب و بیینه( ن با زورکی خوانده شود) به معنا خواهر با زبانهای وادی های هند و پاکستان مطابقت میکند نه با دسته نام نهاد داردیک که زبانهای پشئی و کوارتی و خووار و شنه و غیره با دسته اخیرالذکر ارتباط دارد.)) (۴: ۲۸)

له کورنیو ژبڅېړونکو څخه دوست شینواری لومړنی څېړونکی دی چې په خپل اثر "د افغانستان ژبې او توکمونه" کې یې د دې ژبې په اړه لږ څه معلومات ورکړي دي چې کټ مټ یې دلته رانقلوو:

((وټه پوري ژبه: په وټه پور او ګتر( ګترګل) کې یعنې د کونړ په سیند د پېچ د سیند د تویېدلو د ځای نه لږ څه پاس دغه ژبه ژوندۍ ده.))(۲: ۳۹۸)

بیا په همدې اثر کې "د داردي ژبو څېړنه" تر سرلیک لاندې داسې څېړل شوې ده:

((وټه پوري ژبه: د مرکزي داردي ژبو په جمله کې یوه وټه پوري ژبه ده چې د کونړ د ولایت د پېچ په دره کې په وټه پور او (کتر کلا) کې ژوندۍ ده. د نورو مرکزي داردي ژبو په لړ کې دغه ژبه د شوماشتۍ، همدا رنګه د ننګلامۍ او ګلنګالي دیالیکتونو سره زیاته خپلوي لري او حتی دغه ژبه د مرکزي داردي ژبو په منځ کې یوه ځانګه جوړوي.

دلته یو وړوکی متن د ښکارندوی په توګه وړاندې کوو:

dū zūyen yek nāṛ rate dawā išaū. yek isyenaū zi :( men puṛ thū) se dūi zui isyenaū zi: ( men puṛ thū).

ژباړه: د یوه ماشوم په باره کې د دوو ښځو جګړه وه. یوې ویل ( دا زما زوی دی) بلې ویل: ( دا زما زوی دی).

تحلیل: دو( دوه) عدد دی. زویین(ښځو) اسم ذات جمع اضافي حالت، ین د اضافت نخښه ده. ییک(یوې) عدد دی. نارِ( هلک، ماشوم) اسم ذات. راتي(پر، په باره، کې). داوه(دعوا) عربي کلمه ده اسم ذات مفرد په لومړي حالت کې. ایشاو ( وه) د قریبې ماضي صیغه ده، کومکي فعل دی. ایسیيناو( ویل) ماضی استمراري. زي( چې) د تابعي جملو د ربط وظیفه اجرا کوي. مین(زما) د مفرد متکلم اضافي ضمیر دی. پور (زوی) اسم ذات مفرد. تهو( دی) د جملو د ربط ادات دي. سي (هغه) اشاري ضمیر دی. دوی (بلې) تعیینوونکی ضمیر دی. زوی(ښځې) اسم ذات مفرد دی.))(۲: ۴۴۰- ۴۴۱)

ځینو کسانو دېګاني ژبه د ګوري ژبې لهجه ګڼلې خو زما د څېړنو له مخې دا ادعا سمه نه ده او له اټکل پرته نور څه نه دي. په دې اړه په دې وروستیو کې په یوه مونوګراف کې لیکل شوي دي:

((لهجۀ شوماشتی، لهجۀ وټه پوری یا کتار قلعه یی، لهجۀ ننګلامی، لهجه یا زبان ساوجی، لهجه یا زبان کړنګلی، کوهستانی، پشه یي مورګنسترنی این زبان را یکی از لهجه های زبان ګواری می داند.)) (۳:۷- ۹)

په دېګاني کې سربلونو او وستربلونه

په دېګاني ژبه کې یواځې وستربلونه کارېږي او سربلونه نه لري. په پښتو ژبه کې له هر سربل سره د وستربل راتګ له ځینو استثنأتو پرته حتمي دی؛ خو څومره چې ما محسوس کړې ده، په دېګاني کې بیا یواځې وستربل کارېږي.

د یادولو وړ ده چې نه تاریخي متون په لاس کې لرو چې د هغو له مخې قضاوت وکړو چې دې ژبې پخوا سربلونه درلودل او که نه او نه هم د دې ژبې داسې ویونکی راپاتې دی چې پر دې ژبه په سم ډول پوه شي او د هغه له خولې په دې ژبه کې د سربلونو د شتون او نه شتون تایید وکړو. په دې اړه مې له پوهاند ډاکټر زیار څخه د ایمیل له لارې وپوښتل هغه وویل:

(( وټه پوري لکه ګوجري هندي آره لري او ټولې هندي ژبې ان تر لهندا(هندکو) او اردو پورې یواځې وستربلونه لري، لکه: (کتاب میں، سکول میں) ښایي پښتو،یواځېنی ژبه وي چې ان غبرګبلونه (سربلونه او وستربلونه) یې خوندي ساتلي دي.))

په دېګاني ژبه کې هغه وستربلونه چې ما تشخیص کړای شو، دا دي:
(may, se, pəse, ta, )

دلته د سربلونو او وستربلونو په اړه د پښتو او دېګاني جملو جوړښت په پام کې نیسو:

| دېګاني | پښتو |
| --- | --- |
| کتابه می اسو(ما کتاب کې ولوستل) kItāba may āsū | ۱- په کتاب کې مې ولوستل |

**شننه**

په دېګاني کې د لوستلو او ویلو فعلونه یو ډول دي یعنې هغوی وایي ( ما کتاب کې وویل). همدا رنګه د (مې) کمزوری نومځری هم نه کاروي، یواځې (ما) کاروي. پورتنۍ جمله په پښتو کې داسې تشرېح او توضېح کولای شو:

kItāba: په کتاب کې، (a) د کې معنا ښندي چې په وروستیو جملو کې به توضېح شي.

may: می د (ما، اندېول شخصي نومځری دی) لکه په اردو کې وایي مېں نې کهاتها: ما ویلي وو.

āsū : لکه چې د مخه مو وویل، په ګوري کې د ویلو او لوستلو لپاره هماغه یو د (ās) فعل کاربېږي. (ū) د ماضي مطلقې صرفي روستاړی دی، چې د متکلم، مخاطب او غایب درېواړو لپاره یو ډول راځي او فعل د پښتو په څېر د شخص لپاره نه ګردانېږي. نو پورتنۍ جمله په دېګاني کې داسې وایي: کتابه/ می/ آسو.

۲- په خیریت سره کور ته ورسېدۀ — خیرت سې کوټنګ پیدو.
xayràt se goṭang pidū

که دې جملې ته هم ځیر شو دلته هم xayràt د خیریت معنا ښندي چې تقریباً په لږ توپیر راغلی او هره ژبه له خپلو ژبنیو ځانګړنو سره سم په پورویونو کې دا تغییر هرومرو راولي.

se: د سره معنا ښندي چې د(په) سربل ورسره نه شته؛ نو دلته هم زموږ هغه ادعا رښتینې کېږي چې په دېګاني ژبه کې سربلونه نه کارېږي.

goṭàng: په دېګاني ژبه کې ګوټنګ د کور او کوټې دواړو معناوې ښندي.

pidū: په دې کلمه کې لومړی جز (پید) د رسېدو معنا ښندي او لکه چې د مخه وویل شول(ū) هماغه د فعل ماضي خاتمه ده؛ نو کټ مټ پښتو ژباړه يې دا ده: خیرت سره کور ته ورسېدهٔ

۳- په جالې پورې يې ځان نښلولی و جالې پسې نښتی و ( جاله پسې رتو) jālan pəse rūtū

د پورتنۍ جملې مفهوم په دېگاني ژبه کې له خپل جوړښت سره سم ادا کېږي او کټ مټ د پښتو په څېر نه ادا کېږي. په دېگاني کې وايي: جاله پسې نښتی و. د يادولو وړ ده، چې (پسې) وستربل يې له پښتو سره يو شی دی.

۴- په تا پسې يې راولېږلم تا پسې يې راولېږلم(تون پسې مې شآو) tūn pəse me šāū

پورتنۍ جملې ته که ځير شو، د پښتو په څېر د متکلم مفرد(م) د فعل په پای کې ځان نه ځرګندوي، بلکې په مستقله توګه تر فعل دمخه راغلی دی، يعنې تاپسې يې زه راولېږلم وايي.

کتاب دې پر مېز باندې پروت دی کتاب دې پر مېز پروت دی (کتاب مېز ته پرتو) kItāb mez ta partū

## ارتباطي ادات

په دېگاني ژبه کې ځينې ارتباطي ادات دا دي:

هومره natik

هسې die

يا yā

که kə

۱- هومره ماشوم نه يم natik lūkoṛ aw nito

په پورتنۍ جمله کېnatik د هومره، lūkoṛ د ماشوم، aw د زه، nit د نفې يا نه او o د مفرد متکلم لپاره د لاحقې يا خاتمې په توګه کارېدلی دی؛ نو په پښتو کې د جملې جوړښت کټ مټ داسې دی:

هومره ماشوم زه نه يم.

هسې يوه خبره ده die yak bay diti

په پورتنۍ جمله کې die د هسې، yak د يو، bay د خبرې اوditi د ده معنا ښندي. د يادولو وړ ده چې په دې جمله کې عدد(یکyak ) د جنس له مخې له خپل معدود سره نه دی گردان شوی، چې دا يې د پښتو ژبې له جوړښت سره څرگند توپير دی.

کورته لاړ شه شړومبې يا پياز راوړه goṭànge co dūγ yā dit ǎ̆n

په پورتنۍ جمله کې goṭàng نوم دی، د کور په معنا، /e/ د ته، co امر فعل دی، د لاړ شه په معنا،dūγ نوم دی، د شړومبې په معنا ،yā ارتباطي کلمه ده چې له پښتو او دري سره هيڅ توپير نه لري، dit نوم دی، د پياز په معنا او ǎ̆n امر فعل دی، د راوړه په معنا.

جومات ته لاړ شه که ملا نه و، طالب راوله jūmātange co kə se mūlā ni ta, čəṇay se ǎ̆n

په پورتنۍ جمله کې همjūmātang نوم دی، د جومات په معنا، /e/ د ته، co امر فعل دی، د لاړ شه په معنا، kə له شرطيه اداتو څخه دی چې کټ مټ په پښتو کې هم همدغه معنا ښندي، se اشاري نومځری دی، د هغه په معنا، mūlā ملا نوم دی چې په پښتو کې يې هم ملا بولو،ni د نفې يعنې نه په معنا او ta د و په معنا، čəṇayنوم دی د طالب په معنا چې ډېر پښتانه يې هم چڼی بولي، se اشاري نومځری دی چې دلته د /يې/ معنا ښندي. ǎ̆n د راوله او راوړه دواړو لپاره کارېږي، ځکه خو دغه خلک چې کله پښتو وايي نو دغه دواړه يو د بل په ځای کاروي او په دې ډول تېروځي. دلته يو بل څيز ته هم ځير کېږو، هغه دا چې دېگاني د راوستلو فعل نه لري.(۱: دواجان)

لکه: سړی راوړه، يا سېرلی راوړه.

د دېگاني ځيني ارتباطي ادات له پښتو سره هيڅ توپير نه لري؛ لکه: کهٔ، يا، ...

**د اضافت ادات**

د اضافت په برخه کې دېگاني ژبه له گوري سره کټ مټ سمون لري؛ خو زما په اند د وخت په تېرېدو دېگاني ژبې ورو ورو د اضافت(na) رالنډه کړې او يواځې په(n) سره افاده کېږي.

په دېگاني ژبه کې د اضافت ترکیب داسې دی چې لومړی مضاف الیه په متغیر حالت کې، بیا د اضافت توری او ورپسې مضاف راځي؛ لکه په لاندې جملو کې:

د احمد مور aẖmadan yā

د محمود پلار maẖmūdan bā

یعنې په لومړۍ جمله کې احمدن یا = aẖmada/ n/ yā په اصل کې احمده نه یا= aẖmada na yā و او په دویمه جمله کې محمودن با = maẖmūda /n/ bā په اصل کې محموده نه با= maẖmūda na bā و.

## مختاړي

الف- د نفې او نهې په حالت کې:

د دې ډول مختاړو په نښلولو سره منفي صفات مجرد فعل امر او نفې جوړېږي. د نفي مختاړي دوه او دا دي:

مه کوه mə kar ، مه خوره mə khā، مه کښېنه(mə bay)، مه پاځه( mə oči)، مه گوره(mə thār)، مه کښېنئ(mə bayin).

وروستۍ جملې ته که ځیر شو د جمعې او مفرد امر فعل توپیر په کې لیدل کېږي؛ یعنې د مفرد لپارهbay او د جمعې لپاره bayin کارېدلی دی. نورې بېلگې یې دا دي:

نه کوي ni karān، نه نیسي- ni bakār، نه خوري ni khāro، نه ویني( nə yinan).

### ب- د مطلقیت په صورت کې

په پښتو ژبه کې /و= Wə/ او /وا Wā/ د مطلقیت مختاړي دي، کله چې د ځینو فعلونو په سر کې راشي مطلقه ماضي ترې جوړېږي لکه: له خندل، لیکل، ژړل، لمبل، اغوستل، تړل او نورو سره چې په سر کې ونښلي نو مطلقه ماضي ترې جوړېږي:

| پښتو | دېگاني | |
|---|---|---|
| ما ولیکل | می لیکو | may likū |
| ما وژړل | می رینگو | may ringū |

ما واغوست — می لاوو — may lāwū

ما واخیست — می گیتو — may gitū

ما پرانیست — می ایله کریو — may ilā kirū

په پورتنیو بېلګو کې وینو چې د فعل په پای کې(ū) د مطلقې ماضي نخښه ده.

څومره خلک دې ولیدل؟ کتیک لوګان تی دیته؟ katik logān tay dita ?

څومره کوچنیان دې ولیدل؟کتیک لوکوړه تی دیته؟ katik lokūṛā tay dita?

څومره کار هومره اجوره کتیک کم تتیک روپی katik kam tatik rūpəy

چېرته ځې؟ کي جنګی څون؟ ki jangay con?

څومره هلکان دې ولیدل؟ کتي لوکوړان تی دیتي kati lūkoṛān tay diti

څومره هلکان دې لیدلي وو؟ کتي لوکوړان تی دیتۀ kati lūkoṛān tay ditə

هلته راغلی و تو جنګي آوو tū jangi ǎwū

هلته راغلې وه توجنګي آیېو tū jangi ǎyew

خدای مې دې ستا په شان نه کړي تی په شانتې مـی خـدای نـه کریـو tay pəšānte may xūdāy nə kIriw

زه او پلار مې چغسرای ته تللي وو - آو او مین با چغسرینګی ګـاو ǎw aw may bā čəɣasrayngay gāw

کورتـه لاړ شـه شـړومبې یـا پیـاز راوړه - ګوټـانګې څـو دوغ یـا دیـت آن gūṭānge cū doɣ yā dit ǎn

جومات ته لاړ شه که ملا نه و چڼی راوله - جومـاتنګې څـو کـه سي مـلا نیتـو چڼی سي آن

jumātange cū kə si mulā nito čəṇay si ǎn

ډېر کمعقل = لو قمقل law qamaqəl

بې ننګه = بې ننګه be nangà

بې لارې = بې لار be lār

احمد لاړ = احمد ګا aẖmad gā

جمیله لاړه = جمیله ګی jamila gəy

احمد او محمود لاړل= احمد او محمود ګیه aẖmad aw maẖmūd gayà

جمیله او آمنه لاړلې= جمیله او آمنه ګه یيjamila aw ắmIna gaye

غوښه دې وخوړه= ماس کهای تهیmās khāy təy

ښېرته = بار  (امر) دروازه ښېرته کړه (دران بار) drān bār

ایله = ایله (امر) ورغومی ایله کړه( شودو ایله کر)šūdū Ila kar

ور= دران(امر) دروازه پورې کړه (دران کلک کر) drān klak kar

هغه ته دې وویل؟= تسانګې تی آسو؟ ?tasānge tay ắsū

هغه ته مې وویل= تسانګې می آسوtasānge may ắsū

هغه ځای دې وتوړه= ته جای تو توړی  ta jāy tū toẓəy

هغه ځای مې وتوړه= ته جای می توړی  ta jāy may toẓəy

هغه ته مې کتاب ورور= تسانګې می کتاب نو tasānge may kItāb nū

غرمه زموږ ځای ته راشه= دوپا مي جنګې یې dupā mi jange ye

| پښتو | دېګاني مفرد | دېګاني جمع |
|---|---|---|
| پوزه= | nit | (nite) |
| سترګه= | ans | (anse ) |
| غوږ= | kān | (kāna) |
| لاس= | hāt | (hāta) |

له پورتنیو بېلګو معلومېږي چې د پښتو ښځینه وو جمع په دېګـاني کـې پـه(e) ده او د نرینه جمع په(a) ده.

## پایله

د پایلې په توګه ویلای شو چې دېګاني ژبه د اندو آریـاني(Indo- Aryanain)د داردي کورنۍ د مرکزي  داردي ګروپ په سویلي څانګه پـورې اړه لـري. دېګـاني یـوه مستقله ژبه ده، د کومې ژبې لهجه نه ده. دا ژبه د فونولوژۍ او مورفولوژۍ پـه برخـه کې د داردیک ژبو او په ځانګړي ډول د خپلـې څـانګې لـه نـورو ژبـو سره ډېـر ورتـه والـی لري.

د یادولو وړ ده چې د دې ژبې د ژوندانه ساحه د پښتنو په منځ کـې ده؛ نـو لـه یوې رسمي، علمي او شتمنې ژبې سره ګـډه اوسـېدنه هـرو مـرو د دې لامـل کېـږي، چې دا ژبه ډېر څه وبایلي او په پای کې سر هم وبایلي.

د دې ژبې له لرې څېړنې هم ما دا پایله واخیسته چې ډېر زیات پښتو لغتونه یې پور کړي؛ خو د خپلې ژبې له غږیز سیستم سره سم یې خپل کړي دي.

ټول هغه غږونه چې پښتو ژبه یې لري، په همدې ژبه کې شته دي، البته د مرکزي داردیک ژبو د سویلي څانگې ځانگړی غږ(ش= ݜ) دې ژبې هم د وخت په تېرېدو له لاسه ورکړی دی.

همدا رنگه د ساوي ژبې یو بل ځانگړی غږ(ڇ =ĉ) لکه په دراڇ=انگور کې ما په دې ژبه کې ونه موند. د نورستاني ژبې مشدد واو(وّ) مې هم په دې ژبه کې ونه موند.

لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه، د هندې ژبو په څېر دېگاني ژبه هم سربل نه لري.

زما په اند د دې ژبې د اضافت نخښه له گوري سره یو ډول وه؛ خو د وخت په تېرېدو هغه لنډه شوې او د(na) پر ځای اوس یواځې (n) کاروي لکه: aẖmada/ n/ mahmūda /n/ bā یا yā.

په دېگاني کې د لوستلو او ویلو فعلونه یو ډول دي یعنې هغوی وایي ( ما کتاب کې وویل). همدا رنگه د (مې) کمزوری نومځری هم نه کاروي، یواځې (ما) کاروي، یعنې نه وایي چې کتاب کې مې وویل، بلکې وایي ما کتاب کې وویل.

که د فعل په پای کې(ū) راشي دا د مطلقې ماضي نخښه ده او فعل د شخص لپاره نه گردانېږي.

د پښتو ښځینه و جمع په دېگاني کې په(e) ده او د نرینه جمع په(a) ده.

د پښتو او دري په څېر په فعلي خاتمې د فشار راوړولو په واسطه هم پوښتنه کوي لکه غوښه دې وخوړه= ماس کهای تهی mās khāy təy (mās khāy təy?)

د یادولو وړ ده چې د پښتو جنس او د داردیک ژبو د مرکزي گروپ د سویلي څانگې جنس سره ډېر وخت سمون نه خوري، یعنې کېدای شي یو شیز په پښتو کې نرینه وي؛ خو په دغو ژبو کې ښځینه وي او یا پر عکس.

**وړاندیزونه**

په افغانستان کې ډېر شمېر ژبې شته چې تر اوسه پورې یې په اړه لکه چې لازمه ده، هغسې علمي او سیستماتیکې څېړنې نه دي شوي؛ نو بویه چې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز څېړونکو ته د علمي ترفیعاتو علمي

- ښېرنيزې پروژې وروسپاري او په دې ډول د داري ژبو د لوی ګروپ په اړه د نړۍ علمي کړيو ته نوي، تازه او کره معلومات وړاندې شي. البته د دې ګروپ ډېرې ژبې په ختيځو ولايتونو په ځانګړې ډول په کونړ کې ويونکي لري.

په همدې ډول د بدخشان د پاميري ژبو په اړه تر اوسه پورې لکه چې لازمه ده هغسې علمي او سيستماتيکې ښېړنې نه دي شوي؛ نو بايد د دغه ګروپ ژبو د ښېړنو لپاره هم ښېړونکو ته د علمي ترفيعاتو لپاره علمي - ښېړنيزې پروژې وروسپارل شي او په دې ډول دا ګروپ ژبې هم په علمي او مناسب ډول وڅېړل شي.

په افغانستان کې يو شمېر نورې ژبې لکه ګوجرو، بلوچي، عربي، کرغيزي، ترکمني او نورې هم شته چې بايد ښېړنه يې له پامه ونه غورځول شي او د افغانستان د علومو اکاډمي د هېواد د تر ټولو لوړ علمي ارګان په توګه دا علمي چارې ترسره کړي.

| پښتو | گوري | فونيميک | ساوي | فونيميک | دېگاني | فونيميک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وزه | هېني | heni | چهالي | čhóli | سيال | syāl |
| غوا | هېڅي | Heci | گهايي | ghóyi | گاو | gāw |
| مېږه | هېړي | heṛı | يېړي | yiṛi | گډه | gəḍa |
| اوښه | اوښه | oṣā | اوښه | oṣa | اوښه | oṣa |
| زرکه | اوملي | omali | زرکه | zərkà | زرکه | zərka |
| گيدړه | شالياکي | āšlyāki | لومبړي | lumbaṛi | ميد گدړه | mid gidəṛa |
| يږه | اينچياکي | Inčyāki | ايږي | Iẓi | ميد يږ | mid Iẓ |
| غرڅنی | شروياکي | šàrəwyāki | | | غرڅنی | γarcanəy |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| kikəṛ | کیکړ | kūkūṛi | کوکوړي | kūkūṛi | کوکوړي | چرگه |
| mayiš | مییش | meṣ | مېښ | mayiṣ | مییښ | مېښه |
| swəy | سوی | | | hosəy | هوسۍ | هوسۍ |
| kočir | کوچیر | kūčūri | کوچوري | kūṛāki | کوړاکي | سپۍ |
| nokūṛ<br>kučir | نوکوړ<br>کوچیر | | | kūṛāki | کوړاکي | کوکرۍ |
| geṛ(āspa) | گېړ(آسپه) | goṛi | گوړي | goṛi | گوړي | آسپه |
| šādon<br>bačay | شادون<br>بچی | šādo | شادو | makəṛi | مکړي | بیزوگۍ |
| ringan | رینگن | ringaylo | رینگیلو | bānāw | باناوۀ | ژړا |
| hansan | هنسن | hansaylo | هنسیلو | hansāw | هنساوۀ | خندا |
| šbāṇū | شوبڼ | obaṇyārṣ | ښوبنیار | obaṇyārṣ | ښوبنیار | ښکلا |
| šūwā | شووا | | | ləpl | پلل | ځلا |
| hansan | هنسن | muskəy | موسکی | muskā | موسکا | موسکا |
| āṣperəy | ښاپیری | āṣperəy | ښاپیری | āṣperəy | ښاپیری | ښاپیری |
| zoy<br>wākmən | زوی<br>واکمن | màšàri | مشري | wāklareši | واکلرېشي | واکمنه |
| wāləy | والی | wāləy | والی | wāləy | والی | والی |
| wūlaswāl | ولسوال | wūləswāli | ولسوالي | wūləswāla | ولسواله | ولسواله |
| wakila | وکیله | wàkili | وکیلي | wakila | وکیله | وکیله |
| šūdoṛ | شودوړ | biro | بیرو | cālə | څالۀ | مرغومی |
| kāṛo | کاړو | gorū | گورو | gā | گا | غویي |
| gəḍay | گډی | hiṛo | هیړو | heṛ | هېړۀ | مړ |
| šūtūr | شوتور | oṣ | اوښ | oṣ | اوښ | اوښ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| nar zark | نر زرک | | | omalə | اوملهٔ | زرک |
| gidaṛ | گيدړ | lūmbṛəo | لومبړو | lāš | شال | گيدړ |
| nar yIẓ | نر يږ | | | Iinč | اينچ | يږ |
| γarca | غرخه | | | šarāw | شراو | غرخه |
| kūkūṛ | کوکوړ | kūkūṛ | کوکوړ | kūkūṛ | کوکوړ | چرگ |
| sanḍā | سنډا | | | mišgā | مښگا | سنډا |
| goṛ | گوړ | goṛo | گوړو | goṛ | گوړه | آس |
| kūčūr | کوچور | kočoro | کوچورو | ṣūṇā | ښوڼا | سپی |
| likūṛ | ليکوړ | kūṛāki | کوړاکو | kūṛākə | کوړاکهٔ | کوکری |
| pišo | پيشو | | | pisānsə | پيسانسهٔ | پيشو |
| ḍāḍ | ډاډ | ḍāḍ | ډاډ | ḍāḍ | ډاډ | ډاډ |
| sabər | صبر | | | ḫawṣelà | حوصېله | زغم |
| breṣnā | برېښنا | | | palkāwə | پلکاوهٔ | خلک |
| yimāl | ييمال | | | himčar | هيمچر | ييمال |
| āṣperəy | ښاپېری | | | perəyāṣ | ښاپېری | ښاپېری |
| wākmən | واکمن | wākindo | واکندو | wāklariṣə | واکلرېښهٔ | واکمن |
| wāli | والي | wāli | والي | wāli | والي | والي |
| wūlaswāl | ولسوال | wūləswāl | ولسوال | wūləswāl | ولسوال | ولسوال |
| wakil | وکيل | wàkil | وکيل | wàkil | وکيل | وکيل |
| txərg | تخرگ | kàčalṭopo | کچل ټوپو | kaceyāl | کڅېيال | تخرگ |
| birəṭ | بيرټ | biro | بيرو | lawṣa | لوښه | سېرلی |
| pṛāng | پړانگ | mači | مى خي | ǰāngal | ځانگل | لېوه |
| nar šādo | نر شادو | Šàdo | شادو | màkṛə | مکړ | بيزو |
| xanzir | خنزير | khāčošəy | کهاچوشی | xanzir | خنزير | سرکوزی |

| sūrlanḍay | سورلنډی | | | sūrlanḍay | سورلنډی | سورلنډی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| soy | سوی | soy | سوی | soy | سوی | سوی |
| škuṇ | شکوڼ | pay yi | پی یي | payiṣ | په ییښ | شکوڼ |
| manzaray | منزری | zmaray | زمری | zmaray | زمری | زمری |
| fil | فیل | hāti | هاتي | hāti | هاتي | فیل |
| bačonḍ | بخونډ | | | aiconḍə | ایخونډه | خوسی |
| bótingəṛ | باتینگړ | bóṭingṛay | باتینگړی | wātingiri | واټنگیري | باتنگړ یا رومیان |
| ṭempər | ټېمپر | ṭempər | ټېمپر | ṭemprə | ټېمپر | ټېپر |
| jūwār | جوار | jūwār | جووار | jūwār | جووار | جوار |
| gāzəra | گازره | gāzəri | گازري | gāzəra | گازره | گازره |
| bādrang | بادرنگ | bódrang | بودرنگ | bādrang | بادرنگ | بادرنگ |
| kālbādrang | کالبادرنگ | bónjāṇà | بونجاڼه | Kānce wàṭingiri | کانڅې واټنگیري | بانجان |
| čaṇa | چڼه | čaṇo | چڼو | čaṇa | چڼه | چڼه |
| lāšun | لاشون | lawšuṇ | لوشوڼ | lawṣung | لوښونگ | هوږه |
| palān | پلان | palāṇ | پلاڼ | palān | پلان | پیاز |
| zo | زو | yū | یو | žo | ژو | اوربشې |
| kāšū | کاشو | rāmung | رامونگ | kalūl | کلول | کلول |
| məy | مې | mungayṛi | مونگی ړي | mingiyi | مینگی یي | مې |
| bayindū | بیندو | biṇi di | بیڼي دي | peši | پېشي | خورزۀ |
| | | biṇipɣ | بیڼي پوش | peši | پېشي | خوریی |
| zwoy | زوی | ɣiṛi | شـېړي | màši | مشي | مېرمن |
| māmā | ماما | māmo | مامو | momā | موما | ماما |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| kākā | کاکا | bàwūṛi | بووړي | dàd | دد | تره |
| pūṛ | پوړ | pūʎ | پوش | pūʎ | پوش | زوی |
| ṛā | ړا | bró | برا | blyā | بليا | ورور |
| dū | دو | di | دي | zū | زو | لور |
| mišanṛā | میشنړا | dir | دير | der | دېر | لېور |
| mišanbayin | میشن بیین | jómili | جاميلي | derān | دېران | نندرور |
| bayin | بیین | saróṇi | سروڼي | Sārāni | ساراني | خښينه |
| xwāṣe | خوابښې | pràš | پرش | gāyri | گای ري | خوابښې |
| sxər | سخر | šor | شور | gāwrə | گاورهٔ | خسر |
| bən | بن | derūṇ | دېروڼ | derān | دېران | بن |
| naṛ bərkaṭe | نرِبرکټې | parkaṭo | پرکټو | | | پرکټی |
| nyāṛ bərkaṭe | نیاړبرکټې | parkaṭəy | پرکټۍ | Parka pūλ | پرکه پوش | پرکټۍ |
| awṣay | اوښی | sólo | سولو | žami | ژامي | اوښی |
| ṛān zoy | ړانزوي | brójəy | براجۍ | nāni | ناني | ورندار |
| ṛān pūṛ | ړانپوړ | bró pūλ | برا پوش | blāwūλ | بلاوش | وراره |
| ṛāndū | ړاندو | brow di | براو دي | blāzo | بلازو | وريره |
| kākān pūṛ | کاکانپوړ | bāwṛi pūλ | باوړي پوش | dad na pūλ | دد نه پوش | د تره زوی |
| pəyn pūṛ | پاپین پوړ | fāpi pūλ | فاپي پوش | māṣoṛ | ماشوړ | ترورزی |
| nosay | نوسی | nawāso | نواسو | nàwāsə | نواسهٔ | نمسی |
| nosəy | نوسۍ | nawāsi | نواسي | nàwāi | نواسي | نمسۍ |
| nikə | نیکهٔ | gànbābo | گن بابو | būḍà | بوډه | نیکه |
| nyā | نیا | ganyāyi | گن يايي | būḍi | بوډي | نیا |
| māmān pūṛ | مامانپوړ | mómi pūλ | مامي | momā na | موما نه | مامازی |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | پوش | pūλ | پوش | | | |
| ترور | پيپي | pipi | فاپي | fāpi | | |
| توړۍ | ماښۍ | māṣəy | ماشي | māši | ماشي | māši |
| ملگری | ډيا | ḍIyā | ملگری | malgəray | ملا گری | malgəray |
| دښمن | دشمن | dušmən | دشمن | dušmən | د شمن | dūšmən |
| ورږه | پيښوک | piṣok | پروشوک | prošuk | پيشوک | pešūk |
| ملخ | ښلک | ṣalak | ښلک | ṣalak | ملخ | mləx |
| سمساره | زينگوړه | zinoṛə | گو و | gū wo | سمساره | samsārə |
| لړم | ووپۀ | wūpə | ټيکوچ(ټو) | ṭikoč | اومپو | ompū |
| زنځه | سيري | siri | سوهير | sohir | زنځه | zanǰà |
| چينجی | څوټ | coṭ | کيرمي | kirmi | چينجی | činjay |
| مچۍ | ارمۀ | armə | هنډارو | hinḍóro | مچۍ | məčay |
| گبينمچی | ماچيتان | māčitān | ماچهولي | māčholi | | |
| مچ | ماسيک | māsik | می ښي | mayṣi | | |
| ماشی | مسۀ | masə | فوتو | foto | ماشی | māšay |
| کربوړی | گوشي کيلۀ | goλikilə | کيربوړی | kirboṛay | کربوړی | kirboṛay |
| ښامار | ښامار | ṣāmār | ښامار | ṣāmār | ښامار | ṣāmār |
| غونډل | غونډل | γwənḍəl | | | غونډل | γwənḍəl |
| موږک | موښه | mūṣà | ټيکوچ | ṭikoč | کوړ موش | kūṛ mūš |
| مږه | موښي | mūṣi | موشو | mūšo | موش | mūš |
| ړندوکی | فال څاپيک | fālcāpik | ترانځيک | trócik | ړندوکی | ṛəndūkəy |
| چنگښه | منډاکۀ | manḍākə | مونډاکو | mondākū | منډاق | manḍāq |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کب | مخوټۀ | macoṭə | مسڼ | masṇə | مچټ | mačaṭ |
| مڼه | بوبای | bobàY | مڼو | maṇo | مڼه | maṇa |
| بهي | بیيي | biyi | ټانګوړو | ṭānguṛo | بپ | bàp |
| بادام | بادام | bādām | بودام | Bódām | بادام | bādām |
| اینځر | کېینت | keint | فاګ | fāg | پاو | pāw |
| کور | لاک | lāk | دراچ | drāč | لیاش | lyāš |
| توت | شنګالیک | ƛangālik | شنګالیک | ƛangālik | تینګالي | tingāli |
| ناک | تانګوړه | tāngoṛə | نوک | Nók | بټنګ | baṭang |
| هندوانه | کنکار | kankār | هندوانو | hindwāno | | |
| شفتالو | هارو | hārū | هارو | hārū | انشی ړي | anšayṛi |
| هېوکی | اډوکه | aḍoka | اډوکی | aḍukay | اډول | aḍol |
| الوبخارا | الوبخارا | alūboxārā | الوبخارا | alūbuxārā | الوبخارا | alūbūxārā |
| الوچه | الوچه | alūča | الوچو | alūčo | الوچه | alūčà |
| کېله | کېله | kela | کېلو | kelo | کېله | kelà |
| لوکاټ | لُوکاټ | lūkāṭ | لوکاټ | lūkāṭ | الوکاټ | alūkāṭ |
| مالټه | مالټه | mālṭà | مالټو | mālṭo | مالټه | mālṭà |
| غوز | لېموړي | lemoṛi | اچوړ | ačoṛ | اکوړ | akūṛ |
| ګورګوري | ګورو | gorū | ګارو | gārū | ګارو | gārū |
| شنې | توروک | tūrūk | ټهوک | ṭhok | شنی | šənəy |
| نښتر | لوموټه | lawmuṭà | نښتر | naṣṭər | نښتر | naṣṭər |
| مرخنۍ | سونزو | sūnzu | مرخڼیه | mərxaṇaya | سینز | sinz |
| ونه | موټه | muṭə | جول | jul | ځیل | ǰil |
| وله | ببو | bew | بیڼي | bayṇi | وله | wəlà |
| کارغه | کوټه | kawṭə | قاق | qāq | کارغه | kārɣə |
| باز | باز | bāz | بوز | bóz | باز | bāz |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کوتره | کوپیتي | kopiti | کوترۍ | kawtàrəy | کوتر | kawtàr |
| چنچڼه | پېچین | pečin | چونکیړي | čunkayṛi | چینچڼه | činčəṇà |
| سیسۍ | سیسۍ | sisəy | | | سیسۍ | sisəy |
| چونچیر | کانجوړ | kānjoṛ | | | گاشوړ | gāšoṛ |
| بیاتي | خمچي | xamči | بیاتي | byāti | بیاتي | byāti |
| لینده | بدنکوړیک | badànkuṛik | بتنکوړي | batànkoṛi | بدنچوړ | badànčaṛ |
| ښمڅۍ | دوروټي | dūroṭi | ډوري | ḍūri | چمچړ | čamčaṛ |
| ماتوړ | بډیل | baḍil | موتوړ | motoṛ | ماتوړ | mātoṛ |
| لور | انکه | ankà | هانکو | hānko | انک | ank |
| ډانگۍ | ډون | ḍon | ډوڼ | ḍoṇ | ډونډ | onḍḍ |
| جبل | ښیمرډون | cimarḍon | جبل | jabal | جبل | jabàl |
| بړستن | شیپ | ƛep | بړستن | bṛastən | لیپ | layp |
| څادر | اګړ | agàṛ | هاګړ | hāgəṛ | چادر | čādər |
| جامې | ښیکۀ | cikə | کوچه ره | kočara | زیدا | zidā |
| پګړۍ | شالۀ پالۀ | šāləpāl | پټکی | paṭkay | پټکی | paṭkay |
| واسکټ | واسکټ | wāskaṭ | واسکټ | wāskaṭ | واسکټ | wāskaṭ |
| کمیس | ډیګري | digri | کوچیري | kūčayri | پیران | pirān |
| پرتوګ | | | شربال | šàrbāl | شلوبال | šàlwayl |

## مأخذونه


۱۱- حاجي دواجان د خانمیر زوی د وټه پور ولسوالۍ د کټار کلا اوسېدونکی، ۷۵ کلن، په لیک لوست پوهېږي. په پښتو او دري هم پوهېږي.

۲- شینواری، دوست محمد، د ا فغانستان ژبې او توکمونه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۴ل، ۳۹۸مخ.

۳- ضیاء گوار، ضیا الله، زبان گواری(پایان نامۀ تحصیلی دورۀ لسانس، تحت نظر پوهنیار طارق ذاکر، پوهنتون ننگرهار، پوهنځی زبان و ادبیات، بخش فارسی دری، ۱۳۹٦ش، صفحات ۷ـ ۹.

۴- مارگن ستېرن، زبانهای افغانستان، مترجم یعقوب حسن قریشی، مجله آریانا، دوره بیست و ششم، شماره سوم جوزا و سرطان، ۱۳۴۷ش، شماره مسلسل ۲۷٦، صفحۀ ۲۸.

٦- محمدحیات خان۱۳۸٦ل: حیات افغاني، د طالبي او ظریفي ژباړه، د علامه رشاد تحشیه او تعلیقات، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه. ۴۷۸مخ.

۷- محمدصابر خوېشکی ، پښتو غړپوهنه او وییپوهنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ۱۳۸۰ل، ۱۰ مخ.

## مرکې

۱ -اکرام الله، اسرار، غلام حسین، نېشه گام، اسمار، پښتو ادبیات/ ماسټري محصل/ ۲۸ کلن. گوري، پښتو، دري. سل لومړني لغات،۲۴/۵/۱۳۹٦.

۲ ـ شریف الله> سانین، د محمد نواز سانین زوی، د افغانستان دعلومو اکاډمۍ مرکزي وداني، ۱۳۹٦/۵/۹ ل.

۳ ـ انجینر فخرالدین، ساوجی، د مامور مصلح الدین زوی، کونړ، د ناړۍ ولسوالۍ د ساو کلي اوسېدونکی، د چارو اداري کارمند.

۴ـ داؤدشاه د وټه پور ولسوالۍ د کټار کلا اوسېدونکی، ٦۵ کلن، نالوستی، په پښتو ژبه پوهېږي.

۵ـ شریف الله د محمد نسیم مامور زوی، د کونړ د ناړۍ ولسوالۍ د ساو کلي اوسېدونکی د فیصل اباد پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي فارغ، اوس د مخابراتو وزارت کارمند.

٦ـ حاجي دواجان د خانمیر زوی د وټه پور ولسوالۍ د کټار کلا اوسېدونکی، ۷۵ کلن، لوستی.

څېړندویه راضیه نوري

# د خوشحال خټک په اشعارو کې پښتنې ګاڼې

# The Pashtani Gāṇe (Jewels) in the Khoshal Khan Khattak poems

Researcher Razia Noori


## Abstract

Khoshal Khan Khattak is a prominent personality in the history of Pashto literature. It has been 340 years since he has passed away, and there has not still been anyone in Pashto literature to be a well-known poet like him in terms of quality and quantity. The Khushal Khan poetry is covering the different aspects such as - history, geographical, medical, political, ethical, religion, and other hundreds of issues have reflected in it. He has explained on life, arts, tribes, beauties, clothes, and other things of Pashtons and has mentioned them in his poems.

In this paper, those Gāṇe (Jewels) have been identified, which Khushal Khan has mentioned in his poems: for instance, ogai, bāhoo, bisra, pāwli, pāilo, pezwān, ṭeeck, jawāwəle, čārgwəl, saṛəy, halqay, dookdokai, ɣamai, ɣotyālee, kaṭmāla, kwənjəka, gwətma, laṛ (laṛai), lashtai, lawangin, məshkəṇe, manni, nəta, washai, Hār and Hickal.

These Jewels are according its structure are two types: Metallic Jewels and Non-metallic Jewels. So, in this paper, only metallic Jewels will be identified.

## لنډيز

د پښتو ادبياتو په تاريخ کې خوشحال خان خټک يوه نوميالی او بې ساري څېره ده. د هغه له مړينې شاوخوا ۳۴۰ کاله تېرېږي خو په دومره اوږه زماني واټن کې پښتو ادبياتو د هغه سيال او ساری ونه موند. خوشحال خان په نظم او نثر دواړه کې لوی لاس درلود. هغه په خپلو شعرونو کې د پښتني ټولنې د بېلابېلو اړخونو انځورگري کړې ده. د هغه په شعرونو کې تاريخي، جغرافياوي، طبي، سياسي، توکميز، ديني او په سلگونو نور موضوعات ترسترگو کېږي.

په دې مقاله کې هغه ۲۹ ډوله گاڼې يا سينگارتوکي تشرېح شوي دي چې د خوشحال خان خټک په شعرونو کې راغلي دي او هغه دا دي: اوربی، باهو، بيسره، پاولي، پايلو، پېزوان، ټيک، جوواولې، چارگل، څړی، حلقې، دوکدوکی، غمی، غوټيالي، کټماله، کونجکه، گوتمه، لړ، لښتی، لونگين، مشکښې، منی، نته، وښی، هار او هيکل.

د پورتنيو گاڼو د جوړښت توکي، د استعمال د ځای او ان د استعمال د عمر په اړه په دې مقاله کې معلومات وړاندې شوي دي.

## سريزه

پښتني گاڼې د پښتني فرهنگ هغه برخه ده چې زرگونو کاله تري پښتون قوم د ځان سينگارونې او خپل شخصيت راځلونې لپاره کار اخيستی دی. موږ په عام ډول پښتني گاڼې هم نه څېړو، بلکې يواځې د پښتو ادبياتو د کلاسيک دور د نوميالي او بې جوړې شاعر خوشحال خان خټک په شعرونو کې يادې شوې گاڼې څېړو.

گاڼه د انساني ښکلا يوه وسيله ده، انسان له زېږېدو تر مړينې د ځان سينگارولو او ښکلا هڅه کوي. په سمه توگه څرگنده نه ده چې گاڼه څومره وخت پخوا جوړه شوې او کارېدلې ده؛ خو د ځينو شواهدو له مخې داسې څرگندېږي چې انسان زرگونه کاله پخوا جوړه کړې او کارولې ده. پښتون قوم اوږد تاريخ درلودلی او لري يې. پښتون قوم هم په خپل وار د نړۍ د تمدنونو په رامنځ ته کولو او پاللو کې ونډه اخيستې ده. د آسيا په لويه وچه کې د هند، افغانستان او اوسني پاکستان د تمدنونو ډېرې دورې د پښتون قوم په برکت رامنځ ته شوې او پالل شوې دي. د هند دولت د تمدن او دولتدارۍ په برخه کې تر اوسه په سوري شېرشاه وياړي.

طبیعي خبره ده چې دې قوم هم د ځان سینګارونې لپاره له ډول ډول وسایلو او ګاڼو څخه کار اخیستی دی. په ګاڼو او پښتني ګاڼو به په کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنتون، د افغانستان په علومو اکاډمي او د هېواد په نورو پوهنتونونو کې لیکنې شوې وي؛ خو ما په دې موضوع بیا ځکه کار وکړ، چې زما کار له هغو سره توپیر لري.

توپیر یې دا دی چې ما یواځې په داسې مشخصه موضوع کار کړی، چې تر اوسه پرې چا کار نه دی کړی او یا پرې زه خبره نه یم، هغه د خوشحال خان خټک په اشعارو کې د پښتني ګاڼو یاد دی.

د دې مقالې په خپرېدو سره به د ادبیاتو او په ځانګړي ډول د خوشحال خټک مینه والو ته جوته شي، چې هغه په خپلو شعرونو کې کومې ګاڼې یادې کړې دي. تر ممکنه بریده به په دې اړه مینه والو ته معلومات هم وړاندې شي، چې د دغو څو سوو کالو په اوږدو کې په ګاڼو کې څه بدلونونه راغلي دي؟ کومې ګاڼې نوې دود شوې دي؟ کومې په خپل حال پاتې شوې دي او کومې هغه وخت موجودې وې او اوس له منځه تللې دي؟

بده به نه وي که په اصل موضوع له خبرو کولو نه مخکې د ګاڼو جوړښت، مخینه او د کارېدنې ډول یو څه وڅېړو.

## د موضوع اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع څېړنیز اهمیت په دې کې دی، چې په دې موضوع تر اوسه چا مستقل کار نه دی کړی او د خوشحال خان په شاعرۍ کې د ډېرو داسې ګاڼو یادونه شوې ده، چې یا خو اوس نه استعمالېږي او یا هم په ډېرو لیرې پرتو کلیو او بانډو کې کارېږي او ښاري پښتانه یې اصلاً نه پېژني. له همدې امله دا څېړنیزه مقاله د خوشحال پېژندنې له ډګر سره یوه مرسته او د پښتنو د پخوانیو مروجو ګاڼو پېژندنه ده.

## د څېړنې موخه

مینه والو ته د پښتني فرهنګ د یوه مهم جز یا ګاڼو خو هغو ګاڼو معرفي کول چې خوشحال خان یادې کړې دي او اوس ورسره ډېر ځوانان او پېغلې ناآشنا دي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې ما د دې پوښتنو د ځوابولو هڅه کړې ده: خوشحال خان په خپله شاعرۍ کې کومې ګاڼې یادې کړې دي؟ آیا دغه ګاڼې اوس استعمالېږي که نه؟ دغه ګاڼې له څه شي جوړېږي او څرنګه استعمالېږي.

## د څېړنې میتود

ما په دې څېړنه کې له تشریحي مېتود څخه ګټه اخیستې ده، ځکه چې دغو پخوانیو ګاڼو چې اوس یا نه استعمالېږي او یا ډېرې لږې او هغه هم په لیرې پرتو سیمو کې استعمالېږي، تشرېح او پېژندنې ته اړتیا درلوده.

### د خوشحال خان خټک په اشعارو کې ګاڼې

مخکې له دې چې د خوشحال خټک په شاعرۍ کې یادې شوې ګاڼې تشرېح او توضېح کړم، د ګاڼو په جوړښت، سابقې او د استعمال په ډول باید لږه رڼا واچول شي.

## الف) جوړښت

ټول انسانان په یوه یا بل ډول د ځان سینګارولو او ځان ښایسته ښکاره کولو هڅه کوي. د ښایست په اړه قرآني آیتونه او نبوي حدیثونه هم شته دي. د ښایست د دې هڅې لېوالتیا ښځینه او نارینه دواړه لري. دا هڅه او لېوالتیا د انساني فطرت غوښتنه ده؛ خو ښځې په دې ډګر کې تر نارینه وو وړاندې دي. ښځینه د نارینه وو په پرتله ګاڼې ډېرې استعمالوي او په پښتني ټولنه کې خو تقریباً ټولې ګاڼې ښځو ته ځانګړې دي.

ګاڼې د جوړښت د توکو له مخې په لویه کې په دوه ډوله وېشل کېږي: فلزي او غیرفلزي.ګاڼې له بېلابېلو څیزونو څخه جوړېږي لکه فلزات، قیمتي ډبرې، ښیښې، پلاستیک، هډوکي، لرګي او نور. هغه فلزات چې ګاڼې ترې جوړېږي: سره زر، سپین زر، ژېړ، مس، اوسپنه، الماس او نور دي.

له سرو زرو څخه ټیکه، بنګړي، ګوتې، والۍ، چارګل، پېزوان، امېل، غوټۍ، وښې، لښتې، غوزې، باهوګان او نور جوړېږي. څرنګه چې سره زر له نجیبه او قیمتي فلزاتو څخه دي؛ نو له سرو زور څخه زیاتره هغه ګاڼې جوړېږي، چې سپکې

او وړې وي. سره له دې چې څوک شتمن وي او د جوړولو وس یې لري؛ نو ټولې هغه ګاڼې هم ورڅخه جوړوي، چې له سپینو زرو او یا نورو فلزاتو څخه جوړېږي.

له سپینو زرو څخه هم ټولې هغه ګاڼې جوړېږي چې له سرو زرو څخه جوړېږي، لکه: ټیکه، بنګړي، ګوتمۍ، والۍ، چارګل، پېزوان، هار یا امېل، غوټۍ، وښي، لښتۍ، غوزې، باهوګان او نورې. سپین تر سرو زرو ارزان دي؛ نو درنې او غټې ګاڼې، لکه اوږۍ، غوزې، لښتۍ، باهوګان، والۍ، وښي او نور زیاتره له سپینو زرو څخه جوړېږي. همدارنګه له نورو فلزاتو، لکه ژېړو، مسو، اوسپنې او الماسو څخه هم پر پورتنیو ګاڼو سربېره نورې ګاڼې، لکه چمکلي، روپۍ، ببرې روپۍ، پاولي، زنځیرونه، جوغاول، بهادرۍ، مډالونه او نورې جوړېږي.

پلاستیک هم په دې وروستیو کې په ګاڼو کې ډېر رول لري. ډېرې ګاڼې له پلاستیک څخه هم جوړېږي، لکه بنګړي، ساعتونه، والۍ او ځینې نورې ګاڼې.

په همدې ډول په ګاڼو کې له قیمتي ډبرو، لکه زمردو، یاقوتو، بیروجو، عقیقو، لعلو او نورو څخه هم ګټه اخیستل کېږي. له قیمتي ډبرو څخه زیاتره د غمیو، هارونو او نورو ګاڼو په ښکلا کې ګټه اخیستل کېږي. همدارنګه له ښیښې څخه هم په ځینو ګاڼو کې د ښکلا زیاتېدو لپاره کار اخیستل کېږي، لکه ستارې او په ځینو ګاڼو کې دهینداري په توګه د ځلا لپاره ښیښې استعمالېږي.

د یادولو وړ ده چې هره ګاڼه څو ډوله لري او په بېلابېلو سبکونو جوړېږي.

## ب) د ګاڼو مخینه

د ګاڼې او پسول د پیدایښت په باب د پوهانو او په تېره د لرغونپېژندونکو نظر دا دی، چې ګاڼه د انسان له پیدایښت او د ژوند له لومړني پړاو سره یوځای پیدا شوې ده، چې څرك یې د سمڅو او غارونو د اوسېدونکو انسانانو د ژوند په وخت کې لیدل شوی دی. پوهان وایي، چې په سمڅو او غارونو کې داسې نخښې او نښانې د لرغونپېژونکو له خوا موندل شوي چې انسان لا هغه وخت د خپل وجود، تنې او بدن په بېلابېلو برخو باندې د ښکلا، ښایست او ځان ښو اېسېدو لپاره، لومړنۍ ګاڼه استعمال کړې ده.(۵: ۱۱- ۱۲ مخونه)

داسې اټکلونه او ځینې شواهد شته چې وایي انسانانو زرګونه کاله مخکې ګاڼه جوړه کړې او استعمال کړې ده:

((غربي څېړونکو ویل چې انسان ۲۵ زره کاله پخوا ګاڼه جوړه کړې او کارولې ده؛ خو په ۲۰۰٦ز کال کې داسې نخښې په لاس ورغلې چې ښيي انسان ۹۰ زره کاله پخوا ګاڼه جوړه کړې او دا ګاڼه يې د مېوو له زړو څخه جوړه کړې ده.))(۱: سریزه، ۱۱ مخ)

د لرغونپوهانو د څېړنو له مخې، انسان د ژوند په پيل کې د ځان سينګار او ډولي کېدو لپاره، د مړو ژويو او ځاروپو له غاښونو او نورو مهينو (نازکو، هوارو) هډوکو څخه، د ګاڼې په ډول استفاده کړې ده. د ژويو د غاښونو هډوکي، چې مهين او ښوی به ورمعلومېدل، د لمر د شغلو په لګېدو سره يې پړك او ځلا كوله، يو ځای د يوه کتار په ډول ځنګ په ځنګ سره پېيل او د غاړکيو په ډول به يې استعمالول. دا شان به يې په لاسو او مټو پورې راځوړندول، چې نخښې او نښانې يې اوس هم په افريقايي لومړنيو ټولنو او کليو کې چې له تمدن څخه ليرې دي، تر سترګو کېږي. په دې اړه لرغونپېژندونکو ډېرې څېړنې کړې دي. د وخت او پېړيو په تېرېدو سره، چې د انسان په ژوند کې پرمختګ راغی، انسانانو د دغو لومړنيو ګاڼو د جوړولو له تجربې څخه په استفادې په خپلې پوهې سره نوې ګاڼې جوړې او رامنځ ته کړې دي.

په هرحال، ګاڼه چې ځينې پښتانه يې پسول هم بولي، زموږ د آريايانو په لرغوني آريايي تمدن کې يې يادونې په آريايي پخواني تاريخ کې راغلې دي وايي، چې لرغونو آريايانو تر ميلاد دوه زره کاله پخوا بېلابېلې او ډول ډول ګاڼې په بېلابېلو ډولونو او سايزونو سره يعنې لويې او وړې جوړولې، چې د ځان سينګار او ښکلا لپاره به يې د خپل بدن په بېلابېلو برخو راځړولې. د ګاڼو په استعمال کې آريايي قومونو پوره برخه درلوده، چې نرو او ښځو دواړو به کارولې. د ګاڼو دغه دود له لرغوني آريايي تمدن څخه تر نن پورې په آريايانو کې راپاتې دی او اوس هم په مينه پالل کېږي.

افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه د آريايي توکم د يوه مېړني قوم په توګه، تر اوسه دغه لرغونی آريايي ميراث په مينه سره پالي او په بېلابېلو پښتني قبيلو، خېلونو او کورنيو کې ډول ډول ګاڼې استعمالېږي، چې د هرې سيمې زرګران يې په خاص مهارت سره جوړوي. ګاڼو اوسمهال سوداګريز اهميت هم پيداکړی دی.

په هر صورت، ګاڼه چې هر څومره مخينه لري، خو موږ يې د خوشحال په زمانه کې اهميت د هغه له خولې داسې اورو:

د پســاله صـفت یــې شي، د رنــګ یــې نـــشي
څوك چې پورې په بدرنـــګه ناوې پســـــول کا

که له پورتنیو ټولو شواهدو او دلایلـو تېـر شـو او یـوازې د خوشـحال خټـک پـه اشعارو کې هم د پښتني ګاڼو د یاد ځرک ولټوو؛ نو هم پوهېږو چې لـږ تـر لـږه څلـور سوه کاله پخوا هـم اوسـنۍ مروجـې ډېـرې ګـاڼې پـه پښـتني ټولنـه کـې دود وې او استعمالېدې.

## ج) د کارېدنې ډول

یوازې پښتون قوم نه، بلکې د نړۍ بېلابېل قومونه هم ګـاڼې کـاروي. هـر قـوم ځینې ځانګړې ګاڼې لري او ځینې بیا تقریباً په لـږ و ډېـر تـوپیر د زیـاترو قومونـو تـر منځ شریکې وي. هر ګاڼه پر بدن د ځړولو او کارېدلو ځـانګړی ځـای لـري. د سـاري پـه ډول چارګـل پـه پـوزه کېـږي، ګوتمـه یـا ګوتـه پـه لاس کېـږي، بنګـړي، وښـي او باهوګان مړوند ته اچول کېږي. اوږۍ غاړې ته اچـول کېـږي، هـار پـه غـاړه کېـږي او معمولاً پر سینه راځړېږي؛ نو ویلای شو چې هره ګاڼه د بـدن پـه یـوه ځـانګړي ځـای ځړېـږي یـا اسـتعمالېږي. لـه پښـو نیـولې تـر سر پـورې پـه هـر غـړي ځـانګړې ګاڼـه استعمالېږي. ځینې ګاڼې کونډې لري چې په جامو یا ویښـتانو کـې ټومبـل کېـږي، ځینې نورې تارونه لري چې په جامو پورې ګنډل کېږي؛ خو ځینې بیا نېغ په نېغـه د بدن له غوښې سره کلکېږي. زه به هڅه وکړم چې د هرې ګاڼې د جوړښت په توکو او د کارېدنې پر ځای هلته لنډه لنډه تبصره وکړم.

ګاڼې د استعمال د ډول له مخې:

د استعمال د ډول له مخې ګاڼې په درې ډولونو وېشلای شو:

۱- هغه ګاڼې چې نېغ په نېغه د انسان له غوښـې سره پـه تمـاس کـې وي، پـه دې ګروپ کې دا ګاڼې شاملې دي: چارګل، پېـزوان، نتکـۍ، بنګـړی، بـاهو، وښـی، ګوتمه، پایزېب، مېخکی، لښـتۍ، غـوزه، والـۍ، مونـدرۍ، اوږۍ، چمکلـی، ډیـوډ یـا ډیډه، ستورړه او کنګړ.

۲- هغه ګاڼې چې د سر په ویښتانو کې ټومبل یا کلکېـږي، پـه دې ګـروپ کـې دا ګاڼې شاملې دي: ټیک، جنجالې یا جنجاول، څاواره او نورې. د یادولو وړ ده چې ځینې ګاڼې په ټیکرې، پړونې، شال او زړوکې پورې نښلول کېږي، لکه ستارې، سرۍ او نورې.

۳- هغه ګاڼې چې په کمیس پورې نښلېږي، په دې ګروپ کې دا ګاڼې شاملې دي: پاولي یا پتري، بهادرۍ، ببرې روپۍ، شالمۍ، چنده نار، تعویذ او نور.

زه به هڅه وکړم، هغه ګاڼې په ګوته کړم چې پخوا دود وې او کارېدې؛ خو اوس یا نه استعمالېږي او یا یې کارېدل کم شوي دي. هغه ګاڼې به هم په ګوته کړم چې پخوا دود نه وې؛ خو اوس دود شوي او په پښتنې ټولنه کې یو شمېر مینه وال لري.

تر څه بریده به هڅه وکړم چې د ځینو ګاڼو د له منځه تګ او یا دودېدو په لاملونو هم د خپل توان په اندازه رڼا واچوم؛ خو لکه چې څرګنده ده ځینې پښتنې قبیلې او ځینې پښتنې سیمې ځینې ګاڼې زیاتې استعمالوي او په ځینو کې بیا هغومره مروجې نه وي، له همدې امله ښایي په دې اړه زما معلومات نیمګړې وي.

زه ګاڼې د جوړښت د توکو له مخې په فلزي او نافلزي باندې وېشم. لومړی فلزي ګاڼې معرفي کوم، بیا یې د کارېدو په ځای او ډول لنډه تبصره کوم او که ممکنه وي یو یو انځور یې وړاندې کوم. ورپسې په همدې ډول نافلزي ګاڼې معرفي کوم.

### الف) فلزي ګاڼې

**اوړۍ:** اوړۍ په ګاڼو کې تر ټولو درنه ګاڼه ده چې په غاړه کېږي. دا ګاڼه دایروي شکل لري او په دواړو سرونو کې کونډې لري چې غاړې ته واچول شي؛ نو کونډې یې یو له بله سره کلکېږي. اوړۍ پخوا ډېره استعمالېدې؛ خو اوسمهال هغومره نه استعمالېږي او که لږې لږې استعمالېږي، هغه هم په لیرې پرتو سیمو کې، په ځانګړې ډول پښتنې کوچیانې یې استعمالوي.

د جوړښت له مخې د اوړۍ عمومي بڼه یوه وه، یعنې تقریباً بیضوي ډوله وه؛ خو په جوړولو کې یې له بېلابېلو سبکونو کار اخیستل کېده. خوشحال خان خټک اوړۍ په خپل شعر کې داسې یاده کړې ده:

د چــــا ناحقــــه لــــه مرګــــه وېــــره ده
دا چــــار کــــه ګــــورې هرګــــوره غــــوېره ده
زرګــــر وښــــې مــــات کــــا اوړۍ ســــازه کــــا
لا تــــر وښــــي نــــه اوړۍ بهــــتره ده

(۳: ۴۱۰ مخ)

په یوه بل بیت کې بیا خوشحال خان خټک له صراحي سره د اوړي یو نسبت داسې بیانوي:

صراحـــي د ســـپینو زرو ســـپینه غـــاړه
سـیم آسـا اوړي دې هـم پـه دغـه شـمار دي
(۳: ٦۱۷ مخ)

اوړي معمولاً له سپینو زرو جوړېده، ځکه په گاڼو کې تر ټولو درنه او زیات وزنه گاڼه وه؛ نو له سرو زرو یې هر چا د جوړېدو توان نه درلوده؛ خو له سرو زرو هم شتمنو لږ و ډېرې جوړولې. همدا رنگه له نورو فلزاتو څخه هم جوړېدې.

**باهو**

باهو له سرو زرو، سپینو زرو او نورو فلزاتو څخه جوړېږي. باهو هم د بنگړي په څېر په مړوند کې اچول کېږي؛ خو تر ونبې پلن او درونـد وي. زیاتره یې مشرې ښځې استعمالوي. په مړوند کې یواځې یو باهو اچول کېږي، ځکه چې د پلنوالي له امله په هماغه یوه باهو مړوند ډکېږي؛ نو یو باهو مړوند ته بس دی. باهو څو ډولونه درلودل، پخوا زیات استعمالېده؛ خو اوس یې دومره رواج نشته، یعنې اوس پلن فلزي بنگړي څوک نه خوښوي.

خوشحال خان خټک باهو هم له یاده نه دی ویستلی او څو ځله یې په خپلو شعرونو کې یاد کړی دی:

ښـــاپېریې دې پـــه هورتـــه هورتـــه گرځـــي
نـــن پـــه دا لـــوري د شـــاه د بـــاهو شرنـــگ دی
(۳: ۲۱۳ مخ)

خوشحال خان په بېلابېلو شعري ژانرونو کې د گاڼو یادونه کړې ده، د یوې څلوریزې په یوه بیت کې د باهو یادونه داسې کوي:

چـــې پـــه مړونـــد یـــې بـــاهو د خیـــال و
گـــــوتې د زرو غمـــــــی یـــــــې لال و

یا وایي:

کـــه برمنـــډ يـــې سر يـــا مـــوی وي
يـــا يـــې ســـاق گـــردن بـــاهوی وي
کـــه وينبـــته کـــه يـــې بـــاهوی وي
کـــه گـــردن وي کـــه يـــې روی وي
(۳: ۱۰۲۸ مخ)

د باهو په اړه خوشحال خان خټک يو بل ځای وايي:

د خوشـحال خټـک د پـاره چـې مـی خـور شـو
پـه مغـان مـې وښـي کښېښـول بـاهو هـم لا
(۳: ۱۳ مخ)

**بيسر**

بيسر د پوزې کومه گاڼه ده.

جـواولې، حلقـې پـه غـوږ، بيـسر پـه پـوزه
قيمتـــــي د مرغلـــــرو دوه لـــــړی
(۳: ۳٦۹ مخ)

**پاولي**

پاولي مشرې ښځې پـه لسـتوڼو پـورې گنـډي. گـونگري او پـتري هـم ورپـورې کلکېږي. اوسمهال د دې گاڼې اسـتعمال ډېـر راکـم شـوی دی؛ خـو پـه لـيرې پرتـو سيمو کې لږ لږ تر سترگو کېږي.

خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کې د پاولیو يادونه هم کړې ده، يو ځـای له مړي هم دا تمه کوي، چې د پاولیو په شرنگ را ژوندی شي، هغه وايي:

که ژوندی نه شي له مرگه عمر يې شوم دی
چې په خاک يې د پاولیو باندې شرنگ کړ
(۳: ۵۳ مخ)

**پايلو:** عموماً له سپينو زرو جوړېږي. گرد حلقوي شـکل لـري، مـنځ يـې خـالي وي او په ښايسته نقش او سينگار جوړه شوې وي. لمنو ته يې گونگري يا غـوټې وي. د خپل سيخک په واسطه بندېږي او لکه د پايزېب تر پښو کېږي.

مرصـــع بـــاهو پـــه لاس گـــوتې پـــه گوتـــو
ژرنگهـــــار یـــــې د پـــــایلو د ځـــــړی
(۳: ۳۷۰ مخ)

## پېزوان

پېزوان هم هغه گاڼه ده چې په پښتو ادبیاتو کـې یـې ډېـره یادونـه شـوې ده او لا کېږي. پېزوان له سرو او سپینو زرو او هم له نورو فلزاتو څخه جوړېږي. پېـزوان د بـادام غوندې پوزې ته اچول کېږي؛ خو یواځې یوې خواته اچول کېـږي. پېـزوان تـه گـونگري هم ځوړند وي. پېزوان د سر په ویښتانو پورې د سیخکي په وسیله کلکېـږي او پـه پـوزه کې د چارگل غوندې کلکېږي. دا گاڼه په هند کې هم ډېره مروجه ده.

خوشحال خان خټک هم پېزوان څو ځله یاد کړی دی، هغه وایي:

ســـور پېـــزوان دې پـــه زرگـــر نـــوی ســـنواریا
بیـــــا د زړو ازار اخلـــــې پاریـــــا پاریـــــا
(۳: ۱٦ مخ)

چـــې تـــر اور تـــر اوبـــو ووځـــې هالـــه ورشي
ســـور پېـــزوان د شـــاه د پـــوزې تـــر ســـوراخه
(۳: ۱۳۰ مخ)

یـــو ســـورکی پېـــزوان پـــه پـــوزه
وربلـــــوټی یـــــو ځـــــو تـــــاره
(۳: ۱۳۴ مخ)

ستا دا سور پېزوان چې فتنه گر دی بې حسـابه
څـو رنگـه فتنـې چـې د جهـان دي واړه ده زده
(۳: ۱۷۹ مخ)

## ټیکه

ټیکه له سپینو زرو، کم کـم لـه سرو زور او زیـاتره لـه نـورو فلزاتـو څخـه جـوړېږي. ټیکه یا ټیک معمولاً پر تندي راځوړندېږي؛ خو د بدن پـه نـورو برخـو لکـه سـینه او اوږو باندې هم ځوړندېږي. ټیکې ته ځینې پښتانه ټیک هم وایي. د ټیک منځ زیاتره رنگـه

او د اوسپنيزې روپۍ په څېر ګرد وي. ټيکه اوس هم ډېره استعمالېږي؛ خو د پخوا په پرتله يې استعمال کم شوی دی. پر تندي د سيخکي په واسطه راځوړندېږي(۲: ۴۵ مخ).

خوشحال خان خټک څو ځايه ټيکه په خپلو شعرونو کې ياده کړې ده:

ګلګونې ختې واړه، مرصع منی په غاړه
ټيکه په تندي ايښې په زلفينو عنبرينه
(۳: ۱۵۸ مخ)

بل ځای وايي:

خـداى دې تـا لـه وړيـو سـترګونه وژغـوري دلربايـه
چې ټيکه په  جبين کېږدې او سينګار وکړې څو شانه
(۳: ۱٦۴ مخ)

سـپين سـبا دې ګـوره د ټيکـې پـه شـفق بنـد کـړ
جګـې جګـې رايـې واخلـه لـه جبينـه
(۳: ۱٦۴ مخ)

بل ځای وايي:

دا يـو سـتوری د اسـمان دی کـه ټيکـه ده
چـې يـې ايښـې پـه جبـين هسـې لـرې
(۳: ۳٦٦ مخ)

پـه بـار بـار دې د سـينګار منـت راباندې
چـې د خيـال ټيکـه خپـل يـار تـه پـه جبـين ږدې
(۳: ۳٦۳ مخ)

يـو هنـدو بـلا دی چـې پـه مکـر ټيکـه کښـېږدي
څوک بـه تـرې خلاصـېږي هغـه ځـای چـې درې څلور شي
(۳: ۲۰۸ مخ)

## جواولې

جـواولې، حلقـې پـه غـوږ، بيسر پـه پـوزه
قيمتـي د مرغلـرو دوه لـړۍ
(۳: ۳٦۹ مخ)

## چارگل

چارگل یوه گاڼه ده، معمولاً له سرو او سپینو زرو جوړېږي؛ خو اوس زیات له نورو فلزاتو څخه هم جوړېږي. چارگل د پوزې گاڼه ده او په پوزه کېږي. چارگل ډېر ډولونه لري: څومنزله ته یې بنوڅي، کوچنیو ته یې چارگل او تر ټولو کوچني ته یې مېخک وایي. د چارگل بېلابېل ډولونه په لاندې ډول دي:

### بنوڅی

وی مې چې له نتې دې چارگل په پوزه زېب کا
وی یې دا خبرې کړه هاله که چا په تا کړې

### څړی

مرصع باهو په لاس گوتې په گوتو
ژرنگهار یې د پایلو د څړی
(۳: ۳۷۰ مخ)

### حلقې

حلقې معمولاً له سپینو زرو څخه جوړېږي؛ خو له سرو زرو او نورو فلزاتو هم جوړېږي.حلقې نرۍ نرۍ وي، په حلقو کې پترې وي، شاته یې کړۍ او له هغو پترې ځوړند وي. حلقه د غوږ گاڼه ده.

خوشحال خټک حلقې په خپلو اشعارو کې داسې یادې کړې دي:

جواولې، حلقې په غوږ، بیسر په پوزه
قیمتي د مرغلرو دوه لړۍ
(۳: ۳٦۹ مخ)

### دړۍ

خوشحال خان خټک (دړۍ) بللې خو علي محمد "منگل" په فولکلوري گلونه کې (داڼۍ) بللې دي. دا یو ډول زر زري کاغذونه وو، چې د ناویو پر ټنډو، اننگو او

زنې باندې به د سرېښناکې مادې يا زر کنډ په وسيله کلکېدل. درې بـه يـواځې يـو ځل کارېدلې او له وينځلو سره له منځه تللې.(۴: ۸۵ مخ)

لــــه اولــــه پــــه سر جــــوړې کــــا درې
بيــــا ټيکــــه پــــه ورځــــو کېښــــږدي خــــونړۍ
(۳: ۳٦۹ مخ)

**دوکدکۍ**

د ټيکــــــــــې د دوکــــــــــدکۍ لال او در دې
گوښــــــې گوښــــــې واړه کېــــــل وتــــــه تيــــــار دي
(۳: ٦۱۷ مخ)

**غمی(نگين)**

غمی کله کله خوشحال د کلام د روانـۍ او د قـافيوي اړتيـا لـه مخـې پـه دري نامه" نگين" هم ياد کړی دی. غمی جلا او مستقله گاڼه نه ده، د نورو گاڼو پـه مـنځ کې د ښکلا لپاره استعمالېږي. غمي په زياترو گـاڼو کـې اسـتعمالېږي او معمـولاً لـه قيمتي ډبرو لکه ياقوتو، زمرودو، بيروجو، عقيقو او نـورو څخـه جـوړېږي؛ خـو لـه نـورو توکو لکه ښيښو، پلاستيکو او نورو څخه هم جوړېږي.

تــــــرې څلــــــور نگينــــــه ســــــاز کــــــړه
څلــــــور گــــــوتې تــــــرې پــــــرداز کــــــړه
(۳: ۸۱۴ مخ)

پــــــه دري گوتــــــو يــــــې گــــــوتې
پــــــه نگــــــين سره وې ښــــــتې؟

**غوټيالي**

له سـپينو او سرو زرو جـوړې وړې وړې جـوړه کـوبۍ دي. ښـځې پـه مـاټوۍ د تندي يا مخې وينښتان يوې او بلې خواته اړوي، وړې کـوځـۍ تـرې جـوړوي، غوټيـالـي په همدغو کوځيو کې کلکېږي او د مخ دواړو خواو ته د څنو پر ځای ځوړند وي.

زه د مســــتې پــــه پېــــزوان بانــــدې مــــين شــــوم
کــــه د مــــــخ کلــــې يې غــــوره غــــوټيالي دي
(۳: ۲۷۵ مخ)

## کټماله

که ټیکه که کټماله کـه نـور سـینګار دی
دا همه تر تورو زلفو پورې خــــوار دی
(۳: ۲۷۵ مخ)

## کونجکه

کونجه یو ډول ارزان بیه صدف دی، معمولاً یـې رنـګ سـپین او ایرنـی خـړ رنګـه وي. کونجکه په پیوې پورې ګنډل کېږي، د ماشومانو په خولیـو پـورې کلکېـږي مـنځ یـې خالي او سوری وي. پخوا به ماشومانو د سرونو لپاره دمولې او په سرونو باندې به یـې ځړولې. که څه هم کونجکه ګاڼه نه ده، یواځې په ګاڼو کې استـعمالېږي؛ خوشـحال خان خټک په خپلو شعرونو کې د کونجکې یادونه داسې کړې ده:

یــــــــوه کونجکـــــــــه ورسره کـــــــــــړه
دا نـــــــه توکـــــــه پـــــــه شـــــــماره کــــــړه
(۳: ۸٦۹ مخ)

لېــــونی دې د جــــمال نـــــه یـــم نــــور څــــه یـــم
چــــې پــــه خپلــــه خونــــه نــــه پرېــــږدم کونجکــــه
(۳: ۸٦ مخ)

## ګوته

ګوته یا ګوتمه هم د نورو ګاڼو په څېـر لـه سرو، سـپینو زرو او نـورو فلزاتـو څخـه جـوړېږي. ځینـې پښـتانه ګـوتې تـه ګوتمـه هـم وایـي. ګوتـو کـې ډول ډول غمـي او جواهرات کېښودل کېږي. په یوه لاس کې څـو ګـوتې هـم اچـول کېـږي. ګوتمـه پـه ګوته کېـږي. ګـوتې پـه ډول ډول بڼـو او سـبکونو جـوړېږي او ښـځې او نـر دواړه یـې کاروي؛ خو د نارینه وو او ښځینه وو ګوتې سره توپیرونه لري.

د خوشحال خان په شاعرۍ کې یې یادونه داسې مومو:

کــــه خــــبر پــــه دا مثــــال یـــــې ویـــــې وایــــه
چــــې پــــه ګوتــــه یــــوه ګوتــــه دوه غمــــي
(۳: ۲۸۱ مخ)

گـــــــــوتې جـــــــــوړې کـــــــــا د زرو
کـــــــــا پـــــــــه لاس يـــــــــې د سرو زرو
(۳: ۷۷۷ مخ)

پـــــــــه درې گوتـــــــــو يـــــــــې گـــــــــوتې
پـــــــــه نگـــــــــين سره وې ښـــــــــتې؟
زر يـــــــــې نـــــــــه کـــــــــړه سره ســـــــــازه
گـــــــــوتې اى هـــــــــنر پـــــــــردازه
(۳: ۸۱۴ مخ)

تـــــــــرې ځلـــــــــور نگينـــــــــه ســـــــــاز کـــــــــړه
ځلـــــــــور گـــــــــوتې تـــــــــرې پـــــــــرداز کـــــــــړه
(۳: ۸۱۴ مخ)

## لړ(لړۍ)

لړۍ ته پښتانه لړ هم وايي چې د هار په څېر غاړې ته او يا هم پـه جـامو پـورې ښلول کېږي.

ژړاوې حلقـــې پـــه غـــوږ، ببـــسر پـــه پـــوزه
قيمتـــــــــي د مرغلـــــــــرو دوه لـــــــــړۍ

## لښتۍ

لښتۍ له سپينو زرو څخه جوړېږي او د غوږې په څېر په غوږ کې اچول کېـږي. د لښتيو لپاره غوږ پاس په کرپندوکي کې سـورى کـوي، دا ځکـه چـې لښـتۍ درنـې وي؛ نو که د غوږ په نرميو کې واچول شي د درد او د غوږ د ژوبلېدو او خرابېـدو لامـل گرځي.

خوشحال خټک د پښتني گاڼې په توگـه لښـتۍ هـم لـه يـاده نـه دي ويسـتلې او يـو ځاى يې داسې يادونه کوي:

چـــې لـــه غـــوږو يـــې مقصـــود مـــومي لښـــتۍ ده
چـــې لـــه پـــوزې يـــې مـــراد مـــومي لونـــگ دى
(۳: ۲۴۰ مخ)

### منی

دا هم د غاړې کومه ګاڼه ده چې د هار او اوږی په څېر په غاړه کېږي.

گلگونې ختې واړه، مرصع منی په غاړه
ټیکه په تندي ایښې په زلفینو عنبرینه
(۳: ۱۵۸ مخ)

### نته

نته سپوږمی ته ورته شکل لري. عموماً له سرو زرو جوړېږي. منځ یې خالي وي، د سر په ویښتانو کلکېږي او پر پېکي یا تندي لکه د ټیک را ځړېږي. ښایي نتکی د همدې ګاڼې مصغره بڼه وي.

وی مې چې له نتې دې چارګل په پوزه زېب کا
وی یې دا خبرې کړه هاله که چا په تا کړې

### وښی

وښی هم ښکلې او ښایسته ګاڼه ده. زرګران دا ګاڼه له سپینو زرو څخه جوړوي. (۴: ۲٦ مخ) وښی ګرد دایروي جوړېږي، ډېر ښوی او مهین وي، زرګران یې پرمخ د زیاتې ښکلا لپاره په خپل هنر او مهارت سره نقشې او سینګارونه جوړوي. ځینې وښي شنه، زېړ او زرغونه غمي لري چې زرګرانو په کې د زیاتې ښکلا لپاره لګولي او کوشېر کړي وي. د غو وښیو ته رنګینه او برګ وښي ویل کېږي.

خوشحال خان خټک د وښي یادونه په خپلو شعرونو کې څو ځایه داسې کړې ده:

د خوشحال خټک د پاره چې مې خور شو
په مغان مې وښي کېښول باهو هم لا
(۳: ۱۳مخ)

که په اور کې د سرو زرو وښی پرېوځي
عیب نشته په دا کار کې یې جلای ده
(۳: ۱۸۵ مخ)

په یوه بل بیت کې بیا وښی داسې یادوي:

چـــې مړونـــد ځکـــوې لـــه مانـــه زمـــا څـــه شي
پـــه ځکـــول ځکـــول بـــه مـــات کـــړې خپـــل وښـــی
(۳: ۲۳۰ مخ)

زرګـــــر وښـــــی مـــــات کـــــا اوړی ســــازه کـــــا
لا تـــــــر وښـــــــي نـــــــه اوړی بهـــــــتره ده
(۳: ۱۲۰ مخ)

کـــــــه د زوی زرخـــــــلخـــــال کـــــا
یـــــا وښـــــی مکـــــروه پـــــه قـــــال کـــــا
(۳: ۱۰۷۸ مخ)

## ب) غیرفلزي ګاڼې

## لونګین

لونګین هم د هار او لړ یو ډول دی. په دې لړونو کې د لونګو دانې پېیې؛ نـو ځکه ورته لونګین وایي. په لونګین کې مری یا مشکنې هـم پېیـې. پېغلـې د لونګـو دانې را اخلي، د ستنې په واسطه یې په تارونو او مزیوك ې په رنګین ډول سره پېیي او په دې ډول سره لونګین ورخخه جوړوي. لونګین پر ښایست او ښکلا سربېره ښه بوی لري. لونګین د امېل غونـدې پـه غـاړه کـې اچـول کېږي او پـر ټټـر راځړېـږي. لونګین د ناویو په جوړه کې پخوا یو لازمي توک و او تر څه بریده اوس هم دی.

خوشحال خان په خپلو شعرونو کې د لونګین یادونه هم کړې ده، وایي:

کښـــېنه پـــه انګـــړ کـــې مخـــامخ چـــې درتـــه ګـــورم
تـــور لـــونګین دواړه چنـــدنې هـــار پـــه ســـینه ټـــال کـــړه
(۳: ۱۹۵ مخ)

ســـخ د آیینـــې دی چـــې دې مـــخ وتـــه تـــل ګـــوري
ســـخ د لـــونګین دی چـــې دې پـــاس پـــه ټټـــر ښـــوري
(۳: ۲۸٦مخ)

تـــه چـــې ســـترګي ښـــوروې خـــود بـــه پـــوهېږې
لـــــونګین چـــــې ښـــــوروې خـــــود بـــــه پـــــوهېږي
(۳: ۲۹۲ مخ)

## مشکنۍ

مشکنۍ کوچنیو مریو ته وایي. مشکنۍ له ښیښې او نـورو توکـو څخـه جـوړېږي. مشـکنۍ هم د سینګار یوه وسیله ده او په نورو ګاڼو کې ورڅخه کار اخیستل کېږي. له مشکنو څخه لړونـه، ځونډې، پټۍ، د ګوتمو پوښونه، د قلمونو پوښونه او نورې ګاڼې جوړېږي.

خوشحال خان په خپلو شعرونو کې مشکنۍ هم نه دي هېرې کړې او وایي:

لال، الماس دي په جهان کـې در مرجـان شـته دي مشـکنۍ
واړه هــیڅ پوشــیده نــه دي د هــر چــا قــدر څرګنــد دی

(۳: ۲۲۱ مخ)

**هار(حمایل، امېل):** هار له سرو او سپینو زرو، نـورو فلزاتـو او نـافلزي توکـو لکـه ګلانو، مشکنو، لونګو، مریو او نورو څخه هـم جـوړېږي. هـار معمـولاً پـه غـاړه کېـږي. خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کې د هار یادونه هم کړې ده، هغه وایي:

هـــــار د جــــــواهرو دوه لـــــــړۍ د مرغلـــــــرو
تـــور وربـــــل وودلـــــی زلفـــــې یـــــې عنبرســــارا

(۳: ۵ مخ)

په یوه بل بیت کې وایي:

کښــېنه پــه انګــړ کـــې مخـــامخ چـــې درتـــه ګـــورم
تـــور لـــونګین دواړه چنـــدڼ هـــار پـــه ســـینه ټـــال کـــړه

(۳: ۱۹۵ مخ)

## هیکل

پـــه نـــاروغ یـــې خوښـــي لا زیاتـــه تـــر روغ شي
څښــــت، تعویــــذ،دعا، هیکـــــل کښـــي پـــه دروغ شي

## د سینګار ځینې نور وسایل

## تعویذ

نـــه یـــې خـــط وي، نـــه یـــې لوســـت، همـــه ټګـــي کـــا
تعویذونـــــــه بـــــــه کـــــــوي، دروغ داري کـــــــا
چـــې ځـــما پـــه خلقـــو، قـــدر و قیمـــت نشـــته
د رنځـــور مـــې بـــې تعویـــذه صـــحت نشـــته

چې رنځور له رنځه روغ شي، راته شا کا نور به بیا ځما تعویذ، د چا پـه مـلا کـا په قضا یې رضا وروړه هر چې ستا په باب یې کړي

په هیڅ رنګ به دفع نه شي په تعویذ په حمایله

د یادولو وړ ده چې خوشحال خان خټک د تعویذ کلمه څو ځایه راوړې ده؛ خو په ټولو ځایونو کې یې مراد هغه تعویذ دی، چې د روغتیا لپاره کېږي؛ نه هغه تعویذ چې د ګاڼې پـه ډول استعمالېږي. البته همدا د روغتیا لپاره تعویذ د ډېرو کارېدو او دودېدو له امله وروسته د ګاڼې په ډول هم منل شوی او کارېدلی دی؛ نو موږ یې هم ګاڼه ګڼو.

**تنبول:** له قرینې داسې ښکاري چې د دنداسې، پان او لب سېرینو غونـدې د سینګار کومه وسیله ده.

تـــــوري ســـــــــترګې پـــــــــه کجلــــــــو
پـــــــه تنبولــــــــو شــــــــونډې سرېنـــــــــه

**حنا(نکریزې)**

و ګـــــــور تــــــــه لاړل هغــــــــه لاســــــونه
چـــــــې پـــــــه حنــــــا بــــــه لالــــــه مثـــــال و

(۳: ۳۸۸ مخ)

فلیـــــل، چـــــوه، رانجـــــه نکریـــــزې ورتـــــه پېـــــري
مشـــــاطې غونـــــدې خـــــدمت کـــــا د زنـــــانو

**رانجه**

رانجـــــه زېـــــب نـــــه کـــــا پـــــه ړنـــــدو ســـــترګو
کـــــه نـــــاز کـــــا نـــــاز یـــــې پـــــه بـــــدرنګ نـــــه ښـــــایي
کـــــــه رانجـــــــه ســـــــــړی تـــــــاوده کـــــــا
اطریفـــــــــــل سره اوبـــــــــــه کـــــــــا
چـــــــــې د ســـــــــترګو هـــــــــر زحمـــــــــت وي
پـــــــه رانجـــــــه بـــــــه یـــــــې صـــــــحت وي

**پان:**

ښــې غټــې تــورې ســترګې لــوی بانــه نــری یــې وروځــې
که پان خوري که شراب څښـي تـر مـری یـې ښـکاره کېـږي

نــــه بــــه مــــاتې ځنــــې پــــه مــــخ پرېــــږدم
نــــه بــــه لانــــدې بانــــدې لــــب پــــه پــــانو سره کــــړم
بيــــا بــــه صــــبر د خوشــــحال خټــــک ولجــــه کــــا
را څرګنــــده شــــوه سره کــــړې خولــــه پــــه پــــانو
هغــــه شــــونډې چــــې ځــــايي بــــې پــــانو سرې دي
هغــــه شــــونډې څــــه حاجــــت لــــری وپــــان تــــه

## کجل

ســــتا دا تــــورې ســــترګې خــــود تــــورې بــــلا دي
درتــــه چــــا وی چــــې يــــې تــــورې پــــه کجــــل کــــړه
بــــاز چــــې والــــوځي لــــه ځــــالې هالــــه ګــــوري
د کــــــبکانو ښــــــايسته ســــترګې کــــجــــلې

## پایله

په لنډو ټکو ویلی شو چې لنډۍ د پښتو شفاهي ادب یوه ځانګړې بډایه برخـه ده، ډېره برخه یې د ښځو له خوا ویل شوې او د پښتنې مېرمنـې د نـازکو نوښـتونو او پېچلو احساساتو څرګندونې دي.

په لنډیو کې د مېرمنو عواطف، احساسات او جذبات ډېر په زړه پورې او پـه محسوسـه توګه انځور شوي او تل یې د دوی ارمانونه، پیغامونه او الهامونه خوندي ساتلي دي.

له بده مرغه کله ناکله په ټولنیز ژوند او پښتني ټولنه کې ښځې د ناوړو دودونـو په پایلو کې ډېرې ځورېدلي او قرباني شوې دي. په کوچنیوالي کې د یو چـا پـه نـوم شوې یا او یا - اتیا کلن سړي ته په نکاح شـوې، پـه بـدو کـې ورکـړل شـوې، کـوچني هلک ته واده شوې او بلاخره ژوند يې په اوبو لاهو شوی او برباد شـوی دی؛ نـو ځکـه دوی هم د خپل درد د انعکاس لپاره د لنډیو فورم غـوره کـړی دی او د خپـل زړه درد او د ژوند ناخوالې یې په همدې قالب کې بیـان کـړې دي، چـې مـا تـرې یـواځې لـه سینده کوزه را ډکه کړای شوه.

## مأخذونه

۱ـ حکمتیار، گلبدین، بایبل د قرآن په رڼا کې، لومړی چاپ، سلواغه ۱۳۸۵ ل کال.

۲ـ حقمل، بسم الله، د تېیوکلتور او فولکلور، ۱۳۸۳ ل کال.

۳ـ خټک، خوشحال خان، کلیات- اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانگه عبدالقیوم زاهد مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل کال.

۴ـ منگل علمي محمد، فولکلوري گلونه، د افغانستان د علوماکاډمي، ۱۳٦۰ل کال.

۵ـ منگل، خدیجه، په ولسي ادب کې د پسول او گاڼې یاد (مونوگراف)، د ښوونې او روزنې پوهنتون، پښتو څانگه: کابل، ۱۳۸۸ل کال.

څېړندویه سونیا صمیم هوتک

# شاعر د الفت له نظره

# Poet from the point of view of Alfat

**Researcher Sonia Samim Hotak**

**Abstract**

Both poem and poet are the instrument of inducing the social consciousness but, these instrument have also gone unnoticed and still we don't have a precise introduction to poem and poet through which the value, responsibilities and duties of the poem and poet are identified and besides the other instruments the community must be instructed by poem and poet and their thoughts and writings should be considered theoretically and practically in every area of life. To a greater extent this tradition has been practiced in other communities but, the Pashto language also faces such deprivation a long with a number of other deprivations.

In this article an attempt is made to first understand the literal and terminological meaning of the poet from various dictionaries and books and then we will see who is a poet in Alfat's point of view.

**لنډيز**

شعر او شاعر دواړه د ټولنيز شعور د راوېښولو وسيلې دي، خو زموږ دا وسيلې هم له پامه غورځېدلي دي او تر اوسه هم يوه کره او سمه پېژندنه له شعر او شاعر څخه نه لرو چې په وسيله يې د شعر او شاعر ارزښت، مسووليتونه او دندې په ګوته شي او د نورو وسيلو تر څنګ د شعر او شاعر په وسيله هم د ټولنې لارښوونه وشي او د هغوی افکار او ليکنې د ژوندانه په هره برخه کې په نظري او عملي توګه په پام کې ولري. تر ډېره حده دغه دود په نورو ټولنو کې پالل شوی، خو پښتو ژبه له يو لړ نورو ادبي محروميتونو سره له دې ډول محروميت سره هم مخامخ ده.

په دې مقاله کې هڅه شوې ده چې د بېلابېلو قاموسونو او آثارو په وسيله لومړی د شاعر لغوي او اصطلاحي معنا جوته شي او بيا به وګورو چې شاعر د الفت له نظره څوک دی.

**سريزه**

ښکلا پېژندنه او احساس په ټولو وګړو کې توپير لري. کېدای شي يو څوک د يو چا په نظر ښکلی وي، خو د بل چا له ښکلاييز ذوق سره سم و نه خېژي. د ښکلا پېژندنې ذوق په ټولو وګړو کې يو شان نه دی، د يو چا يو ډول شعر او ليکنه خوښېږي، خو د بل بيا داسې نه وي. د يو شعر لپاره هر وګړی بېل بېل تعريف لري او د هغه د ښکلا د وزن کولو لپاره بېل معيار. يا لکه رنګ، ځينې کسان تور رنګ، ځينې سپين او ځينې هم سور رنګ خوښوي، زما بيا ژېړ رنګ خوښېږي، خو داسې هم بايد و نه شي چې زما د ژوند ټول چاپېريال دې ژېړ رنګ ولري، که داسې شي؛ نو د هر څه ښکلا به له منځه ولاړه شي او په لږ وخت کې به مې زړه له دې رنګ څخه هم تور شي. شعر هم همداسې دی، د ټولنې د بېلابېلو پوړيو، سياسي او ټولنيزو چاپېرياليونو کې خپل رنګ بدلوي، يو شعر ښايي د يوې فرقې يا طبقې له اصولو سره سم وي، خو په نورو کې ښايي ډېر پلويان ونه لري.

ځينې ادبپوهان وايي چې شعر څوک نه شي تعريفولای يا تر اوسه چې کومو پوهانو د شعر د پېژندنې په اړه هڅه کړې، بشپړه نه برېښي، د شعر د نه پېژند او د

هغه د بشپړ تعریف د نه وړاندې کېدلو ښايي څو لاملونه وي. لومړی دا چې شعر د ښکلا او احساس له نړۍ سره اړه لري، لکه څنګه چې خوند، رنګ، ښکلا او نور د تعریف په تنګ چوکاټ کې نه ځايېږي او د فورمول قالب ته ځان نه سپاري، همداسې شعر هم.

د شعر د پنځګر(شاعر) هم کوم جوت پېژند نشته او د شعر په شان شاعر هم د بېلابېلو ادبپوهانو له نظره په بېلابېلو ډولونو معرفي کېږي، خو داسې یو پېژند چې د شاعر ټولې ځانګړتیاوې راونغاړي او د هغه د شخصیت او د هنر هراړخیزه او بشپړه پېژندنه وړاندې کړي، نه تر سترګو کېږي، خو په قاموسونو او ځینو نورو آثارو کې به له شوو تعریفونو څخه یو څو راواخلو بیا به د شاعر، د شاعر د شعار او نظر په اړه د استاد الفت نظریې راوړو او بیا به یې هغه شعر تحلیل کړو چې د شاعر تر سرلیک لاندې یې لیکلی او شاعر یې راپېژندلی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د شاعر او شعر په اړه ډېرو پوهانو خپل نظرونه وړاندې کړي دي؛ خو د الفت له نظره د شاعر پېژندنه چې ډېرو څېړونکو ورته پام شوی نه دی، په دې څېړنه کې د الفت له نظره شاعر درپېژندل کېږي.

## د څېړنې موخه

د شاعر په اړه د پښتو ژبې او ادب د معاصرې دورې شاعر او لیکوال استاد ګل پاچا الفت نظر په ګوته کول، راسپړل او پر دې پوهېدل چې شاعر د یو شاعر له انده څرنګه راپېژندل شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د شاعر لغوي او اصطلاحي معنا څه ده؟

۲ـ استاد الفت شاعر څرنګه راپېژني؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې له تشریحي ـ توضیحي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## اصلي متن

### د شاعر لغوي او اصطلاحي پېژندنه

لومړی به په بېلابېلو آثارو او قاموسونو کې د شاعر لغوي او اصطلاحي معرفي ته وار ورکړو او بیا به د استاد الفت په شعر کې د شاعر پېژندنې ته تم شو.

په " گنجينۀ لغات" کې د شاعر په اړه لولو: شاعر هغه څوک دی چې شعر وايي، د شعر ويونکي، قصيده ويونکي، د شعور خاوند، پوه او موندونکي په معنا دی چې ښځينه بڼه يې شاعره ده. (۵ :۸۴۰ مخ)

په " فرهنگ آنندراج" کې بيا لولو: شاعر د (ع) په زير سره پوه، موندونکی او شعر ويونکی. ( ۹ : ۲۵٦۳ مخ)

په " فرهنگ صبا" کې د شاعر معنا داسې راغلې ده: شاعر د (عين په کسرې سره) پوه، موندونکی، د شعور خاوند، شعر ويونکی، قصيده ويونکی او جمع يې شعراء ده. ( ٦ : ٦٣٢ مخ)

" فرهنگ سخن" اثر د شاعر په اړه ليکي: شاعر يعنې هغه چې شعر وايي، د شعر ويونکی، د شعور خاوند، آگاه، مطلع، باخبره لکه چې وايي: کاش آنقدر شاعر و قادر بودم که در سلک غافلين نمانم. ( ۴ : ۷۳۲ مخ)

" لغت نامه زراد شمس" د شاعر معنا داسې را اخلي: شاعر پوه، باخبره، له خپل نفس څخه باخبره، موندونکی، قافيه ويونکی، هغه چې شعر وايي، ويناوال، وياند، ويونکي، د وينا اوډونکي، قصيده ويونکي په معناوو راځي چې جمع يې شعراء ده. ( ۱۰ : ۲۰۲۳ مخ)

" فرهنگ نفيسي" د شاعر معنا داسې راوړې ده: شاعر يعنې شعر ويونکی، پوه، موندونکی جمع يې شعراء ده. په تازيانو کې د شعر ويونکي لپاره مرتبې دي چې لومړی يې خنديذ دی يعنې هغه څوک چې ښه او فصيح شعر وايي. بيا شاعر ورپسې شويعر بيا شعرور او بيا متشاعر. (۱۳ : ۱۹۸۹ مخ)

د " خوږه ژبه" په اثر کې هم د شاعر لپاره همدا پنځه درجې ټاکل شوي دي چې له مُفلِق(خنديذ)، شاعر، شويعر، شعرور او متشاعر څخه عبارت دي. (۱۲ : ۳۳۸ مخ)

د " الفت ياد" نومي اثر کې د شاعر په اړه د يوه فرانسوي رياليست ليکوال خبره را اخيستل شوې ده چې وايي: شاعر يا ليکوال بايد د خپلې ټولنې هنداره

وي. (۹ : ٦۲ مخ) معنا دا چې شاعر او ليکوال بايد په خپلو ليکنو او آثارو کې د خپلې ټولنې او چاپېريال تور او سپين وښيي چې خلک وکولای شي د خپلې خواشينی، غم او درد ريښې په کې پيدا کړي او د هغو د له منځه وړلو لپاره متې راونغاړي او هم د ليکوالو ليکنه او د شاعرانو شعرونه بايد راتلونکو نسلونو ته د هغوی د زمانې ډېر زرين او څرګند تاريخ وي. دا خبره استاد الفت د " شاعر شعار" تر سرليک لاندې د شعر په ژبه په ښه توګه بيانوي او وايي:

په سر کې فکر د وطن په زړه کې مينه د يار
د زور او ظلم لوی دښمن د آزادۍ طرفدار
حق ويلو ماتوي بت او طلسم د ډار
شاعر د پاره مناسب دی همدغسې شعار
(۳ : ۱۱۷ مخ)

او يا:

فکر کې خيال په خيال کې فکر نيول
معنا ته رنګ، رنګ ته معنا ورکول
د شاعر کار دی شاعر يې وګڼه
د زړه په سترګو خوب په ويښه ليدل
(۲ : ۳۳۷ مخ)

څېړنپوه دوست شينواری بيا د انسان په تفکر او احساس باندې اغېزه د هنر لوی صفت ګڼي او وايي: « د هنر خصوصاً ادب لوی صفت له هر څه زيات په دې کې دی چې په هغه کې منعکس او تصوير شوی ژوند په ډېر قوت د انسان په تفکر او احساس باندې اغېزه کوي». (۱۲ : ۲۸ مخ)

دلته هنر او ادب چې شعر هم د هنر يوه برخه ده، د انسان پر تفکر او کړو وړو ژوره اغېزه لري، ځکه په شعر او ادب کې چې کوم تصور او ايډيال ځای شوي وي، هغه د چاپېريال له ټولنيزو شرايطو څخه رامنځ ته شوي وي. د هنر، شعر او ادب په وسيله دا ايډيال، پيغام او تصور کله په جسمي او کله په روحي بڼو څرګندېږي، معنا دا چې يا به د انسان د ظاهري او يا به د باطني ژوند سمون او اصلاح کوي.

تر هغې پورې يو شاعر او ليکوال ټولنې ته د ورپېښو شخړو او لانجو په درک کې بريالی دی چې د خپل دغه درک په انځورولو کې بريالی وي. د خپل درک بريالی انځورونه د شاعر او ليکوال د اثر د پايښت لامل کېدلای شي او په خلکو کې يې د اثر د محبوبيت راز هم په همدې کې نغښتی دی. څومره چې د يوه شاعر په شعر کې د محسوساتو کيفيت او حالت د ټولنې له هغو سره يو شان وي؛ نو د همدې صفت له امله د تلپاتو ښېګو تر سرليک لاندې راځي. دې صفت ته په کتنې استاد الفت شعر د افکارو په تربيت کې مهم عنصر ګڼي او وايي:

باید شعر شعور خلاص کړي له قیدونو
ترقـی لـور تـه رهــبر شي د فکرونـو
د اوهامــو خرافاتــو بتــان مـات کړي
وي منکر د زور او زر د قدرتونو

(۲ :۳٦۹ مخ)

يعنې شاعر دنده لري چې په خپل شعر کې د ټولنې د افکارو روزنه او پالنه وکړي.

يو ښه شاعر تل د خپلې ټولنې او خپل مهال له غوښتنو سره سم قلم چلوي او هڅه کوي چې د خپل مهال او ټولنې حالات په سمه توګه راتلونکو نسلونو ته ورسوي او د خپل مهال يو تلپاتی انځور راتلونکو ته ولېږدوي چې دا به د يوه شاعر ښه ځانګړنه وي. په دې اړه استاد الفت په " ادبي بحثونو" کې يو بحث لري او وايي: (... نو هر کله چې ژوند د مختلفو احوالو نوم دی او شعر د شاعر د ژوندانه هنداره ده، ضرور به کله اخلاقي کېږي او کله به عشقي رنګ پيدا کوي. يو وخت به په کې د ننګ و غيرت خبرې وي. بل وخت به ننګ و غيرت په ډېرو ولي.) (۱ : ۱۵ مخ)

مطلب دا چې شاعر د خپلې ټولنې هنداره ده او دا چې ټولنه په يو حال نه پاتې کېږي؛ نو شاعر او د شاعر وينا هم په يو حال نه وي، ځکه چې په هنداره کې خو هغه څه ښکاري، څه چې ويني، او څه چې ويني همغه ښېرته منعکسوي او نورو ته يې رسوي. د شاعر او د شاعر د شعر بدلون په ټولو شاعرانو کې ليدلی شو چې د بېلګې په توګه به خوشحال خان ياد کړو چې په يو شعر کې څرنګه او په بل کې څرنګه راڅرګند شوی دی:

خـــــدایه که زه تاته نژدې کـــېږم په افـــــلاس
زر مې کند په غاړه کړه یو مات کنــــډول په لاس

ته کـــه په دا خوښ يې چې مالک د مال و ملک وم
مال و ملک مې هونـــبره کړې چې تېروي تر قياس
لاس مې همــــېش بر لرې په دواړو غليـــــــمانو
دوه غليمان څوک دي؟ يو مې نفس دی بل خناس
طـــمعکه حـــسد دی که حرص که بد خويونه
واړه له ما پـــــــرې کړه د خــپل فضل په الماس
تـــوان د طاعــت راکړه چې اخلاص ورسره مل وي
نه هغـه طاعـــــت چې شي په رســـــم په لباس
يا باري کريـمه د خوشـــحال خټک دا خواست دی
تــل د ده په زړه کې لره ټــــــينگ د دين اساس
(۷: ۲٦۹مخ)

خو په بل ځای کې همدغه واعظ او د روحاني مينې پلوی د نفساني مينــې تـر اغېزې لاندې راځي او وايي:

مست يم مى پرست يم رندي کړمه کړمه کړم
واروه محـــتسبه باده خـــورمه خـــورمه خورم
مـــوړ به ځنې نه شم زه د ميو مستسقي يم
تل که هسې ډکې پيالې څښمه څښمه څښم
(۷: ۳٦۴ مخ)

نو په لنډه توگه ويلی شو چې شاعر د (عين په زير سره) پـوه، مونـدونکی، شـعر ويونکی، قصيده ويونکی، د شعور خاوند، قصيده ويونکی، باخبره، آگاه، مطلع، شاعر بِنَفْسِهِ، له خپل نفس څخه باخبره، قافيه ويـونکی، وينـاوال، ويانـد، ويـونکی، د وينـا اوډونکی دی او يا د هغه وينا ويونکي او ليکـونکي تـه چـې پـر زړه او احسـاس اغېـزه کوي او بديعي احساسات په شور او خوځښت راولي، شاعر ويل کېږي.

د استاد الفت په وينا، شاعر هغه رند دی چې شور او مستي هم لري او د بلبـل غوندې گل پرستي هم کوي. د گل په شان کله خفه کله خوشحال او د پســرلي پـه وړمه کله پرېشان وي. د جانان په اوربل او کاکل بانـدې لکـه گـل او تـاج سرگـردان وي. د عيسی د نرم زړه خوښوونکی د فرعـون او قـارون غرقـوونکی، د نمـرودي بتـانو

ماتوونکی او د ښایست بت ته سر ټیټوونکی دی. له هر بند څخه آزاد بنـدي، تـل حیرانـه او د نړیوال فکر او خیال لرونکی وي. نه یار لري نه ریبار، خو په تمه د دیـدار وي، خـدای خـبر چې څوک په دې لاره راځي چې یو نامعلوم انتظار ورته لري، لکه په دې لاندې شعر کې:

څه رندي او څه شور څه مستي
څه بلبل غوندې گل پرسـتي
د عـشق اور باندې سوی ستي
د شاعر ده هـمدغه هـستي
لکه گـل جگـرخون او خندان
د بـــهار په وږمه پـرېشان
په وربـل په کاکل د جـانـان
لکه تاج وي په سـر سرگـردان
نرم زړه د عیسی خـــوښوي
خو فرعون او قـارون غـرقوي
د نـــمرود ټول بتان ماتوي
د ښایست بـت ته سر ټیټوي
له هـــر قیـــده آزاد زندانـي
د عشق غم گڼي تاج سلطاني
ورسره شـــامـــدام حیراني
سر کې فکر او خـیال جهاني
نه یـې یار چېرې شته نه ریبار
خو ارزو ورســره د دیـــدار
خدای خبر څوک راځي په دې لار
لري ډېر نامـعلوم انـتظار
(۲ : ۱۵۱ مخ)

دا چې د شاعر نظر باید څه ډول وي، په دې اړه هم استاد الفت وایي:

زه یـې پېژنم شاعـر دی بل څوک نه دی
چې دا لوی جـهان وړوکی ورته ښکاري

د وربښمو او زربــفتو ښایسته تـــوکـــي
د نـــادان په تـــن زړوکـي ورته ښکاري
طـــوفاني دریاب ګڼي د مظلوم اوښکې
د دنـــیا بحـــــر ډنډوکی ورتـه ښکاري
چې خپل نفس نشي وژلی که سل وژني
ناتـــوانه وېرنـــدونکی ورتـــه ښکاري
د دنـــیا فانـــي عیـــشونه نـــعمـتونه
د سپي مخکې پروت هډوکی ورته ښکاري
(۲ : ۲۱۸ مخ)

هغـه شـاعر دی چـې دا لویـه نـړۍ ورتـه کـوچنۍ ښـکاري، د نـادان پـر تـن د وربښمو او زربفتو ښکلي توکي ورته زاړه توکي، د مظلوم اوښکې ورته طوفاني سمندر او د نړۍ سمندرونه ورته کوچنی ډنډ ښکاري. هغه څوک چې خپـل نفـس وژلـی نـه شي، که سل نور هم ووژني، شاعر ته ناتوانـه وېرېـدونکی ښـکاري. د نـړۍ لـه منځـه تلونکي عیشونه او نعمتونه ورته د سپي مخکې پروت هډوکي غوندې ښکاري.

غمازان بړ بړ غړېږي نور ټول غلي
یو شاعر د ځان سره کړي ترنم
(۲: ۴۲۳ مخ)

د استاد الفت په اند، ښه شاعر هغه دی چې تل د ټولنې د ناخوالو پـر وړانـدې او د ټولنې د سمون او اصلاح په موخه خپل غږ پورته کوي. که د غږ پورتـه کـول یـې په څرګنده توګه ورته د سر خطره ولري؛ نو په غلې توګه خپل فکر او نظر څرګنـدوي، غلی نه پاتې کېږي،که نور څه و نه شي کړای؛ نو له ځان سره ترنم کوي.

د شاعر د شعار په اړه د استاد الفت نظر دا دی چې:

په سر کې فکر د وطن په زړه کې مینه د یار
د زور او ظلم لوی دښمن د آزادۍ طرفدار
په حق ویلـــو ماتـــوي بت او طلسم د ډار
شاعر د پاره مناســب دی همدغسې شعار
(۲ : ۲۵۱ مخ)

د شاعر په مغزو او خیال کې د وطن فکر او په زړه کې د یـار مینـه وي، د زور او ظلم لوی دښمن او د خپلواکۍ طرفدار وي، د ډار بت او طلسـم پـه رښـتیا ویلـو سره ماتوي او هر یو شاعر ته همداسې شعار او فکر بویه.

اوس به راشو دې ته چې استاد الفت د شعر په ژبـه څرنګـه شـاعر راپېـژني او د ده په نظر شاعر څوک دی؟

نور یې وصل کې نه مومي څه چې دی مومي هجران کې
خوند له خپله ذوقه اخلي که هېڅ نه وي دسـترخان کې

یعنې کوم خوند چې نور خلک یې د وصال او د یو شي د ترلاسه کولـو لـه املـه اخلي، شاعر هغه خوند په هجـران او بېلتـون کـې مـومي. شـاعر لـه تـش دسـترخان څخه هم د خپل ذوق په وسیله خوند اخلي.

شاعران د یوې ټولنې اوضاع او حالات لـه وخـت څخـه مخکـې او لـه مهـالي او مکاني واټنونو سره سره د یوه ځای او د یوه مهال په حالتونو پـوهېږي، د خپـل الهـام په وسیله یې څرګندولای شي او وړاندوینه یې کوي.

ګل لا نه وي ټوکېدلی چې وږمې یې راځي ده ته
د بـلبـلو نغمې اوري د بــل عــصر ګلستان کې
د مرغـانــو پروازونه پـه هګیو کې لا ویــني
پلوشه د لمر لیدای شي د سپیدو ځیرې ګرېوان کې

شاعر هغه کس دی چې د دې نـړۍ لـه هـر ذیـروح او غیـر ذیـروح سره خـبرې کوي چې د الفت پام هم دې ځانګړنې ته شوی او ویلي یې دي:

کړې سپوږمۍ سره خبرې له آسمانه سره هم لا
د بلبل په ژبه باندې دی پوه شوی په جهان کې

د الفت په وینا، شاعران یو ځانګړی استازی لري چې هغه نسـیم دی او د دوی د زړه خبره له شاهه نیولې بیا تر زندانه هم رسوي:

نسیم دی د ده استازی چې هر ځای ته لري لاره
کله ځي د شاه حضور ته کله ګرځي په زندان کې

د شاعر فکر او خیال لکه د زیاترو عادي انسانانو په شـان وچ او جامـد نـه دی، بلکې هغه هر وخت په حرکت کې دی، شپه او ورځ له بوستان څخه تـر نیـران پـورې

ګرځي او د بوستان له حالتونو او د نیران له ناخوالو څخه ځان خبروي او د شاتو د مچۍ په څېر د هر ګل شیره راټولوي او تر نورو یې رسوي. د شاعر فکر او خیال د طبیعت داسې ترجماني کوي چې نه په پسرلي کې په آرامه کښېني او نه هم په منې کې. له شاعر سره د خودۍ او بېخودۍ دواړه حالتونه مل وي او بېلابېل اضداد په یوه میدان کې لوبوي، لکه:

د شاعرخیال همدغسې شپه او ورځ دی سرګردانه
یو ساعت باغ و بوستان کې بل ساعت وي په نیران کې
ترجـــمان د طبیـــعت دی باخبر د ملک له حاله
غلی نه دی پاتـــــې شوی په بـــهار او په خـــزان کې
بـېـخـودي او خـودي دواړو ده سره او ده کره وي
دی اضداد غـاړه په غـاړه لـوبـوي یوه میدان کې

زمونږ په ژوند کې د هر شي اندازه او پیمانه ساتل ډېره مهمه خبره ده او د پیمانې ارزښت له دې نه هم په جوته توګه څرګندېږي چې الله(ج) په خپل سپېڅلي کلام کې د پیمانې او وزن په ساتلو امر کړی دی او د شعیب(ع) قوم یې له دې امله هلاک کړ چې په وزن او پیمانه کې به یې غلطي کوله. د مادي ژوند په چارو کې او د مادیاتو د پیمانې ساتلو تر څنګ موږ د معنویاتو په نړۍ کې هم د وینا او خبرو وزن او میزان ساتلو ته اړ یو چې په انسانانو کې شاعران د دې چارې په ترسره کولو کې تر نورو ډېر لوړ او بریالي دي. استاد الفت هم د شاعرانو دې ځانګړنې ته داسې نغوته کوي:

زیات و کم یې یو حرف نه دی خپلې خولې نه را اېستلی
عـــدالت د وزن وینو، خاص د شعر په میزان کې

د الفت په اند شاعران د مادیاتو په پرتله معنویاتو ته ډېر ارزښت ورکوي او شاعر د حقیقي او مجازي نړۍ په حقیقتونو پوهوي.

د بل کـور کې خـره غوایي وي د ده بیت کې معاني وي
حقیقت دی که مجاز دی دواړه شته د ده بیان کې

شاعر هغه پوه او عاقل کس دی چې بس یوه کوچنۍ اشاره ورته په کار ده چې د هغې په وسیله ځان د خبرې عمق ته ورسوي.

کـنایـه بـانـدې پوهـېږي اشـاره ورتـه کـافي ده
همدغومره ویل شوي د عـاقل سړي په شان کې

په دري کې یو متل دی چې (هر نکتـه مکـانی و هـر سـخن جـایی دارد)؛ نـو د دې متل پر بنسټ د شـاعر هڅـه دا وي چـې تـل لـه یـوه مناسـبت سره تړلـې خـبره وکړي، له نامناسـبو او نـاموزونو وینـاوو ځخـه ځـان وسـاتي او د لفظونـو د آهنـګ پـه وسیله خپلې وینا ته سازو سامان ورکړي.

ګوري تـل مناسبت ته نه وایي نامناسب څه
ده آهـنګ نـظم سـاتلی د ویـنـا سازو سامان کې

شاعر د خپلې وینا باغ د شعرونو په بحرونو باندې سمسوروي او حتی د خیالاتو په طوفان کې هم د خپلې وینا توازن ساتي.

د بیان باغ یې سمسور کړ د اشعارو په بحرونو
اوج او مـوج د کلام ساتي د خیالاتو په طوفان کې

د شاعر سترګې هم خورا ښه دید لري، که کوم شی ترې ډېـر لـېرې وي یـا ډېـر نږدې او یا هم ډېر کوچنی وي، خو د شاعر له لیده نه خطا کېږي او حقیقت چې پـه هر ځای کې وي، پیدا کوي او راسپړي یې.

د ده سـترګې دي دوربـیني، ذره بـینې او حـق بینې
له هر چا یې نظر لوړ دی، کوي څار په کهکشان کې
حـاجبان او حـجابـــونـــه د ده مـخه نیوی نه شي
حـقـیقـت پـسې کړي هڅه په مکان او لامکان کې
عقل او فکر هـغه ځای ته په هېڅ شان رسېدی نه شي
د شاعـر خـیال ځـای نیولی په اتم، نهم آسمان کې

شاعر د حال او قـال پـه ژبـه پـوهېږي او همدارنګـه د قـال او حـال خـبرې او د نیستان غلي شورونه هم اوري:

دی د حال په ژبه پـوه دی قیل و قال ته حاجت نشته
اوري ډېـر غـلـي شورونه چې ویده دي نیستان کې

د انسانانو په وجود کې دوه څیزونه مهم دي، یو زړه او بل روح چې شاعر هم لـه همـدغو دوو مهمو شیانو سره کار لري او نورو ته د شاعر ډالۍ د ښه ذوق او ښه فکر وړاندې کول دي:

زړه او روح سره یې کار دی نور بدن ته یې پام نه وي
ذوق او فـکر لري بـرخـه د شاعـر پـه ارمغان کې

لکه چې وړانـدې مـو وویـل، شـاعر مادیـاتو تـه ارزښت نـه ورکـوي او یـوائې د معنویاتو او د ټولنې او د خلکو د شعور لوړاوي او د غوره لاربښوونو په فکر کې وي؛ نـو ډول ډول خوراکونو او مادي څیزونو ته یې پام نه وي، لکه:

د ده کور ته دې راځي نه، خېټور خلک هېڅکله
وریجې، غوښې څوک نه مومي د شاعر په دسترخان کې
حلاوت او ملاحت شته په کلام نه په طعام کــې
د قام غم د ده خـوراک دی شته همـــدغه د ده خوان کې

دا چې انسان اشرف المخلوقات دی او پر نـورو مخلوقـاتو غـوره والـی لـري، یـو لامل یې عقل او بل مهم لامل یې د خبرو قوت دی چې انسان پرې له نورو مخلوقاتو څخه غوره والی موندلی دی، لکه:

د انسان فــرق له حیوانه په خـــبرو باندې شوی
شـاعر هـــر چـاته کـــامیاب دی د خـــبرو امتـحان کې

شاعر د خپل هنر په وسیله صنعتګري کوي، له معنا څخه ښه لیلا جوړوي او د ادب په خاندان کې همدا شاعر دی چې ښایستونه یې راوستي دي. خبرې خو ټـول انسانان کوي، خو لکه چې مور د ژوندانه په نورو چارو کې هم د ټولو شیانو پـه غـوره او ښه شي پسې لټه کوو؛ نو دا قاعده په وینا او خبرو کې هم پلې کېږي او هر څوک د غوره وینا په لټه کې وي. هغه وینا غوره او لوړه وي چې هم ښکلې وي او هـم بکـره چې دا دواړه ځانګړنې شاعر په خپلې وینا کې راوستلی شي:

صنعتــګر دی له معنا نه ښه لیــلا شي جوړولای
ښـایست ده دی پـیدا کړی د ادب په خـــانــدان کې
د وینا عفت دی دغه چې هم ښکلې وي هم بکره
اوســـي دا ښایسته حــوره د شاعـر پـــه دبستان کې

په ژوند کې تحول او بدلون د پرمختګ ډېر مهم لامل دی او د وخت په تېرېدلو سره اړينه ده چې بېلابېل بدلونونه رامنځ ته شي؛ نو د شاعر دې ټکي ته هم پام وي او د ټولنې د وګړو د ژوند د بدلون لپاره فکر او هڅه کوي.

ده ســـره تـحــولات شــته دی راوړي انـقلابــونـــه
په افکارو په عاداتو په اوضاعو د دوران کې
چې يو قام له خوبه ويښ کړي او فکرونه رابيدار کا
قــدرت دغه تاثير ايښی د شاعر آه و فغان کې

شاعر يواځې له حال څخه په استفادې راتلونکي مهال ته چمتـووالی نـه ښـيي او وړاندوينې نه کوي، بلکې هغه د تېر مهال پېښې هم په بېلابېلو اندازونو او الفـاظو کې ټولنې ته وړاندې کوي چې خلک ترې د خبرېـدلو تـر څنګـه د خپـل ژونـد لپـاره عبرتونه واخلي او د خپل ژوند چارې سمبالې کړي.

ده راوړي ښه فکرونه په هر وخت دغه جـــهان ته
يوسف وينم را روان دی د شاعر د خيال کاروان کې
ده فـــرهاد راپيدا کړی د شيرين وطـــن خدمت ته
ده رستم دی درولی هر غــــليم ته په مــــيدان کې

د شاعر وينا لکه د کاڼي کرښه هسې ده چې ژر په خلکو کې ځای پيـدا کـوي او د لنډې مودې په تېرېدلو سره له دې نړۍ څخه نه تېرېږي او نه ورکېږي، لکه:

د مــحمود دبـدبـه نشته شــاهنامه د فردوســي شته
د غـزني ښار دی لوټ شوی حديقه شته په جهان کې
نه زړېـــږي، نه ورانـېږي د شاعر بيت په قـرنونو
د خير کـــور له سېلابـونو، زلـــزلو وي په امان کې

په دې نړۍ کې ډېر لوی لوی بادشاهان، واکمنان او نور نامتو کسان راغـلي او تېر شوي چې د هغو له تګ سره يـې وينـاوې او آثـار هـم لـه منځـه تلـلي دي، خـو د شاعر وينا او ليکنه د شاعر له، له منځه تللو سره له منځه نـه ځـي او د هغـه ليکنـې، ويناوې او آثار د راتلونکو نسلونو د لارښوونې لپاره پاتې کېږي، لکه:

په قــرنـو قــرنـو ساتلی شاعــران شي په دنيا کې
هــغه څــه چې واقــع کېږي يا ورکېږي يوه آن کې

چنګيز نشته اورنګ نشته شاه جهان لاړ له جهانه
لا مغولو سره جنګ شته د خوشحال خټک ديوان کې

د وخت په تېرېدلو سره جګړې او غوصې سړېږي، ښه او بد وختونه تېرېږي، خو په انسان کې يواځې د مينې او شعر جذبې تلپاتې وي، ښايي دا د دې لپاره چې د مينې او شعر د جذبو او ولولو سره د ټولنې خلکو تـه د غـوره ژونـد انګېـزه ورکـړو او د شعر په خوږه ژبه يې لارښوونه وکړو.

شاعر په خپلو تودو او له سوزه ډکو خبرو سره خلک ښو لارو ته رابلي، نه يواځې لاره ورته ښايي، بلکې زړه يې هم خوشحالوي او د خپل شعر تلپاتې سوز هم لا پسې تلپاتې کوي، لکه د رحمان بابا له سوزه ډکو تلپاتو شعرونو په شان.

ډېر تاوده تاوده جنګونه پس له څه وخته سړېږي
خـو جـذبه د عـشق او شعر نه سړېږي په انسان کې
د شاعـــر تـودې خـبرې هـم هـغسې لا تـودې دي
تل تر تله سوز موجود دی سوزان شعر د رحمان کې
(۲: ۱، ۴ مخونه)

### پايله

انسان د يوه ټولنيز موجود پـه توګـه د خپـل ژونـد د پايښـت، سـمون او اصـلاح لپـاره بايـد رغنـدې هڅـې وکـړي. د ټـولنې او ټـولنيز ژوندانـه د ښـه کېـدلو، د غـوره چاپېريال د رامنځ ته کولو او د انساني ژوند کولو په موخه ژوند ځانګړو موخو او هڅـو ته اړتيا لري. دا نړۍ فاني او له منځه تلونکې ده، خو کـه څـوک وغـواړي؛ نـو کـولای شي په خپل زيار او هڅو سره د دې لنډ عمره نړۍ برياوې د تلپاتې نړۍ له بريـاوو او هيلو سره په خپله غېږه کې راټولې او هغې نړۍ ته سفر پيل کړي.

د ټولنې د وګړو ترمنځ ليکوال او شاعران هـم هغـه خلـک دي چـې بايـد تـل د پرمختګ او نېکو ليکنو او غوره لارښوونو په تکل کې واوسي او د خپلو دينــي، مـلي او انساني شتمنيو او ارزښتونو په خوندي کولو سره خپل ځان ټولنې او نړۍ تـه څرګنـد کړي او ټولنې ته ګټه ورسوي.

الله(ج) چې چا ته د شاعرۍ الهام او د ليکوالۍ فکر ورکوي، د هغوی پـر غـاړه يې ښو او نېکو لارو چارو ته د خلکو او د ټولنې د لارښوونې سـپېڅلې او درنـده دنـده

هم اېښې وي؛ نو په کار ده چې هر شاعر او لیکوال خپل رسالت وپېژني او په سمه توګه يې ترسره کړي.

موږ ولوستل چې شاعر پوه، موندونکی او د شعور خاوند ته ویل کېږي؛ نو یو پوه او د شعور خاوند به تل هڅه کوي چې ټولنه هم پوهه او د شعور خاونده کړي، خو هغه کسان چې د شعر په نامه بې مفهومه او بې پیغامه لیکنې کوي او له لفاظۍ پرته په کې کوم خوند او پیغام نه موندل کېږي، هغه لیکنه د شعر او پنځګر يې د شاعر تر تعریف لاندې نه شي راتلی.

## مأخذونه


۱ـ الفت، ګل پاچا. ادبي بحثونه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۰هـ، ش.

۲ـ الفت، ګل باچا. د الفت مرغلرې، درېیم چاپ، د شهرت ننګیال په زیار، اسد دانش مطبعه، پېښور، ۱۳۸۷ هـ، ش.

۳ـ الفت، ګل پاچا. د زړه وینا، د استاد عبدالحی حبیبي مقدمه، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۴۱ هـ ش.

۴ـ انوري، ډاکټر حسن. فرهنګ سخن، پنځم جلد، صحافی حقیقت، تهران، ۱۳۸۲ هـ، ش.

۵ـ آژنګ، نصرالله. ګنجینهٔ لغات ( فرهنګ فارسی به فارسی)، انتشارات ګنجینه، تهران، ۱۳۸۱ هـ ش.

٦ـ بهشتي، محمد. فرهنګ صبا ، شپږم چاپ ، انتشارات صبا، تهران.

۷ـ خټک، خوشحال خان. دېوان، اوډونکی: حبیب الله رفیع، امان خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۷ هـ، ش.

۸ـ د الفت یاد، د ارواښاد ګل پاچا الفت د پنځم تلین په ویاړ( د مقالو ټولګه)، د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو ریاست، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳٦۱ هـ، ش.

۹ـ شاد، محمد پادشاه. فرهنګ آنندراج، جلد چهارم، انتشارات خیام، تهران.

۱۰ـ شهیدي، داکتر سید جعفر. لغت نامه زراد شمس، مؤسسهٔ لغت نامه دهخدا، چاپ دانشګاه تهران، ۱۹۹۸م.

۱۱ـ شینواری، دوست محمد. د ادب د تیورۍ اساسونه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳٦۵ هـ، ش.

۱۲ـ مسلم دوست، عبدالرحیم. خوږه ژبه، سبا کتابتون، پېښور، ۱۳۷۹ هـ، ش.

۱۳ـ نفیسي، داکتر علی اکبر. فرهنګ نفیسی، جلد سوم، کتابفروشی خیام، تهران، ۱۳۴۳ هـ، ش.

څېړندويه بي بي فضيله

# د پښتو او دري ژبو
# د فعلونو د ريښې پرتلنه

# The comparison of the verbal root in Pashto and Dari languages

**Researcher Bibi Fazila**

**Abstract**

This article which is titled (The comparison of the verbal root in Pashto and Dari languages) is written in the following three parts:

In the first part, the root of the Pashto verbal roots are identified and based on its root the types of verb are shown.

In the second part, the root of the Dari verbal roots are identified and based on its root the types of verb are shown.

In conclusion the similarities and differences of verbal roots in both Pashto and Dari languages are shown.

**لنډيز**

دا مقاله چې(د پښتو او دري ژبو د فعلونو د ريښې پرتلنه) تر سرليک لاندې ده، له سريزې پرته لاندې درې برخې لري:

اوله برخه: په دې برخه کې د پښتو ژبې د فعلونو د ریښو پېژندنه او د ریښې پر بنسټ د پښتو فعلونو د وېش بحث راغلی دی.

دويمه برخه: پـه دې برخـه کـې د دري ژبـې د فعلونـو پېژندنـه او د ریښـې پـر بنسټ د فعلونو وېش راغلی دی.

پايله: په دې برخه کې د دواړو ژبو د فعلونو ریښې په لنډه توگه پرتله شوې دي.

## سريزه

فعل د ژبې اساسي توکی دی او د نړۍ ډېرو ژبپوهانو فعل د يوې ژبـې لپـاره آر او اصلي توکی گڼلی دی، د ژبې په نحوي سيستم کې فعل یوه مهمه برخه ده چـې په يواځې توگه هم کولای شي جمله جوړه کړي او مفاهيم افاده کړي ؛ نو په کـار ده چې په دې برخه کـې بنسـټيزې څېړنـې وشي ، د فعـل ټـولې برخـې، لکـه: د فعـل ریښه، معنايي اړخونه، گرداني اړخونه، زمانې ... جلا جلا وڅېړل شي او له نورو ژبـو سره دې پرتله شي . په همدې منظور مـا هـم پـه دې مقالـه کـې پـه دواړو ژبـو کـې يواځې د فعل ریښه د فعل د يو مهم جز پـه توگـه څېړلـې او پرتلـه کـړې ده، پـه دې مقاله کې هڅه شوې چې د پخوانيو څېړنو پر بنسـټ د فعـل ریښـه پـه پښـتو او دري ژبو کې وڅېړل شي او د ریښې پر اساس د فعلونو يوه نـوې ډلبنـدي چـې پـه سـمه توگه د پښتو فعلونو ریښې وښيي او د تطبيق وړ وي وړاندې شي او په دې برخه کـې له دري ژبې سره پرتله شي چې دا دواړې خويندې ژبې د فعلي ریښـو پـه برخـه کـې له يو بل سره څومره ورته والي او توپيرونه لري.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د فعل په بحث کې ریښه يوه مهمه برخه جوړوي، ځکه چـې د فعـل بنسـټ پـر ریښې باندې ولاړ دی او فعل د ریښې له مخـې گردانيـږي، همـدا فعـلي ریښـې دي چې ځينې نومونه جوړوي او مصدر هم له ریښې څخه جوړېږي، نـو پـه پښـتو گرامـر کې د فعل د ریښې څېړنه او پرتلنه يو مهم کار گڼل کيږي . ما د همدې مبرميـت پـر اساس په دې مقاله کې دا برخه په لنډه توگه څېړلې او له دري ژبـې سره مـې پرتلـه کړې چې دا په خپله يو نوی کار دی.

## د څېړنې موخه

دا څېړنه کمي او کیفي موخې لري په کیفي لحاظ یې موخه دا ده چې په پښتو او دري ژبو کې د فعلونو ریښې معرفي او د ا برخه په دواړو ژبو کې په پرتلیزه توګه وڅېړل شي، په کمي لحاظ یې موخه دا ده چې په دې برخه کې ابتدایي کار وشي او لږ تر لږه د ژبپوهانو پام دې برخې ته راواړوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د فعل ریښه څه ته وایي؟

۲ـ د پښتو فعلونه د ریښې له مخې څو ډولونه لري؟

۳ـ د پښتو او دري ژبو د فعلي ریښو ورته والی او توپیرونه کوم دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ـ توضیحي او پرتلیز میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د پښتو او دري ژبو د فعلونو د ریښې پرتلنه

ریښه د فعل اصل او بنسټ دی، ریښه هغه کلمې ته ویل کېږي چې تاړي پر هغه پورې نښلي او نوې کلمې جوړوي، ریښه نه یواځې د فعل په برخه کې، بلکې د نومونو په برخه کې هم د څېړنې وړ ده، همدارنګه ترکیبي نومونه هم ریښه او هم تاړي لري، لکه: غمجن، هنرمند او شته من چې په پورتنیو مثالونو کې ( غم، هنر او شته) ریښې او (جن، من) تاړي دي . ( ۵: ۸۳ مخ)

د ولۍ مفهوم او بڼه یو نسبي واقعیت لري، که ولۍ څو، څو تاړي ولري ؛ نو هغه تاړي چې له وروستي تاړي څخه مخکې له ریښې سره نغښتي وي، هماغه ولۍ شمېرل کېږي، ا و ورستي تاړي ، تاړي ګڼل کېږي .د بېلګې په توګه د پوهنوالانو، اړتیاوې په کلمو کې د وروستي تاړي په بنسټ د پوهنوال او اړتیا کلمې ریښې دي او (انو، وې) یې تاړي دي . ځینې وخت له ریښې څخه نوم هم لاس ته راځي، لکه : د لیک له ریښې څخه لیکوال د ( وال – wal ) د تاړي په زیاتولو سره.

د پښتو فعلونو وېش د ریښې په اساس پر دوه ډوله شوی دی :

۱ـ د اوسمهال او تېر مهال له مخې

۲ـ د مطلق او استمرار له مخې

## ۱ـ د اوسمهال او تېر مهال له مخې

پوهاند خوېشکي د پښتو فعلونو وېش د اوسمهال او تېر مهال له مخې په لاندې ډول ښودلی دی:

پښتو فعلونه د خپل مورفالوژيکي جوړښت له پلوه په دوو عمده برخو ويشل کېږي.

۱ ) هغه فعلونه چې په نا تېره او تېره زمانه کې يوه ريښه لري.

۲ ) هغه ډله فعلونه چې په نا تېره او تېره زمانه کې ريښه بدلوي.

۱) هغه ډله فعلونه چې په نا تېره او تېره زمانه کې يوه ريښه لري او په متعدي او متعدي او لازمي وېشل کېږي، متعدي لکه: تړل taṛəl، پلټل palaṭəl، گنډل ganḍəl . . . متعدي او لازمي، لکه :

| لازمي | | متعدي | |
|---|---|---|---|
| لړزېدل | laṛzedəl | لړزول | laṛzawəl |
| ځړېدل | ĵaṛedəl | ځړول | ĵaṛawəl |
| غوړېدل | γwaṛedəl | غوړول | γwaṛawəl |

د ښه وضاحت لپاره د تړلو د فعل لاندې گردان ته وگورئ:

اوسمهال

| شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه | شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه |
|---|---|---|---|---|---|
| زه | تړ taṛ | ام | موږ | تړ taṛ | و |
| ته | تړ taṛ | ې | تاسې | تړ taṛ | ئ |
| دی، دا | تړ taṛ | ي | دوی | تړ taṛ | ي |

تېر مهال

| شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه | شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه |
|---|---|---|---|---|---|
| ما | تړ taṛ | ā | موږ احمد او محمود | تړ taṛ | ال |
| تاملالۍ | تړ taṛ | له | تاسې تورپيکۍ او ملالۍ | تړ taṛ | لې |
| ده احمد | تړ taṛ | ā | | | |

په پورتني مثال کې گورو چې د فعل ريښه په ناتېره او تېره زمانـه کـې پـه يـوه بڼه يعنې د (تړ) په بڼه راغلې ده.

د يادونې وړ بولم چې ټول حکمي متعدي فعلونه هم په همدې ډله شامليږي، ځکه چې د اوسمهال ريښه هم له تېر مهال څخه جوړيږي ،لکه:

| تېر مهال ريښه | مثالونه | اوسمهال ريښه | مثالونه |
|---|---|---|---|
| خند xand | احمد او تور خندل. | xā̄ndخاند | تور خاندي. |
| ژړ žaṛ | ليلي او پري ژړل. | ژاړ žā̄ṛ | پري ژاړي. |
| ب lamb | ليلي لمبل. | لامب lā̄mb | ليلي لامبي . |
| زنگ zang | زرمينې زنگل. | زانگ zā̄ng | زرمينه زانگي. |
| نخ nac | ملالی نخل. | ناخ nā̄c | ملالي ناخي. |
| غپγap | سپي غپل. | غاپγā̄p | سپی غاپي. |
| انگ ang | خره انگل. | انگang | خر انگي. |
| ټوخ ṭox | سړي ټوخل. | ټوخ ṭox | سړی ټوخي. |
| ششنšəšən | اس ششنل. | ششنšəšən | اس ششني. |
| دانگdā̄ng | تور دانگل. | دانگdā̄ng | تور دانگي. |

څرنگه چې ښکاري د حکمي متعدي فعلونو د اوسمهال ريښه له تېر مهال څخه داسې جوړيږي چې د اوسمهالي ريښې د کلمې د منځ زور پر الف اوړي، لکه: خندxand/ خاندxā̄nd، لمبlamb / لامب lā̄mb....

۲) دويمه ډله فعلونه : هغه ډله فعلونه دي چې ريښه يې په نا تېره او تېره زمانه کې خپله بڼه اړوي او په لازمي او متعدي وېشل کېږي لازمي ، لکه : الوتلalotəl، وتلwatəl، وتلwatəl، ختلxatəl....

متعدي . لکه : متعدي: نيولniwəl، موندلmondəl، اوربدلawredəl

د موضوع د وضاحت لپاره د وتل فعل لاندې گردان ته پاملرنه وکړئ:

وتل په نا تېره زمانه کې ريښه / وځ/

| شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه | شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه |
|---|---|---|---|---|---|
| زه | وځ waĵ | ام | موږ | وځwaĵ | و/u/ |
| ته | وځwaĵ | ې | تاسې | وځwaĵ | ئ |
| دی، دا | وځwaĵ | ي | دوی | وځwaĵ | ي |

(وتل) په تېره زمانه کې ريښه / وت /

| شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه | شخص | د فعل ريښه | فعلي خاتمه |
|---|---|---|---|---|---|
| زه | وت wat | ام | موږ | وت wat | و |
| ته | وت wat | ې | تاسې | وت wat | ئ |
| دا | وت wat | له | دوی | وت wat | لې |
| دی | وت wat | ā | دوی | وتwat | ال |

په پورتني مثال کې په نا تېره زمانه کې د فعل ريښه د /وځ/ په بڼه او په تېره زمانه کې د /وت/ په بڼه څرګنده شوې يعنې فعل خپله بڼه اړولې ده . (٦: ١٥۴ مخ)

## ۲) د مطلق او استمرار له مخې

ښاغلي حبيب الله تږي د وږمې مجلې د ١٩٨٧ کال په دوهمه او درېمه ګڼه کې د پښتو فعلونو تر عنوان لاندې د فعلونو ريښې د مطلق او استمرار له مخې درې ډوله ښودلې دي:

### لومړۍ ډله

دا د پښتو فعلونو هغه ډله ده چې غيرمطلق مونډ يې يا يواځې له ريښې اويا ريښې او يوه او دوه ګرامري سفکسونو څخه جوړ وي . ددغه ډلې مطلق مونډ (تنه) له غير مطلق مونډ جمع يوه پريفکس څخه جوړيږي. دغه پريفکس د مطلقيت پريفکس دی چې د/wa/ په شکل ليکل کيږي.

غيرمطلق مونډ( تنه)　　　مطلق مونډ(تنه)

تورخولی ګنډله　　　تورخولی وګنډله

توراسپه تړله　　　تور اسپه وتړله

### دويمه ډله

دا د پښتو فعلونو هغه ډله ده چې غير مطلق او مطلق مونډ يې دواړه اساساً يا يواځې له ريښې او يا له ريښې يا دوو سفکسونو او يوه اشتقاقي پريفکس څخه جوړ شوی وي ددغو فعلونو مطلق صورت له غير مطلق صورت څخه معمولاً د خج يا فشار د موقعيت په واسطه پېژندل کيږي. له دې امله هغه پريفکس چې په لومړي

ډله افعالو کې له مطلق مونډ سره راځي ددوهمې ډلې دافعالوله مونډ سره نه یوځایږي، لکه:

| | |
|---|---|
| غیر مطلق مونډ | مطلق مونډ |
| پري کښېناستلهَ | پري کښېناستَله |
| پري پاڅېدلهَ | پري پاڅېدَله |

**درېیمه ډله**

داهغه ډله ده چې د پښتو فعلونو ډېره برخه جوړوي او غیر مطلق او مطلق مونډ دواړه یې اساساً له یوه کومکي فعل او یوه اسم، صفت او یا قیدڅخه جوړ شوی وي. د دې ډلې افعالو مطلق صورت له غیر مطلق صورت څخه د کومکي افعالو د شکل او د خج د موقعیت دواړو په واسطه جلاکیږي. نو له دې امله هغه پریفکس چې په لومړي ډله کې له مطلق مونډسره راځي د درېمې ډلې د افعالو له مونډسره نه یوځایږي، لکه:

| | |
|---|---|
| غیرمطلق مونډ | مطلق مونډ |
| تور ځمکه اوبه کوله | تور ځمکه اوبه کړه |
| تور ښکته کېده | تور ښکته شو (۲:۲ مخ) |

د ریښې او مونډ توپیر دا دی چې که له یوې کلمې څخه ټول پیوندونه لرې شي څه چې پاتې کېږي هغه ریښه ده او که یوازې صرفي پیوندونه ورڅخه لرې شي څه چې پاتې کیږي هغه تنه ده؛ نو ځکه ریښه( بې له ځینو استثناآتو څخه )یو واحد مورفیم وي، مگر مونډ یا تنه کله، کله واحد مورفیم وي لکه ( دود) یا ( ماشوم) او کله بیا د مورفیمونو له ترکیب څخه جوړه شوې وي،لکه: ( اړتیا) ، بل داچې یو مورفیم کېدای شي چې هم ریښه اوهم تنه وي دود یا ماشوم د( دودونه او ماشومان) په کلمو کې چې هم ریښه اوهم تنه ورته ویل کیږي. (۸: ۳۳ مخ )؛ ځینې ژبپوهان د فعل اوسمهالي ریښو ته لومړۍ ریښه او تېر مهالي ریښو ته دویمه ریښه وایي او په دې اند دي چې د تېرمهال ریښه له اوسمهالي ریښو څخه جوړیږي یو له دغو پوهانو څخه استاد زیار دی چې په دې اړه لیکي:

« یو لړ بېلګې داښه تر ازباتولی شي، چې تېر مهالي ریښې له اوسـمهالو څخـه پراختیا موندلې وي، هسې خو بې له هغې هم اوسمهاله لومړی او تېر مهاله دویمـه ولی یا ستېه بلل شوې ده .

لکه : اخلaxl/ اخیستaxist، لولlwal/ لوستlwast ، ځغل ĵγal / ځغاست ĵγāst، نیوniw/ نیـولniwəl / نـیسnis، نغـاړnγāṛ/نغښـتnγəṣt ، (را) ول (rā) wəl/ وســت wəst، څمــلcaml/ څملاســت camlāst، نــی ne/ ناســتnāst، اغوندaγuod/ اغوستaγost . . . دا چې د پېښـور خواتـه نیسـل، اوړل او تـروړل پـه دواړو مهالو او نور ګرداني بڼو کې په همدا یوه بڼه (ستېه) اوړون مـومي، بیـا هـم پـر تېـر مهـالي سـتېې بانـدې د نـاتېرې مهـالي دي د آروالي او ړومبیـوالي ښـکارندوی برېښـي، پـه ختـلxatəl/ خېـژلxežəl، بوتلـلbotləl/ بېـولbewəl، بوځـلboĵəl ، تللtləl/ ځل ĵəl ، وتلwatəl / وځل

wa ĵəl. . . کې سرچپه پرمختیا راغلې ښکاري .

د ځینـو کړونـو ولـی پـه اوسـمهال اوړون کـې لـه څـومره ییـز خپلواکـونج (Ablaut) سره مخامخېږي او هغه دا چې اړوند زور (فتحه) یې پـر الـف اوړي، لکـه : په خندل xandəl/ خانديxāndi، ژړلžaṛəl / ژاړيṛāži، نځلnacəl / ناځي nāci . . . کې (و) پر زور (a) خپلواکونج هم لږ و ډېر بر پېښېږي، په تېره پـه سـتاینومیزو ریښو کې چې د نابشپړ( استمراري) اوړن بنسټ ګرځي او په بشپړ ( مطلق) کې خـو بې له هغـې پـه سـمه بڼـه لـه مرستیالکړ سره راځـي، لکـه : درون drun/ درن dran، لونـد lund/ لند land، کوږ koẓ/ کږ kaẓ، سوړsoṛ/ سـړsaṛ، زوړzoṛ/ زړzaṛ، مـوړmoṛ/ مـړmaṛ، پوخpox / پخpax ، پوستpost/ پستpast ، روغ roγ / رغraγ ، او داسې نور. . .

دویمه ولی یا په سهي معنا بنسټ پردې سربېـره چـې ګـر د تېـر مهـال کړونـه ترې جـوړېږي د اوسـمهال او اوسـتر مهـال بېچـار کړونـه (مجهـول افعـال) هـم تـرې جوړېښت مومي. ( ۷ : ۱۵۱مخ)

لکه:

| تېر مهال | اوسمهال | راتلونکی مهال |
|---|---|---|
| فعل - خوړل | مجهوله صیغه | |
| ما ناک خوړ | ناک خوړل کېږي | ناک به وخوړل شي |
| ما مڼه وخوړه | مڼه خوړله کېږي | مڼه به وخوړله شي |
| تا ناکونه خوړل | ډوډۍ ګاني خوړلې کېږي | مڼې به وخوړلې شي |
| تا مڼې خوړلې | ناکونه خوړل کېږي | ناک به وخوړل شي |

دلته په څرګند ډول ګورو چې د تېر مهال ریښه د اوسمهال او راتلونکي مهال په مجهوله صیغه کې هم فعلونه جوړوي. (۳ : ۴۱ مخ)

د کړ نومي یا مصدر جوړښت زیاتره له تېر مهال بنسټ څخه دود لري، لکه: خوړل، لیدل دلته لیدل له لید – ریښه څخه جوړ شوی چې دوهمه یا تېر مهاله ریښه بلل کېږي او لومړی یا اوسمهال ولی یې وین ده، د دغو ریښو پارسي انډولونه دید او بین دي، هرګوره په زړه پارسي کې د بین پخوانۍ بڼه هم وین وه ، د نورو خپلو ژبو په څېر یو شمېر پښتو تېر مهال ولۍ له تاریخي پلوه ستې بلل کېدای شي، لکه : لید، راغ ، راش، اخیست، پرانیست او داسې نورې. ( ۷ : ۱۵۱مخ)

څر نګه چې د پورتنیو توضیحاتو له مخې څرګندیږي تر اوسه په پښتو ګرامرونو کې دوه ډوله ریښې ښودل شوې دي چې یوه د نا تېرې او بله د تېرې زمانې ریښه ده، لکه : (خور او اغوند) د ناتېرې زمانې ریښې دي او ( خوړ، اغوست، لوست او کښیناست) د تېرې زمانې. مستقبل فعل کومه جلا ریښه نه لري، بلکې د ناتېرې زمانې ریښه (حال) ورسره شریکه ده یا په بل عبارت د ناتېرې زمانې ( حال) او مستقبل ریښه یوه ده؛ خو یواځې د مستقبل فعل ورسره یو جز یعنې /به/ د معاون په حیث زیاتېږي، لکه : زه به وخورم، زه به واغوندم، زه به کښېنم، زه به لولم ... (۵ : ۸۳ مخ )

خو که دې مسئلې باندې دقت وکړو ګورو چې په پښتو ژبه کې ځینې داسې فعلونه هم شته چې درې ریښې لري نو پر دې اساس ویلای شو چې د ریښې له نظره په پښتو ژبه کې درې ډوله فعلونه شته چې په لاندې ډول دي:

۱ـ هغه ډله فعلونه چې په اوسمهال او تېر مهال کې یوه ریښه لري ، لکه: لړزېدلlaṛzedəl ، تړلtaṛəl ، ځړېدلĵaṛedəl، غوړېدل γwaṛedəl.... په دې برخه کې متعدي ، لازمي او ټول حکمي متعدي فعلونه شامل دي.

۲ـ هغه فعلونه چې په اوسمهال او تېرمهال کې دوې ریښې لري، لکه: الوتلalotəl، وتلwatəl، وتلwatəl، ختل xatəl... په دې برخه کې ځینې لازمي فعلونه شامل دي د یادونې وړ بولم چې په پښتو گرامرونو کې په دوو ریښه ییزو فعلونو کې ځینې متعدي فعلونه هم راغلي دي او ویل شوی چې دا فعلونه دوې ریښې لرلي خو که موږ هغه فعلونو ته ځیر شو گورو چې هغه فعلونه دوې ریښې نه بلکې دوې تنې یا ستې لري، لکه:

نیولniwəl، موندلmondəl، اورېدلawredəl

۳ـ هغه ډله فعلونه دي چې په اوسمهال، تېر مهال او استمرار کې درې ریښې لري، لکه:

| ناتېره زمانه | استمراري | تېره زمانه |
|---|---|---|
| ځم ĵəm | تلم، تللم tləm | ولاړم wlɑ̄ṛəm |
| راځم، راشم rɑ̄ĵəm/ rɑ̄šəm | راتلم rɑ̄tləm | راغلمrɑ̄γləm |
| بیایم/ بوزم byɑ̄yəm/ bozəm | بو ولم bowəlam | بوتلم/ بوته botləm/ botə |

(۱ : ۲۳۱ مخ )

ریښه د پښتو او دري ژبو ترمنځ یوه مشترکه کلمه ده؛ خو د دري ژبې په دودیزو او کلاسیکو گرامرونو کې مصدر( دتن او دن روستاړي سره) د فعل ریښه گڼل کېدله او دا ویل کېدل چې فعلونه له مصدر څخه جوړېږي او مصدر هغه کلمې ته ویل کیږي چې له ( تن) او( دن ) سره ختم شوی وي، مشروط پر دې چې که ( ن) دکلمې له اخر څخه لېرې شي دتېر مهال مفرد مذکرغایب ورڅخه پاتې شي. داسې څرگندونه د دري ژبې په هکله له عربي ژبې څخه یو تش تقلید او یو غلط استدلال ځکه دی چې عربي ژبه له سامي حامي کورنۍ څخه ده او دري ژبه له اندو ـ اروپایي؛ نو د دغو دواړو ژبو کلمه جوړونکي اومورفولوژیکي تغییرات هم له یو بل سره فرق لري. په اندو ـ اروپایي ژبو کې مصدر د فعلونو منشأ یا د صدورځای نه دی، بلکې دکار نوم دی چې شخص او زمانه ورڅخه نه څرگندیږي. ځکه ورته باید د

فعل نوم( اسم فعل) وویل شي نه مصدر، لکه د دري ژبې نـور فعـل نومونـه: دانـش، رفتار، گفتار، خوردي، بزرگي، آدمیت، انسانیت...

دریښې په برخه کې دري ژبه دنوروانداروپايي ژبو خصوصـیت لـري پـه دې معنا چې په لومړي سرکې:

۱: ریښه په اندو اروپایي ژبو کې دواولونو او کانسونېنټونویوې مجمـوعې تـه وايي چې هېڅکله تغییر نه کوي.

۲:ریښه اکـثراً سـاده او یـو څپیـز وي، ځینـې یـې دوه څپیـزه او نـدرتاً درې څپیزه کېدای شي.

۳: د فعل د جوړولو په وخت کې باید د فعل له ریښې څخه څه ونه غورځي او یاپه کې کمښت رامنځ ته نه شي یعنې د دې کورنۍ په ژبو کې دفعـل ریښـه بایـد تجزیه نه شي.

۴: په اندو اروپایي ژبوکې د فعل ریښه دامرمفرد او سـاده فعـل دی بـې لـه تاړي څخه په پهلوي ژبه کې فعل یوه ریښه لري اود پورتنیو ځانگړتیـاوو پـه نظـر کـې نیولوسره د دري ژبې له تاریخي څېړنو څخه دا څرگندیږي چې د دري ژبې فعلونـه هم یوه اصلي ریښه لري او هغـه عبـارت دی لـه امـر مفـرد او سـاده فعـل څخـه چـې اجزایې نسبتاً ثابت دي اکثراً یو څپیـز او ځینـې یـې دوه او نـدرتاً درې څپیـزې وي، لکه: خور، رو، بین، پوش، بر، باف... یو څپیـز؛ شـنو، نـویس، گشـای، نمـای،... دوه څپیزه؛ او یواځې پراگن درې څپیز دی.

اوس که موږ مصدر ریښه وگڼـو د دري ژبـې د تـاریخي تحولاتـو او طبیعـت پـه ارتباط پرڅو عواملو باندې دا نا سمه فرضیه ده :

۱: دژبپوهنیزو مطالعاتو له مخې ریښه باید د رغاونې تر ټولـو کـوچنۍ تـوک وي اویا له مشتقاتو څخه کوچنۍ وي. دنـورو مورفیمونـو دجوړولـو پـه وخـت کـې ور سره نور توکونـه زیـات شي، کـه مـوږ لـه مصـدر څخـه فعـل جـوړکړود( ان) روسـتاړی ورڅخـه لـویږي او پـه مصـدرکې کمښـت رامـنځ تـه کیـږي، لکـه: نوشـتن ـ نوشـت، نوشتند، نوشتي... او یا خواندن ــ خواند، خواندی ، خواندید...

۲: له تېرمهال فعل څخه د اوسمهال فعل د جوړولو لپاره مجبـور یـو پـه مصـدر کې بیا هم کمښت او نور تغییرات رامنځ ته کړو

۳: په اروپايي ژبوکې مصدر له فعل څخه مشتق کيږي او له فعل سره د نورو توکونو د زياتولو په واسطه جوړيږي، مثلاً په انگريزي ژبه کې داوسمهال فعل له امر صيغې څخه مخکې to راځي او مصدرجوړيږي، لکه: togo_go يعنې تلل، to write_write يعنې ليکل، tosee_see يعنې ليدل... نوپه دري ژبه کې چې له اندواروپايي ژبو څخه ده مصدرله فعل

تېرمهال بنسټ يا ريښې څخه په لاندې ډول جوړيږي( ۹: ۸۱ مخ)

۱: د/اش/ او/هـ/ روستاړي تړل په اوسمهال ريښې پورې، لکه: روش، دانش، خورش، خنده، گريه، ناله...

۲: د/آر/ روستاړی تړل په ماضي ريښې پورې،لکه: رفتار، ديدار، گفتار...

۳: داوسمهال د دوو ريښو له ترکيب څخه او يا د تېر مهال د دوو ريښو له ترکيب څخه په عطفي ډول، لکه: سوزوگداز، گيرودار، دادوگرفت، آمدورفت...

۴: د اوسمهال او تېرمهال د ريښو له ترکيب څخه په عطفي ډول، لکه: گفتگو، جستجو...

۵: د نهي له فعل سره د اوسمهال د ريښې له ترکيب څخه ، لکه: کشمکش، دارمدار...

٦: د نوم او ريښې له ترکيب څخه، لکه: دسترس، پايمال...

۷: د نوم او قيد ترکيب د تېر مهال له ريښې سره، لکه: گلگشت، پيشرفت...

۸: له نومونو سره( ـ ی) روستاړي او دهغې الومورفونو( ـ گی) او( يی) يوځای کېدل، لکه: مردی، پادشاهی، نجاری، بنده گی، پارسايی، دانايی...

۹: د نوم په اخرکې چې د /يت/ روستاړی راشي هم فعل نوم جوړوي، لکه: آدميت، انسانيت...( ۱۰: ۹۸ـ ۹۹ مخ)

پرويز ناتل خانلري ليکي چې که ديوه فعل په مختلفو صيغو کې دقت وکړو گورو چې په ټولو صيغو کې يوه برخه شته چې هېڅ تغيير نه کوي او يوه بله برخه شته چې تغيير مومي او په هره صيغه کې يوه ځانگړې بڼه خپلوي ، لکه دنشستن په لاندې شپږو صيغو کې:

نشستم - نشستيم

نشستی - نشستيد

نشست - نشستند

په پورتنیو شپږو شکلونو کې د نشست برخه ثابته ده چې د فعل ریښه ده چې ماده هم ورته وایي مگر بله برخه یې شپږې مختلفې بڼې خپلوي چې ( م، ی، یم، ید ، ند) دي او په درېیم مفرد شخص کې ریښې سره کوم بل توک نه دی راغلی دې برخې ته شخص او عدد یا شناسه ویل کېږي. (۳٦:۴مخ)

د دري ژبې په ډېرو گرامرونو کې د فعلونو ریښه دوه ښودل شوې ده چې لومړی د امر فعل بې له (ب) مختاړي څخه، لکه: خور، نویس، پوش، رو، گوی چې د اوسمهال یا لومړی درجه ریښه ورته ویل کیږي چې ځینې نومونه هم ترې جوړیږي، لکه: روان، کنش، روش، واکنش، نویسنده شنوا او نور، بله ریښه د مطلقې ماضي د دریم شخص مفرد لپاره فعلونه دي، لکه: گفت، خورد، نوشت، دید او نور چې ورته د تېرمهال دوهمه درجه ریښه ویل کیږي او ځینې نومونه هم ترې جوړیږي، لکه: خریدار، پرودگار، درخواست، پرستار او نور (۱۰:۹۷ مخ)

که د تاریخي ژبپوهنې په رڼا کې ورته ځیر شو گورو چې فعل په دري ژبه کې اساساً یوه ریښه لري یعنې همداریښه ده چې په اوله مرحله کې له تغیر څخه پرته تاړي سره یوځای کیږي او داوسمهال فعلونه جوړوي یعنې د اوسمهال ریښه یې جوړوي او په دوهمه مرحله کې داوسمهال ریښه له تېرمهال جوړونکي ( ماضي ساز) تاړي په یوځای کېدو او دځینو فونیمونو په تغییر سره دتېر مهال ریښه جوړوي. په بله معنا په دري ژبه کې دتېرمهال ریښه د اوسمهال له ریښې څخه جوړیږي خو ترخاصو قواعدو او ضوابطو لاندې:

الف) د دري ژبې د فعلونو په اوسمهال او تېر مهال ریښو کې د پیل غږ یو دی یعنې دا غږونه له اوسمهالي ریښو څخه تېر مهالي ریښو ته لېږدول شوي بې له بین او دید له ریښو څخه او علت یې هم همدا دی چې د دغو دواړو ریښې سره بېلې دي، بین له جلاریښې څخه ده او په پهلوي کې د(وین) په بڼه ده، مگر( دید) دپهلوي له ( دی) ریښې څخه دی.

| د اوسمهال ریښه | | د تېرمهال ریښه |
|---|---|---|
| خوان | xwɑ̄n | خواندxwɑ̄nd |
| ده | dʃh | داد dɑ̄d |
| نویس | nwis | نوشت nawʃšt |
| رو | raw | رفت raft |

ب) دتېرمهال تولې ريښې د اوسمهال له ريښې څخه د( ت او د) تاړي په يوځای کېدو سره جوړيږی ،( ت او د) له يو بل جوړې دي يعنې دواړه يې مښلي او غاښيز دي په دې توپير چې ( ت) ناغږن او(د) غږن دی.

هره هغه کلمه چې په ناغږن کانسونينټ پای ته رسېدلې وي ورسره ( ت) زياتيږي او هره هغه کلمه چې په واول اوغږن کانسونېنټ پای ته رسېدلې وي دتېرمهال د ريښې د جوړولو لپاره ورسره ( د) زياتيږي، لکه: نشست، نوشت، رفت، ريخت، دلته دکلمې په آخرکې د ( ت) له تاړي څخه مخکې د س، ش، ف، خ ناغږن کانسونينټونه راغلي دي او يا په خورد، خواند، ديد، نمود، زد، فرستاد،په مثالونو کې د (د) څخه مخکې د( ر،ن) غږن کانسونېنټونه اود( ی، و، زور، آ) واولونه راغلي دي.

ج) له ( ت) روستاړي څخه د مخه تل د ( س،ش،ف، خ) کانسونېنټونه راځي او د( د) روستاړي څخه د مخه تل د ( ر،ن) کانسونېنټونه او د(a, a, u,i) واولونه راځي .

دې پايلې ته رسيږو چې په دري ژبه کې دتېرمهال ريښه له اوسمهال څخه جوړيږی اوفعل يوه ريښه لري.

اوس ماضي جوړونکي روستاړي په لاندې رديف بنديو کې تر څېړنې لاندې نيسو:

۱: د(ت) تېرمهال جوړونکی روستاړی مستقيماً له هغه ريښې سره راځي چې له (ش، ف) ناغږن مښلي کانسونېنټونو سره پای ته رسېدلې وي، لکه:

| اوسمهال ريښه | تېرمهال ريښه |
|---|---|
| کش koš | کشت košt |
| شگاف šʃgɑ̄f | شگافت šʃgɑ̄ft |

۲: د( ت) که هغه ريښې سره راشي چې په ( ب) مختوم وي؛ نو( ب) په (ف) اوړي، لکه:

| اوسمهال ريښه | تېرمهال ريښه |
|---|---|
| شتاب šʃtɑ̄b | شتافتšʃtɑ̄ft |

۳:د( ت) روستاړي او د نيمه واول ( و) او ډيفتانگ (و) بدلېدل په ف، لکه:

| اوسمهال ريښه | تېرمهال ريښه |
|---|---|

کاو (kāw) کافت kāft

رو(raw) رفت raft

۴: د( ت) روستاړي او د نیمه واولونو بدلون په غبرگغږونو، او د( هـ، ل، ن) بدلون په (س)، لکه:

اوسمهال ریښه تېرمهال ریښه

آرای āray آراست ārāst

خواه xwā خواست xwāst

گسل gosal گسست gosast

شکن šʃkan شکست šʃkast

۵: د( ت) روستاړی او د( س، یا ایس) زیاتېدل د وقایوي جز په توگه، لکه:

دان dān دانست dānʃst

نگر nʃgar نگریست nʃgarist

٦: د( ت) روستاړی او( ل، س، ر) سره پای ته رسېدلې ریښې چې په ش اوړي، لکه:

د اوسمهال ریښه د تېرمهال ریښه

هل hal هشت hast

لیسles لشت last

ریس r es رشت rašt

دار dār داشت dāšt

په پورتني موردکې ماقبل آخر( ر) هم په ش اوړي او (د) هم په خپله ناغږنه جوړه( ت) اوړي چې له ( ش) سره تلفظي مناسبت ولري، لکه:

گردgard گشت gašt

خو د( پذیر) او گیر په ریښو کې چې ( ر) د پورتني واول(i) څخه وروسته واقع شوې ده په خپل حال پاتې کیږی. او په دغه ځای کې د( ر) او( ت) ترمنځ د( اف) غږ زیاتیږي، لکه:

پذیر pazir پذیرفت paziroft

همداسې د شناس په کلمه کې چې په ( س) مختوم دی او له ( س) څخه د مخه ښکتنی واول(a) راغلی او هم فعل په ( ش) پیل شوی؛ نـو پـه دې مـوردکې ( س ) په ( خ ) اوړي او د تېرمهال ریښه ( شناخت) جوړوي.

۷: د( ت) روستاړي او د (ش ) او(ز) بدلېدل پـه (خ) چـې لـه واولونـو څخـه وروسته راغلي دي:

| | |
|---|---|
| اوسمهال ریښه | تېرمهال ریښه |
| فروش foroš | فروختfrox |
| ساز zɑ̄s | ساخت saxt |

**ب) برخه**

۸: د( د) روستاړي، له هغو ریښو سره مستقیماً راځـي چـې د( ر) او( ن) پـه کانسونېنټونو چې مخکې ترې واول وي مختوم وی، لکه:

| | |
|---|---|
| پژمر pažmūr | پژمردpažmūrd |
| تکان takɑ̄n | تکاند takɑ̄nd |

۹: د( د) ماضي جوړونکي روستاړی او د( ای، او) غبرگغږونو بدلون په لنډ واو(u):

| | |
|---|---|
| اوسمهال ریښه | تېرمهال ریښه |
| گشایgūšɑ̄y | گشود gūšud |
| شنو šʃnaw | شنودšūnud |

۱۰ : د( د) روستاړی او د(آ) خپلواکونج پرضمه باندې، لکه:

| | |
|---|---|
| اوسمهال ریښه | تېرمهال ریښه |
| فشارfʃšɑ̄r | فشرد fʃšord |
| سپار sʃpɑ̄r | سپرد sʃpord |

۱۱ : د( د) روستاړی او د(آ) خپلواک غږ زیاتېدل:

| | |
|---|---|
| اوسمهال ریښه | تېر مهال ریښه |
| ایست ist | ایستاد istɑ̄d |

۱۲ : د( د) روستاړی او د وروستي ( ن) غورځېدل، لکه:

| | |
|---|---|
| اوسمهال ریښه | تېرمهال ریښه |
| آفرین ɑ̄farin | آفرید ɑ̄farid |

۱۳: د( د) روستاړی او دمعروفه (ی) زیاتېدل، لکه:

اوسمهال ریښه تېرمهال ریښه

بخش baxš بخشید baxšid

همداسې په دري ژبه کې د اوسمهال او تېر مهال اجباري ریښې هم شته چې د ځینو روستاړو له یوځای کېدلو سره د اوسمهال او تېرمهال ریښې جوړوي، یعنې د ( ان) په واسطه د اوسمهال اجباري ریښه جوړوي او د (اند او نید) په واسطه ورڅخه د تېرمهال فعلونه جوړیږي،لکه:

| ریښه | د اوسمهال اجباري ریښه | د تېرمهال اجباري ریښه |
|---|---|---|
| پوش poš | پوشانpošɑ̄n | پوشاند/ پوشانید pošɑ̄nd/ pošɑ̄nid |
| دو daw | دوان dawɑ̄nd | دواند/ دوانیدdawɑ̄nd/ dawɑ̄nid |

(۷۹:۹مخ)

په پایله کې ویلای شو چې د ( ت) ماضي جوړونکی مورفیم د تېرمهال ریښې دلاندینیو روستاړي درلودونکي دي:

( ست، شست، فت، خت، ند، آد، رد، اود، اید)

د( ت) ماضی جوړونکی مورفیم له نا غږنو غږونو څخه وروسته راځي ، او د (د) ماضي جوړونکی مورفیم ترغږنو( کانسونېنتونو او واولونو) څخه وروسته راځي.استاد یمین په دستور معاصر زبان دري کتاب کې د جوړښت له مخې د فعلونو ریښې دري ډوله ښودلي دي، خو که ورته ځیر شو دا لاندې دوه ډولونه لري:

۱: هغه ریښې چې اساساً له یوې مادې( ریښې) څخه جوړ شوي اوسمهال او تېرمهال یې دواړه ساده او له یو بل سره توپیر لري، لکه:

اوسمهال ریښه تېرمهال ریښه

ساز sɑ̄z ساختsɑ̄xt

۲: هغه ریښې چې اوسمهال او تېرمهال کې مرکبه ریښه ولري البته دوهم جزیې یوه ساده ریښه وي، لکه: ده ـ داد، کن ـ کرد، شوـ شد، گردـ گردید...

اوسمهال ریښه تېرمهال ریښه

سرده sar dʃh سر دادsar dɑ̄d

( ۱: ۹۷مخ)

## پایله

ریښه د پښتو او دري ژبو تر منځ یوه مشترکه کلمه ده ریښه هغه کلمـه ده چـې تاړې په هغې پورې نښلي او نوې کلمې جوړوي، ریښه یوازې په فعل نـه، بلکـې پـه نومونو کې هم د ملاحظې وړ ده .

ټول ترکیبي نومونه ریښه او تاړې نه لري، لکه : پوهنوال ، بېنـوال ، ناکـام، همـراز، او داسې نور چې دلته پوهنه، بې، نا، هم، ریښې دي او وال ، کام، راز، تاړې دي .

تر اوسه په کتابونو کې د پښتو فعلونو ریښه دوه ډوله ښودل شوې ده چې یوه د نا تېرې او بله د تېرې زماني ریښه ده ، لکه : (خور او اغوند) د ناتېرې زماني ریښـې دي او ( خوړ، اغوست، لوست او کښیناسـت) د تېـرې زمـانې. مسـتقبل فعـل کومـه جلا ریښه نه لري بلکې د نـاتېرې زمـانې (حـال) ریښـه ورسره شریکـه ده یـا پـه بـل عبارت د ناتېرې زمـانې ( حـال) او مسـتقبل ریښـه یـوه ده، خـو یـواځې د مسـتقبل فــعل ور سره د یو جز یعنې /به/ د معاون په حیث زیاتېږي، لکه : زه به وخورم، زه بـه واغوندم، زه به کښېنم، زه به لولم ... خو که دې مسئلې تـه ځیـر شـو گـورو چـې پـه پښتو ژبه کې ځینې داسې فعلونه هم شته چې درې ریښې لري؛ نو پـر دې اسـاس ویلای شو چې د ریښې له نظره پـه پښـتو ژبـه کـې درې ډولـه فعلونـه شـته چـې پـه لاندې ډول دي:

۱ـ هغه ډله فعلونه چې په اوسـمهال او تېـر مهـال کـې یـوه ریښـه لـري ، لکـه: لړزېـدلlaṛzedəl ، تـړلtaṛəl ، ځـړېـدلĵaṛedəl، غوړېـدل γwaṛedəl.... پـه دې برخه کې متعدي ، لازمي او ټول حکمي متعدي فعلونه شامل دي.

۲ــ هغـه فعلونـه چـې پـه اوسـمهال او تېرمهـال کـې دوې ریښـې لـري، لکـه: الوتلalotəl، وتلwatəl، وتلwatəl، ختل xatəl...، په دې برخه کې ځینې لازمـي فعلونه شامل دي د یادونې وړ بولم چـې پـه پښـتو گرامرونـو کـې پـه دوو ریښـه ییـزو فعلونو کې ځینې متعدي فعلونـه هـم راغـلي دي او ویـل شـوی چـې دا فعلونـه دوې ریښې لرلي خو که موږ هغه فعلونو ته ځیر شو گورو چې هغه فعلونـه دوې ریښــې نـه بلکې دوې تنې یا ستې لري، لکه:

نیولniwəl، موندلmondəl، اورېدلawredəl

۳ـ هغه ډله فعلونه دي چې په اوسمهال، تېر مهال او استمرار کې درې ریښې لري، لکه:

| ناتېره زمانه | استمراري | تېره زمانه |
|---|---|---|
| ځم ĵəm | تلم، تللم tləm | ولاړم wlɑ̄ṛəm |
| راځم، راشم rɑ̄ĵəm/ rɑ̄šəm | راتلم rɑ̄tləm | راغلمrɑ̄γləm |
| بیایم/ بوزم /byɑ̄yəm bozəm | بو ولم bowəlam | بوتلم/ بوته botləm/ botə |

(۱ : ۲۳۱ مخ )

فعل په دري ژبه کې اساساً یوه ریښه لري یعنې همدا ریښه ده چې په اوله مرحله کې له تغییر څخه پرته له تاړو سره یوځای کیږي او داوسمهال فعلونه جوړوي یعنې د اوسمهال ریښه یې جوړوي او په دوهمه مرحله کې د اوسمهال ریښه د تېرمهال له جوړوونکو تاړو ( ت، د) سره د ځینو فونیمونو په بدلون د تېر مهال ریښه جوړوي. په بله معنا په دري ژبه کې دتېر مهال ریښه د اوسمهال له ریښې څخه تر ځانګړو قواعدو اوضوابطو لاندې جوړیږي، لکه:

دار داشت، ساز ساخت، ...

**وړاندیزونه**

د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز ته وړاندیز کوم چې د امکان په صورت کې په خپل ستراتیژیک پلان کې لاندینیو موضوعاتو ته ځای ورکړي:

۱ـ د پښتو فعلونو د تاریخي بهیر منظمه څېړنه

۲ـ د پښتو فعلونو بشپړ لیکلړ(فهرست) او ډلبندي

**مأخذونه**


۱ـ پنزل، هربرت. د پښتو ګرامر، ژباړن: محمد رحیم الهام، دانش، خپرندویه ټولنه: کابل ۱۳۸۹هـ ش.

۲ـ تړی، حبیب الله. پښتوفعلونه، وړمه مجله (دویمه ګڼه)، دا دبیاتو او بشري علومو پوهنځی: کابل، ۱۹۸۷م.

۳ـ حقپال، آریانا. د پښتو فعلونو وېش د مطلق او استمرار په لحاظ، د تېزس قلمي نسخه، کابل پوهنتون: کابل، ۱۳۹۱هـ ش.

۴ـ خانلري، پرویزناتل. دستور زبان فارسي، انتشارات توس: تهران، ۱۳۸۲هـ ش.

۵ـ خوېشکی، محمد صابر. پښتو غږ پوهنه او ويېپوهنه، صميم ادبي ټولنه: کابل ۱۳۸۸ هـ ش.

٦ـ خويشکی، محمد صابر. پښتو معاصر گرامر، جهان دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۹۵ هـ، ش.

۷ـ زيار، مجاوراحمد. پښتو پښويه، دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۸۴هـ ش.

۸ـ شاکر، نوراحمد. ژبنۍ څېړنې، د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی: کابل پوهنتون، ۱۳۵۰هـ ش.

۹ـ يمين، محمد حسين. دستور تاريخی زبان فارسی دری، سبا کتابخانه مرکز نشراتی ميوند: کابل، ۱۳۷٦هـ ش.

۱۰ـ يمين، محمد حسين. دستور معاصر زبان پارسی دری، بنگاه انتشارات ميوند: کابل، ۱۳۸۴هـ ش.

څېړنيار فضل الرحمن عليزی

# پښتو منظوم حماسي ادبيات او
# د هغو د خوندي کولو لارې

# Epic poems literature of Pashto and Save ways of its

**Research Assistant Fazal Rahman Alizai**


## Abstract

Every nation has its particular epic literature, which created on the base of their economic, social and subjective structure. Epic is regarded as the most important genre among literary genres. It states fables abouta nation or residents of a country's champions and courage. Epic poems have diversity of forms, which will be discussing in this written. Afghanistan is the field of such epic literature and every time, it stated to raise people's sentiments against occupiers and encouraged warriors, who fighting against infidels. This research is allocated about such literary epic and it researches the epic and its varieties.

## لنډيز

هر ملت او ولس ځانګړي حماسي ادبيات لري چې د دوی اقتصادي، ټولنيز او فکري جوړښت ته په کتلو سره را منځته شوي وي. حماسه يا حماسي د ادبي ژانرو له مهمو ژانرونو څخه ګڼل کېږي چې په کې د يوه ملت او هېواد د اوسېدونکو د

اتلولیو، مېړانې او زړ ورتوب داستانونه بیان شوي دي. حماسې او حماسي شعرونه په خپل منځ کې توپیر لري چې په دې لیکنه یې په توپیر باندې خبرې شوې دي. زموږ گران هېواد افغانستان چې د دغسې ادبیاتو ډگر دی او په بېلا بېلو وختونو کې د یرغلگرو پر وړاندې د ولس د احساساتو د را پاڅولو په موخه ویل شوي او د غازیانو وینې یې په جوش را وستلې دي. دا لیکنه همدې موضوع ته ځانگړې شوې ده او د حماسې او د هغوی د مکملو ډولونو په اړه په کې څېړنه تر سره شوې ده.

## سریزه

که په ټوله کې د پښتو ادبیاتو د تاریخ په وده، لوړو او ژورو باندې خبرې کېږي، نو تاریخي لاسوندونو ته په پام سره یې تر لوړو ژورو ډېرې دي. په سیمه کې چې د یرغلگرو ځواکونو د جنگیالیو لښکرکښۍ پیل شوې دي، د پښتنو سیمې د همدې لښکرکښیو او یرغل په سر کې ځای لري او پر دې سیمه یې یوځلې خپل زور ازمایلی او اوبه کړی دی.

له مقدوني سکندره، مغولو، انگریزانو، روسانو او آن په روانه پېړۍ کې د امریکا پر مشرۍ د ناټو ځواکونو پوځي تخت و تاز پورې ټولو زموږ د گران هېواد او د دغه لرغوني ملت سرونه وهلې او شتمنۍ یې له خاورو سره ور خاورې کړې دي چې په دې ترڅ یې کې نه یواځې مادي شتمنۍ له منځه وړې دي، بلکې د دې ملت معنوي شمتنۍ یې هم ور ورکې کړې دي او زموږ ټول فرهنگي، کلتوري، مذهبي او داسې نور ارزښتونه یې تالا کړي او هیڅ ډول زړه سوی یې نه ده وربانديې کړی چې ثبوت او د اسنادو وړاندې کولو ته یې اړتیا ځکه نه شته چې دا هر څه موږ ټول په خپلو سترگو ولیدل او یا یې هم وینو.

د یرغلگرو په وړاندې زموږ مېړنیو خلکو او غیورو ولسونو په هر وخت کې د گران هېواد او خپل ناموس د ساتنې لپاره خورا ډېرې سرښندې کړې او په هر وخت او زمان کې یې همدې متجاوزینو ته تاریخي درسونه هم ورکړي دي چې د تاریخ په حافظو کې په زرینو کرښو لیکل شوي او زموږ د هېواد او نړۍ ډېر تاریخونه یې شاهدي ورکوي او د تاریخ زرین بابونه دي.

زموږ غیور او مېړنی ولس چې کله هم د یرغلگرو د مخنوي لپاره د جگړې ډگر ته را وتلی، نو بیا یې د الله تعالی په مرسته او د خپلو بې دریغه سرښندنو او قربانیو

په پایله کې دښمن ټکولی او نه هېرېدونکي درسونه یې ورکړې دي. زموږ ولس د خپلې هرې مبارزې او سربښندنې په وخت کې د خپلو مبارزینو د مورال د لوړولو لپاره د وخت او زمان له غوښتنو سره سم ادبیات هم ایجاد کړې او د هغو په مرسته یې د خپلو جنګیالیو وینې په جوش او خروش را وستلې او ورته ویلې دي چې:

که په مېوند کې شهید نه شوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه!

دې ولس د خپلو جنګونو او حماسو په ترخ کې ډېر حماسي ادبیات او حماسي شعرونه ویلې او زمزمه کړې دي، خو دا چې له دې حماسي ادبیاتو او یا حماسي شعرونه څخه یې څومره د تاریخ په حافظو کې خوندي دي، ځانګړې بحث او څېړنه غواړي، چې په دې لیکنه کې ورته څه ناڅه نغوته شوې او څېړل شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې لپاره چې موږ په دا ډول حساسو شرایطو کې د خپلواکۍ د فکر د ساتنې لپاره خپل منظوم حماسي ادبیات څه ناڅه خوندي کړي وي، نو د همدې هدف لپاره مې د پښتو منظوم حماسي ادبیات او د هغو د خوندي کولو اړتیا تر سرلیک لاندې علمي ـ څېړنیزه مقاله لیکلې او بحث مې ورباندې کړی دی. د دې موضوع مبرمیت په دې کې دی چې د ادبیاتو د یوه مهم ژانر ( حماسي اشعارو ) څېړنې او خوندي کولو ته د پوهانو او لیکوالانو پام را اړول دي.

## د څېړنې موخه

په دې څېړنه کې زموږ موخه دا ده، چې د حماسي اشعارو په اړه څه نا څه څېړنه تر سره کړو او د خوندي کولو لارې یې هم په ګوته کړو او له ورکې څخه یې د ژغورلو خواته د پوهانو پام ور واړوو.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ویل شوي:

۱ـ حماسي څه شی دي؟

۲ـ حماسي شعرونه او ادبیات کومې ځانګړنې لري؟

۴ـ په پښتو ادبیاتو کې حماسي اشعار له کوم وخت څخه را هسې ویل کېږي؟

۵ـ د حماسې او حماسي شعر توپيرڅه دی؟

دا هم بايد وويل شي چې کـه چېرتـه مـوږ پـه ادبيـاتو کـې د لرغـوني مصرـ د پېنتاور حماسه، د لرغوني بين النهرين د ګلګميش حماسه، د لرغوني هنـد د مها بهاراتا، او را مايانا، د لرغوني يونان د ړانده شـاعر هـومر، اليـاډاو اوډيسـه حماسـې د جرمني د ايداس( Eddas) حماسي منظومې او داسې نورې حماسې لولو، نو آيا ښـه به نه وي چې موږ هم خپل پخواني نوي پنځېدونکې حماسي شعرونه خوندې کړو؟

## د څېړنې ميتود

په دې ليکنه کې د تشـريحي او تحليلي مېتـود ترڅنـګ لـه مقايسـوي ميتـود څخه هم استفاده شوې او موضوع څېړل شوې ده.

## اصلي موضوع

حمس او حماسه په عربي ژبه کې (پـه کـار کـې شـدت او سـختوالي) تـه ويـل کېږي او له همدغې رېښې څخه ځينې نـورې کلمـې هـم راوتـلي دي، لکـه احمـس چې د سخت ځای او د زيږه او زړور سړي معنا ورکوي. د عربـو ځينـې قبيلـې، لکـه: قريش او بنی عامر د زيږه طبيعت او خشـونت د درلودلـو لـه املـه د حمـس پـه نامـه ياديدې. وروسته د زمانې په تېرېدو سره د حماسې د لغت په معنا کـې ورو ورو تغيـير راغی او (حماسة) د زړورتوب او شجاعت په معنا استعمال شوه.(۱)

حماسه عربي کلمه ده ، دشجاعت او زړورتيا په معنا ده.

حماسه په عربي فرهنګونو او قاموسونو کې د شجاعت په مفهوم هم راغلـې ده. نورو فرهنګونو بيا په دلاوری، زړه ورتوب او شجاعت سره معنا کړې ده.

## د حماسې اصطلاحي پېژندنه

حماسه د ( ح، په زور) د شجاعت او زړ ورتـوب معنـا لـري او لـه ډېـرو زړو  ادبي انواعو څخه ګڼل کېږي. حماسه لـه هغـه ډول شـعر او نظـم څخـه عبـارت ده چـې د زړورو پهلوانانو په ستاينه کې ويل شـوي وي. پـه عـام مفهـوم نـژادي، قـومي او مـلي افتخاراتو، زړورتيا وو او جګړييزو داستانونو ته هم حماسه ويل کېږي.

حماسه د ادبياتو په موضوعي يا معنوي ډولونو کې يو ډول دی چې د يوه ملت، قـوم، قبيلې او يا شخص د مېړانې، تورې کيسې او جنګي کارنامې په حکايتي او داستانې

ډول بیانوي. هر ډول جنګي او حماسي اشعار حماسه نه شي جوړولی، که څه هم حماسه له حماسي او جنګي اشعارو څخه جوړېږي، خو هر حماسي او یا جنګي شعر یا ویاړنه حماسه نه ده. (۲)

په لنډ ډول ویلای شو چې حماسه په لغت کې سختوالي، شدت او زړورتیا ته ویل کېږي او په شعري اصطلاح کې حماسې هغو شعرونو او نظمونو ته ویل کېږي چې موضوع یې جګړه، مېړانه، سربښندنه، زړورتیا، ننګ، غیرت، توره او ویاړنه وي. ویاړنه د حماسي شعر یوه برخه ده او توپیر یې دا دی چې په « ویاړنه» کې یواځې افتخاري اړخونه وي، یعنې هره ویاړنه حماسه ده او هره حماسه ویاړنه نه ده. ویاړونو د حماسي شعرونو په فروعاتو کې راځي.

او یا هم حماسه په لغت کې زړورتیا او سختیا ته ویل کېږي او په اصطلاح کې د شعرونو هغه ډول دی چې د یوه قوم یا قبیلې او یا هم وګړو د زړوتیاوو، مېړانې او وړیانو کیسې په کې را غلې او بیان شوې وي.

## د حماسې موضوع

په حماسه کې یوه مهمه او د یادونې وړ اساسي موضوع د اتل ده؛ یعنې هره حماسه یا حماسي داستان یو اتل لري. ښایي په حماسه کې اتل یو شخص، یوه قبیله، یو قوم او یا یو ملت وي، خو شرط په کې دا دی چې د شخص، قبیلې، قوم او ملت کارنامې، تورې او د مېړانې کیسې په داستاني شکل په کې بیان شوې وي.

حماسي شعر: حماسې ته منسوب هغه شعر ته ویل کېږي چې په جګړو کې د زړورو، توریالیو او ننګیالیو په ستاینه کې ویل شوي وي.

منظومه حماسه هغه ده چې د شعر او یا نظم په بڼه ویل شوې وي، لکه: په پښتو کې هوتکنامه، محمودنامه، احمدشاهي شاهنامه، او په دري کې د فردوسي شاهنامه .

## د حماسې تاریخي شالید

ادبپوهان په دې عقیده دي، چې د ادبیاتو په ډېرو لرغونو ډولونو کې تر ټولو لرغونی ډول یې حماسه ده، ځکه چې په حماسه کې له تاریخي دورې څخه د

وړاندې زمانو پېښې او واقعات را غلي دي چې په دې حساب موږ ويلای شو چې حماسه د لرغونو او لومړنيو زمانو د پېښو او واقعاتو راپور دی.

که چېرته موږ د نړۍ د ادبياتو تاريخ تر نظر تېر کړو، نو وينو چې په ادبياتو کې يې تر ټولو لرغونی ډول همدا حماسه يا حماسې دي او دا ځکه چې پوهان په دې عقيده دي، چې مخکې له دې چې انسانان د مدني عواطفو د بيان مرحلې ته ورسېږي، لومړی د خپل چاپېريال پېښو او بدلونونو ته متوجه کېږي. يعنې «...انسان د عيني Objective جهان له بيان وروسته د ذهني Subjectvie جهان پر لور قدمونه اخلي. ځکه انسان په لومړنيو مراحلو کې د پهلوانانو د کارنامو او د ماوراءالطبيعي پېښو شاهد او ناظر دی او حماسه د همدې مشاهدې او نظارې تعريف دی . په لرغوني يونان کې لومړنی پيدا شوې ادبي نوع حماسه ده او ارستو په خپل تصنيف کې حماسې ته له تراژيدۍ وروسته ځای ورکړی دی.د نړۍ د زياترو ژبو په لرغنو ادبياتو کې حماسه لومړنی مقام لري...» (۳)

که موږ د حماسې د تاريخ او لرغونتيا په اړه هر څومره بحث او څېړنه وکړو، بيا به هم همدې پايلې ته رسېږو چې حماسې په حقيقت کې د لرغونو زمانو د خاطرو او پېښو بيان دی، چې زياتره يې لکه د شفاهي ادبياتو په څېر سينه په سينه تر موږ پورې را رسېدلې دي او بالاخره په يوې ټاکلې زمانو کې چا ليکلې او خوندي کړې دي. يعنې حماسې د هغو ملتونو په ادبياتو کې چې همدا حماسې لري تر ټولو لرغونی ډول دی.

## د حماسې ځانګړنې

ادبي کره کتونکو او ادبپوهانو د حماسې لپاره يو شمېر ځانګړنې ټاکلې دي، چې بايد په يوه حماسي اثر کې هغه ځانګړنې شتون ولري؛ خو څېړنپوه زلمي هېوادمل بيا دا خبره کوي، چې که چېرته د پښتو حماسې پر ځانګړنو بحث کېږي، نو بايد په دوو برخو کې دا ځانګړنې مطالعه شي:

الف) دحماسو د عامو ځانګړنو له نظره د پښتو حماسو مطالعه.

ب) د پښتو حماسو خاصې ځانګړنې.

په عامو ځانگړنو کې يې هغه ځانگړنې راځي چې کره کتوونکو يا ادبپوهانو په عام ډول د حماسو لپاره ټاکلي دي چې په لاندې ډول دي.

۱ـ په هر حماسي اثر کې بايد د جنگ، زړورتوب، اتلولۍ او مېړانې کيسې را غلې وي.

۲ـ « د حماسي اثر د بيان سبک بايد له ځانگړو او عادي سبکونو څخه لوړ وي، چې حماسي لحن يې د تشخيص وړ وي او په ټول اثر کې د سبک دغه ځانگړنه وساتل شي.

۳ ـ شاعر يا ليکوال يې د خپل اثر په ټول پرمختيايي بهير حاکم او حاوي وي، په دې به پوهېږي چې کيسه د کوم هدف خواته ځي.

۴ـ د ماوراء الطبيعي( تر طبيعت پورته يا بهر) موجوداتو يا د هغوی د څواک موجوديت...» (۴)

۵ـ د عادي بشر تر توانه پورته بريالیتوب تر لاسه کول چې بشپړول يې د نورو په توان کې نه وي.

٦ـ د حماسو اتلان تن په تن جنگونو کې له بېلابېلو وسلو څخه کار اخلي، لکه: نيزه، خنجر، توره، غيشي او لينده.

۷ـ د حماسو قهرمانان تر ډېره داسې ستري کارنامې سرته رسوي چې ملي او معنوي ارزښتونه لري.

له پورته ځانگړنو څخه وروسته چې په عمومي ډول د ادبپوهانو له خوا حماسې ته ټاکل شوي، بايد د پښتو حماسي آثارو ځانگړنو ته هم نغوته وشي، ځکه چې پښتو حماسې يو شمېر ځانگړي مشخصات هم لري چې د پښتنو د فرهنگي او کلتوري جوړښتونو له ميراث څخه ورته پاتې دي. «... د پښتو شفاهي، نيمه شفاهي له فولکلور څخه اخيستل شوو او يا هم د پښتو د ليکلو حماسو پوره شننه که وشي د پښتنو د قبيله يي ژوند د بېلابېلو اړخونو مختلف تصويرونه په ځان کې را نغاړي... هغه حماسې چې پښتنو شاعرانو له دري او نورو ژبو څخه په پښتو را اړولي دي، دغو ترجمو ته هم زموږ ځينو شاعرانو پښتني رنگ ورکړی دی، اصطلاحات يې ور بدل کړي دي. زموږ حماسې که فولکلوري دي يا ليکل شوې منثورې او يا هم منظومې،

د ننواتو، ننګې، پور، شرم، پړې، ساري، هډ او هډماتې کودونه د حماسې د واقعاتو د بیان په ترڅ کې په خپل خپل ځای په داسې ډول په کې استعمالېږي چې زموږ د ټولنې د عنعني نظام څېره په کې له ورایه ښکاري.» (۵)

یوه خبره باید له یاده ونه ایستل شي، هغه دا ده چې د پښتو د منظومو حماسو په اړه ډېر څه نه دي ویل شوي او د دوی په ځانګړنو باندې څېړنه او ځانګړې بحث چې باید تر سره شوی وای هغسې چې لازمه ده نه دی شوی.

د پښتو حماسي شعرونو پیل او جریان

د تر لاسه شوو سندونو له مخې د پښتو د لیکلو ادبیاتو پیل په یوه اوڅاره ویاړنه او د ځینو په وینا حماسه پیل کېږي چې د جهان پهلوان امیر کروړ ده او په ( ۱۳۹ هـ، ق) کې یې چې د غور په مندیش کې امیر و، ویلې ده. کروړ په ( ۱۵۴هـ،ق) کال د پوشنج په جګړه کې وژل شوی دی.

په پښتو لیکلو ادبیاتو کې دا ویاړنه دومره شهرت لري چې د ډېرو لوستو کسانو څه ناڅه په یاده ده. د دې ویاړنې د پیل بیتونه دا دي:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخارو پر کابل نسته
بل په زابل نسته        له ما اتل نسته

حماسه د مضمون او جوړښت له پلوه بېلابېلې بڼې لري چې وروسته به خبرې وربانـدې وشي، خـو دلتـه يـو ټکـی د يـادونې وړ ده او هغـه دا چـې حماسـه زيـاتره داستانې او کیسه یـي بڼـه لـري چـې د زړورتـوب، مېړانـې او پهلـوانۍ موضـوعاتو تـه ځانګړې شوې دي.«... د کروړ نـامتو حماسـه کومـه خاصـه حـماسي کيسـه نـه ده، بلکې د جنګ د میدان او د ننګ د شپېو یوه حماسـي سـندره ده او دا یـوه حـماسي ویاړنه ده. په لومړي نظر ښایي د کروړ شعر یـوه فـردي حماسـه معلومـه شي، خـو لـه دقت څخه وروسته سړی پوهېدای شي چې دا حماسه یوه اجتماعي حماسـه ده. پـه دې معنا چې کروړ تشه د ځان ستاینه نه کوي. هغه غواړي خپل ټبر او خلک په يـوه خاصه تـاريخي مقطـع کـې تثبيـت کـړي او د يـوه بـاتور او مېـړني قـوم پـه توګـه يـې وځلوي...» (٦)

د امیر کروړ سوري د حماسي ویاړنې د ادبي ارزښت او اهمیت په باب له څه ویلو څخه تېرېږو ، خو دومره باید وویل شي، چې دا ویاړنه د لوړ ادبي ارزښت ترڅنګ د پښتو ژبې او ادب لپاره تاریخي ارزښت هم لري او دا ځکه چې دا د پښتو په ادب کې لومړنی لاس ته راغلی لیکلی سند دی.

که موږ چېرته د شیخ رضي لودي او نصر لودي هغه شعرونو چې یو بل ته یې د ځواب په بڼه ویلې دي تر نظر تېر کړو، هم یو ډول حماسي منځپانګه لري او له ورایه ورڅخه حماسي روح ښکاري. همدارنګه «... د شیخ اسعد سوري په بولله کې چې د محمد سوري په ویر کې یې ویلې ده حماسي ځرکونه لګول کېدای شي، همدا راز د ښکاروندوی په قصیده کې هم دغه رنګه حماسي عننه راغلې ده. په دومره توپیر چې شاعر دا خبرې د شهاب الدین په باب کوي:

یو خاوند شهاب الدین و چې یې وکا
په هر لوري هر ایواد ته یرغلونه
په جوپو جوپو جګړن یې هند ته یون کا
چې د غور بادار همت وکا ځغلونه
نن په سیند باندې تېرېږي یرغل کاندې
په پرتم یې زمري رېږدي په ځنګلونو
څپاند سیند یې هم له ډاره ایلایي کا
په اوږو وړي د غوریانو ښه ابړونه
په هر کال اټک د ده ښه راغلی کاندي
غوړوي په څنډو خپل پاسته سالونه
پښتونخوا ښکلي زمري چې ځغلي هند ته
نو اغلې پیغلې کاندې اتڼونه
زرغونې ختې اغوستي وي دې غرونو
بټ بیدیا هم پسوللي وي ځانونه
هر ګهیځ چې لمر را خېږي له ختیځه
څو چې یون کا د لویدیځه په څنډونه
که بریځر وي که غرمه او که لرمل وي

که لرمل که لمر لوېده که ترملونه
د شهاب جگړن به نه کښېني له زغلو
نه به پرېږي دا زلمي خپل بهيرونه...» (۷)

په شپږمه هجري پېړۍ کې ملکيار غرشين(۵۸۰هـ، حدود) چې له سلطان معزالدين غوري سره پر ملتان باندې د حملې پر مهال(۵۸۱هـ، ق ) ملگری و، د اسلامي لښکرو په مخکې يوه حماسه چې د فورم په لحاظ سندره ده د ځوانانو د پارولو لپاره ويلې ده:

**سندره**

ځښتن مومل دی　　اوس مو ير غل دی　　هېواد د بل دی
غازيانو گورئ　　ځښتن مومل دی
تورې تېرې کړئ　　دښن مو پرې کړئ　　منگولې سرې کړئ
څه له به تښتو　　ځښتن مومل دی
که ټنيگ کړو زړونه　　په بري يونه　　چې زمري يونه
اسلام را څخه دی　　ځښتن مومل دی
غازيانو راسئ　　ټول شاوخوا سئ　　د شهاب په ملا سئ
دښن مو غوڅ کړئ　　ځښتن مو مل دی... (۸)

له غرشين نه وروسته په پښتو لاس ته راغلو ليکلو ادبياتو کې د بابا هوتک(٦٦١- ۷۴۰هـ.س) د بارو زوی، چې په اتغر کې زېږېدلی و هم د مغولو په ضد يوه حماسي سندره ويلې وه چې استاد حبيبي (۱۲۸۹- ١٣٦٣لمريز ) له پټې خزانې څخه را نقل کړې ده.

په پټه خزانه کې را غلي دي، چې:« د مغولو په يوه شخړه کې پښتانه لږ او بې قوته و چې د سرو مغولو پېښه را غله د بابا هوتک يو څو خپلوان ومړل، ده په لوړ ږغ دا حماسي سندره وويله او خپل زلمي يې په جگړه کې تاوده کړل څو دوی په دښمنانو باندې بری وموند، هغه سندره دا ده:

په سور غر بل راته نن اور دی　　وگړيه جوړ راته پيغور دی
پر کلي کور باندې مغل راغی　　هم په غزني هم په کابل راغی

غښتليو ننگ کړئ دا مو وار دی مغل را غلی په تلوار دی
په پښتنونخوا کې يې ناتار دی پر کلي کور باندې مغل راغلی
آ د مرغی غښتليو راسئ پر ننگ ولاړ د پښتونخوا سئ
تورې تېرې غشي تر ملاسئ پر کلي کور باندې مغل را غی
زلمو په غشيو کړئ وارونه د تېرو تورو گوزارونه
وروړاندې کړئ خپل ټټرونه پر کلي کور باندې مغل راغی
زما د لمو وينې بهېږي مځکه او غرونه په سره کېږي
ميرڅي زغلي او تر هېږي پر کلي کور باندې مغل راغی
پښتنو هلئ پر غره جنگ دی سور غر په وينو د دوی رنگ دی
مهال د تورې دی د ننگ دی پر کلي کور باندې مغل راغی
زلمو پر ننگ ځانونه مړه کړئ دښن په غشيو مو پېيه کړئ
د پښتونخوا زمځکې ساته کړئ پر کلي کور باندې مغل راغی (۹)

له دې وروسته د اکبر زميندا ورې(۷۸۰هـ) يو لاس ته راغلی بيت:

د مغلو تمر هسې په اور وسوم
چې به هېر په دې ماتم زميندا ور کړم

او د دوست محمد کاکړ د بابړ خان کاکړ زوی(۹۲۰هـ) د ( تذکره غرښتن نامې) يو حکايت او ځينې نورې وړې نمونې د همدغسې حماسي بڼو ځرگندونه کوي.

«... له بده مرغه د روښاني نهضت بشپړ آثار تر دې وخته نه دي را پاتې شوې چې د هغوی د ميدان د حماسو ننداره مو په شعري حماسو کې کړې وای.له روښاني نهضت څخه لر را وروسته د ملا مست زمند په نامه يو شاعر( سلوک الغزات) ليکلي چې هلته هم حماسې په کې ويل شوي دي. (۱۰)

د خوشحال خان خټک( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰هـ،ش) په اشعارو کې حماسي شعرونه پرېمانه دي او د هغه د وخت سياسي شرايط هم داسې و چې له خوشحال خان خټک غوندې شاعر څخه د حماسو غوښتنه حتمې وه. بل داچې خوشحال خټک هم د مغلو، گورگيانيانو او نورو پرديو پر وړاندې په مېړانه جنگېدلی او د پښتنو د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره يې ملا تړلې او د افغان په ننگ يې توره تر ملا تړلې ده:

په خپل نام و ننګ چې راشم لېونی شم
خبردار کله په سود و زیان د لک یم
لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی
نه چې ګرځي ګونګټ نیسي باد خورک یم
چې په غوښو یې روز ګار هغه مزری یم
نه چې ولې د وښو خورې هغه مژک یم
چې نیولی مې دا هوډ د ننګ و نام دی
که له خپله هوډه وا وړم کنیزک یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره s
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

یا

چې څرګنده سربازي کاندې د تورو
زه خوشحال خټک تر هسې هنر جار شم

یا

د تورو په میدان کې چې سودا وي د سرونو
هغه زمان کې ګوره تل به سور وي زما آس

یا

پښتانه چې نور څه فکر کا نا پوه دي
بې له تورې خلاصی نه شته په بل کار

یا

لا په خوب کې په لړزه پرېوځي له کټه
چې د چا تر غوږ زما د تورې شرنګ شي

یا

ننګیالي چې د اخلاص توره په لاس کا
ډېر لښکر یې تر همت پورې کاروان دی
د موضوع د لا روښانتیا لپاره دلته د خوشحال بابا قصېدې څو بیتونه راوړو:

ځو وانه خلي له غليمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خوراک کا نه ارام
چې د ننگ او د ناموس اندوه يې نه وي
د هغه سړي به نه وي احترام
د مردۍ د نامردۍ تر منځ ميل نه دی
تفاوت يې په ذره وي يا په گام
د گنبت غصه مې ووته له دله
خدای چې را کړ په ډوډه د فتحې کام
ښه چې مخ د هغې سو بې را ښکاره شو
چې ليدله مې په خوب او په الهام
د گنبت جنگ مې په ننگ د پښتانه و
بل غرض مې په منځ نه و، نه مرام
د دې جنگ نارې به درومي په ملکونو
پرې خوشبړي به همه پښتون په نام
په غليم باندې دې هسې فتح تل وي
لکه دا فتح چې وشوه والسلام... (۱۱)

احمدشاه بابا هم د جنگ د ميدان توري وهونکی او شاعر و او د ده پـه اشـعارو کې هم حماسي اشعار شته، خو دا چې احمدشاه بابا د عمل په ډگر کې يو حماسي شخص تېر شوی دی او په خپـل ژونـد کـې يـې ډېـرې حماسـې کړنـې تـر سره کـړې دي،مگر په شعرونو کې يې لکه ځومره چې ښايي هغومره څه نه شته، ولې بيا هم پـه خپلو شعرونو کې حماسي اشعار لري، چې وخت پر وخت يې ويلې دي:

راته يو دی بحر و بر
که څه سمه ده که غر
په همت به يې تسخير کړم
شاهانه په شان وفر

احمدشاه بابا د هند تر مهمو برياوو وروسته په يوه حماسي شعر کې وايي:

چې رقیب د رقیبانو خدای فنا کړ
په ټولی د ښو یارانو هواره ځم
چې برکړی مې خدای لاس په رقیبانو
ترو به زه د هند په لور په تماشه ځم
چې د هند د ملکو فتح مې روزې شوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم
په را کړي داد دې خدا نه شي پیښمانه
تر نگین مې ایران لاندې شاهانه ځم
چې زما د ولایت فتح روزي شوه
ترو به څه د یار له نازه کناره ځم (۱۲)

یا

احمد شاه که د همت توره ور واخلي
بیا به وکړي په رقیب باندې ماتم (۱۳)
په برېښنا د تورې ژوند کوه احمده!
د بري جولان په لور د هر دیار که (۱۴)

یوه بله خبره چې باید له یاده ونه ایستل شي، هغه دا چې زموږ په پښتو ولسي شاعرۍ کې هم زیات حماسي اشعار شته. د پښتو په ولسي شاعرۍ کې د دغسې حماسو په اړه محمد زرین انځور کاږي:« ... پښتو ځیني ولسي شعرونه او په خاصه توگه ځینې چاربیتې د جنگ د میدان زېږنده دي او په خپله ځولۍ کې ډېر جالب مواد ځایوي. فرانسوي ډارمستتر د خپل مشهور اثر ( د پښتنونخوا د شعر هار و بهار) په سریزه کې یوه جالبه خبره کوي. هغه د افغان او انگلیس په لومړۍ جگړه کې د افغانانو د ملي غورځنگ یو علت د شاعرانو شعرونه گڼي او د هغه په نظر د دې سندرو اهمیت په دې کې دی چې له پېښو سره په یو وخت کې دي او له پېښو څخه را زېږي.» (۱۵)

د پښتو د ولسي شاعرۍ د شعرونو په اړه د پښتو پیاوړي څېړونکی عبدالله بختاني خدمتگار داسې لیکلي:« د افغانانو د ملي مبارزې انعکاس په پراخه پیمانه د پښتو ادب یوه داسې ارزښتناکه ذخیره مینځ ته راوړې ده، چې یوازې د ژبې او

ادبي فورم له مخې نه، بلکې د عادلانه مبارزو د مفهوم او محتوا د ارزښت او درنښت له مخې هم د پښتو ادب د ټولـو دورو پـه نسـبت او هـم د نولسـمې پېـړۍ د جهـاني ادبیاتو په مقایسه په خپله نوعه کې څرگند د قدر وړ مقام لري» (۱٦)

پورته څرگندونو ته په پـام سره غـواړو چـې د خپلـو خـبرو د ثبـوت لپـاره لانـدې ولسي چاربیته، چې د افغان او انگلیس د جگړې پر مهال ویل شوې دلته را وړو:

راغلي غازیان د فرنگي په دغه گړ باندې
اوړي قتل گړ باندې
راغلي غازیان غزاله واړه لور په لور عالمه
گډ یې کی شور عالمه
دا شاد و مخي خدای ورکړې دي په کور عالمه
اخلي به ترې خور عالمه
توره یې نه وه، ډز یې ورکړ په لوړ باندې
اوړي قتل گړ باندې
زه اکبرشاه ملا ورځم په ملاتړ باندې
اوړي قتل گړ باندې(۱۷)

دغه راز د میوند په ډگر باندې له اشـغالگرو انگریزانـو سره د جگـړې پـه میـدان کې د ملالۍ ټپه لا اوس هم کټ مټ په یاد پاتې ده:

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننگۍ ته دې ساتینه

د ۱۳۵۷ لمریز کـال د ثـور تـر کودتـا وروسـته هـم چـې ځینـو کسـانو پـه ادبي پنځونو کې لـوی لاس درلـود او حـماسي اشـعار یـې ویلـې دي، چـې بایـد را ټـول او خوندي شي.

د روسانو د یر غل په ضد هم ډېر حماسي شـعرونه ویـل شـوي دي، خـو بایـد د دې خبرې یادونه وکړو چې په دې دوره کې چـې کـوم حماسـي شـعرونه ویـل شـوي دي، په ډېره کمه اندازه ثبت شوي او نور یا خو ورک دي او یا هم د ورکېدو په درشـل کې دي، چې را ټولول او خوندي کول یې کار او زیار غواړي.

له دې نـه وروسـته ترانـو او شـعر ویلـو د موسـیقۍ ځـای ونیـو، چـې اکـثرو یـې حماسي رنګ درلود؛ طالبانو به هم خپلـه حـماسي شـعرونه لیکـل او هـم بـه یـې پـه مشاعرو او غونډو کې په ترنم سره ویل؛ حتی تر دې چې طالبانو د تشویق او هڅونې لپاره په کیسټو کې ثبت شوې حماسي اشعار اورېدل چـې مشـهور ترانـه او حـماسي ویونکی شاعر یې ملا فقیر محمد درویش و. د دې وخت د حماسي ترانـو یـوه بېلګـه په لاندې ډول ده:

دا ټاټوبی د زمرو دی دا سنګر د مسلمان دی
افغانانو ته جنت دی خو پردیو ته زندان دی
دا وطن په شان د باغ دی ولسونه یې ګلونه
په کې اوسې چې هرڅوک دي د یو تن غوښې هډونه
دا ټول یو واحد ملت ده دلته نه شته توپیرونه
دا ده خاوره د ننګونو، ښه غیور لري قومونه
له ننګونو او ویاړونو نه یې ډک دي تاریخونه
دلته خاورې شوو له خارو سره د ډېرو امیدونه
چا چې کړې پرې تعدا ده هغه اوس لا په ګریان دی
دا ټاټوبی د زمرو دی دا سنګر د مسلمان دی
افغانانو ته جنت دی خو پردیو ته زندان دی
بس دی پاڅئ مسلمانو نور غفلت درته حرام دی
ګورئ ایښی نن کفارو ګام په ګام راته پوخ دام دی
د دحشت او بشریت په نوم یې ګورئ هر اقدام دی
ادارې ته د ملګرو ملتونو ستاسو پام دی
د جابر ظالم حامي وي، په مظلومو یې الزام دی
دا ټاټوبی د زمرو دی دا سنګر د مسلمان دی
افغانانو ته جنت دی خو پردیو ته زندان دی
دا د غرب په میو مست به زموږ په درد څنګه دردېږي
نه یې خپلو سره مینه، نه یې زړونه پرې خوږېږي
چې د ورونو ننګ ناموس ته یې په سپکه کتل کېږي

دوی پرې غوږ کوې اچولی هیڅ په حال یې نه خبرېږي
تر خپل دود او خپل کلتور یې د پردو کلتور خوښېږي
د وطن ترانې نه اورې د بل ډول ته ګډېږي
تل د داسې ګوډا ګیانو زموږ وطن کې ژوندون ګران دی
دا ټاټوبی د زمرو دی دا سنګر د مسلمان دی
افغانانو ته جنت دی خو پردیو ته زندان دی
ورښودلی موږ انګرېز، روس او ګورګین ته خپل غیرت و
هغوی هم زموږ په خاوره ازمویلی زور طاقت و
د هغو شعار بدل و، نه بشر نه د دهشت و
لنډه داچې دلته صفر د هغو سوپر طاقت و
هر ساعت هره شېبه وربانده‌ې جوړ تیار قیامت و
هلته هم په ننګ ولاړ و، مجاهد غازي ملت و
اوس هم ښکاري عبدالله چې بریالی یې امتحان دی
دا ټاټوبی د زمرو دی دا سنګر د مسلمان دی
افغانانو ته جنت دی خو پردیو ته زندان دی

که له پورته یادونې وروسته را شو دې ته چې کېدای شي، د یو چا په ذهن کې داسې یوه پوښتنه پیدا شي، چې دا خو یو شمېر شعرونه دي، دا څنګه د حماسي شعرونو په صف کې درولی شو، څکه چې حماسې خو اوږدې وي؟

د دې پوښتنو په ځواب کې باید وویل شي، چې ځینې ادبپوهان په دې عقیده دي چې حماسه اوږده وي، خو د ځینو ادبپوهانو په نظر سمه نه برېښي او سمه په دې نه ده چې کېدای شي یوه کس د تورې، مېړانې، اتلولیو او جنګ کار نامې په یوه وړه داستاني منظومه او یا هم وړه منثوره کیسه کې بیان کړې وي، خو د حماسې شرایط یې پوره کړې وي، نو موږ یې په دې د حماسې له کالبه نه شو ایستلای، چې ګواکې دا خو یوه وړه منظومه ټوټه ده او بس.د دغسې پوښتنو د ځواب لپاره زلمي هېوادمل لیکلي دي: « ... روسي یا د شرقي اروپا ځیني ادبپوهان په دې عقیده دي، چې حماسې د ژوند د انعکاس د تیپ له مخې کېدای شي په درې ډولونو وویشو: وړه، منځنۍ او لویه. دا په دې معنا چې وړه یې د ژوند په یوه

لنډه مقطع کې د انسان کارنامې ښيي، په منځنۍ کې يې د زماني يوه خاصه مرحله شامله وي او لويه يې يوه اوږده زمانه را نغاړي. بله دا خبره چې دحماسې له تعريف سره په دې ځای کې بې رابطې نه ښکارې هغه دا ده چې حماسه له يوه قرنه تر بل قرنه له يوې زمانې تر بلې زمانې او له يوې قبيلې تر بلې توپير مومي.

حماسه پوهان په دې عقيده دي چې د نړۍ اکثر قديمي اقوام حماسې، قصې او افسانې لري، خو په ځينو دغو اقوامو کې ستر شاعران پيدا شوي دي، چې د خپل قوم يا ملت حماسې، قصې او افسانې يې په خورا متانت، قوت او د حماسي شعر له خصوصوياتو سره برابر نظم کړي، لوست يې لوستونکي هيجاني کوي او له متينو، درنو او له صلابته ډکو الفاظو يې سرې خوند اخلي....» (۱۸)

دلته يو بل ټکی هم د يادونې وړ دی او هغه دا چې حماسه له حماسي شعر سره په خپل مفهوم کې يو څه توپير لري. دا سمه ده چې هره حماسه په مجموع کې له حماسي شعرونو څخه جوړېږي، خو ځينې حماسي شعرونه حماسه نه جوړوي د مثال په توګه د امير کروړ شعر حماسي دی، خو حماسه نه شو ورته ويلای. حماسه د يوې ټولنې د اتلانو د زړورتوب، مېړانې او وياړونو داستان او کيسې دي.

ايا د پښتو اوسنۍ( د ترو لسيزو) حماسي شعرونه بايد خوندي شي او که نه؟

د دې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايو چې که چېرته موږ د نړۍ ادبيات تر نظر تېر کړو، نو وبه وينو چې د نړۍ د هرې ژبې ادبيات په ځانګړو ټولنيزو زماني او مکاني شرايطو کې را منځته کېږي او بېلابېل پړاونه وهي. که څوک د يوې ژبې هغه قوانين چې د خاصو شرايطو تر اغېز لاندې وضع شوي وي د بلې ژبې پر ادبياتو کټ مټ تطبيق کوي دا يوه نه کېدونکې چاره ده او دا ځکه چې د هرې ژبې د ادبياتو را ټوکېدل او پنځېدل په خاصو ټولنيزو، جغرافيايي، اقتصادي شرايطو پورې اړه لري، خو که را شو دې خبرې ته چې د هرې ژبې په ادبياتو کې يو شمېر مشترکې ځانګړنې ليدل کېږي، چې د نړۍ په ډېرې ژبو کې لږو ډېر ورته والی لري او موږ ورته عام قوانين ويلای شو او کله کله بايد د هغو په نظر کې نيولو سره خپل ادبيات وڅېړو او معلومه کړو چې د عامو قوانينو په نظر کې نيولو سره زموږ د تېرو لسيزو حماسي شعرونه څومره له عامو قوانينو سره سمون خوري؟

کوم عام قوانین چې د نړۍ د حماسي ادبیاتو لپاره ټاکل شوي په هغو کې یې یو دا دی، چې د یو چا او یا یو قوم د جنګ، زړورتوب، اتلولۍ او مېړانې د کیسو یادونه په کې شوې وي او یا د مېړانې کیسې په کې را غلې وي. دوهم دا چې د حماسي اثر د بیان سبک باید ځانګړی او له عادي سبکونو لوړ وي چې حماسې لحن یې د تشخیص وړ وي او په ټول اثر کې د سبک دغه ځانګړنه ساتل شوې وي. دریم شاعر یا لیکوال یې د خپل اثر په ټول پرمختیایي بهیر حاکم او حاوي وي، یعنې په دې پوهېږي چې کیسه د کوم هدف خواته ځي؟ څلورم د عادي بشر- تر توانه پورته بریالیتوب تر لاسه کول چې بشپړول یې د نورو په توان کې نه وي. پنځم د حماسو قهرمانان تر ډېره داسې ستري کارنامې سرته رسوي چې ملي او معنوي ارزښتونه لري او داسې نور... زه غواړم دلته د تېرو لسیزو د حماسي شعرونو څخه یو یې د بېلګې په ډول را وړم او له پورته ټاکل شوو عامو قوانیونو سره یو ارتباط ورکوم او وبه ګورو چې تر کومه بریده له عامو قوانینو سره په ارتباط کې ویل شوي دي؟

څه خمارې حماسې دي

څه خمارې حماسې دي هر ډګر مو مجاهد دی
له رقیب نه لارې ورکې دي دلبر مو مجاهد دی
موږ د نور په لښکرونو تل بېګاوې ماتوو
په لمریزو سپینو تورو یې ارواوې ماتوو
موږ سکوت د غرونو مات کړ اوس بیدیا وي ماتوو
زمانې مو ټکولي لایې ملاوې ماتوو
په جلال د تکبیرونو یې چوپتیاوې ماتوو
هره پرښه سندرماره هر کمر مو مجاهد دی
له رقیب نه لارې ورکې دي دلبر مو مجاهد دی
له سینو مو وینې واخیستلې ځمکې مو پرې رنګ کړې
څومره غولې مو ګلګون کړل او ګل چکې مو پرې رنګ کړې
لرې لرې جزیرو ته الوتکې مو پرې رنګ کړې
موږ بازانو ټیټې هسکې اسمان څکې مو پرې رنګ کړې
څه وزرې مو پرې رنګ کړې څه بڼکې مو پرې رنګ کړې

دا په دې چې خوږ او ښکلی پیغمبر مو مجاهد دی
له رقیب نه لارې ورکې دي دلبر مو مجاهد دی
تل خاموشه تورتموته د غذاب ستوري لرو
د تاریخ په هر یو فصل او هر باب ستوري لرو
کهکشان غوندې وطن کې بې حساب ستوري لرو
په ورغوي کې ډېر ډېر د انقلاب ستوري لرو
پرونیو ارادو کې د شهاب ستوري لرو
ددې سمې هر وګړی هر تېبر مو مجاهد دی
له رقیب نه لارې ورکې دي دلبر مو مجاهد دي
په طاغوت باندې بارکړی مو دی ویر د همتونو
کله کېږي د زلمیو مو تعبیر د همتونو
د روح پاڼو مو نیولی دی تصویر د همتونو
له نړۍ مو را تاوشوی دی زنځیر د همتونو
موږ ساتلی په سکروټو کې ضمیر د همتونو
د ( تکل) د قلم څواک او د زړه سر مو مجاهد دی
له رقیب نه لارې ورکې دي دلبر مو مجاهد دی

که چېرته موږ پورته ویل شوی حماسي شعر ښه په غور سره تر نظر تېر کړو، نو وینو چې د لته د یوه ملت د اتلولۍ، مېړانې او زړه ورتوب خبرې شوې دي او بل داچې دا خبرې په یوه ځانګړې لحن شوې دي چې له ورایه ورڅخه د حماسي سبک څرک معلومېږي په پورته شعر کې  د خپل ملت او خلکو د ویاړ او افتخار خبرې هم را غلي دي او د خپل ملت او خلکو له نه ماتېدونکو ارادو څخه خبرې شوې دي.

که د تېرو لسیزو حماسي مطالعه شي، نو وبه لیدل شي چې دلته د جنګونو، زړورتوب، مېړانې او اتلولیو یادونه شوې او تر ډېره د خپل هېواد د آزادۍ جذبې بیان شوې دي او د خپلو خلکو د شرف او حیثیت د پرځای کولو ډېري کیسې او مسایل را وړل شوې دي. خو یوه خبره بیا هم باید له یاده ونه ایستل شي چې ټول هغه عام قوانین چې په دې برخه کې ټا کل شوي دي، د پوره او بشپړ تطبیق امکان څکه نه

لري چې هم پورته ورته اشاره شوې ده. په عامو قوانینو کې دوه درې مادې یې داسې دي، چې په اوس وخت کې چې علم او ټکنالوژي خپل اوج ته رسېدلي را وړل او تطبیق کول یې له سره د نه منلو دي. د بېلگې په توگه: په عامو قوانینو کې یوه خبره دا ده چې د ماوراء الطبیعي( تر طبیعت پورته یا بهر) موجوداتو یا د هغوی د ځواک موجودیت او بل داچې د حماسو اتلان تن په تن جنگونو کې له بېلابېلو وسلو څخه کار اخلي، لکه: نیزه، خنجر، توره، غشي او لېنده.

که پورته دوو قوانینو ته لږ څه ځېر شو، نو آیا د علم او ټکنالوژي په دې پرمختللې زمانه کې څنگه امکان لري، چې هغه څه موږ په خلکو باندې ومنو چې له سره وجود نه لري؟ او بل داچې په حماسو کې د جنگ د افزارو خبره هم یو څه د تأمل وړ په دې خاطر ده چې په اوس وخت یا پېړۍ کې چې د اټوم بمب زمانه ده، د یوې لویې وچې اوسېدونکي کولای شي، چې د خپلو عصري جنگي وسایلو په مټ په بله لویه وچه کې خلک په نښه کړي او ویې ولي، نو بیا تن په تن جنگ او یا هم له نېزې، خنجر، تورې غشې او لېندې څخه د جگړې په میدان کې کار اخیستل او هغه په خپلو حماسو کې راوړل د اوس زمانې له غوښتنو سره هیڅ اړخ نه لگوي، نو په دې حساب موږ باید د ټولو هغو عامو قوانینو د کټ مټ تطبیق هڅه او کوښښ ونه کړو او که دا کار وشي هم د منلو وړ نه ده. پورته یادونو او څرگندونو ته په پام سره باید وویل شي چې د پښتو کوم حماسي شعرونه چې ویل شوي د شوروي پر ضد حماسي شعرونو او همدارنگه اوسني حماسي شعرونه باید خوندي او له ورکې څخه وژغورل شي.

### د حماسي شعرونو د راټولولو لارې چارې

د حماسي شعرونو را ټولول او خوندي کول کومه ستونزمنه چاره نه ده او نه هم کوم ځانگړی لگښت او مصرف غواړي؛ په دې برخه کې چې څه مهم دي هغه دا دي چې په دې شعرونو کې ټول هم حماسي نه دي او نه هم له سره ټول شعرونه حماسي شعرونه کېدای شي، نو باید د دې شعرونو د را ټولولو او خوندي کولو ترڅنگ داسې یو چا ته دا دنده وسپارل شي چې د حماسي اشعارو له ځانگړنو سره

څه ناڅه بلد او اشنايي ولري. د دې شعرونه د را ټولولو په برخه کې باید لاندې لارې په پام کې ونیول شي:

۱ـ دا شعرونه په مبايلونو، مېموري ګانو او د طالبانو په نوم چې کوم خبري سايټونه دي پيدا کېږي چې له هغو څخه دې را ټول او وليکل شي.

۲ـ را ټول شوی شعرونه باید ډلبندي شي، وياړنې يې بېلې را غونډې او همدارنګه حماسي شعرونه يې ځانته را غونډ او ښه تفصيلي بحث وربانديې وشي او له هغو اصولو سره يې پرتله کړي چې د حماسي شعرونو لپاره ټاکل شوې دي.

۳ـ د امکان په صورت کې دې د حماسي شعرونو ليکونکو بشپړه پېژندنه او معرفي هم را وړل شي او د « حماسي اشعارو ويونکي شاعران» په نامه دې يوه تذکره وليکل شي.

۴ـ دا شعرونه دې د بديع او بيان په تله کې هم وتلل شي او دا دې په ګوته شي چې د دې فنونو له ډلې څخه يې په کوم فورم کې ويلې دي.

**پايله**

حماسي ادبيات هغه منظوم او منثور متنونه دي، چې په هغه کې د يو شخص، قوم او ملت د اتلوليو، مېړانې او زړه ورتوب بيانونه را غلي وي او يا حماسي شعر هغو نظمونو ته ويل کېږي، چې په هغه کې د يوه شخص، قوم او ملت د اتلولی، مېړانې او زړورتوب کيسې بيان شوې وي. کېدای شي چې د حماسې اتل يو ځانګړی شخص يا کوم قوم او قبيله وي په حماسه کې ځای په ځای ښکلي غنايي شعرونه هم راځي او هغې ته خاصه ښکلا وربخښي. حماسه له يوه عصر نه تر بل عصره پورې او له يوې قبيلې څخه تر بلې قبيلې پورې توپير پيدا کوي، ليکن له دې توپيرونو سره سم هره حماسه دوه اساسي خاصيتونه لري: لومړی دا چې حماسه اوږده وي او دوهم دا چې په حماسه کې د تورې او ميړانې کيسې راغلې وي. په پښتو کې ډېر حماسي شعرونه ويل شوي دي او لا هم ويل کېږي؛ خو هغه د استاد روهي په خبره «...په دې کې شک نه شته چې د پښتو حماسې بين المللي سټينډرډ ته نه دي رسيدلي، خو د حماسو په ډله کې راځي...» چې بايد دې برخې ته هم ډېره پاملرنه وشي او له ياده ونه ايستل شي. زموږ ګران هېواد چې د بېلابېلو

زبرځواکونو د ماتې سنګر او ټاټوبی دی او د تاریخ په بیلابیلو دورو کې یې داسې طاغوتي ځواکونو ته یې د خپل ټینګ ایمان، عقدې او پولادي غیرت او سربښندنې په پایله کې یې په هر ډګر کې ماتې ورکړې ده. د دې مبارزو په ترڅ کې یې د خپلو سنګرونو د تاوده ساتلو لپاره ډېر حماسي شعرونه لیکلي، ویلي او د دښمن پر وړاندې یې خپل د جهاد او مقاومت سنګرونه تاوده ساتلي او لا هم دا جریان ادامه لري، چې په دا ټوله موده کې خورا ډېر حماسي شعرونه ویل شوي او لا هم ویل کېږي.

که له تاریخي یادونو را تیر شو او له ۲۰۰۱ م کال څخه را په دېخوا حماسي شعرونه په نظر کې ونیسو، نو دې پایلې ته رسېږو، چې له کوم وخت چې د امریکایانو په مشرۍ ناټو ځواکونه افغانستان ته را غلل او د طالبانو اسلامي امارت ماتې وخوړه، خو دوه کاله وروسته د هرې ورځې په تېرېدو سره بیا راپورته شول او په ناټو ځواکونو یې چیرکي جګړې له پیل سره سم بیا د امریکا او متحدینو پر ضد حماسي اشعار ویل هم پیل کړل، چې نژدې دوه لسیزې یې همدا شعرونه یې ایجاد او زمزمه کړل. دا ثبت شوې حماسي شعرونه د نوې تکنالوژۍ په مرسته هر کلی، کور او حتی د هر کس جېب ته ورسېدل، چې اوس په اولس کې په پېخر پیدا کېږي. څرنګه چې دا حماسي اشعار د یرغل پر ضد را منځته شوي، نو لرې نه ده، چې د یر غل له پای ته رسېدو سره به یاد شوي حماسي اشعار هم د خلکو له ذهنونو، میموریګانو، ټیلیفونونو او نورو وسایلو څخه د نورو په څېر ورک او له یاده ووځي؛ نو په کار ده چې تر ممکنه بریده پورې د دې دوران ټول حماسي شعرونه ثبت او له ورکېدو څخه وژغورل شي.

**وړاندیزونه**

د دې لیکنې په پای کې غواړم چې د افغانستان علومو اکاډمي ته دوه ځانګړې وړاندېزونه وکړم:

۱ـ د افغانستان علومو اکاډمي دې د پښتو حماسي شعرونو د څېړنې په اړه پراخه سیمینار جوړ کړي او د دې موضوع د لا ښه څېړلو لپاره د پوهانو نظرونه را غونډ او په کتابي بڼه چاپ کړي.

۲ ـ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو انستیتوت ته مې وړاندېز دا دی چې دا موضوع د یوې علمي پروژې په ډول یو چاته ورکړي او د پښتو د لیکل شوو حماسي شعرونو د را ټولولو او خوندي کولو لپاره دې لاس په کار شي.

**مأخذونه**

۱ـ انځور، محمد زرين. په پښتو ابياتو کې د کروړ د حماسي شعر د عنعنې دوام، د امير کروړ ياد (د مقالو ټولگه)، د افغانستان علومو اکادمي،۱۳٦۴ لمريزکال،۱۰۱ مخ.

۲ـ هېوادمل، زلمی. ايا په پښتو ادب کې حماسه شته؟ د پوهنتون د دورې لکچرنوټ ۲ مخ، ۱۳۸۹ لمريز کال.

۳ـ پورتني مأخذ، ۲ مخ.

۴ـ لېوال، عبدالغفور. په ادبياتو کې د اسطورې څېړنه، د افغانستان علومو اکاډمي۱۳۹٦ لمريز کال ،۴۷ مخ.

۵ـ پورتني مأخذ، ۲ مخ.

٦ــ انځور، محمد زرين. د زړو پاڼو تول( په لرغوني او کلاسيک ادب څرگندونې)مومند خپرندويه ټولنه – جلال آباد، ۱۳۹۴ لمريز کال، ۴ مخ.

۷- پورتني اثر، ۸ مخ.

۸ـ حبيبي، عبدالحی. د پښتو ادبياتو تاريخ، د انش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ لمريز کال ۱۴۲ مخ.

۹ - پورتنی اثر مخ؟

۱۰- انځور، محمد زرين. د زړو پاڼو تول، ۱۰ مخ.

۱۱ـ ارمغان خوشال خټک، ۲۵ – ۲٦ مخ.

۱۲ـ ديوان احمدشاه بابا ابدالي، ترتيب او تدوين د قاضي هدايت الله، پښتو اکيډيمي، پيښور يونيورسټي، ۱۹٦۲، ۸۳ مخ.

۱۳ - پورتنی اثر،٦۱مخ.

۱۴ - پورتنی اثر،۸۸مخ.

۱۵ - انځور، محمد زرين. د زړو پاڼو تول( په لرغوني او کلاسيک ادب څرگندونې)مومند خپرندويه ټولنه – جلال آباد، ۱۳۹۴ لمريز کال، ۱۵مخ.

۱٦ـ بختانی، عبدالله خدمتگار. په دوو وروستيو پېړيو کې د پښتو نظم ته يوه کتنه، « پښتو چاپي آثار»، ۱۳۵۷ل، ۸۳ مخ.

۱۷ـ جمز دار مستتر. د پښتونخوا د شعر هارو بهار، پښتو ټولنه، دريم چاپ، ۱۳۵۴ ل، ۲۱ مخ.

څېړنيار شريف الله ساڼين

# ژبه او د مورنۍ ژبې اهميت او ارزښت

# Language and Importance of Mother tongue

**Research Assistant Sharifullah Sanin**

**Abstract**

Language is a very important and valuable phenomenon in human social life, because it is a language that is a tool of understanding among human beings and through this language, humans express their feelings and thoughts. Human society and civilization cannot progress without language.

Every language is important and valuable, because every language is the mother tongue of a particular tribe. mother tongue of a particular ethnic. Mother tangue, if from the one side, is a tool of understanding, from the other side it reflects the identity and culture of our people and ethnic. The protection and promotion of the mother tongue is, in fact, the preservation and development of own identity, culture and ethnicity. Every language is a valuable part of our country's national culture and a special treasure, so all rights and responsibilities must be given to nurture and promote this great values of country.

The importance and value of language and mother tongue are discussed in this research article.

**لنډیز**

ژبه د انسان په ټولنیز ژوند کې ډېره مهمه او ارزښتناکه پدیده ده، ځکه همدغه ژبه ده چې دانسانانو ترمنځ د افهام او تفهیم وسیله ده او د همدې ژبې په وسیله انسانان خپل احساسات، خیالات او افکار څرګندوي. انساني ټولنه او تمدن له ژبې پرته پرمختګ نه شي کولای.

هره ژبه د اهمیت او ارزښت وړ ده، ځکه هره ژبه د یوه ځانګړي قوم د وګړو مورنۍ ژبه ده. مورنۍ ژبه که له یوې خوا د پوهولو او راپوهولو وسیله ده، له بلې خوا د خپل قوم او ولس د هویت او فرهنګ ښکارندوي ده. د مورنۍ ژبې ساتنه او پرمختګ په حقیقت کې د خپل هویت، فرهنګ او قوم ساتنه او پرمختګ دی. هره ژبه د خپل هېواد د ملي فرهنګ ارزښتناکه برخه او یوه ځانګړې قیمتي خزانه ده، نو د هېواد د دې سترو ارزښتونو د پالنې او ودې لپاره یې باید ټول حق او مسوولیت ادا شي.

په دې څېړنیزه مقاله کې په ژبه او د مورنۍ ژبې په اهمیت او ارزښت باندې بحث شوی دی.

**سریزه**

زموږ ګران هېواد افغانستان د بېلا بېلو ژبو ټاټوبی او د بېلا بېلو قومونو مشترک کور دی چې هغوی زموږ په ګران او تاریخي هېواد کې د یو واحد ملت په توګه د ورونو په څېر د وروری په فضا کې ژوند کوي. دغه بېلا بېلې ژبې د یوه ښکلي بڼ د بېلا بېلو ګلونو په څېر د دې تاریخي ملت د بېلا بېلو قومونو او ولسونو مورنۍ ژبې دي چې د دې قومونو او ولسونو د هویت او فرهنګ څرګندونکي دي چې د خپلو ګډو ملي- فرهنګي ارزښتونو او مقدساتو سره د یوه ښکلي، رنګین او لوړ فرهنګي ملت په توګه ژوند کوي.

په ټولنیز ژوند کې هره ژبه چې په حقیقت کې د یو قوم او ولس مورنۍ ژبه هم ده، د ډېر اهمیت او ارزښت وړ ده، ځکه مورنۍ ژبه د خپلې ژبنۍ ټولنې د وګړو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو لومړنۍ وسیله ده او د همدې مهمې او اساسي وسیلې پر بنسټ یو قوم او ولس د پرمختګ پړاوونه وهي او د هغه قوم مادي او معنوي ارزښتونه ورپورې تړلي وي.

په تېوله نړۍ کې په زرګونو ژبې شته چې همدغه ژبې بیا په بېلا بېلو هېوادونو پورې اړه لري چې د خپل هېواد ستره پانګه او خزانه ګڼل کېږي. دغه ژبې د ځینو ځانګړنو له مخې په بېلا بېلو ډولونو وېشل کېږي چې د ځینو یې په لاندې ډول یادونه کوو:

- مورنۍ ژبه (Mother Tongue): مورنۍ ژبه لومړنۍ او یا اصلي ژبه ده چې ماشوم یې د لومړي ځل لپاره کاروي او د هغې په وسیله یې هویت ټاکل کېږي او د ماشوم لپاره تر ډېرې د استفادې وړ وي.

- ملي ژبه (National Language): هغه ژبه ده چې په یوه هېواد کې ډېره زیاته کارول کېږي او د دې ترڅنګ رسمي هم وي.

- د اکثریتو ژبه (Majority Language): هغه ژبه ده چې د یو هېواد ډېری او اکثریت وګړي پرې خبرې کوي.

- د اقلیتو ژبه Minority Language: هغه ژبه ده چې اقلیت ډلې(ګروپونه) پرې هر یو په جلا- جلا ډول سره خبرې کوي.

- د تدریس ژبه (Teaching Language): هغه ژبه ده چې د تعلیمي نصاب په تدریس، ښوونه اوو روزنه کې د استفادې په موخه ترې کار اخستل کېږي.

- رسمي ژبه (Official Language ): هغه ژبه ده چې د یوه هېواد له لورې په عمومي ډول د اداري، تعلیمي او تحصیلي موخو لپاره کارول کېږي.(۱)

په دې مقاله کې له سرلیک( ژبه او د مورنۍ ژبې اهمیت او ارزښت) سره سم بحث او خبرې شوې او د مورنۍ ژبې اهمیت او ارزښت یې په ډاګه شوی دی. ورپسې د مقالې له اصولو سره سم پایله، وړاندیزونه او ماخذونه په خپل وار سره راوړل شوې دي.

## د خېړنې اهمیت او مبرمیت

په ټولنیز ژوند کې ژبه، یعنې مورنۍ ژبه ډېره د اهمیت او ارزښت وړ ده چې ساتنه او پالنه یې د هر قوم او ولس مهمه او اساسي دنده ده، نو په دې برخه کې داسې څېړنو ته ډېره اړتیا لیدل کېږي چې دا یې ستر مبرمیت دی او اهمیت یې دا دی چې د دې څېړنې

په ترڅ کې به د ژبې او په ځانګړې ډول د مورنۍ ژبې اهمیت او ارزښت لاپسې روښانه او څرګند شي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه داده چې له یوې خوا خلک د مورنۍ ژبې له اساسي ارزښتونو څخه خبر شي چې د یوه قوم هویت او فرهنګ څرګندوي او له بلې خوا همدې ارزښتونو ته په کتو د خپلې مورنۍ ژبې د ساتلو، عامولو، ودې او پرمختګ په برخه کې ګټور او اغېزمن کارونه او فعالیتونه ترسره کړي او د تل لپاره د خپلې مورنۍ ژبې د ساتنې او پالنې لپاره هڅې جاري وساتي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- ژبه څه ته وایي؟

۲- مورنۍ ژبه څه ته وایي؟

۳- د انسان په ټولنیز ژوند کې مورنۍ ژبه څه اهمیت او ارزښت لري او مهم ارزښتونه یې څه دي؟

۴- په مورنۍ ژبه زده کړې څومره اهمیت او ارزښت لري؟

۵- د یوه هېواد په قلمرو کې هره ژبه څه اهمیت لري او د هېواد د ملي فرهنګ په بډاینه او پیاوړتیا کې یې رول څه دی؟

٦- د خپلو ژبو د ساتنې، پیاوړتیا او پرمختګ په برخه کې، د ژبې ویونکي او دولت څه دنده او مسوولیت لري؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## اصلي موضوع

ژبه د انساني ژوند لومړنی ارزښتناک او حیاتي بنسټ دی چې د نړۍ د هرې ټولنې او هېواد د ژوندانه ټول نظام، هر اړخیز تحول او پرمختګ پرې ولاړ دی. د ژبې ارزښت او اهمیت په هره ټولنه کې ثابت او معلوم دی او هره ژبه د ځانګړې

اهمیت او ارزښت ور ده، ځکه د نړۍ د بېلا بېلو ټولنو وګړي په بېلا بېلو مورنیو ژبو خبرې کوي چې د بېلا بېلو قومونو او خلکو هویت، فرهنګ او ټولنیز ژوند انځور او ځرګندوي. زموږ هېواد هم په نړۍ کې یو له هغو هېوادونو څخه دی چې وګړي یې په څه باندې په دېرشو ژبو خبرې کوي او همدې ژبو او قومونو زموږ د هېواد ملي فرهنګ ته د بڼ د رنګارنګه ګلونو په څېر ښکلا او بډاینه وربخښلې ده چې دغه هره یوه ژبه د ځانګړو ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي ارزښتونو لرونکي او زموږ د هېواد یوه ستره فرهنګي خزانه او شتمني ده.

مخکې له دې چې د مورنۍ ژبې پر اهمیت او ارزښت بحث او خبرې وکړم، لومړی باید پر ژبه لنډ بحث وکړم او وروسته به د مورنۍ ژبې د اهمیت، ارزښت، پالنې او ساتنې د موضوع تشریح او توضیح ته ورشم.

**ژبه**

ژبه انسانانو ته د الله تعالی یوه ستره، بې ساري او بې مثله ډالۍ ده چې د همدې سترې الهي ډالۍ او نعمت پر بنسټ انسان په ټولو مخلوقاتو کې غوره مخلوق بلل شوی او انسان ته یې لوړ مقام، منزلت او کرامت ورپه برخه کړی دی، ځکه چې د انساني ټولنې او تمدن هر اړخیز پرمختګ په ژبې پورې تړلی دی او د ژبې له کارونې پرته په ټولنیز ژوند کې پرمختګ ناشونی دی. پر همدې بنسټ ژبپوهان وایي: ژبه د بشري تمدن او کلتور د پرمختګ د زنځیر هغه لومړنۍ کړۍ ده چې نورې کړۍ یې په ځان پورې نښلولې دي، نو دا یوه څرګنده خبره ده چې ژبه د بشریت په هره ټولنه او هېواد کې د پوهولو او راپوهېدلو، انساني افکارو، خیالاتو، علومو، تجربو او کلتوري میراثونو د لېږد او د ټولنیز ژوند د پرمختګ لومړنۍ وسیله ده.

ژبه په لغت کې د خولې دننه د غوښې یوه ټوټه ده چې د خوراک څښاک د مزې کتو له کبله د ذایقې خاصه بلل کېږي، اما په اصطلاح کې د پښتو(ژبه)، د یوناني(لوګوسlogos )، د انګلېسي-(لنګویچlanguage) او د عربي(لغت) هغه سم شوې اوازونه دي چې د غږیز جهاز د بېلو بېلو مخارجو نه په ځانته ځانته بڼو را ایستل کېږي او د انسانانو ترمنځ د یو بل د پوهولو او راپوهولو یا مطالبو، افکارو،

خیالاتو او احساساتو د ښکاره کولو لپاره استعمالېږي، مګر څرنګه چې په خبرو او ګړېدا کې د ژبې برخه ډېره ده، نو له دې کبله دغه آله چې موږ د افکارو، خیالاتو، مطالبو او احساساتو د ښکاره کولو یا د یو بل د پوهولو او راپوهولو وسیله وبللـه د(ژبې) په نامه یاده شوه.(۲)

ژبه د یو قوم د فرهنګ خزانه او د انسانانو د افکارو، خیالاتو او پوهې وسیله ده. ژبه نه یواځې داچې د انسانانو د ټولنیز ژوند د مادي او معنوي ارزښتونو لېږدونکې او ساتونکې ده، بلکې د انسانانو ترمنځ د اړیکو د ټینګولو او انساني ټولنې او تمدن ته ښکلا ورکوونکې بنسټیزه وسیله ده، ځکه همدغه ژبه ده چې لومړی یې انسان تـه د نورو حیواناتو په پرتله غوره والی، کرامت او لوړ مقام وربخښلی او بیا یې د انسان ژوند د نورو حیواناتو په پرتله غوره، له خوندونو ډک او ښکلی ګرځولی دی.

په نړۍ کې هره یوه ژبه د ځانګړې ارزښت او قدر وړ ده او هره یوه ژبه د بشریت یوه ګډه پانګه ده چې ساتنه، پالنه او روزنه یې په کار ده. د یوې ژبې مړینه په حقیقت کې د بشریت د ګډ تفکر او رنګین فرهنګ یوه پانګه وژني او له منځه یې وړي.

د نړۍ د بېلا بېلو علومو په ډګر کې هره برخه خپل ځانګړی علم لري چې د همدې بېلا بېلو علومو ترڅنګ یو هم د ژبپوهنې علم دی چې ژبه د علمي اصولو او معیارونو پر بنسټ په هراړخیز ډول مطالعه او څېړي، نو د ژبپوهنې د پوهانو له نظره ژبه داسې پېژندل کېږي:

ژبه د غږیزو سمبولونو داسې یو اکتسابي او میثاقي سیستم دی چې د ټولنې وګړي یې له یو بل سره د مفاهمې لپاره کاروي.(۳)

ژبه هغه آوازونه دي چې انسانان یې د خپلو افکارو او خیالاتو د څرګندولو په موخه تر یو خاص نظم او سیستم لاندې د صوتي غړو په واسطه له خولې څخه راباسي او په دې توګه په خپلو منځونو کې یو له بل سره د پوهولو او راپوهولو اړیکه پیدا کوي.(۴)

اما په عام ډول سره ژبه د پوهولو او راپوهولو یا د افهام او تفهیم یوه مهمه وسیله ده او په عمومي توګه د ټولو وګړو ترمنځ د مفاهیمې هر ډول وسیله او اړیکه ژبه بلل

کېږي، که دغه اړيکې د اشارې په توګه وي او که د نښو او نښانو او داسې نورو لارو چارو په واسطه وي، خو ژبه په خاص مفهوم سره د يو لړ اختياري وييزو سمبولونو يوه داسې مجموعه او يو داسې اکتسابي او اتفاقي سيستم دی چې هر يو سمبول يې زموږ د يوه ذهني انځور ښکارندويي کوي، دا انځورونه د انساني چاپېريال او مهال ځيزونه، پېښې او کړه وړه را اخلي او په دې توګه ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو يوه آله او وسيله ده.(۵)

څرنګه چې د هرې ژبې اساسي دنده وينا او خبرې کول دي، نو ځکه د مفاهمې د وسايلو نور ډولونه، لکه: اشاره يې ژبه او د سمبولونو ژبه د علمي تشريح له پلوه په خاص مفهوم سره ژبه نه بلل کېږي. د ژبپوهانو په عقيده د ژبې ځينې مهم خصوصيات دا دي:

۱- ژبه رمزي، يعنې يوه سمبوليکه پديده ده چې په عمومي ډول د خپل مدلول سره کومې منطقي او ضروري اړيکې نه لري او د وخت په تېرېدو سره نوموړي رمزونه تغيير کوي.

۲- ژبه ځانته منظم جوړښت لري چې په همدې دليل د ښودلو او زده کولو وړ ده. که څه هم د يوې ژبې قاعدې د بلې ژبې له قاعدو سره ټکي په ټکي يو شان نه وي، خو بيا هم په عمومي ډول ځانته ټاکلي اصول او قاعدې لري.

۳- ژبه بشري خاصيت دی چې د حيواناتو له ژبې سره ژور توپير لري.

۴- ژبه يوه ټولنيزه پديده ده چې د ټولنې د وګړو ترمنځ ټولنيز مناسبات ټينګوي.

۵- ژبه طبيعي غريزه نه ده، بلکې له ټولنې څخه زده کېږي. که چيرې ژبه طبيعي غريزه وای، نو په ټوله بشري ټولنه کې به يوه ژبه موجوده وای او زده کړې ته به يې هېڅ ضرورت نه وای او ټولو انسانانو به په يوې ژبې باندې خبرې کولې.

٦- ژبه د تفکر د انتقال وسيله ده، خو په عين زمان کې يوه نسبي خپلواکي هم لري.(٦)

ژبه یوه ټولنیزه او اکتسابي پدیده ده چې د ټولنې او وګړو ترمنځ د اړیکو ټینګولو لپاره په کاروړل کېږي. په بشري ټولنو کې ژبه د یوې ارتباطي وسیلې په توګه همېشه ثابته نه وي او په یو شکل نه پاتې کېږي، بلکې له ټولنې سره د خپلو اړیکو، ارتباطاتو او نورو ځانګړنو له مخې بدلون او تحول کوي.

ژبه یوه انساني او ټولنیزه پدیده ده چې د انسان او ټولنې له پیدایښت سره سم منځ ته راغلې ده، نو ځکه یې اړیکې له انسان او ټولنې سره تړلې او نه شلېدونکې دي. ژبه په ټولنیز ژوند کې دانسان د اړتیاوو، غوښتنو، خیالاتو او افکارو د پوره کولو، شریکولو او د ژوندانه د هدف د پېژندنې لپاره را منځ ته شوې ده، نو په لنډ ډول ویلای شو چې د ژبې عمده موخه د انسانانو ترمنځ د خپلو اړتیاوو پوره کول دي چې د ټولنیز ژوند او جوړښت بنسټ ګڼل کېږي.

## د مورنۍ ژبې اهمیت او ارزښت

ژبه دانسان په ټولنیز ژوند کې یوه ارزښتناکه او اساسي پدیده ده چې اهمیت او ارزښت یې د نړۍ په هره ژبنۍ ټولنه کې څرګند دی، نو همدې اهمیت او ارزښت ته په کتو سره د هرې ژبنۍ ټولنې وګړي د خپلې ژبې د پرمختګ، ودې، ساتنې او پالنې لپاره زیار او کار کوي چې د نړۍ د پرمختللو ټولنو او هېوادونو ژبې یې ښه مثالونه دي، ځکه هر څومره چې د یوې ټولنې او هېواد وګړي پرمختللي وي، هغومره یې ژبه هم پرمختللې وي او که برعکس د یوې ټولنې او هېواد وګړي پرمختللي نه وي، نو طبعي خبره ده چې ژبه یې هم وروسته پاتې وي. پر همدې بنسټ د هرې ژبې د پیاوړتیا او پرمختګ لپاره کار او هلې ځلې د ژبې حق دی او هره ژبه ځکه د ځانګړې اهمیت او ارزښت وړ ده چې له یوې خوا د خپل هېواد ستره فرهنګي خزانه او پانګه ده او له بلې خوا همدغه هره یوه ژبه په حقیقت کې د یوه ځانګړې قوم مورنۍ ژبه ده چې د هغه قوم د هویت او فرهنګ ښکارندویي کوي.

په ټوله نړۍ کې شاوخوا اووه زره ژبې موجودې دي چې په بېلا بېلو ژبنیو ټولنو کې د افهام او تفهیم لپاره کارول کېږي او د بېلا بېلو قومونو مورنۍ ژبې دي.

ژبې د خپلو کلیدي ځانګړنو له مخې په بېلا بېلو ډولونو ویشل کېږي چې مخکې مو ورته یادونه وکړه، دلته یواځې د مورنۍ ژبې پر اهمیت او ارزښت بحث کوو، خو لومړی باید مورنۍ ژبه وپېژنو:

مورنۍ ژبه Mother Tongue: مورنۍ ژبه لومړنۍ او یا اصلي ژبه ده چې ماشوم يې د لومړي ځل لپاره کاروي او د هغې په وسیله یې هویت ټاکل کېږي او د ماشوم لپاره تر ډېرې د استفادې وړ وي.

د ځینو خلکو هدف او تحلیل بنايي د مورنۍ ژبې له پېژندنې څخه داسې وي چې مورنۍ ژبه هغه ژبه ده چې د انسان مور پرې خبرې کوي، البته که د مور ژبه يې د پلار او قوم له ژبې څخه جلا بله ژبه وي، نو بیا دغه تعریف او تحلیل يې دلته ناسم دی، ځکه زما په اند د( مورنۍ ژبې ) اصطلاح په حقیقت کې د ( مور) له کلمې را اخیستل شوې چې اصلي معنا او هدف يې د انسان اصلي( د پلرني نسب او قوم) ژبه ده چې د هغه په سبب يې هویت څرګندېږي. ځکه که د یو انسان د مور ژبه جلا وی، نو د پلار، کورنۍ او ټولنې ژبه يې همغه اصلي ژبه ده چې د ټولنيز ژوند ټولې اړیکې پرې ټینګوي، همدې ژبې ته يې مورنۍ ژبه وايي. بله دا چې په یوه ژبنۍ ټولنه کې داسې ډېر کم پېښېږي چې د یو کس د پلار او مور ژبې سره بېلې بېلې وي، ان په هره ژبنۍ ټولنه کې کېدای شي له۹۰ تر ۹۵ سلنه پورې د خلکو د مور او پلار ژبه سره یوه وي او کېدای شي ۵ یا ۱۰ سلنه داسې وي چې د مور او پلار ژبې يې سره بېلې بېلې وي، نو که د مورنۍ ژبې څخه هدف هغه ژبه وي چې مور يې پرې خبرې کوي، نو بیا دلته دا هم سمه ده چې د هرې ژبنۍ ټولنې د وګړو ۹۰ یا ۹۵ سلنه او حتی په ځینو ټولنو کې ۱۰۰ سلنه مورنۍ او پلرنۍ ژبه سره یوه وي چې همدا يې هویت ټاکونکې او اصلي ژبه وي، ځکه پر همدې ژبه له یوې خوا ښه پوهېږي او رواني خبرې اترې کوي او له بلې خوا پرې د ټولنیز ژوند اړیکې او ارتباطات ټینګوي. هغه پنځه یا کم و زیات سلنه وګړي چې یواځې د مور ژبه یې جلا وي، که څه هم د مور په ژبه به هم یو څه پوهېږي، خو اولادونه يې د کورنۍ(پلار)، سیمې او ټولنې په ژبه خبرې کوي او پر همدې ژبه ښه حاکم وي چې مورنۍ ژبه ګڼل کېږي. ځکه چې انسان له کور، کورنۍ او ټولنې سره اړیکې لري او د همدې اړیکو پر بنسټ يې ټولنیز ژوند دوام مومي.

د مورنۍ ژبې له پورتني تعریف څخه څرګندېږي چې په ټولنیز ژوند کې مورنۍ ژبه ډېره د ارزښت او اهمیت وړ ده، ځکه مورنۍ ژبه هغه لومړنۍ ژبه ده چې انسان يې د خپل تربیت او روزنې په لومړني ښوونځي(د مور په غېږ) کې زده کوي او پر

همدې ژبه د لومړي ځل لپاره د ټولنيز ژوند اړيکې ټينګوي او خپل خيالات، احساسات، افکار او هويت پرې څرګندوي. پر همدې بنسټ په مورنۍ ژبه ښوونه او روزنه هم ډېره ګټوره او اغېزمنه وي، ځکه د ماشوم لومړنۍ روزنه او تربيت په همدې ژبه پېل شوی وي او هم د سايکالوژۍ له نظره د ماشوم دماغ او ذهن ورته په ټوله معنا تيار او چمتو وي.

پر همدې بنسټ د مورنۍ ژبې اهميت او ارزښت ته په کتو سره د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان(يونسکو) د فبروري ۲۱ د مورنۍ ژبې د نړيوالې ورځې په نامه ونوموله چې دليل يې د ژبې او فرهنګ له رنګارنګۍ سره مرسته او د ژبو ساتنه ده او د ژبې د زيات اهميت او ارزښت په اساس يې ۲۰۰۷م کال د نړۍ د ژبو کال اعلان کړ.

د مور د نړيوالې ورځې نوم اېښودنه هغه ورځ پېل شوه چې په ۱۹۵۲م. کال کې د بنګله ديش د ډاکې پوهنتون محصيلينو چې په هغه وخت کې د ختيځ پاکستان په نامه يادېدو او ترډې وخته يې خپلواکي نه وه ترلاسه کړې، د اردو ژبې ترڅنګ يې د پاکستان د دوهمې ژبې په څېر د بنګالي ژبې د ملي کولو په اساس سوله ييز لاريونونه په ښار کې پېل کړل چې د پوليسو له خوا له سخت غبرګون سره مخامخ شول او يو شمېر لاريون کوونکي يې مړه کړل. له پاکستان څخه د بنګله دېش د خپلواکۍ له اخيستلو وروسته، دغه ورځ بنګاليانو هر کال نمانځله او ملګرو ملتونو ته يې د لومړي ځل لپاره وړانديزونه وکړل چې دغه ورځ دې د مورنۍ ژبې د نړيوالې ورځې په نوم ياده شي. نو هغه و چې د يونسکو سازمان د دې هېواد په غوښتنه د ۱۹۹۹م.کال د نومبر په ۱۷مه نېټه په خپله يوه ستره غونډه کې د فبروري۲۱مه ورځ د مور د نړيوالې ورځې په نامه ونوموله چې د ۲۰۰۰م.کال راهيسې دغه ورځ په ډېرو هېوادونو کې په ځانګړو مراسمو سره لمانځل کېږي او ددغې ورځې په مناسبت په کې ويناوې او پروګرامونه وړاندې کېږي.(۷)

د ملګرو ملتونو د نړيوال سازمان علمي فرهنګي اداره (يونسکوUNESCO) ټينګار کوي، هغه ژبې چې ډېر پراخوالی نه لري، بايد د نورو ژبو ترڅنګ هېرې نه شي، بلکې فعاله او ژوندۍ وساتل شي. دغه اداره کوښښ او هڅه کوي چې د ژبې نقش ته پاملرنه وکړي، ترڅو د ژبې په ويونکو کې ژوندۍ پاتې شي او د هغه قوم او مليت د فرهنګي هويت د پېژندنې او د اقليتو ژبو د حقوقو د خوندي ساتلو لپاره

ژوندۍ پاتې شي. دې اداري په ۱۹۹۹م. کال کې د څو ژبو د ښوونې او روزنې اصطلاح چې مورنۍ ژبه، ملي ژبه او نړیواله ژبه په کې شاملې وې تصویب کړه او د ښوونې او روزنې په نظام کې یې د هغوی د کارونې اهمیت پیشنهاد کړ.(۸)

مورنۍ ژبه د یوه قوم اساسي او بنسټیزه ژبه ده چې ویونکي یې د هغې په وسیله په بشپړ صراحت او فصاحت سره خپل احساسات، خیالات او د زړه خبرې بیانولی شي. د مورنۍ ژبې ساتل، پالل او د ودې او پرمختګ په برخه کې یې کار کول پر هر قوم، ملیت او اړونده دولت باندې لازم او ضروري دي، ترڅو له منځه لاړه نه شي، ځکه مورنۍ ژبه هغه وسیله ده چې موږ پرې د خپل قوم فرهنګ او هویت ساتلی شو. مورنۍ ژبه له یو نسل څخه بل نسل ته د ټولنیز ژوند د عنعناتو او فرهنګ انتقالونکې ده. مورنۍ ژبه د انسان د طبیعي حقوقو او هویت یوه برخه ده چې هېڅ انسان له دې حق څخه نه شي محرومېدلی.

د پوهانو له نظره د مورنۍ ژبې څخه د یوه انسان بې برخې کول، په حقیقت کې د حقوقي، اخلاقي او ښکلا پېژندنې ارزښتونو او افکارو څخه د هغې بې برخې کول دي او دا کار پرځای عمل نه دی. د حقوقي ارزښتونو له مخې که موږ د مورنۍ ژبې حق له یوه انسان څخه اخلو، په حقیقت کې له یوې سترې تېروتنې سره مخ کېږو، ځکه چې د هغې د خپلواکۍ حق مو محدود کړ، په داسې حال کې چې انسان خپلواکه پیدا شوی دی او حق لري چې په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي، ویې لیکي، ښوونه او روزنه پرې وکړي او که څوک په دې برخه کې هغې ته محدودیت ټاکي، بې له شکه له تېروتنې او خطا سره مخامخ کېږي. د اخلاقي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره که انسانان له مورنۍ ژبې څخه محروم شي ډېر زیات درد او تکلیف ورته رسېږي، په داسې حال کې چې د اخلاقو له نظره باید له نورو سره داسې چلند ونه شي چې نه یې خوښوي. د ښکلا پېژندنې له نظره هم هغه نړۍ چې په هغې کې شپېته ژبې وجود ولري په مراتبو سره له هغې نړۍ څخه ښکلې ده چې په هغه کې شپږ ژبې وجود ولري. ځکه همدغه رنګارنګۍ دي چې انساني چاپېریال ته یې ښکلا وربخښلې ده.(۹)

که چېرې موږ د ژبې په اهمیت وپوهېږو چې څرنګه د یوه قوم او ملت په جوړښت او پایښت کې رول لري، نو خامخا به له ټولو کارونو څخه لومړی دې خبرې

ته متوجه شو چې موږ باید خپله ژبه مخ په وړاندې بوځو، ترڅو د یوه پرمختللي قوم او ملت په توګه تبارز وکړو. کوم قومونه او ملتونه چې د ژبې په اهمیت باندې پوه شوي دي او دا کار ورته مهم ښکاري، تل يې د خپلې ژبې د پرمختګ لپاره کار کړی دی. د ژبې اهمیت تاسې له دې نه هم معلوملای شئ، کله چې د کوم قوم ژبه له منځه لاړه شي، نو هغه قوم ضرور له منځه ځي او نوم يې هم ژوندی نه پاتې کېږي، دا ځکه چې د هر قوم هویت او ژوند په خپله ژبه کې دی. په نړۍ کې ډېر قومونه د ژبې له امله له منځه تللي دي او په نورو قومونو کې ورمدغم شوي دي چې اوس مهال يې چاته نوم او نښان هم نه دی معلوم. په دنیا کې چې اوس مهال دا لوی لوی قومونه وینو، دوی د تاریخ په اوږدو کې ډېر واړه واړه قومونه په خپل ځان کې ځای کړي دي. که څوک غواړي چې په نورو قومونو کې ورمدغم نه شي او د خپل موجودیت او هویت څښتنان شي، هغوی باید له ټولو لومړی خپله ژبه په سمه توګه وروزي او دغه کار او هڅه مخ په وړاندې بوځي، که چېرې ژبه يې مخ په وړاندې لاړه شي، نو هغه قوم ورسره خامخا مخ په وړاندې ځي او وروسته نه پاتې کېږي.(۱۰)

دا یوه منل شوې خبره ده چې ژبه د یو قوم په پرمختیا او لوړتیا کې ډېر مهم رول لوبوي، څومره چې د یوه قوم ژبه شهرت، پراختیا او ترویج مومي، په هماغه اندازه په نوموړي قوم کې تحول او پرمختګ هم لیدل کېږي او که ژبه يې د ترویج او شهرت نه ولوېږي، نو قوم يې له شهرت نه لوېږي او د نورو سیالانو له سیالۍ نه وروسته پاتې کېږي. نن ورځ هغه قومونه د نړۍ پرمخ ودان او د پوره ځواک خاوندان دي، کومو چې د خپلې ژبې په برخه کې ښه کار کړی دی، ژبه چې مشهوره شي، نو قوم يې هم ورسره شهرت پیدا کوي، دا ځکه چې دا دواړه ښکارندې یو تربله لازم او ملزوم حکم لري.

که سړی د نړۍ ژبو ته نظر واچوي، دا به ورته څرګنده شي چې ټولې طبیعي ژبې په واقعیت کې یوه قوم ته منسوبېږي. که چېرې یوه طبیعي ژبه په یوه قوم پورې تړلې نه وي، یا داچې د یوه قوم او ولس له خوا د یوې مورنۍ ژبې په توګه ونه کارول شي، نو دا به بیا یوه طبیعي ژبه نه، بلکې یوه جوړه شوې یا مصنوعي ژبه وي، د نړۍ ډېرې زیاتې طبیعي ژبې د قومونو په نومونو پورې اړه لري، یعنې د ډېرو زیاتو

ژبو نومونه د هغو ژبو لـه ویونکـو سره نـه بېلېـدونکي اړیکـي لـري.(۱۱) د بېلګـې پـه ډول: پښتون(قوم)- پښتو(ژبه)، تاجیک(قوم)- تاجیکي(ژبه)، ګوَر(قوم)- ګوَري(ژبه)، اوزبیک(قوم)- اوزبیکي(ژبه)، ترکمن(قوم)- ترکمني(ژبه)، بلوچ(قوم)- بلوچي(ژبه) او داسې نور قومونه او ژبې.

په نړۍ کې هره ژبه له خپل فرهنګ، احساساتو او د ټولنیز ژوند له عنعناتو څخه ډکه وي، څکه نو د نړۍ بېلا بېل قومونه په خپل هویت او فرهنګ پېژنـدل کېـږي او ژبه د همدې هویت او فرهنګ څرګندونکې ده. د هرې ژبنـۍ ټـولنې د وګـړو مـورنۍ ژبه ډېره د اهمیت او ارزښت وړه ده او د همدې اهمیت او ارزښت لـه مخـې دا د هـر قوم او هرې ژبـې د ویونکـو مهمـه او بنسـټیزه دنـده او مسـوولیت دی چـې د خپلـې مورنۍ ژبې د ساتنې، پالنې، ودې او پرمختیا په برخه کې بنسټیز کار او هلـې ځلـې ترسره کړي او خپله ژبه د ټولنیز ژوند په هره برخه کـې وځلـوي. څکـه ژبـه د یـو قـوم لپاره د روح مثال لري او کله چې له چا څخه روح واخیستل شي، نو بې له شکه چې ژوند یې پای ته رسېږي. په همدې ډول کـه د یـو قـوم ژبـه ژونـدۍ او د پرمختـګ پـه حالت کې وي، نو له یوې خوا به یې هویت او فرهنګ ژونـدی وي او لـه بلـې خـوا بـه یې قوم او فرهنګ هم د پرمختګ او ودې په حالت کې وي، څکه یوه ژبه بې له خپل قوم او قوم بې له خپلې ژبې په ټولنیز ژونـد کـې پرمختـګ نـه شي کـولای او پـه دې برخه کې د یو بل لازم او ملزوم دي چې له یو بل سره نه شلېدونکي اغېزناکې اړیکـې لري. د همدې ارزښتونو پر بنسټ د هرې مورنۍ ژبې ساتنې، بډاینې او پرمختګ تـه باید د خپلې ژبې د ویونکو، فرهنګي او اجتماعي ټولنو او اړوندو ادارو له لـوري ډېـره پاملرنه وشي.

په دې اړوند د افغانستان د اساسي قانون په شپاړسمه ماده کـې د وروڼـو قومونـو د ژبو د پیاوړتیا او پراختیا په برخه کـې پـه صراحـت سره راغـلي دي چـې:" دولـت د افغانستان د ټولو ژبو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقـوي. په هېواد کې د مطبوعـاتو، راډیـو او تلویزیـون خپرونـې د هېـواد پـه ټولـو مروجـو ژبـو آزادې دي."

که څه هم دولت د دې ژبو د پیاوړتیا او پرمختیا په برخه کې یو څه هڅـې کـړې دي، خو متاسفانه په هغه کچه چې لازمه ده او اړتیا ورتـه لیـدل کېـږي، کـار نـه دی

ترسره شوی او ان ځینې ژبې په دې برخه کې بېخي محرومې دي. هیله من یو چې په دې برخه کې د دولت ټولې اړوندې اداري اغېزمنې لارې چارې او پروګرامونه تطبیق او پلې کړي، ځکه د هېواد هره ژبه زموږ د هېواد د ملي فرهنګ ستره پانګه او خزانه ده چې د هېواد فرهنګ ته یې ښکلا او بډاینه ور بخښلې ده.

د مورنۍ ژبې په اړه ډېر ټینګار او تاکید په دې معنا نه دی چې سړی دې بله ژبه نه زده کوي، بلکې دا ډېره ښه خبره ده چې سړی باید بېلا بېلې ژبې زده کړي، ځکه دا د نورو قومونو، سیمو او هېوادونو له خلکو سره د اړیکو ساتلو او ټینګولو لپاره مهمه ده او بله داچې که د چا یوه ژبه زده وي، یو نفر دی او که دوه ژبې یې زده وي، دوه نفره دی او که درې ژبې یې زده وي، درې نفره او همداسې پسې راواخله، ولې مهمه او اساسي خبره داده چې سړی د خپل هویت او پېژندنې مهم بنسټ، یعنې مورنۍ ژبه هېره نه کړي. ځکه مورنۍ ژبه د نورو ژبو د زده کولو لپاره بنسټیز حیثیت لري او له کومې ژبې سره چې موږ د مور په نس کې ساه اخیستې او ورسره اشنا یو، هغه زموږ د شخصیت په مادي او معنوي وده او پرمختګ کې ډېره اغېزه لري.

## په مورنۍ ژبه د زده کړو اهمیت او ارزښت

د مورنۍ ژبې د ساتلو، پاللو، ودې او پرمختګ له مهمو او اساسي مواردو څخه یو هم په مورنۍ ژبه زده کړې دي چې د نړۍ د ښوونې او روزنې او سایکالوژۍ پوهان پرې ډېر ټینګار کوي او دا د هرې مورنۍ ژبې د ویونکو حق دی چې پر خپله ژبه زده کړې وکړي او دا حق د ټولو مشروع قوانینو له مخې هېڅ څوک له چا څخه نه شي اخیستلای. ځکه په مورنۍ ژبه زده کړې یو شعار نه، بلکې دا د هر وګړي طبیعي حق دی چې انسان یې باید تر لاسه کړي. په مورنۍ ژبه زده کړې له یوې خوا د ژبې د ودې، پرمختیا او عامولو سبب ګرځي او له بلې خوا د ژبې په ویونکو، زده کوونکو او ماشومانو کې د خپلې ژبې او فرهنګ سره لېواتیا زیاتوي او په علمي ډګر کې د ژبې د پرمختګ او زده کړو لپاره لارې چارې او زمینه برابروي او هم د زده کړې په پروسه کې د خپلې ژبې د ویونکو لپاره ګټور او موثر تمامېږي.

هغه ماشومان چې په یوه بله سیمه یا هېواد کې زده کړه کوي او هلته د ښوونځي د زده کړې او تدریس له ژبې سره د خپلې مورنۍ ژبې په څېر پوه او ښه بلد نه وي، نه شي کولای چې په دوهمه ژبه د کلمو، جملو او عبارتونو په معنا او

مفهوم ښه پوهه شي، هغوی مجبورېږي چې عبارتونه، جملې او حتا ټول درس بې له دې چې درک او تحلیل یې کړي په حفظ سره یاد کړي. دغه ډول ښوونه او زده کړه نه یواځې داچې زده کوونکي د درس په پوهېدنه کې له ستونزو سره مخامخ کوي، بلکې د هغوی تحلیلي قوه کمزوري کوي او په زده کړو کې د وروسته پاتې کېدو سبب ګرځي.

په مورنۍ ژبه لومړنۍ زده کړې د خپلې ژبې ویونکو ته دا موقع په لاس ورکوي چې د خپلې ژبې له ځانګړنو او فرهنګ څخه خبر شي او له دې لارې خپلې ژبې ته علمي موضوعات، مسایل او بشري افکار انتقال او شریک کړي. په مورنۍ ژبه زده کړه د خپلې ژبې په ویونکو کې د تخلیقي او تحقیقي ادب د رامنځ ته کولو د لېوالتیا او انګېزې سبب ګرځي او د ژبې تخلیقي او تحقیقي برخه ورسره پیاوړې کېږي. په همدې سبب د ژبې لیک لوست او زده کړه عامېږي او په علمي ډګر کې په خپله مورنۍ ژبه بشپړ واک پیدا کوي او دا زمینه ورته برابرېږي چې له نورو ژبو څخه د خپلې مورنۍ ژبې د پیاوړتیا په موخه بېلا بېل علمي، ادبي، فرهنګي او ټولنیز آثار را وژباړي.

په مورنۍ ژبه زده کړې ډېر اهمیت لري چې هم د ماشومانو د پوهې او درک قوه پیاوړې کوي او هم د ګټورې او ابتکاري زده کړو لپاره زمینه برابروي. ځکه نېلسن منډېلا وايي: " که له یو چا سره په داسې ژبه خبرې وشي چې هغه پرې پوه شي، نو دا خبره به د هغه مغزو ته ولوېږي، خو که له هغه سره د هغه په مورنۍ ژبه خبرې وشي، نو دا به د هغه زړه ته ولوېږي." بله داچې په هغه هېوادونو کې چې وګړو ته یې په خپله مورنۍ ژبه د زده کړو زمینه برابر وي، هلته د تبعیض کچه راټیټېږي او د محرومیت احساس یې له منځه ځي. په مورنۍ ژبه زده کړې د خپل قوم، فرهنګ او ژبې د رښتینې پرمختګ او خدمت لپاره بنسټیز ګام او ستره مبارزه ده.

په دې اړوند زموږ د هېواد د اساسي قانون په **۴۳**مه ماده کې داسې راغلي دي: " زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خوا تأمینیږي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عاملو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغیزمن پروګرام طرح او

تطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي."

که څه هم د هېواد د اساسي قانون له مخې په مورنیو ژبو د زده کړې زمینه برابرول د دولت له دندو څخه ده، خو د افسوس خبره ده چې په دې برخه کې لازم اقدامات نه دي ترسره شوي او حتا ګوَري ژبه لا تر اوسه د اړوندو ښوونځیو لپاره د یوه ځانګړې مضمون په توګه، نه په تعلیمي نصاب کې شامله شوې او نه ورته کتابونه لیکل شوې دي او کومو ژبو ته چې د تعلیمي نصاب کتابونه برابر او چاپ شوې دي، هغه لا تر اوسه په اړوندو ښوونځیو کې نه تدریسېږي او وګړي یې ترې بې برخې دي.

په دې برخه کې لومړی باید د پوهنې وزارت د وروڼو قومونو ژبې( د ګوَری ژبې په ګډون) په تعلیمي نصاب کې شامل او په عملي توګه یې د زده کړې بهیر په اړوندو ښوونځیو کې پیل کړي، ترڅو له یوې خوا د ژبې د بډاینې او ساتنې سبب وګرځي او له بلې خوا ماشومان پر خپلې مورنۍ ژبې باندې د زده کړې برابر او مساعد فرصت پیداکړي. ځکه د ښوونې او روزنې پوهان ټینګار کوي چې د اقلیتو ژبو ماشومان باید په لومړۍ مرحله کې لومړی د مورنۍ ژبې قواعد زده کړي او بیا د دوهمې او درییمې ژبې د زده کړې کوښښ وکړي، ځکه د نورو ژبو د زده کړې لپاره لومړی باید په خپله مورنۍ ژبه او قواعدو یې ښه پوه وي چې د بلې ژبې د زده کړې لپاره اساس ګڼل کېږي.

**پایله**

ژبه د انسانانو په ټولنیز ژوند کې هغه مهمه او ارزښتناکه پدیده ده چې په وسیله یې انسانان خپل افکار، خیالات، غوښتنې او احساسات نورو ته څرګندوي او د بشریت ترمنځ د افهام او تفهیم لومړنۍ او یواځینۍ وسیله ده چې د انسانانو ژوند ته یې لوړ مقام او ښکلا وربخښلې ده. ژبه د انسانانو د ټولنیز ژوند بنسټ دی، ځکه ژبه د انسان له پیدایښت سره سم را منځ ته شوې چې انسانان پرې د ټولنیز ژوند اړیکې ټینګوي او له انسان او ټولنې سره نه شلېدونکې اړیکې لري.

د ژبې اهمیت او ارزښت په هره ژبنۍ ټولنه کې څرګند دی او داسې نه ده چې یواځې ځینې ژبې دې د ارزښت او اهمیت وړ وي، بلکې هره ژبه د ځانګړي اهمیت او ارزښت وړ ده، ځکه هره ژبه د یو ځانګړي قوم او ملیت مورنۍ ژبه ده چې د ټولنیز ژوند اړیکې پرې ټینګوي او د هغې قوم د هویت او فرهنګ ښکارندوي کوي.

د هرې مورنۍ ژبې ویونکي یوه ځانګړې ژبنۍ ټولنه جوړوي چې د ځانګړو اتنیکي مشخصاتو درلودونکي وي. اوس مهال چې په نړۍ کې هر وګړی ژوند کوي د یوې ژبنۍ ټولنې غړی دی. د هرې ژبنۍ ټولنې غړي د خپلې مورنۍ ژبې پر اساس د خاص فرهنګ، ادب، عقایدو او افکارو درلودونکي دي چې د همدې ژبې په وسیله پرمختګ پیدا کوي. هره ژبه د خپل قوم هویت دی چې هم د خپل قوم فرهنګ او عنعنات څرګندوي او هم د یو قوم د ژوندي ساتلو او بقا لپاره د روح حیثیت لري.

نو د هرې مورنۍ ژبې ساتنه او پالنه د ژبې حق دی او د همدې ژبې د پالنې او پرمختګ لپاره کار او زیار د ژبې د ویونکو او اړوندو ادارو مسوولیت او دنده ده. ځکه همدغه ژبه که له یوې خوا د یو قوم هویت او فرهنګ دی، له بلې خوا د خپل هېواد د ملي فرهنګ مهمه برخه او ستره خزانه ده چې د هېواد فرهنګ ته یې ښکلا وربخښلې ده.

د همدې مورنۍ ژبې د ساتنې، ودې او پرمختګ لپاره مهم او اساسي اقدام په مورنۍ ژبه زده کړې دي او دا د هرې مورنۍ ژبې د ویونکو قانوني او حقوقي حق هم دی او دې برخې ته باید ډېره پاملرنه وشي او حد اقل باید زموږ د هېواد د مورنیو ژبو د زده کړې لپاره د یوه مضمون په توګه په ښوونځیو کې د زده کړې زمینه برابره شي.

په پای کې باید ووایم چې مورنۍ ژبه د انسان د شخصیت او هویت جوړونکې ده چې د مورنۍ ژبې په وسیله یې د ټولنیز ژوند افکار، عقاید او ځانګړتیاوې څرکندېږي، نو په دې اساس د مورنۍ ژبې د ساتنې، ودې او

پرمختګ لپاره د لازمو او مساعدو لارو چارو او پروګرامونو برابرول اړين او بنسټيز دي.

## وړانديزونه

۱- څرنګه چې مورنۍ ژبه د خپلو ويونکو د هويت او فرهنګ ښکارندوي ده، نو د هرې مورنۍ ژبې ويونکي بايد د خپلې ژبې د ساتلو، عامولو، ودې، ليک لوست او پرمختګ په برخه کې د خپل مسووليت، رسالت او وجيبې له مخې عملي او اساسي فعاليتونه او اقدامات ترسره کړي چې هم يې هويت ثابت پاتې شي او هم يې فرهنګ او ژبه د پرمختګ په لور حرکت وکړي، ځکه د يوې ژبې اصلي پالونکی او د پرمختګ عامل په خپله قوم او د ژبې ويونکي دي.

۲- د هېواد د ټولو مروجو ژبو د پياوړتيا، پرمختګ او د مورنۍ ژبې د زده کړې لپاره دې دولت د اساسي قانون د ۱٦مې او ۴۳مې مادې پر بنسټ، اغېزمن پروګرامونه او لارې چارې برابرې او تطبيق کړي او د مورنيو ژبو د زده کړې لپاره دې په اړوندو ښوونځيو کې د ټولو ژبو لپاره زمينه برابره کړي.

## مأخذونه


۱- سرمحقق فضل احمد غروب. اهميت زبان مادری و برنامه چند زبانه در تدريس، آريانا مجله، د افغانستان علومو اکاډمي، (۲او۳) ګڼه، ۱۳۹۲ل. کال، ۲ مخ.

۲- نيازی، رفيع الله. د ژبې د پيدايښت په اړه ځينې نظريې، کابل مجله، ۲ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، کابل: ۱۳۹۵ ل کال، ۵۲ مخ.

۳- اورمړ، خليل الله. د پښتو ژبې د لهجو تاريخچه ، کابل مجله، ۲ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، کابل: ۱۳۹۴ ل کال، ۱مخ.

۴- شاکر، نور احمد. ژبنۍ څېړنې، کابل پوهنتون، د پوهنې مطبعه، کابل: ۱۳۵۰ ل کال، ٦ مخ.

۵- غوربندی، ميراجان. د ژبې اهميت او د ملتونو په جوړښت کې د هغې رول، کابل مجله، ۲ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، کابل: ۱۳۹۵ ل کال، ۸٦ مخ.

٦- پورتنی اثر، ۸۷ مخ.

۷- اهمیت زبان مادري، تفکر جریده، دوهمه گڼه، حمل۱۳۹۴ل کال، ۲مخ.

۸- سرمحقق فضل احمد غروب. اهمیت زبان مادری و برنامه چند زبانه در تدریس،۳ مخ.

۹- اهمیت زبان مادري، تفکر جریده، ۲مخ.

۱۰- غوربندی، میراجان. د ژبې اهمیت او د ملتونو په جوړښت کې د هغې رول، ۸۹ مخ.

۱۱- پورتنی اثر، ۹۰- ۹۱ مخونه.

څېړنیار حضرت آغا همدرد

# د غازي امان الله خان د دورې سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو ته لنډه کتنه

# A brief look at the political, cultural, economic and social conditions of Ghazi Amanullah Khan period

**Research Assistant Hazrat Agha Hamdard**

**Abstract:**

Amir Amanullah Khan was the king of Afghanistan from 1919 to 1929. He expelled the British from the country in support of his nation on 1919, and formed a sovereign and honorable state, thus becoming the symbol of Afghanistan's independence. When his father, Habibullah Khan, was martyred in Laghman's Kalagush on February 20th, 1919, Amanullah Khan was the governor of Kabul, and he had control of the Kabul army and treasury. At this time Amanullah Khan became king in Kabul, and with the declaration of his sovereignty, He regained the independence of Afghanistan from the British. He soon gained the support of the people and tribes of Afghanistan, and thus remained the king of Afghanistan for ten years. Ali Hazrat Amanullah Khan

was very inclined to develop his country and be counterpart with the promoted countries of the world. So he has created deep changes and reforms in the political, cultural, economic and social conditions of the country; But Amir Amanullah Khan's wishes did not materialize. When he traveled to Europe in late of 1927, in hopes of improving the country's prosperity. The barriers against to reform work had increased since he returned. Amir Alamullah Khan did not want blood to be shed in his country; so he resigned in the first week of January 1919, Amir Amanullah Khan did not want his blood to be shed in the country; he was the one who resigned in the first week of January 1919 and selected his brother Inayatullah as king, but the imagine of kingship was drugged in Habibullah Kalakani’s mind, he surrounded the royal palace, and Enayatullah Khan also leave off monarchy. Meanwhile, Ali Hazrat Amanullah Khan, traveled through Kandahar to India and from there to Italy, prefer to live far from the country over there and passed away from this world on April 26, 1960.

**لنډیز**

امیر امان الله خان له ۱۹۱۹م کال نه تر ۱۹۲۹ م کال پورې د افغانستان پاچا و. نوموړي په ۱۹۱۹م کال د خپل ملت په ملاتړ انګرېزان له هېواد څخه وشړل او یو خپلواك او سر لوړی دولت یې جوړ کړ چې په همدې توګه د افغانستان د خپلواکۍ سمبول کڼل کېږي. کله چې په ۲۰ د فبروري، ۱۹۱۹ م کال کې دده پلار حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې شهید شو، امان الله خان د کابل والي وو او د کابل د پوځ او خزانې ټول واک د ده په لاس کې و. په دې وخت کې امان الله خان په کابل کې پاچا شو او د خپلې پاچاهۍ له اعلان سره سم یې له انګرېزانو څخه د افغانستان خپلواکي بېرته تر لاسه کړه. نوموړي ډېر ژر د افغانستان د خلکو او قبایلو ملاتړ ترلاسه کړ او په همدې توګه لس کاله د افغانستان پاچا پاتې شو. اعلیحضرت امان الله خان دې ته ډېر لېواله و چې هېواد یې پرمختګ وکړي او د نړۍ له پرمختللیو هېوادونو سره سیال شي. هغه په همدې موخه د هېواد په

سياسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنيزو حالاتو کې ژور بدلونونه او اصلاحات راوستل، خو د امیر امان الله خان ارمانونه پوره نه شول، کله چې نوموړی د هېواد د پرمختګ او بساينې په هيله د ۱۹۲۷ م کال په وروستيو کې د اروپا په سفر ووت او چې بېرته له سفره راستون شو، د ده د اصلاحي کارونو په وړاندې خنډونه زيات شوي وو.امیر امان الله خان نه غوښتل چې په هېواد کې يې وينه تويه شي؛ نو هغه و چې د ۱۹۲۹ م کال د جنوري په لومړۍ اوونۍ کې يې استعفا ورکړه او پر ځای يې خپل ورور عنايت الله په پاچاهۍ وټاکه. خو د حبيب الله کلکاني په سر کې د پاچاهۍ نشه وه، ارګ يې محاصره کړ او عنايت الله خان هم له پاچاهۍ لاس په سر شو. همدا مهال اعليحضرت امان الله خان د کندهار، له لارې هند او له هغه ځايه بيا ايټاليا ته لاړ، هملته يې له هېواده لرې ژوند غوره کړ او د ۱۹٦۰ م کال د اپرېل پر ۲٦مه يې له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

**سريزه**

اعليحضرت غازي امان الله خان دې ته ډېر لېواله و چې هېواد يې پرمختګ وکړي او د نړۍ له پرمختلليو هېوادونو سره سيال شي او په همدې موخه يې د هېواد لپاره ګڼ شمېر بنسټيز کارونه ترسره کړل. نوموړي د خپلې واکمنۍ پر مهال په هېواد کې د اصلاحاتو رامنځته کولو ترڅنګ په سياسي، اقتصادي، پوهنيزې، پراختيايي او نورو برخو کې ګڼ شمېر اقدامات وکړل، د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره يې، ډيپلوماتيکې او اقتصادي اړيکې پراخې کړې. د ده په دوره کې کلتور او د ښوونې او روزنې حالات ډېر ښه شول. د هېواد د خلکو په ټولنيز ژوند کې مثبت بدلون راغلی و؛ خو دا سمونې او اصلاحات ډېر په چټکتيا روان وو؛ ځينې خلکو ته د منلو وړ نه او دا لا څه چې ځينو بهرنيو هېوادو هم نه غوښتل چې افغانستان په همدې ډول د ترقۍ پر لور ګامونه واخلي؛ هغه و چې په هېواد کې دننه مخالفو کړيو سره لاس يو کړ او د امان الله خان په هيلو يې خاورې واړولې او کومې لاسته راوړنې يې چې د هېواد په سياسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنيزو برخو کې تر لاسه

کړې وې، له منځه لاړلې. زموږ د بحث موضوع هم د نوموړي د واکمنۍ سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو څېړل دي. په دې مقاله کې به درنو لوستونکو

ته د دې دورې د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو حالاتو په اړه پوښتنو ته تر یو څه حده پورې ځواب وایي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د غازي امان الله خان د دورې د سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو څېړل یوه اړینه موضوع ده چې لا ډېرو څېړنو ته اړتیا لري؛ په دې اساس په همدې مقاله کې دغې دورې حالاتو او د امان الله واکمنۍ د سقوط لاملونو ته یوه لنډه کتنه شوې ده چې لوستونکو ته د امیر امان الله خان د دورې د موضوعاتو په څېړلو کې به یو ښه مرستندوی مأخذ واقع شي.

**د څېړنې موخه**

په دې مقاله کې د امیر امان خان د وخت سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو خواو باندې لنډ بحث شوی دی او په دې دوره کې د مهمو لاسته راوړنو یادونه هم شوې ده.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ـ د غازي امان الله خان د وخت سیاسي حالات څنګه و؟

۲ـ د نوموړي دورې فرهنګي حالات څنګه وه؟

۳ـ په دې دوره کې د هېواد په اقتصادي برخه کې کومې لاسته راوړنې رامنځ ته شوې وې؟

۴ـ په دې دوره کې د خلکو ټولنیز ژوند څنګه و؟

۵ـ امیر امان خان ولې په خپلو پروګرامونه پاتې راغلو او د ماتې لاملونه یې څه وو؟

**د څېړنې میتود**

د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې په بشپړولو کې له تشریحي ـ تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د غازي امان الله خان دورې ته لنډه کتنه

### الف) سیاسي حالت

کله چې امير حبيب الله خان د لغمان په کله گوش کې په ۱۲۹۷ل د دلوې ۳۰مه (د ۱۹۱۹م کال د فبرورۍ په شلمه) په خپله خېمه کې د یوه نامعلوم سړي له خوا په تومانچې وويشتل شو، په سبا چې د امير قتل علني شو؛ نو غازي امان الله خان چې د امير حبيب الله خان زوی دی، د افغانستان سیاسي واگې په خپل لاس کې واخيستې او پاچاهي يې اعلان کړه. د امير حبب الله خان د قتل په اړه څېړنپوه نصرالله ناصر په خپل يو اثر کې داسې ليکي: ((امير حبيب الله خان له جلال آباد څخه د کبانو د ښکار په نيت د لغمان کله گوش ته لاړ او هلته د ۱۹۱۹ م کال د فرورۍ په شلمه شپه په خپله خېمه کې د يو نامعلوم سړي له خوا په تفنگچه داسې وويشتل شو چې چا يې چندان اواز هم وانه ورېد او امير چې په مرمۍ ويشتل شوی و، داسې ځای پر ځای مړ و چې شور يې لا نه و خوړلی. )) (۱۲ : ۵۹ مخ)

د ده له پاچاهۍ څخه مخکې سردار عنـــايت الله خان او نصرالله خان غوښتل چې د هېواد سیاسي واگې په خپل لاس کې واخلي؛ خو له امير امان الله خان سره د اردو او خزانې شتون له کبله دوی له خپلې خبرې څخه وگرځېدل او بيعت يې هم ورته اعلان او ځانونه يې تسليم کړل.

کله چې امير امان الله خان واکمنۍ ته ورسېد؛ نو د ۱۲۹۷ل کال د کب په ۷مه (د ۱۹۱۹م کال د فبرورۍ په ۲۸مه) نېټه يوه اعلاميه صادره کړه او د هېواد د آزادۍ او خپلې مفکورې او موخو ځينې ټکي يې په کې رانغاړلي و؛ دا ټکي په لاندې ډول دي:

۱ـ افغانستان بايد آزاد او خپلواک دولت شي او بايد له ټولو هغو حقوقو څخه برخمن شي چې نور خپلواک دولتونه يې لري.

۲ـ ملت بايد آزاد واوسي؛ نه ښايي چې يو فرد تر ظلم او استبداد لاندې راشي.(۱۲: ٦۱ مخ)

له پورته اعلامیې څخه په ډاگه معلومېږي چې امان الله خان د خپل هېواد آزادي اعلان کړه او انگريزانو ته يې خبر ورکړ چې نور افغانستان يو خپلواک ټاټوبی دی، د دې اعلاميې له خپرولو وروسته چې د خپلواکۍ اعلان و، انگرېزانو په افغانستان باندې برید

وکړ او په دربو محاذونو کې جګړه پیل شوه. افغانستان د خپلې آزادۍ په پار له سیاسي اقدام څخه کار واخېست او د خبر لپاره يې یو سیاسي پلاوی د نړۍ آزادو هېوادونو ته واستاوه، له دې اعلامیې له صادرولو څخه وروسته د ۱۲۹۸ل کال د اسد په اته ویشتمه ورځ د افغان او انګلیس د دریېمې جګړې په ترڅ کې د خپل هېواد بشپړه خپلواکي اعلان کړه او افغانستان يو آزاد هېواد شو چې له دې وروسته امان الله خان د هېواد د پرمختيا او آبادۍ په خاطر خپلې موخې اعلان او په پلې کولو کې يې له هر راز کوښښ نه ډډه نه کوله.

په دې اړه څېړنپوه نصر الله ناصر داسې ليکي: ((امان الله خان لا له لومړي سره د هېواد د خپلواکۍ له تر لاسه کولو سره سم خپلې موخې اعلان کړې چې ټولې د هېواد په پرمختيا او آبادۍ چورلېدې. په دې برخه کې د ده تر ټولو ستر سلاکار علامه محمود طرزي و چې ګام پر ګام له ده سره ملګری و.)) (۱۲: ٦٢ مخ)

امیر امان الله خان چې کله خپلواکي واخېسته، د هېواد د سیاسي، اقتصادي او ټولنيزو حالاتو د سمون لپاره يې په يو لړ اصلاحاتو او ریفورمونو کار پیل کړ او د ټولو هغو کارونو د ترسره کولو هوډ يې وکړ چې په خپله لومړنۍ وينا کې يې له ملت سره وعده کړې وه، چې دا چاره د امان الله خان مشاور او همکار محمود طرزي په ډېر بصيرت او ځيرکۍ سره وکړل او په يو فورمول کې يې راوړل او بيا په ترتيب سره پاچا د وخت د غوښتنې سره سم کار پر روان کړ.

دا چې د ریفور ډېر مهم اړخ د قوانينو طرح او تطبيق دی او د وخت غوښتنه هم همدا وه چې د يو قانون تر حاکمیت لاندې يو قانونمند دولت رامنځ ته شي؛ هماغه و چې د ۱۳۰۲ل کال د کب په اتمه (د ۱۹۲۳م کال د فبرورۍ په ۲۸مه) نېټه په جلال اباد کې د ملت د ۸۷۲ استازو په ګډون د افغانستان لومړی اساسي قانون په لويه جرګه کې تصويب او بيا د پغمان په لويه جرګه کې تاييد شو.

امان الله خان د ځينو سیاسي او اقتصادي مسايلو په موخه په ۱۳۰۷ ل (۱۹۲۷م) کال ځينو آسيايي او اروپايي هېوادونو، لکه: هند، مصر، ايټاليې، بلجيم، المان، انګلستان، پخواني شوروي اتحاد، ترکيې او ايران ته سفرونه وکړل. د امان الله خان د دغو سفرونو په اوږده موده کې د هېواد سياسي حالات بدې خواته روان و. ملت

ته د دې سفرونو د راپور ورکولو په خاطر په ۱۳۰۷ل (۱۹۲۸م) کال په پغمان کې لویه جرگه جوړه شوه.

## د امیر امان الله خان د واکمنۍ د ړنگیدلو لاملونه

د هېواد سیاسي حالات له ۱۹۲۴م کال څخه وروسته بیخي خراب شول او په کې خپل سري او د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې پیل شوی چې په پایله کې د امان الله خان واکمني له ستونزو سره مخامخ او سقوط شوه؛ په دې اړه څېړنپوه نصرالله ناصر داسې لیکي: ((اعلیحضرت امان الله خان له دې سره سره چې د هېواد پرمختیا یې سبب شوه چې نوموړی له ستونزو سره مخامخ او بالاخره د سقوط لامل یې وگرځي)) (۱۲ : ٦۳ مخ)

امیر امان الله خان د هېواد د آبادۍ او له سیالو سره د سیال کولو لپاره ډېر ښه پروگرامونه لرل، چې یو شمېر یې عملي شول؛ خو د بل اړخ نه یې د ځینو پروگرامونو په عملي کولو کې بېړه وکړله، همدارنگه په ځینو ادارو کې د بې تجربه کسانو ټاکنه هم وشوه او له بل اړخ نه د بهرني مکار دښمن چې د سیمې هېوادونو او بهرنیو هېوادونو ول د داخلي کړیو سره لاس یو کړ او د امان الله خان هغه پروگرامونه یې له ناکامۍ سره مخامخ کړل چې په عملي کولو کې یې افغانستان د پرمختگ په لور گامونه وهلی شول.

څېړنوال حبیب الله رفیع د امان الله خان د پروگرامونو د نه عملي کېدلو علتونه داسې بیانوي: ((په دغو پروگرامونو کې تادي، توندي او بې پروگرامي وه، نو همغه و چې په وسله واله جکړه کې ماتې خوړلي دښمن بیا دسیسو او وسوسو ته لاس وغځاوه او داسې حالات یې منځته راوستل چې په هېواد کې یو خونړی او تور اړو دوړ پیښ شي.

همداسې وشول؛ د انگریزانو په پټو او ښکاره دسیسو او شیطاني وسوسو سره په هېواد کې خونړی اړو دوړ پیښ شو. د وخت پاچا امان الله خان د دې لپاره چې د هېوادولو وینې تویې نه شي، له قدرته لاس په سر شو؛ خو انگرېزانو د خپلو بریځو په وسیله له افغانستان نه د خپلواکۍ گټلو غچ واخیست، هېواد د کورنۍ جگړې په اور کې وریت، وریت او خاورې ایرې شو، د تمدن او پرمختگ ټول پروگرامونه تس نس شول او ټولې شوې خوارۍ اوبو یووړې.)) (۷: ۵۵ مخ)

د امان الله خان د واکمنۍ د ړنگیدلو یو علت دا هم و چې نوموړي له تادې څخه کار واخیست او په خپلو کارونو کې یې احتیاط ونه کړ، په دې اړه څېړنپوه نصر

الله ناصر داسې لیکلي دي: ((زما په اند که امان الله خان په پیل کې د تادي پر ځای له احتیاطه کار اخیستی وای او وروسته یې د استعفا پر ځای مقاومت کړی وای، هېوادوال به له داسې ناوړه حالاتو سره نه مخامخ کېدل او د مرزانو او چرگانو د جنگولو پر ځای به د هېواد آبادۍ ته زیاته توجه شوې وای او خلک به د هېواد آبادۍ ته هڅول شوي وو...)) (۱۲: ٦٥ مخ)

امیر امان الله خان د افغانستان د ژورنالیزم د پلار محمود طرزي په افکارو او مشورو کې د ټولنې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې جدي او بیړني تغییرات راوستل چې همدې له احتیاطه پرته بیړه یې د سقوط لامل گڼلی شو.

همدارنگه د امیر امان خان له خوا د ښځو د حجاب یا پردې لیرې کول، د دریشي اغوستل، د جمعې د ورځې د رخصتي بدلول، بهرنیو هېوادو ته د زده کړې لپاره د نجونو استول او دې ته ورته نور اصلاحات د ځینو کړیو مخالفت په هغه وخت کې جدي کړ او د امان الله خان په خلاف یې مقاومتونه پیل کړل.

له داخلي کشمکشونو سره د بهرنیو هېوادونو په ځانگړي ډول د برتانیا هېواد لاسوهنې د امان الله خان د واکمنۍ د سقوط ستر لامل و . په دې اړه څېړنوال حبیب الله رفیع داسې وایي: ((انگلیس د افغانستان په بېلابېلو برخو کې د امان الله خان لاسته راوړنې زغملې نه شوې چې په دې سره یې د داخلي مخالفو کړیو سره چې د امان الله په ضد وې، تحریک ته لاس ورکړ.)) (۱۱: د آزادۍ راډیو وېبپاڼه)

د هېواد د اړو دوړو له امله امیر امان الله خان د ۱۹۲۹ ز کال د جنوري په ۱۴مه استعفی وکړه او کندهار ته لاړ، بیا له هغه ځایه اټک ته ورسېد او له دې ځایه ایټالیې ته لاړ او د ژوند تر پایه په ایټالیه کې پاتې او په ۱۳۲۷ ل کال د لړم په ۴مه نېټه د افغانستان د وخت پاچا محمد ظاهر شاه ته یې د بیعت پاڼې په را استولو او د افغانستان د تذکرې په اخیستلو سره خپل افغاني هویت وساته او په معنوي توگه یې خپل ځان له هېواد سره وتاړه. (۲: ۵۹۵ مخ)

ولې، غازي امان الله ونه توانید چې خپل موخې او اصلاحات بشپړ کړي؟

نږدې سل کاله پوره شول چې امان الله خان واکمنۍ ته رسېدلی دی او افغانستان خپلواکي خپله کړې ده؛ خو پوښتنه همدا ده چې ولې امان الله خان د

اصلاحاتو او یو معاصر یا مدېرن دولت په جوړولو کې ناکام شو او ولې تر اوسه پورې د نوموړي کارونه عملي شوي نه دي؟

د دې پوښتنې ځواب چې ولې امان الله خان د اصلاحاتو د پروژې په بشپړتیا کې ونه توانید؟ په اړه محمود طرزي چې د نوموړي خسر او بهرنیو چارو وزیر یې وو داسې اشاره کړې ده: ((امان الله خان یوه لویه او ښکلې ماڼۍ بغییر له تهداب او بنسټ جوړه کړې وه چې د یوې خبنتې په لرې کولو سره ټولې خښتې راپرځېدلې.))

په دې واړه غونډله کې مهم ټکي رانغاړل شوي چې کولای شي پورتنۍ پوښتنه په ښه ډول ځواب کړي؟ امان الله خان خپل ټول اصلاحات او سمونې په یو سطحي یا تت نظر په ډېره تیزي پرته د زمینې د برابرولو په ټولنیز او کلتوري برخه کې پیل کړې چې د ټولنې له مادي او معنوي سویې سره برابرې نه وې؛ د بېلګې په ډول. ښوونه او روزنه چې د امان الله د اصلاحاتو او سمونې د پروګرام تر ټولو ستره برخه وه؛ خو په دې اړه یې عملي کړنې له امکانو او حالاتو سره برابرې نه وې، لکه په سلګونه عصري او نوي ښوونځي جوړ شول؛ ولې له مسلکي او تجربه لرونکو ښوونکو څخه خبر نه و، د اړتیا وړ کتابونه نه ول او د ښوونځیو د جوړولو لپاره مناسب ځای هم نه و.

## ب) فرهنګي حالت

امیر امان الله خان د خپلواکۍ له تر لاسه کولو وروسته د هېواد کلتور او په دې برخه کې د نورو چارو د اجرا او پرمختګ لپاره کلکه پاملرنه او وړ ګامونه یې پورته کړل. د افغانستان اړیکې له نورو هېوادونو سره ورو ـ ورو مخ په پراخېدو شوې. د ښوونې او روزنې د پرمختګ په اړه جدي ګامونه واخیستل شول او په پلازمینې کابل سربېره، په نورو ولایتونو کې هم وغځېدله چې په دې سره ګټه عامه او ټول هېوادوال د سواد له نعمته برخمن کېدل؛ په دې اساس په مرکز او ولایتونو کې ډېر ښوونځي جوړ شول او له دوستو هېوادونو سره کلتوري اړیکې ټینګې شوې، په هېواد کې د نوې او عصري ښوونې او روزنې بنسټ کېښودل شو او د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د پوهنې یا معارف وزارت تأسیس شو او په ۱۲۹۹ - ۱۳۰۰ ل کالونو کې په پلازمینه کابل کې ۲۲ ښوونځي پرانیستل شول او د اساسي نظامنامې د ۲۸مې مادې په بنسټ تر ابتداییه پورې زده کړه جبري شوه. په دې ماده کې راغلي و: ((په هېواد کې جبري لومړنۍ

تحصیلات قانوني شول. دا اقدام د افغانستان د ۱۹۲۳ م کال په لومړي اساسي قانون کې ثبت او تسجیل شو.)) (۴: ۲۴۶ مخ)

د هېواد په ګوټ ـ ګوټ کې د ښوونې او روزنې د پرمختیا او پیاوړتیا سیستم کې بدلون راغی او په دې برخه کې ډېر کارونه وشول. د استقلال، اماني، د نجونو لپاره د مستورات چې بیا وروسته د ملالۍ لېسه شوه، غازي لېسه او څو ښوونځي، لکه د قضاء د اصولو ، د انځورګرۍ، د شیشې او سمینټ جوړونې ښوونځي جوړ شول. د ځینو منابعو او آثارو له مخې، په دې وخت کې ۳۲۳ ښوونځي تأسیس شوي وو. (۳: ۴۵ مخ)

همدا شان د رشدیه غازي ښوونځی، رشدیه استقلال، ټیلیګراف، رسامی، نجاری، معماري، السنه، زراعت، موزیک، قالین بافی، تدبیر منزل زنانه، مکتب طبیبیه، مستورات، دارلعلوم عربي، رشدیه مستورات، رشدیه جلال آباد، رشدیه قندهار، رشدیه هرات، رشدیه مزارشریف، رشدیه قطغن، مکتب پولیس او تر ۳۲۲ نه زیات ابتدائیه ښوونځي په ولایاتو کې فعال شول. تر ۱۹۲۷ کال پورې د شاګردانو شمېر تر ۵۱۰۰۰ واوښت. د افغانستان ښکلی دری رنګه بیرغ هم د پاچا امان الله خان په وړاندیز جوړ او د پغمان لویې جرګې تصویب کړ.

په دې دوره کې نجونې د هلکانو په څېر د لوړو زده کړو لپاره ترکیې او نورو بهرنیو هېوادونو ته واستول شوې. د اکابرو (لوړ سن لرونکو) لپاره د زده کړې کورسونه جوړ شول. د معارف مطبعه، د امان مطبعه، د رفیق شرکت، د انیس اداره، کاظمي شرکت او نورې مطبعې جوړې او د کتابونو چاپ ته هم ځانګړې پاملرنه وشوه. د ښوونې او روزنې او نورو موضوعاتو اړوند زیات شمېر کتابونه چاپ او له نورو ژبو څخه ژباړې هم وشوې. همدارنګه، په دې دوره کې د کتابتونونو جوړولو ته هم پاملرنه وشوه او په ۱۲۹۹ل کال د عامه کتابتونونو بنسټ کېښودل شو.

د خپلواکۍ له تر لاسه کولو سره د هېواد په مطبوعاتو کې نوې ساه راغله، د مطبوع تعداد ډېر شو؛ لکه د دارلسلطنة مطبعه چې د افغانستان د مرکزي او عمومي مطبعې حیثیت یې درلود. په شاهي دارالتحریر کې د ابلاغ مطبعه، د وزارتونو او د ولایتو مطبعې ...(۱۲: ۱۱۸ مخ) چې په دې ترتیب د چاپ او خپرولو لپاره ښه زمینه برابره شوه او د ښوونځیو د اړتیا وړ کتابونو او نظامنامو سربېره په بېلابېلو علومو او د ادب په برخه کې یو شمېر آثار چاپ شول.

په ۱۳۰۳ل کال د مطبوعاتو لومړنی قانون جوړ او په اساس يې بيا د مطبوعاتو مستقل رياست په کابل کې جوړ شو. د هېواد په مطبوعاتو کې ډېرې خپرونې رامنځته شوې چې دولتي او نادولتي خپرونې په کې شاملې وې. د هغه وخت د دولتي خپرونو د شمېر په اړه يو ليکوال ليکلي دي: ((هغه دولتي خپرونې چې په مرکز او ولايتونو کې تر اوسه څرګندې دي؛ (۲۰) ورځپاڼې، اونيزې او مجلې دي چې د دولت په لګښت په مرکز او ولايتونو کې خپرېږي.)) (۱۲: ۱۱۸ مخ)

د امان افغان اونيزه، ارشادالنسوان، اتحاد مشرقي، افغان ورځپاڼه. معارف مجله. مجموعه عسکريه،

دالغازي جريده (۱۲۹۸ل)، امان افغان (۱۲۹۹ل)، اتفاق الاسلام جريده، بيدار، حقيقت، (۱۲۹۹ل)، طلوع افغان جريده (۱۳۰۰ل)، اتحاد مشرقي (۱۳۰۸ل)، اتحاد، اصلاح، ثروت جريدې، آئينه عرفان مجله. مجموعه صحيه، پښتون ږغ، جريده مکتب. ابلاغ او ځينې غير دولتي خپرونې، لکه: انيس، نسيم سحر، نوروز، ځينې نورې جريدې او رسمي او غير رسمي ورځپاڼې چې د بېلابېلو اشخاصو له خوا خپرېدې، په دې وخت کې خپرېدلې. (۱۰: ۲۲۲ مخ)

په ۱۳۰۱ل کال د لړم په مياشت کې د پښتو مرکه د مولوي عبدالواسع په رياست په ارګ کې پرانيستل شوه، چې بيا ۱۳۰۲ل کال د افغانستان د اساسي تشکيلاتو د نظامنامې په ۴۷مه ماده کې د پوهنې وزارت د درېيم رياست په توګه وپېژندل شو چې د پښتو ژبې، اصولو او قواعدو د ضبط، تدوين، د درسي کتابونو له ژباړې سره سره يې د پښتو پښوويه او يواځنۍ پښتو کتابونه خپاره کړل. په ۱۳۰۵ل کال د افغانستان راډيو په خپل فعاليت پيل وکړ او امواج يې تر المان پورې خپاره شول. (۹: ۸۳ مخ)

کتابتونونه د پخوا په څېر د خلکو په انحصار کې پاتې نه شول او ملي بڼه يې غوره کړه؛ لکه: ملي کتابخانه، د معارف کتابخانه، عمومي کتابخانه، د کابل د ادبي انجمن کتابخانه، د جمهوري رياست د ارګ کتابخانه، د حقوقو پوهنځي کتابتون او داسې نور... (۱۳: ۵۵ مخ)

د حبيب الله کلکاني په وخت (جدي/ ۱۳۰۷ - ميزان/ ۱۳۰۸ل) کې د فرهنګ په اړه هغه هڅې چې امير امان الله خان کړې وې، له منځه يوړل شوې. ډاکټر زيور الدين زيور د پښتو ادبياتو په تاريخ کې د دې دورې د اړو دوړ له امله فرهنګ او د ژوند

نورو برخو ته د رسېدلو زيانونو يادونه داسې کړې ده: " ثقافت او فرهنګ داسې زيان او صدمه وليدله چې د ملي انسانانو زړونه پرې ټوټې ټوټې شول، ملي سرمايه چور چپاو شوه، د مکتبونو ورونه وتړل شول او کتابخانو ته اور واچول شو. جريدې له رونق څخه وغورځېدې او منورين او ليکوالان په توپونو کې والوځول شول."(۸: ۹۲ مخ)

په لنډه توګه د دې وخت د فرهنګي حالاتو په اړه د سيد محی الدين هاشمي د تاريخ مختصر کتابخانه ها در افغانستان"له اثر نه دا نظر رااخلو، دی وايي: د يوې لنډې مودې لپاره يوه توره دوره منځ ته راغله، د ژوندانه پرمختيايي، ټولنيز، علمي، تعليمي، فرهنګي، بنسټونه او نورې مادي او معنوي پرمختياوې له منځه لاړې. دا څرګنده ده چې د نورو فرهنګي مؤسسو تر څنګ عام او ځانګړي کتابتونونه هم د طوفان له څپو او د اور له شغلو په امان کې پاتې نه شول او زيات زيانونه يې وليدل."(۱۳: ٥٦ مخ)

ادبي حالت: د خپلواکۍ له تر لاسه کولو سره نه يواځې دا چې په کلتوري اړيکو او د خلکو په ټولنيز ژوند کې بدلون راغی؛ بلکې له دې سره پښتو ادب کې هم ژور بدلون رامنځته شو. پښتو ادب د تحقيق برخه کې که څه هم لږ بدلونونو رامنځته شول؛ خو د تخليق د برخې منثور او منظومو ځيلونو او فورمونو خپل پخواني کالبونه مات کړل او په سکالو کې يې هم نوی والی رامنځته شو؛ خو دې نويتوب او نوو هڅو شعر د لوړتيا پر ځای له ځوړتيا سره مخامخ کړ. په دې اړه څېړنپوه نصرالله ناصر په خپل اثر کې داسې ليکلي دي: (( په اماني عصر کې د پښتو معاصر ادب د انتظار په خلاف مخ په ځوړ روان شو. د دغې دورې ډېر شعرونه په لاس کې نه شته او يوه دوې بېلګې يې چې لاس ته راغلې دي د عادي نظم سطحې ته هم نه رسېږي...

په اماني عصر کې د معاصر ادب د پيلامې لپاره، لکه ځينو چې ادعا کړې ده، قناعت بښوونکي دليل نه شته او دغه عصر له سراجي عصر څخه په ادبي لحاظ وروسته پاتې کېږي.)) (۱۲: ۱۵۴ مخ)

ليکوال بيا نوره تشريح هم کړې ده چې دلته يې ټول راوړل د مقالې له وسه بهر خبره ده.

په دې دوره کې شعر نوي چوکاټونه خپل کړه او نوي لارې او لوري يې ځانته پيدا کړل. امان الله خان په ۱۳۰۳ ل کال کندهار ته سفر په ترڅ کې د جوزا په دريیمه امر وکړ چې په طلوع افغان کې دی پښتو مطالب ځای شي؛ هماغه و چې

طلوع افغان د پوهاند عبدالحی حبیبي په مدیریت د ۱۳۱۰ ل کال د حوت له ۱٦مې څخه ورو ورو ټول په پښتو واوښت او په دې سره پښتو شعر خپل نوی چوکاټونه هم خپل کړل. (۱۲ : ۱۵٦ مخ)

په هر حال، د امان الله خان د واکمنۍ کالونه پښتو ادب او شعر ته نوې پیلامه وه چې نه یواځې یې د نثر او نظم بڼې تغییر وخوړ، ورسره یې په موضوعي لحاظ ګڼې ټولنیزې، سیاسي او کلتوري موضوعګانې یې هم خپلې کړې.

### ج ) اقتصادي حالت

امان الله خان د افغانستان د اقتصادي وضعې د ښه کولو لپاره له هر ډول امکاناتو څخه کار اخیست. د دولتي بودیجې د پیدا کولو او ساتلو لپاره یې ډېر کوښښونه وکړل. په اقتصادي برخه کې د مالیاتو ټولول، د لګښتونو کمول او د باقیاتو جمع کول د امان الله خان لومړني کارونه وو. د مالیاتو د ترتیب لپاره اصولنامه په ۱۹۲۱م کال ترتیب او نشر شوه چې په کې لیکل شوي وو: "له دې نه بعد به مالیه په نغدو پیسو ورکول کېږي او د دولت خزانې ته به سپارل کېږي."(٦: ۱۲۵ مخ)

زراعت چې په اقتصاد کې مهم رول لري، په دې دوره کې ورته پوره توجه شوې وه. په ۱۳۰۳ل (۱۹۲۴م)کال د زراعت مکتب جوړ شو چې د کرنې په اړه ځانګړې تعلیمات او زده کړې په کې کېدلې.

د هېواد د آبادۍ په منظور امان الله خان اروپایي هېوادونو ته د سفرونو په مهال ځینې فابریکې، ماشین الات او نور اړوند څېزونه وپېرل او قراردادونه یې هم لاسلیک کړل او د آلمان له حکومت څخه شپږ میلیونه مارک پور باندې یې څو فابریکې او صنعتي ماشینونه یې وپېرودلې:

۱ـ د وړیو وریښلو فابریکه.

۲ـ د کشمیرې اوبدلو او سپنسي تاوولو فابریکه.

۳ـ د کوره سان د اوبدلو فابریکه.

۴ـ د کوره جیم د اوبدلو فابریکه.

۵ـ د تنې د جوړولو کوچنی ماشین.

٦ـ د مېوې د ساتلو ماشین.

۷ـ د شودو د ساتلو ماشین.

۸ـ د کوچو د ساتلو ماشین.

۹ـ د کرنۍ ماشین.

۱۰ـ د فولادو د کار ماشین.

۱۱ـ د اوبو راایستلو بمبه – تسالس.

۱۲ـ د جراحۍ الات او درمل.

۱۳ـ د قند جوړولو ماشین.

۱۴ـ د چرګوړو د ایستلو ماشین.

۱۵ـ د چاپ افیسټ ماشینونه.

۱٦ـ د نوټونو د چاپ لپاره د زینګو ګرافي ځانګړې کمرې.

۱۷ـ د ننګرهار لپاره د قند جو.ولو بشپړه فابریکه.

۱۸ـ د جبل السراج د سپنسي تاوولو فابریکه ... او نور (۱: ۲٦۰ مخ)

همدرانګه ۴۱ موټرونه، د اطفایې ۱۲ موټرونه، د راډیو داستګاه له اتو لوډسپیکرونو سره، د روغتونونو د یو کال د لګښت لپاره درمل، د برېښنا سامان او لوازم...

همدارنګه، د اکسریز ماشینونه، د حساب ماشین، د پنیر او کوچو ماشینونه او نور ...

دا و په دې دوره کې د پغمان په باغ بالا کې د امانیه قصر په ۱۳۰۲ ل کال، د ستوري ماڼۍ، د دارلامان ماڼۍ، سراج العمارت، د ننګرهار د ولایت مرکز او داسې نورې ماڼۍ. (۱۲: ٦۳، ٦۴ مخونه)

## په لنډه توګه ددغې دورې اقتصادي لاسته راوړنې

۱- په نغدي بڼه د ځمکو د مالیاتو راټولول.

۲ـ د هېواد د حساب چارې په نوي عصري سیستم چې ښاري بڼه یې درلوده، واړول شوه. (۱: ۹۴۹مخ)

۳ـ ۱۲۹۹ ل کال د مالیې لومړۍ نظامنامه خپره شوه او ۱۳۰۰ ل کال د ګمرک د محصول اخیستلو نظامنامه او د ۱۳۰۱ ل کال د سنبلې د میاشتې په ۱۹ مه د افغانستان د پرمختګ په اړه د افغانستان لومړنۍ بودیجه ترتیت شوه. (۱: ۲۳۳، ۲۳۹- ۲۴۲ مخونه)

همدا ډول. د هېواد دښې او منظمې اقتصادي ودې او پرمختیا په موخه په ۱۳۰۱ل کال کې د للمې کرنې نظامنامه، د څارویو د محصول نظامنامه، د دولت د خزانو نظامنامه، د تجارتي تقاویو نظامنامه، د تجارتي شخړو د شرعي محکمې

نظامنامه، د عمومي بودجې نظامنامه او د افغانستان د مصنوعاتو د استعمال په اړه فرمان خپور شو. (۱: ۲۴۳ مخ)

۴ـ د ۱۹۲۱ ز کال د جنوري په میاشت کې له انګلیس یا برتانیا سره تړون وشو چې په دې اساس افغانستان د دې تړون د شپږمې او اومې مادې له مخې د برتانوي هند له لارې د سوداګرۍ حق تر لاسه کړ. (۵: ۹۳٦- ۹۳۷مخونه)

دا او دې ته ورته نورې لاسته راوړنې د هېواد د اقتصاد په برخه کې دي چې د ټولو یادول به د مقالې له حوصلې د باندې وي.

**د ) اجتماعي حالت**

د یوه هېواد فرهنګي، سیاسي او اقتصادي حالت د هېواد د ګړو په ټولنیز ژوند باندې مستقیماً اغېز لري. که چېرته هېواد له سیاسي پلوه په ښه حالت کې وي، ټولنیز ژوند به هم ښه وي؛ خو که سیاسي حالت د اړو دوړ په ګردونو کې خړ پړ وي، ټولنیز ژوند هم خپله ښکلا او رنګ تتوي او د کمزوري اقتصاد له وجهې به بېوسه وي.

امیر امان الله خان د دې پر ځای چې د ټولنې اساسي بنیادي پرمختیا، لکه د وګړو د ژوند مادي امکانات، زراعت او تولیدات په نظر کې ونیسي، غوښتل یې چې افغاني ټولنه په بین المللي سطحه د یوې ځواکمنې ټولنې په څېر ارتقاء او پرمختګ وکړي؛ خو په ټولنه کې د اروپايي لباس رواجول، د حجاب لیرې کول، ښوونځیو ته د نجونو تلل او نور داسې موضوع ګانې وې، چې په داخل کې یې مخالفتونه راپیدا کړل.

که څه هم په دې وخت کې داخلي او کورني شورشونه او اختلافات اوج ته رسېدلي و، په مذهبي لحاظ د شیعه او سني تر منځ یو ښه اتفاق او یووالی موجود و.

د کورنیو جګړو، د حکومت پر ضد پاڅونونو، عامه نفرتونو، اداري فساد او د دولت د ناکامو طرحو له امله د امان الله خان هغه خوبونه چې غوښتل یې افغاني ټولنه له فقر او بېوزلۍ وباسي، د اروپايي هېوادونو په څېر له ساینس او تخنیک سره بلد، ترقي او پرمختګ وکړي، په حقیقت بدل نه شول او د یوې داسې ټولنې د مخالفتونو له امله چې

نه یې غوښتل په هېواد کې دې بهرنی فرهنګ او کلتور رواج او ټولنه دې د ټکنالوجۍ پر مټ پرمختګ وکړي، د امان الله خان حکومت سقوط وکړ.

## تاریخ لیکونکي او څېړونکي د غازي امان الله خان په اړه څه وایي؟

د افغانستان ځینې تاریخ لیکونکي او څېړونکي وایي چې امیر امان خان د خپلې واکمنۍ په بهیر کې په مختلفو ځایونو کې اقتصادي، سیاسي او کلتوري اصلاحات منځته راوستي وو. نوموړي په دې لاسته راوړنو کې چې په ځانګړې ډول د افغانستان د وګړو د اساسي حقوقو تأمین لرلې، د خلکو قوي ملاتړ درلود.

ځینې بیا وایي چې امیر امان الله خان هغه کارونه چې د خلکو د خوښۍ لامل وو، د افغانستان په تاریخ کې د دې هېواد د روښانفکره او پرمختګ غوښتونکو پاملرنه یې خپله کړه.

## د غازي امان الله خان لاسته راوړنې

د ملکي او نظامي ښوونځیو او مدرسو جوړول، له بین المللي هېوادو سره مهم قرادادونو او تړونونه لاسلیک کول، د ملي آرشیف، سینما او تیاتر ایجاد، د مطبوعاتو پراختیا، د مجلو او جریدو خپرول چې د علمي او کلتوري لاسته راوړنو ډېر منعکس کوونکي و، په نوې مېتود سره د تاریخ لیکل او د افغانستان د اساسي قانون جوړول چې پر اساس یې د هېواد ټولو میشته خلکو له ملیت، نژاد او ټولنیز قشر په نظر کې نه نیولو سره د قانون په وړاندې آزاد او برابر وو، د غازي امان الله خان د دورې مهمې لاسته راوړنې ګڼل کېږي.

## پایله

دا چې امیر امان الله خان په خپله واکمنۍ کې د هېواد سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیز اصلاحات او سمونې کړې وې او په ځینو کې تر ډېره پرمختللی و؛ خو په یو شمېر نورو کې له خنډ او ځنډ سره مخامخ شو، یو تاریخ و چې زموږ د هېواد لپاره یو ښه لاربښود کېدای شي. باید همدا اصلاحات او سمونو باندې غور وشي او په عملي کولو کې یې باید په ربښتیني ډول او په بشپړ اخلاص ګامونه پورته شي.

## وړاندیزونه

۱ـ د امیر امان خان په اړه دې ټولې مقالې راټولې او په یوه ټولګه کې دې چاپ شي.

۲ـ د امیر امان خان په اړه کتابونه دې بیا چاپ شي، تر څو د نوموړي له کارنامو او کړنو څخه د هېواد لوستی قشر خبر شي.

۳ـ د امیر امان خان ارمانونه او د نوموړي هغه کارونه چې د هېواد په پرمختګ کې مهم رول لري، د پلي کولو لپاره باید د یو منظم پلان له مخې کار وشي.

## مأخذونه


۱ـ افغانستان در پنجاه سال اخیر، ضمیمه، کابل: مؤسسه طبع کتب، ۱۳۴۷.

۲ـ آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک، (آ ـ ا)، دوهم پړاو، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست، د نبراسکا مطبعه، ۱۳۸٦ ل کال.

۳ـ بختانی، د آریک د ګرځنده کتابتون اداره: کابل، (ـــ)، ۱۳۸۳ل کال.

۴ـ پتنګ، اصیل. افغانستان د شلمې پېړۍ په دریو لسیزو کې، مسکو: د فغان ټولنې فرهنګي مرکز، ۱۳۷۹ ل کال.

۵ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی. جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل، (ـــ)، ۱۳٦۴ ل کال.

٦ـ دریځ، امین الله. افغانستان در قرن بیستم، دوهم چاپ، انجمن نشراتي دانش: پېښور، دانش کتابخانه، ۱۳۷۹ل کال.

۷ـ رفیع، حبیب الله. د افغانستان لنډکی تاریخ، اریک د ګرځنده کتابونو اداره: پېښور، ۱۳۷۸ل کال.

۸ـ زیور، زیور الدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ (اوسنۍ دوره)، ساپی د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز: جلال آباد، ساپی د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۵ل کال.

۹ـ عطایي، محمد ابراهیم. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، میوند خپروندویه ټولنه: کابل، د میوند خپروندویې ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹ل کال.

۱۰ـ غبار، میر غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ، انتشارات میوند: کابل، ۱۳۸۴ل کال.

۱۱ـ غیاثي، آرزو. ((مـؤرخین و تحلیـل‌گران در مـورد شـاه امان‌اللـه خـان چـی می‌گویند؟))، آزادی راډیو ویبپاڼه، [https://da.azadiradio.com/a/27930243.html]، د اسد ۲۵مه، ۱۳۹۵ ل کال.

۱۲ـ ناصر، نصر الله. د شلمې پېړۍ په فرهنګي ـ ادبي بهیر کې د علامه حبیبي دریځ، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، بهیر مطبعه، ۱۳۹۲ل کال.

۱۳ـ هاشمي، سـید محی الدین. تاریخ مخـتصر کتابخانه ها در افغانستان، په دري ژبه ژباړونکی: عبدالرحیم بختانی، د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۱۳۸۳ ل کال.

# یادښت

د کابل مجله د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرني ارګان په توګه، له کلونو ـ کلونو راهیسې د درنو لوستونکو په خدمت کې ده او په دغه سپېڅلې ادبي او علمي لاره کې یې د ګڼ شمېر پوهانو او څېړونکو علمي څېړنې په خپلو زرینو پاڼو کې خوندي ساتلې دي. په دې توګه یې، په علمي څېړنو کې د یوه معتبر مأخذ او ریفرنس ځای خپل کړی دی او په افغاني مطبوعاتو کې، له لوړ علمي او ادبي پرستیژ نه برخمنه ده. دا مجله تر دې وخته پورې کله په میاشت او کله هم په درېو میاشتو کې یو ځل خپره شوې ده. د کابل د دې نوې ګڼې چاپ ، زما په مدیریت لومړۍ ګڼه ده چې خپرېږي او دا ګڼه، د تاریخي افغانستان د خپلواکي د بېرته تر لاسه کولو د سلمې کالیزې له جشن سره برابره ده. له دې امله، په دې اړه یو څو مقالې هم راوړل شوې دي او ور سره نورې مقالې هم، په مهمو ادبي او علمي موضوعاتو باندې را څرخي. د کابل مجلې نوې اداره، له درنو لوستونکو نه په ډېر درنښت سره د دې څېړنیزې مجلې د خپرونو د لا ژورتیا او دروندوالي په برخه کې د هراړخیزې مرستې غوښتنه کوي او هیله څرګندوي چې له دې تاریخي مجلې سره همکاري، د خپل ځان علمي او ادبي مسئولیت وبولي. خومره به ښه وي چې درانه لوستونکي په نویو او نوښتګرو څېړنو باندې لاس پورې کړي، د مجلې اداره یې په ورین تندي باندې مني او خپروي.

درنښت

څېړنوال محمد نبي صلاحي

د کابل مجلې مسئول مدیر

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow M. Nabi Salahi

**Assistant:** Researcher Assistant Hazrat Agha Hamdard

**Editorial Board:**

Research Fellow Ph.D. Abdul Zahir Shakib

Senior Research Fellow Ph.D. Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai

**Composed & Designed By:**

Hamdard

**Annual Subscription:**

Kabul: 960Af.

Province: 1440 AF.
Foreign Countries : 60$

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: ٧٠ AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.